# بریالی ماموریت

*د ودانۍ تر رغولو، د فکر رغول ډېر اړین دي*

# بریالی ماموریت

دوهم چاپ؛ له نوو زیاتونو سره

**رحمت دیوان**

**۱۳۹۷هـ ش | ۲۰۱۸ز**

بسم الله الرحمن الرحيم

# بریالی ماموریت

رحمت دیوان

ایډیټ : عبدالودود بشریار | حکیم بشارت
لومړی چاپ : ۱۳۹٦هـ ش
دوهم چاپ : ۱۳۹۷هـ ش
چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه
ډیزاین او کمپوز : لیکوال په خپله
چاپځی : وایګل چاپ
خپرندوی : خبریال خبري اداره
ISBN: 978-9936-1-0204-0

# ډالۍ

هر هغه **مامور** ته

چې خپل **مسوولیت**

په **رښتیني** توګه ترسره کوي

او

د ګران **هېواد** د **پرمختګ** او **ابادۍ**

لپاره **خولې**

تویوي

# د خبریال ادارې یادښت

په جګړه ځپلي افغانستان کې د شخصیت وژنې سلسله د سیمې او ځینو نورو هېوادونو د استخباراتي کړیو د کار یوه برخه ده. له بده مرغه د افغانستان د ځینو ګاونډیو هېوادونو د جاسوسۍ اداري لکه څه رنګه چې په افغانستان کې د افغانانو په مټ وروروژنه کوي، همدا ډول د ځینو لیکوالو له مجبوریو او ناپوهۍ نه په ګټه اخیستلو سره افغان شخصیتونه وژني، ځپي او زیان واړوي.

په اوسنۍ نړۍ کې د بې بندوباره انټرنېټي پاڼو کمی نشته، خو که چېرته انټرنېټي پاڼې د چا پر ضد څه خپاره نه کړي، نو ټولنیزې شبکې خو د دې شیانو د سانسور او چیک لپاره کومه لار او وخت نه لري. دا چې تخریب یو ډېر اسانه کار دی او له بده مرغه د یوې بدې ناروغۍ په ډول افغانان ورباندې اخته شوي، د دې برخلاف تعمیر او شخصیت جوړونه که له یوې خوا ګران کار، له بلې خوا آن تر دې چې په ځینو برخو کې ناشونی برېښي .

خبریال ادارې چې همېشه یې د افغانستان، افغان ولس او افغان رسنیز بهیر د سمون هڅه کړې ده، دا ځل یې پتېیلې ده چې د هېواد پر نامتو خو بریالیو اشخاصو باندې کتابونه ولیکي. د دې لړۍ پیل خورا ګران او ستونزمن و، خو موږ پکې بریالي شو.

موږ په افغانستان کې که له یوې خوا شر، فساد، وژنې او ناوړه کړنو کې ککړ ډېری کسان لرو، نو له بله لوري د داسې کسانو کمی هم نشته، چې د خپل دولتي او نادولتي ماموریت په ترڅ کې یې د خپلې خاورې، هېواد او خلکو لپاره ګڼ شمېر خدمتونه او د خېر ښېګړې کارونه ترسره کړي دي.

د خبریال ادارې د کتابونو د چاپولو سلسله هېڅ ګوند، ډلې، حکومت، نړیوالې یا ځایي موسسې سره تړاو نه لري، موږ پتېیلې ده چې په هر ډګر کې خپل اشخاص وستایو. د ستایلو دا سلسله په خبریال کې نوې نه ده، تر دې وړاندې موږ پر ۲۰۱۱ز کال کې د پاني پت نړیوال سیمینار کړی و، تر هغه وروسته مو بریالیو والیانو ته د سرو زرو مډالونه ورکړل، په مشهور افغان، ملي مبارز، ژورنالیست او تکړه لیکوال غلام احمد زرملوال باندې مو برېتانیه کې نړیوال سیمینار وکړ او ورته نورې کلتوري هڅې مو ترسره کړې دي. البته اوسنی کتاب ((بریالی ماموریت)) د سیمینارونو او ستاینغونډو برخلاف یو داسې کار دی، چې قضاوت یې ولس ته پاتېږي او دا کتاب به د افغانستان د تاریخ یوه برخه وي.

**خبریال اداره**

# نیولیک


- دوهم چاپ ۱٤
- دا کتاب ۱۵
- سریزه ۱۷
- د اساسي قانون لويې جرگې غړيتوب ۲۱
- پاکستان کې د حامد کرزي انتخاباتي کمپاین مسوولیت ۲۳
  - رايو کې لاسوهنه ۲۷
  - حامد کرزی ولسمشر شو ۳۰
- میدان وردگ ۳۲
- د میدان وردگو ولایت د والي په توگه ۳۳
  - د میدان وردگو حال ۳٤
  - میدان شته او ښار يې نشته ۳۵
  - د ولایت مقام نوې ودانۍ ۳۷
  - د نعیمي پر ضد تبلیغات ۳۹
  - د میدان وردگو سترې پروژې ۳۹
  - میدان ښار د کابل بدیل ٤۱
  - د ایتلاف د قواوو سره د بېځايه گرفتارۍ په اړه بحث او وړانديزونه ٤۲
  - میدان وردگو ته د ولسمشر حامد کرزي راتگ ٤٦
  - د دایمیرداد ولسوالۍ ته سفر ٤۷
  - بهسودو ته سفر ۵۱
  - چک ولسوالۍ ته سفر ۵٦
  - د چک بند ۵٦
  - منېي گل مشاعره ۵۸
  - میدان وردگو کې مظاهره ۵۹
  - جغتو ولسوالۍ ته سفر ٦۳
  - جلرېز ولسوالۍ ته سفر ٦۵
  - د ترکیې بیارغونې ډله ٦۵
  - د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر او مرستیال لومړي وزیر راتگ ٦۷
  - د پي آر تي بندیدل او وسایل يې ځايي ادارو ته سپارل ٦۸

- ○ ديني علماوو سره اړيکې ٦٨
- ○ د ډاکتر عبدالوکيل څلی ٧١
- ○ د بهرنيانو له مرستو انکار ٧٤
- ○ د والي استعفاء ٧٦
- ▪ خوست ٨١
- ▪ د خوست ولايت د والي په توګه ٨٢
- ○ خوست ته تګ ٨٣
- ○ پېژنغونډه ٨٤
- ○ د خلکو اندېښنې ٨٥
- ○ د مسوولينو وېره ٨٦
- ○ د والي کور او د ولايت مېلمستون ٨٧
- ○ د علماوو غونډه او دولت ضد څرګندونې ٨٧
- ○ چاپې او د خلکو بنديانول ٨٨
- ○ د والي تصميم او د نا امنۍ علت معلومول ٨٩
- ○ لومړيتوبونه ٩٠
- ○ غصب شوې ١٢ سوه فاميلي ٩١
- ○ د قومونو ترمنځ د ځمکو پر سر د شخړو د هواري لپاره بنسټيزې هڅې ٩٣
- ○ د پي آر تي له جوړو کړو خالي ودانيو استفاده ١٠٢
- ○ عسکري روغتون ١٠٦
- ○ د نظام د پرېکړو په مخ کې خنډ ١٠٧
- ○ د سولې کاروانونه ١٠٩
- ○ عاد محمد ته سفر ١١٠
- ○ ځاځي ميدان ولسوالۍ ته سفر ١١١
- ○ ګربزو ولسوالۍ ته سفر ١١٣
- ○ سپېرې ولسوالۍ ته سفر ١١٤
- ○ د خوست له علماوو سره ښې اړيکې ١١٦
- ○ عامه پوهاوی او فکري رغونه ١١٨
- ○ چاپي فعاليتونه ١١٩
- ○ د مقدسو پېغامونو لوحې ١٢١
- ○ خوست کې د پلونو جوړول ١٢٢
- ○ له سيلاب نه خلک ژغورل ١٢٥

- د لویو لارو د جوړېدو معما ۱۲٦
- د شېخ زاید پوهنتون لسمه کلیزه ۱۲۹
- د ژوند ځلی ۱۳۱
- خوست دویمې درجې ته لوړول ۱۳۲
- کابل ته پلاوی لېږل ۱۳۳
- خوست کې د پارکونو جوړول ۱۳۵
- د لوبو وده ۱۳٦
- ولسمشریزو ټاکنو کې خوست ته نه پاملرنه ۱۳۷
- خوست ته د کرکټ د ملي اتلانو راتګ ۱۳۷
- د ولسي جرګې ټاکنې ۱٤۲
- د اوبو د بندونو د جوړولو لپاره بنیادي هڅې ۱٤۳
- پر لاره ایښودل شوی ماین ۱٤٤
- خوست کې مشاعرې ۱٤٥
- د سولې جشن ۱٤٦
- خوست کې اخترونه ۱٤۷
- خوست ته د ډاکتر محمد اشرف غني راتګ ۱٤۸
- د استاد برهان الدین رباني راتګ ۱٥۲
- خوست ته د ایتلافي ځواکونو مشر راتګ ۱٥٥
- ٤۲۰ جریبه ځمکه له غصب نه خلاصول ۱٥٦
- د خوست هوایي ډګر ۱٥۸
- متحده عربي اماراتو ته سفر ۱٥۹
- له خوست څخه د امریکایانو د پي آر ټي وتل ۱٦۰
- له شېخ زاید پوهنتون سره د متحده عربي اماراتو مرسته ۱٦۱
- د خوست پرمختیایي کنفرانس ۱٦۲
- د خوست له مشرانو سره د ولسمشر حامد کرزي لیدنه ۱٦۳
- ولسمشر سره ویډیویي کنفرانس ۱٦٤
- د ماموریت وروستۍ ورځې، لاسته راوړنې او مننه ۱٦٥

- لغمان ۱٦۹
- د لغمان ولایت د والي په توګه ۱۷۱
  - د معرفت غونډه ۱۷۱
  - د لغمان ولایت لوی روغتون ۱۷۲

- لغمان کې بده خاطره ۱۷۵
- د لغمان بنسټیزې پروژې ۱۷۷
- د کله ګوش د اوبو او برښنا بند سروې ۱۷۸
- د وطن ګټو برښنا بند سروې ۱۷۹
- د شاهي کانال سروې ۱۷۹
- د سراج تاریخي کلا او بې بیارغول ۱۸۰
- د شهیدانو پُل ۱۸۲
- نهه زره کورونو ته برښنا رسول ۱۸۳
- د کرکټ لوبغالی ۱۸۳
- د بابا صاحب زیارت سړک او ابدات رغول ۱۸٤
- اداري تعمیرونه ۱۸٦
- سلطان غازي بابا ښارګوټی ۱۸٦
- لغمان کې ښوونیز بهیر ۱۸۷
- پوهنتون ۱۸۷
- ښوونځي ۱۸۸
- عالي دارالمعلمین ۱۸۸
- لنکن ښوونیز مرکز ۱۸۸
- د حرفوي زده کړو مرکز ۱۸۹
- ښوونکو ته د استوګنې نومرې ورکول ۱۹۰
- په ادارو کې اصلاحات راوستل ۱۹۱
- لغمان ته د لوړپوړو چارواکو راتګ ۱۹۱
- د لغمان د خلکو سره د ولسمشر لیدنه ۱۹۱
- له علماوو سره ځانګړې ناستې ۱۹٤
- مرستندویه ټولنو سره اړیکې ۱۹۵
- پر مهترلام د برید پلان ۱۹۵
- د مخالفینو د ځپلو لپاره نوي تدابیر ۱۹۹
- د انجنیر ګلبدین حکمتیار ظهور ۲۰۱
- لغمان د ملي پخلاینې او سولې کور ۲۰۵
- د لغمان رغونې جشن ۲۰۷
- مننه او خدای پاماني ۲۰۹

- کندوز ۲۱۲
- د کندوز ولایت د والي په توګه ۲۱۷
  - د معرفت غونډه ۲۱۷
  - د کندوزیانو هیلې ۲۱۹
  - سترې ننګونې ۲۲۰
  - کابل ته لومړی سفر ۲۲۱
  - له مرکز څخه د پلاوو راتګ ۲۲٤
  - د الچین پُل ۲۳۱
  - حلقوي سرک ۲۳۲
  - برښنا ۲۳۲
- مهالښود ۲۳٤

# دوهم چاپ

د دې کتاب لومړنی چاپ په ۱۳۹٦هـ ش کې چاپ او خپور شو، چې هغه مهال عبدالجبار نعيمي د لغمان والي و.

خو کله چې عبدالجبار نعيمي له لغمان څخه کندوز ته تبديل شو او خپله نوې دنده يې په کندوز ولايت کې پيل کړه، نو له هغې وروسته مو په دې کتاب کې نوې زياتونې وکړې او د دوهم چاپ لپاره مو چمتو کړ.

په دې کتاب کې ځينې تېروتنې سمې شوې او همدا راز د لغمان په اړه پکې هغه وروستي معلومات هم ځای پر ځای شول، چې په لومړني چاپ کې نه و يا هم د لومړني چاپ څخه وروسته چې کوم کارونه ترسره شول، هغه مو د کتاب په دوهم چاپ کې ورزيات کړل.

همدا راز د دې کتاب په وروستۍ برخه کې مو د کندوز ولايت په اړه هم يو شمېر معلومات رايوځای کړي دي او هلته د سخت ماموريت په تړاو هم خبرې شوې دي، چې کندوز ولايت په نږدې وخت کې دوه ځله سقوط شوی دی، نو په دغه ولايت کې دنده کول به څومره سخت وي.

د کتاب د لومړي چاپ په متن کې د اړتيا وړ معلومات زيات شوي دي.

د کتاب په دوهم چاپ نه غواړم چې اوږدې خبرې وکړم، بس دا هم تاسو او دا هم ((بريالی ماموريت)) کتاب.

په افغانستان کې د سرتاسري سولې په هيله
ژوندی دې وي افغانستان
تل دې وي افغانستان

**رحمت ديوان**

۱۳۹۷\۳\۳۰هـ ش

# دا کتاب

د خبريال ټکي کام اداري غوښتل چې د هېواد پر هغو بريالیو خلکو کتابونه ولیکي، چې يې دې هېواد ته په رښتينې مانا خدمت کړی. د اوسني نظام له راتلو وروسته داسې ډېرې ځېرې مخې ته راغلې، چې هغوی د دې هېواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره ډېری کارونه ترسره کړي دي، که يو خوا زموږ په هېواد کې داسې ډېر خلک هم پر دولتي څوکيو ناست دي، چې د ولس حقونه خوري، فساد کوي او په يو نه يو ډول هېواد له ګواښونو سره مخ کوي، خو په دې خلکو کې بيا يو شمېر داسې خلک هم شته، چې هغوی د خپل هېواد د ابادۍ او د ولسونو د پرمختګ لپاره کار کوي.

کله چې د خبريال اداري په دې اړه ماته وويل، چې داسې يو کار پيلوي، نو دا خبره يې هم راته وکړه، چې دا کار زه وکړم، په هغه وخت کې خو ما هېڅ غبرګون ونه ښود، خو کله چې راته کار وسپارل شو او ما پرې عملي کار پيل کړ، نو پوه شوم چې دا څومره سخت او ګران کار دی.

د خبريال اداري غوښتل چې د لغمان اوسني والي عبدالجبار نعيمي د ماموريت په تړاو کتاب چاپ کړي، کله چې موږ هر څه په خپل منځ کې حتمي کړل، نو وروسته له هغې زه د موادو راټولولو په لټه کې شوم.

کله چې مې د لغمان والي سره وليدل او په دې تړاو مې ورسره خبرې شريکې کړې، نو لا هم زه په دې نه وم پوه، چې له کومه يې پيل کړم او کوم ځای کې يې پای ته ورسوم، خو ما له هغه وخت راهيسې د معلوماتو په راغونډولو پيل وکړ.

له انټرنېټ څخه چې مې څومره څه پېدا کړل، هغه ډېر لږ و، وروسته له هغې مې هغه خلک راپېدا کړل، چې وخت نا وخته د عبدالجبار نعيمي سره نږدې پاتې شوي دي. په لومړي سر کې مې هغه کتابونه ترلاسه کړل، چې وخت نا وخته چاپ شوي و او د عبدالجبار نعيمي يا د دوی کارونو يادونه پکې شوې وه، د هغې له لوستو وروسته هم ډېر څه په لاس رانغلل، بيا مې د ترتيب د نېټې له مخې هغه ټول راپورونه، خبرونه او ليکنې راپېدا کړې، چې د عبدالجبار نعيمي په وخت کې ليکل شوي و.

د دې هر څه راټولولو او لوستلو نه وروسته ما د کتاب طرحه ترتيب کړه او له هغې وروسته مې پرې د کار کولو پرېکړه وکړه، خو بيا هم ډېر معلومات داسې و، چې ما غوښتل پېدا يې کړم او هغه په دې راپورونو، خبرونو، ليکنو او کتابونو کې نه و، نو په دې اړه خو په لومړي سر کې ما له هغو خلکو څخه معلومات ترلاسه کړل، چې له عبدالجبار نعيمي سره نږدې پاتې شوي و، وروسته مې بيا د نعيمي صېب نه وخت وغوښت، له هغوی سره کېناستم او کومه طرحه چې ما جوړه کړې وه، په هغې مې ورسره له نږدې خبرې وکړې او په دې اړه مې ورسره تفصيلي مرکې وکړې.

د مرکو په لړ کې زه پنځه شپږ ځلې له هغوی سره کېناستم، اوږدې اوږدې مرکې مې ورسره

وکړې او له هغې وروسته، چې دا هر څه مې راغونډ کړل نو بیا مې د کتاب په لیکلو پیل وکړ، چې اوس ستاسو په لاسو کې دی.

د داسې یو کتاب لیکل، چې د یو شخصیت په اړه لیکل کېږي او خواره واره معلومات پکې راغونډېږي، یقیناً چې ډېر گران او له کړاوونو ډک کار وي، ځکه ډېر څه له سرې پاتې شي او یا هم ورته لاسرسی ونه لري، خو ما چې څومره خپله وسه کولای شوه، هغه هومره مې په دې کتاب خواري وکړه او څومره څه ته چې مې لاسرسی پیدا کړ، دا کتاب مې ترې ترتیب کړ.

د کتاب لپاره انځورونه راپیدا کول هم یو گران او له کړاوونو څخه ډک کار و، خو په دې لړ کې زه د ښاغلیو عبدالودود بشریار، فرهاد افغان، امیرزېب او عابد مننه کوم، چې خپله مرسته یې راسره وکړه او د انځورونو په پیدا کولو کې یې راسره خپل زحمت وویست.

د میدان وردگو په معلوماتو کې راسره عبدالودود بشریار، د خوست په معلوماتو کې فرهاد افغان، امیر زېب، د لغمان په معلوماتو کې راسره سرحدي ځواک او سید الرحمان عابد مرسته کړې، چې مننه یې کوم. د کتاب د ایډیټ په لړ کې د ښاغلیو حکیم بشارت او عبدالودود بشریار مننه هم په ځان پور گڼم.

په کتاب کې د عبدالجبار نعیمي د ماموریت پر هغو لاسته راوړنو خبرې شوي، چې د دې درې واړو ولایتونو قسمت یې بدل کړی دی، د کتاب په اړه نورې خبرې ځکه نه کوم، چې هر څه په کتاب کې په تفصیلي ډول شته.

په کتاب د یو څه لیکلو هیله مو له نعیمي صېب وکړه، هغوی هم راسره ومنله او په کتاب یې خپله سریزه ولیکله.

چون په کتاب کې د عبدالجبار نعیمي ټول کارونه په تفصیلي ډول نه دي رااخیستل شوي او نه هم له نېټو سره سم رااخیستل شوي دي، نو په دې خاطر مو غوره وگڼله چې په کتاب کې د درې واړو ولایتونو د کارونو یو لنډ او مهم مهالښود برابر او په دې کتاب کې یې چاپ کړو. د کتاب په اخري برخه کې تاسو مهالښود لوستلای شئ، چې پکې د درې واړو ولایتونو مهم کارونه په لنډ ډول راغونډ شوي دي. په دې کې به نیمگړتیاوې هم وي، ځکه چې له نېټو سره سم دا هر څه چمتو کول ډېر گران کار دی.

د خبریال اداري له مشرتابه هم مننه، چې داسې یو کار ته یې ملا تړلې، چې د هېواد درانه او بریالي شخصیتونه په کتابونو کې خوندي کوي، چې د هېواد د ابادۍ او د ولس په پرمختگ کې یې خپله ونډه اخیستې.

نور دا هم تاسو او دا هم کتاب.

**رحمت دیوان**

۳ زمری ۱۳۹٦ هـ ش

# سریزه

د بن د نړیوال کنفرانس تر جوړیدو وروسته په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې په هر اړخیز ملاتړ سره د دولت جوړونې یو نوی بهیر او حرکت پیل شو، د ولسواکۍ د تقویت لپاره اساسي هڅې او کړنې پیل شوې، افغانستان بیرته د میلیونونو افغانانو ګډ کور شو، ملي واکمني ټینګه او په ټول مملکت کې د یووالي ټغر خور شو، سنګرونه او مورچې ړنګې او د هېواد جوړونې او ملت جوړونې یو نوی څپرکی پرانیستل شو.

د افغانستان ملي بیرغ د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې رپانده شو، د سیمې او نړۍ په کچه یې په هره برخه کې له نورو دولتونو سره د سیاسي، دیپلوماتیکو، فرهنګي، تجارتي، اقتصادي اړیکو یو نوی پړاو رامنځته شو.

د ملي تفاهم او هلو ځلو پر بنسټ اساسي قانون جوړ شو، د ملي مسایلو او موضوعاتو په خاطر تاریخي جرګې را وبلل شوې، ملي او دیموکراتیک بنسټونه کېښودل شول. ملي، امنیتي او دفاعي ځواک منسجم او بیرته د هېواد د خدمت او دفاع لپاره چمتو شو.

لنډه دا چې افغانستان تر لسیزو جګړو وروسته یو نوی افغانستان شو، اوس افغان ملت د ټاکنو له لارې خپل ولسمشر او استازي ټاکي، په ګڼ شمیر سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو کې افغانانو خپل ځای پیدا کړی او لا هم دغه مزل په چټکۍ سره دوام لري.

زمونږ هېواد په کم وخت کې داسې پرمختګونه وکړل چې زیاتو دولتونو په پیړیو کې هم نه دي کړي، لامل یې دا دی چې افغان ملت سختې جګړې، ستونزې او ناخوالې ولیدې، د پردیو ظلمونه یې ولیدل پر دې پوه شول چې باید خپل هېواد داسې جوړ کړي چې راتلونکي نسلونه هم په کې د ارام او هوسا ژوند سا واخلي.

پر دې ویاړم چې د هېواد په دې ټولو تاریخي او ملي بهیرونو کې مې ګډون درلود، د اساسي قانون په لویه جرګه کې مې د کندهار د خلکو استازیتوب وکړ او د ولسمشرۍ د لومړي پړاو په ټاکنو کې مې په پاکستان کې د پخواني ولسمشر حامد کرزي د کمپاین مشري وکړه، چې په ملي مینه مې یو بریالی کمپاین ترسره کړ او د ټاکنو په پایله کې ښاغلی حامد کرزی د افغانستان ولسمشر شو.

تر کمپاین کولو وروسته خپل کور ته راستون شوم، ډېر ستړی شوی وم، ومې غوښتل چې لږ ارام وکړم او یو څه وخت له خپلې کورنۍ سره تیر کړم.

همدې وخت کې له ارگ څخه راته ټيليفون وشو او راته وويل شول چې ولسمشر دې ارگ ته غواړي، کله چې ارگ ته ولاړم نو ټاکل شوي ولسمشر له ما وغوښتل چې د نوموړي د استازي يعنې د ميدان وردگو ولايت د والي په حيث کار پيل کړم، دې غوښتنې ډېر حېران کړم ځکه چې ما هېڅ داسې پلان نه درلود، بلکې ما پلان درلود چې د ولسي جرگې په ټاکنو کې په گډون سره د افغانستان نوي پارلمان ته لاره پيدا کړم او د خلکو استازی شم.

دې غوښتنې سخت حېران کړم ځکه چې جگړو خلک ډېر ځورولي و، ويجاړی او ړنگې ډېرې وې، د خلکو غوښتنې خورا زياتې وې او ما دغه ولايت ليدلی هم نه و، خو د ولسمشر حامد کرزي غوښتنې او ټينگار دې ته اړ کړم چې دغه دنده ومنم.

ځوان وم د سر وېښته مې تور و او د ولس خدمت ته ډېر تږی وم، د کلک عزم، ارادې او قوي هوډ پر بنسټ مې د ميدان وردگو ولايت د ولس لپاره خدمت پيل کړ، شپه او ورځ مې يوه کړه تر درې نيمو کلونو خدمت وروسته دغه ولايت ډېر اباد شو، نوي پرمختگونه وشول، ډاگ په واقعي ښار بدل شو، ولسواليو او کليو ته سفرونه وشول، ښوونځي،کلينکونه، پلونه، سړکونه او دولتي تاسيسات جوړ شول، داسې بنسټونه کېښودل شول چې اوس هم يادېږي، سختی مو وليدې، ناخوالې مو وگاللې خو پر دې ټولو ستونزو بريالی او په دغه ولايت کې يو گټور ماموريت ترسره شو.

په دغه ولايت کې د خدمت پر مهال مې ډېرې هغه ننگونې ختمې کړې چې د قانون حاکميت ته يې زيان رسولی و، د خپل سريو مخه ونيول شوه او يوه داسې اداره جوړه شوه چې په قوت سره يې د نظام تگلارې پلې کولې او ولس ته په خدمت بوخته وه، داسې فضاء رامنځته شوه چې ولس خوښ او له نظام راضي و، کله چې د هېواد ولسمشر دغه ولايت ته راغلی نو دومره ولس په منځ کې خوښ شو چې بيرته يې کابل ته د ژر تگ لپاره زړه نه و او له هر پرمختگ او شېبې يې خوند اخيسته.

په ميدان وردگو ولايت کې تر ماموريت او لږ وخت وروسته مې د خوست د والي په حيث دنده پيل کړه، خوست يو سرحدي ولايت دی او هغه مهال په کې خورا لويې ننگونې او ستونزې موجودې وې، په قوي هوډ، صداقت او وطن دوستی سره مې کار پيل کړ، د مرکزي حکومت او ولس د ملاتړ پر بنسټ پر سختو ستونزو او ننگونو بريالی شوم او له سختو مقاومتونو او دسيسو سره هم مخ شوم ځکه چې په جديت او قاطعيت سره مې دغه ولايت ته خدمت وکړ او ياد ولايت د امن، سولې، يووالي، ابادی او پوهنې په کور بدل شو.

په خوست کې د بنسټيز خدمت ترڅنگ تر ټولو ستره بريا دا وه چې هلته د ولسمشری دريمه دوره ټاکنې په ډاډمنه امنيتي فضاء کې ترسره او د واقعي ولسواکی يو تاريخ جوړ شو

ځکه چې ولس په ټاکنو کې پراخ ګډون وکړ او زموږ هغو هڅو مثبته پایله ورکړه چې په ټاکنو کې د ولسي ګډون لپاره مو شپه او ورځ سرته رسولې وې.

خوست کې مې ماموريت دوام درلود او تر ټاکنو وروسته د ملي يووالي حکومت رامنځته شو، د ملي يووالي د حکومت په راتګ سره په ولايتونو کې د مثبت بدلون او سمون لړۍ هم چټکه شوه، په همدې اساس د ملي يووالي حکومت رهبري راته د لغمان ولايت د اداري او مديريت مسووليت وسپاره. لغمان ولايت شپه او ورځ کار ته اړتيا درلوده او لا هم زيات کار او هڅو ته ضرورت لري.

دغه ولايت ډېر مهم موقعيت، د پرمختګ ښه فرصتونه او د هېواد په کچه ستره علمي پانګه لري، کله چې مې په دغه ولايت کې ماموريت پيل شو ولس راته سترې او مهمې غوښتنې وړاندې کړې، اړ شوم چې شپه او ورځ يوه کړم او د خپل ولس غوښتنو ته مثبت ځواب ووايم. لغمان ولايت کې هم مهم پرمختګونه وشول چې د همدې کتاب په منځپانګه کې څېړل شوي دي.

د ولايتونو په ټول ماموريت کې مې ولس ته د خدمت په لاره، د ښې حکومتولۍ د ټينګښت او د نظام د پياوړتيا په برخه کې نوي درسونه زده کړل، نوې تجربې مې ترلاسه کړې او پر دې پوه شوم چې څه وخت يو والي بريالی وي او څه وخت په خپل ماموريت کې پاتې راځي چې په لاندې توګه يې له تاسو سره شريکوم:

۱- د يو ولايت والي هغه وخت بريالی وي چې د ولسمشر او کابينې حمايت له ځان سره ولري او له ټولو وزارتونو او مرستندويه ټولنو سره د کار ښه همغږي او ځانګړې کاري اړيکه ولري.

۲- د ولايت والي بايد په مستقيم ډول له ولسمشر سره د اړيکو ټينګولو يو ځانګړی سيستم ولري، ترڅو په بيړنيو حالاتو کې د ولسمشر هدايت ترلاسه کړای شي، اوسنۍ اړيکې کمزورې دي او سيمه ييزې حکومتولۍ ته يې زيان رسولی دی.

۳- لومړی بايد د واليانو په تقرر کې له بشپړ دقت کار واخيستل شي او بيا دې ورباندې بشپړ اعتماد وشي تر څو په ښه توګه د نظام استازيتوب وکړي او په قوت سره اجراءت وکړای شي.

۴- د واليانو دندې خورا مهمې لوړې او مسووليتونه يې درانه دي، مګر صلاحيتونه ورته کم تفويض شوي همدا لامل دی چې خلک همېشه له واليانو شکايت کوي او پر دې يې ملامتوي چې په وخت اقدام نه کوي او ستونزې نه شي هوارولای.

۵- واليانو ته بايد په ولايتي کچه د مسوولينو د ګمارنې په برخه کې لازم او ځانګړي

صلاحیتونه ورکړل شي، ورکړل شوي صلاحیتونه ډېر کم دي، همدا لامل دی چې محلي ادارې کمزورې او ډېر وخت ولس ترې شکایت کوي.

٦- والي د ولایت په کچه د دولت استازی دی، نو په کار ده چې هغه کسان د والیانو په توګه وګمارل شي، چې په خلکو کې نفوذ ولري او د هېواد پر داخلي او خارجي سیاست ښه پوه وي، تر څو په ښه توګه د دولت استازیتوب وکړي.

د ماموریت ډېرې کیسې شته چې هره کیسه یې یو پیغام لري، په لیکل شوي کتاب کې د لیکوال لخوا تر ډېره بریده د بریالیتوب کیسې ځای شوي دي او ډېرو لاسته راوړنو او مبارزو ته اشاره شوې ده.

د خبریال اداري او لیکوال ښاغلي رحمت دیوان دا نوښت او هڅه چې زما پر ماموریت یې لیکل کړي یو داسې نوښت دی چې تیرې کیسې یې د درسونو په شکل راتلونکي نسل ته انتقال کړې.

د لیکوال له دې نوښت نه منندوی یم چې زما د ژوند تجربې یې کتابي کړې او راتلونکي نسل ته یې د لیږد وړ وګرځولې، پر دې باوري یم چې د کتاب منځپانګه به هغو ځیړونکو او مینه والو ته چې له هېواد، خدمت او سیمه ییزې حکومتولۍ سره مینه لري ډېر ګټور مسایل په لاس ورکړي او هیله مند یم چې لوستونکي دا کتاب په دقت سره ولولي تر څو دا معلومات ترلاسه کړي چې په یادو درې ولایتونو کې کومې عمده کړنې او په څه ډول ترسره شوې دي.

مننه

د یو اباد افغانستان په هیله

**عبدالجبار نعیمي**

د لغمان والي

د زمري ۸مه، ۱۳۹٦هـ ش

# د اساسي قانون لويې جرګې غړيتوب

د ۲۰۰۱ز کال د سپتمبر د ۱۱مې له پېښې وروسته نړۍ په يو بل لور روانه شوه. د طالبانو د واکمنۍ له سقوط نه وروسته د جرمني په بن ښار کې افغان سياسي مشـران راغونډ شول او افغانستان کې يې د حکومت پر جوړولو سلا مشورې وکړې، نو همدا و چې يو لنډمهالی حکومت رامنځته شو او حامد کرزی د ۲۹ کسيزې کابينې مشر وټاکل شو.

په هېواد کې د نوې لنډمهالې ادارې د راتګ لومړی کار د اساسي قانون جوړول و او د دې لپاره لويه جرګه راغوښتل کېده. دا داسې وخت و چې ټول افغانان په شريکه هېواد ته راروان و او ټولو ډلو غوښتل چې د هېواد اساسي قانون جوړ کړي او نور خپل هېواد له بدبختيو وژغوري.

ټول مهاجر شوي افغانان هېواد ته ځه راستانه شوي و او ځه لا هم راستنېدل. د جهاد او د خلق او پرچم وختونو ټول هغه خلک، چې وروستيو کې بيا مهاجرت ته اړ شوي و، خپل هېواد ته راستنېدل او ځينو غوښتل چې د اساسي قانون جوړونې په لويه جرګه کې برخه واخلي.

د افغانستان د نوي اساسي قانون مسوده چمتو شوه او د تصويب لپاره يې د ټولو افغانانو د انتخابي استازو د لويې جرګې رابللو پرېکړه وشوه، چې په پايله کې د ليندۍ ۲۲مې نه د مرغومي تر ۱٦مې ۱۳۸۲هـ ش پورې د اساسي قانون د تصويب لويه جرګه جوړه شوه. دې جرګه کې نږدې ۵۰۲ تنو د ټولو افغانانو په استازيتوب ګډون کړی و.

دې لويه جرګه کې له کندهار څخه ۱۷ تنو نمايندګانو ګډون درلود. که څه هم دا داسې وخت و، چې عبدالجبار نعيمي په ځينو سياسي چارو کې ډېر بوخت و، خو د قومي مشـرانو د ټينګار له امله يې د لويې جرګې لپاره ځان کانديد کړ. د نعيمي په وړاندې هيڅوک هم ونه درېدل او ټولو قومي مشرانو او ولسي وګړو نوموړي ته رايې ورکړې او د اساسي قانون لويې جرګې ته يې نوماند کړ.

د جرګې تالار کې د اساسي قانون د تصويب غونډه روانه وه. غونډه د لنډمهالې ادارې د مشر حامد کرزي په مشرۍ راغوښتل شوې وه. د ټول افغانستان نمايندګانو په کې ګډون کړی و. په دوی کې د جهاد د وخت خلک او د خلق او پرچم دورې خلک هم موجود و او هغه ټول افغانان، چې د کورنيو جنګونو له وجې يې نورو هېوادونو ته مهاجرت کړی و او هلته يې شپې ورځې سبا کولې، د افغانستان د جوړولو لپاره دلته راغونډ شوي و او د افغانستان د اتم اساسي قانون مسوده يې تر بحث لاندې وه.

د ۱۳۸۲هـ ش کال د لیندۍ ۲۳مه (د ۲۰۰۳ز کال د ډسمبر ۱٤مه) هغه ورځ وه، چې د نوي افغانستان په لور سفر پیلېده او د ټولو خلکو په سترګو کې د ښې راتلونکې هیلې له ورایه ښکارېدې.

تېرو بدبختیو ته په کتو هیچا داسې تصور نه کاوه، چې هېواد کې به داسې یوه ورځ هم راځي، چې ټولې ډلې به سره یو ځای راغونډېږي او د افغانستان د ټول ولس استازي به خپل منځ کې کېني او د یو نوي افغانستان لپاره به اساسي قانون جوړوي.

نعیمي وايي: ((دا یوه داسې ورځ وه، چې موږ یې ډېر سخت انتظار کړی و او هغه ورځ راورسېده، چې د یو نوي افغانستان په لور زموږ سفر پیل شو.))

د لویې جرګې په تالار کې د هر وګړي پر مخ خوشحالي له ورایه ښکاریده. ټول هیله من او خوښ و. هغه خلک چې د یو بل پر ضد یې وسلې کارولې، ټول سره یو ځای ناست او د خبرو اترو له لارې یې د هېواد جوړونې ژمنې کولې.

# پاکستان کې د حامد کرزي انتخاباتي کمپاين مسووليت

حامد کرزي د ۲۰۰۱ز کال د ډسمبر پر ۲۲ مه د کابينې د مشرتابه لوړه وکړه. وروسته له هغې چې کله اساسي قانون تصويب او توشيح شو، نو بيا په ۲۰۰٤ز کال کې د ټاکنو بهير پيل شو، چې په کې د حامد کرزي په ګډون ۲۳ کانديدانو برخه اخيستې وه.

د حامدکرزي ترڅنګ يونس قانوني، استاد محمد محقق، عبدالرشيد دوستم، عبداللطيف پدرام، مسعوده جلال، احمد شاه احمدزی، عبدالستار سيرت، همايون شاه آصفي، غلام فاروق نجرابي، سيد عبدالهادي دبير، عبدالحفيظ منصور، عبدالهادي خليلزی، مير محفوظ ندايي، محمد ابراهيم رشيد، وکيل منګل او عبدالحسيب ارين، ولسمشرۍ ته نوماندان و.

هېواد کې د ټاکنو په دې هلو ځلو کې د افغانستان ملي اسلامي محاذ ګوند مشر ارواښاد پير سيد احمد ګيلاني د حامد کرزي ملاتړ وکړ، ځکه هغه د يو ولسواک او ملي نظام غوښتونکی و او نور يې نه غوښتل چې هېواد کې جګړه دوام ومومي.

پر دغه مهال عبدالجبار نعيمي د افغانستان د ملي اسلامي محاذ ګوند له مخکښو غړيو څخه و. نوموړی هم په دې هڅه کې شو، چې حامد کرزي ته د ولسمشرۍ څوکۍ د ترلاسه کولو لپاره خپلې ټولې هڅې وکړي.

افغانستان کې انتقالي اداره منځته راغلې وه، نو د هېواد ډېری وګړي چې ګاونډيو هېوادونو ته مهاجر شوي و، هغوی لا هم په کوربه هېوادونو کې ژوند کاوه او خپل هېواد ته لا ستانه شوي نه و. هېواد کې د ټاکنيز بهير پيل او سر ته رسول يو لوی او تاريخي کار و، چې ډېر زحمت ته يې اړتيا درلوده.

دې لړ کې نه يواځې دا کار وشو، چې په هېواد دننه وګړي به د خپلو خوښو نوماندو ته رايې ورکوي، بلکې دا پرېکړه هم وشوه، چې له هېواد نه دباندې، ګاونډي هېواد پاکستان کې به هم افغان کډوال د خپلو خوښو نوماندو ته رايې ورکوي. دا نو يو بل سخت او مهم کار و چې په ښه طريقه يې ترسره کيدل غوښتل.

عبدالجبار نعيمي په ارګ کې له حامد کرزي سره وليدل، چې د وخت دفاع وزير جنرال عبدالرحيم وردګ او د ملي امنيت رييس امرالله صالح هم ورسره ناست و. دې ناسته کې له

نعیمي څخه غوښتنه وشوه، چې پاکستان ته ولاړ شي، ځکه هلته د پاکستان حکومت او ملګرو ملتونو سره افغانستان یو پرېکړه لیک لاسلیک کړی و، چې له مخې یې پاکستان کې مېشتو افغان کډوالو ته د رایو حق ورکړل شوی و. په همدې خاطر حامد کرزي له نعیمي وغوښتل چې پاکستان کې د نوموړي د ټاکنیز کمپاین مسوولیت په غاړه واخلي.

کله چې نعیمي دا خبره واورېده، نو پاکستان کې ورته انتخاباتي کمپاین کول ډېر مشکل ښکاره شول، ځکه هر هېواد خپل شرایط لري، خپل قوانین لري او په داسې وختونو کې همېش شخړې او ستونزې رامنځته کېږي، چې په خپل هېواد کې یې حل کول اسان وي، خو که پردي هېواد کې شخړې یا ستونزې رامنځته شي، نو هوارول یې د مشکل له پاسه بل مشکل وي.

خو نعیمي د حامد کرزي له وړاندیز وروسته د کمپاین له عمومي مسوول نور محمد قرقین او سردار محمد روشن، چې د کمپاین په دارالانشاء کې یې کار کاوه، غوښتنه وکړه که نوموړی پاکستان ته ځي، نو هلته باید په رسمي ډول معرفي شي.


عبدالجبارنعیمي په اسلام اباد کې د افغان کډوالو تر منځ د حامد کرزي د ټاکنیز کمپاین په دفتر کې

نعیمي ورته وویل: ((پاکستان سفارت، ملل متحد او ځینې نور هېوادونه چې له افغانستان سره ښې اړیکې لري او د کمپاین حمایت کوي، دوی ته ما رسمي معرفي کړئ، ځکه که په دغه هېواد کې موږ ته ستونزې پېښې‌ږي چې موږ سره یې حل و فصل کې مرسته وکړي.))

نعیمي خپل وړاندیزونه دوی ته وړاندې کړل او ترې ویې غوښتل چې کله دی ځي، نو بل څوک هلته معرفي نه کړي، چې کاري ګډوډي رامنځته نه کړي او د رهبرۍ یووالي ته زیان ونه رسوي او د کوم هدف لپاره چې ځي، باید په سمه توګه ترسره شي او هیڅ خنډونه په کې را ولاړ نه شي.

نعیمي بل وړاندیز دا وکړ، چې هلته یو مرکز هم جوړ کړل شي چې ټولې اړیکې له هغې لارې خلکو سره ونیول شي او انفرادي اړیکې دې ختمې شي.

د چارشنبې پر ورځ د ۲۰۰٤ز کال د سپتمبر پر ۱۵مه (د وږي ۲٤، ۱۳۸۳هـ ش) حامد کرزي

د انتخاباتي کمېسيون له خوا د يوې اعلامیې په ترڅ کې عبدالجبار نعيمي د حامد کرزي د ټاکنيزې لړۍ د پر مخ بيولو د مشر په توګه وټاکل شو.

اوس نو دا د نومووړي ورتيا وه، چې په دغه هېواد کې څومره افغانان هڅولای شي، چې د خپل هېواد په دې تاريخي بهير کې ګډون وکړي او حامد کرزی د ولسمشرۍ تر څوکۍ ورسوي.

کله چې نعيمي او ټيم يې پاکستان ته ولاړل، نو پر لومړۍ ورځ يې غونډه وکړه. دا غونډه پر ٢٤ سپتمبر ٢٠٠٤ز (د تلې ٣مه، ١٣٨٣هـ ش) د پېښور په يو ځايي مېلمستون کې ترسره شوه او د بېلا بېلو کمپونو استازو او مشرانو په کې ګډون کړی و. نعيمي رسنيو ته وويل: ((موږ به افغان ولس ته د ښاغلي کرزي تګلاره تشريح کړو او ولس ته به ووايو چې څوک د ولس په ګټه وي، هغه ته دې رايې ورکړي.))

نومووړی وايي: ((موږ پر خلکو وګرځېدو، خلکو سره مو ناستې وکړې، خبرې مو ورسره وکړې او دې ته مو وهڅول چې ټاکنو کې ونډه واخلي او  وړ شخص وټاکي، تر څو زموږ  راتلونکې سوکاله شي او هېواد مو جوړ او پرمختللی شي.))

نومووړي د ټاکنو په بهير کې يو لوی کار دا هم وکړ، چې هلته مېشتو افغانانو ته يې يواځې د خپل نوماند کمپاين ونه کړ او نه يې د نورو نوماندانو پر ضد منفي تبليغات ترسره کړل، بلکې هغوی يې وهڅول چې ټاکنو کې برخه واخلي او هر څوک چې يې خوښ وي او هر څوک ورته د هېواد د راتلونکې لپاره وړ شخص ښکاري او د افغانستان د بيا رغونې، سولې، امنيت، متوازن پرمختګ، پوهنيزې او ښوونيزې ودې لپاره وړ بولي او په سمه توګه د اداري اصلاحاتو، ټولنيزو خدمتونو لپاره کار کولای شي، هغه ته دې رايې ورکړي.

لومړۍ غونډه کې دوی په درې برخو کې کار وکړ. يو دفتر يې اسلام اباد کې، دويم دفتر يې پېښور کې او دريم دفتر يې کوټه کې پرانيستل. دا دفترونه د کمپاينې چارو په ښه توګه ترسره کولو لپاره جوړ شول چې په کې به د کمپاينونو پلانونه او سرښتې نيول کيدې.

نعيمي وايي: ((موږ دلته پلانونه جوړ کړل، ټيمونه مو منظم کړل او هر دفتر ته به مو کار وسپاره چې دوی په خپله ساحه کې له خلکو سره څنګه اړيکې ونيسي او کوم- کوم وخت ضرور دي چې په دغو ځايونو کې غونډې جوړې شي.))

دوی په پېښور کې درې څلور لويې غونډې جوړې کړې. يوه غونډه د افغانستان اسلامي محاذ ګوند قوماندان حاجي زمان په ځای کې وشوه، هغه دې ته وهڅول شو چې د حامد کرزي حمايت وکړي.

د غونډو تفصيل که دلته راوړم ډېرې اوږديږي، خو د پاکستان په هر هغه ځای کې، چې افغانان مېشت و، غونډې وشوې او وهڅول شول چې ټاکنيز بهير کې برخه واخلي او حامد کرزي

ته رایې ورکړي.

پاکستان کې نعیمي او د دوی ټیم د استاد برهان الدین رباني گوند- جمعیت اسلامي، افغان ملت گوند، د افغانستان ملي اسلامي محاذ گوند، د شاه نواز تني - ملي غورځنگ گوند، د حضرت صیب -د نجات ملي جبهه ، د ارواښاد مولوي محمد نبي - حرکت انقلاب اسلامي گوند، د مولوي خالص گوند او حتا د حزب اسلامي له ځینو غړو سره ولیدل او هغوی یې ټاکنو کې گډون او حمایت ته چمتو کړل.

د کمپاین په دې لړ کې آن کویټې ته هم ولاړل. هلته یې دفتر پرانیست او غونډې یې جوړې کړې. سرانانو کمپ کې یې د حاجي خیر محمد خان اسحاقزي په ځای کې یوه ډېره لویه غونډه وکړه.

سرخاب داسې یو ځای و چې هلته تگ او غونډه کول ډېر سخت او خطرناک کار و، ځکه دغلته د طالبانو د وخت مسوولین اوسېدل او د طالبانو غړي په کې ډېر زیات و، خو نعیمي هلته هم ولاړ او له مشرانو سره یې غونډې وکړې.

دا ټول کمپاین په داسې طریقه ترسره شو، چې یو خوا خلکو ته دا پوهاوی ورکړل شو، چې د رایو کارتونه واخلي، ځکه د رایو کارتونه ډېر مهم و، که یو چا د رایې کارت نه درلود، هغه رایه نه شوه ورکولای او بل خوا خلک دې ته وهڅول شول، چې خپلې رایې د حامد کرزي لپاره وکاروي.

پاکستان کې ځینو خلکو نه غوښتل چې افغانستان کې د ټاکنو نوی پیل شوی بهیر په بریالیتوب سر ته ورسېږي. دوی په دې هڅه کې و چې دا بهیر له ناکامۍ سره مخ کړي، خلکو کې ویره خوره کړي او له رایو ورکولو یې وگرځوي. خلکو ته د گواښونو ورکولو اندازه د ((مشرق)) اردو ورځپاڼې له دې خبر څخه په سمه توگه ښکاریدای شي. دا خبر د هغه وخت د کډوالو د نړیوالې ټولنې مشر پیټر اربن رسنیو ته ورکړی، هغه ویلي: پاکستان کې مېشتو افغانو کډوالو ته چې انتخاباتو کې برخه اخلي او هغو چارواکو ته چې د نوم لیکنې او رایو ورکولو چارې سمبالوي، د ناڅرگندو خلکو له لوري گواښ شوی دی.

خو نومورې زیاتوي، چې د انتخاباتي لړۍ ترسره کولو لپاره ډاډمن امنیت ټینگ شوی دی.

د دې دومره گواښونو تر څنگ هم مخالفین بریالي نه شول، چې نعیمي او د دوی ټیم له کمپاین او خلکو سره له مخ په مخ لیدو راوگرځوي او له دومره گواښونو سره – سره خلک ټاکنو کې گډون ته وهڅول شول او په پراخ ډول یې ټاکنو کې برخه واخیسته.

ځینو ځایونو کې د وېرولو پېښې هم رامنځته شوې وې او آن د مرگ گواښونه هم شوي و، خو بیا هم په همدغو ځایونو کې مېشتو افغانانو له دې سره سره په ټاکنیز بهیر کې برخه واخیسته.

نعیمي وايي: ((زموږ هیله وه چې له پاکستان څخه به پنځه لکه خوا و شا رایې ترلاسه شي، خو کله چې رایې وشمېرل شوې نو له یو میلیون څخه ډیرې وې.)) له دې ښکاري چې افغان کډوالو څومره ډیر د خپل هېواد غوره راتلونکې ته تلوسه درلوده.

دا یوه لویه لاسته راوړنه وه، چې پاکستان کې مېشتو افغانانو په دومره لویه کچه ټاکنو کې برخه واخیسته او نعیمي او د دوی ټیم چې څومره هیله لرله، تر هغې خلکو ډیرې رایې وکارولې، چې یواځې څلور لکه او شپږ پنځوس زره رایې د حامد کرزي لپاره کارول شوې وې.

نعیمي وايي: ((دا زموږ لپاره یوه ډېره لویه بریا وه، چې پاکستان کې یو میلیون خلکو په ټاکنیز بهیر کې ونډه واخیسته او په ډېره ښه طریقه دا هر څه بریالیتوب ته ورسېدل.))

پاکستان کې د ټاکنو بهیر د ۲۰۰٤ز کال د اکتوبر پر لسمه پای ته ورسېد. نعیمي له ټولو افغان کډوالو او پاکستان کې چې چا دې بهیر کې مرسته کړې وه، مننه وکړه.

## رایو کې لاسوهنه:

د رایو پروسه سر ته ورسېده او د ملل متحد مسوولینو رایې په الوتکو کې افغانستان ته انتقال کړې. د نعیمي دنده پاکستان کې سر ته ورسېده. خلکو رایې د خپلو خوښو نوماندانو د کامیابۍ لپاره کارولې وې او له سخت ماموریت وروسته، نعیمي او ټیم یې بېرته هېواد ته ستانه شول.

د روژې مبارکه میاشت وه. دې میاشت کې نعیمي بېرته خپل کور ته راغی. غوښتل یې لږ ارام وکړي، ځکه پاکستان کې هر ځای ته منډو- ترړو، خلکو سره ناستو، خبرو اترو، دومره ستړی کړی و چې څه وخت ارام ورته اړین و. هغه وايي: ((د روژې مبارکه میاشت وه، نو ما وغوښتل چې د روژې دا بختوره میاشت په عبادت او ارام په خپل کور کې تېره کړم.))

خو قسمت بل ډول پرېکړه کړې وه او د نوموړي په برخه اوسمهال کور کې ارام نه و. یو سهار چې کله نوموړی کور کې و، د جمهور رییس حامد کرزي سکرتر شیدا محمد ابدالي (چې دا مهال -۲۰۱۷ز نوموړی په هندوستان کې د افغانستان سفیر دی.) ورته زنګ وواهه، چې رییس صیب (ولسمشر) دې غواړي او راشه.

کله چې نعیمي ارګ ته ولاړ. ولسمشر کرزي ورته خپله اندېښنه څرګنده کړه. ورته یې وويل، داسې خبرونه ورته رسېدلي، چې د رایو په شمېرنه کې ځینې خلک ګوتې وهي او د ده ډېرې رایې په شمېر کې نه حسابوي چې دا کار د اندېښنې وړ دی.

حامد کرزي ورته وويل: ((د رایو له شمېرلو ډېر خوشحاله نه یم، هلته حالت داسې دی چې

زما رايې د دې پر ځای چې زياتې شي، کمېږي.))

حامد کرزي ورته مسووليت وسپاره چې د رايو شمېرنې ځای ته ولاړ شي او د رايو څارنه وکړي، تر څو د دوی په برخه رسېدلې رايې ورکې نه شي.

نعيمي وايي: ((زه په دغسې حالتونو کې ډېر نابلده وم، ځکه چې نه پوهېدم دا کارونه څنگه ترسره کېږي او مسووليت يې څه ډول دی.))

په هر صورت دا د جمهور رييس حامد کرزي کلکه غوښتنه وه چې نعيمي بايد هلته ولاړ شي، ځکه داسې ونه شي چې خواري يې په اوبو لاهو شي.

نعيمي له جمهور رييس کرزي څخه غوښتنه وکړه، که د ولسمشر د انتخاباتي ټيم مشر هم ورسره ولاړ شي نو ښه به وي. بل نوموړي ورته دا هم وويل چې دی به خپل نفر هم له ځان سره بوځي، ځکه چې هلته ورته د همکارۍ لپاره يو ژمن ټيم په کار و.

هغه وويل: ((زه که هلته ځم نو باصلاحيته به ځم، ځکه که صلاحيت ونه لرم نو بيا زه هلته کار نه شم کولای.))

حامد کرزي ورته وويل: ((ټول صلاحيت درسره شته او قرقين صېب به هم تاسره ملگری وي. هر څوک چې ته هر چېرې گوماري، نو موږ چې کوم پروتوکول لرو يا د ملل متحد کوم پروتوکول دی، د هغه چوکاټ په منځ کې ته خپل کار وکړه.))

نعيمي د افغانستان ملي اسلامي محاذ لس نفره او لس، لس نفره له نورو احزابو څخه له ځان سره کړل او دارالامان ته، چې د رايو شمېرنې مرکز و، ولاړ.

نعيمي وايي: ((کله چې موږ هلته ورسېدو او دا هر څه مو په خپله وڅارل او پلټنه مو وکړه، نو پر دې پوه شو چې د رايو په شمېرنه کې لويه درغلي روانه وه او ځينو کسانو کوښښ کاوه، چې زموږ د کانديد رايې له منځه يوسي چې ډېرې رايې يې له شمېر نه ويستلې هم وې.))

دا يوه بله لويه ستونزه وه، ځکه هېواد کې په لومړي ځل داسې يوه ورځ راغله، چې ولس د خپلو رايو په کارولو د ولسمشرۍ ټاکنې وکړي او په دې بهير کې ولس په مينه، جوش او خوارۍ برخه واخيسته، خو اوس د رايو په شمېرنه کې ځينو کسانو داسې کار ته مخه کړې وه، چې غوښتل يې د ولس پرېکړه بدله کړي او د خپلې خوښې نوماند په لور دا هر څه بل لور ته واړوي. نو د دې لپاره خلکو هڅه کوله، چې د رايو د شمېرنې په وخت کې د حامد کرزي رايې يا ونه شمېري يا يې پټې کړي.

نعيمي وايي: ((کله چې موږ دا هر څه وليدل، نو له هغه وروسته مو د دې پر ضد خپل غږ پورته کړ او خلک مو دې ته پرې نه ښودل چې دې کار کې بريالي شي.))

کله چې دوی احتجاج ته زور ورکړ او د رايو پر شمېرنه يې نيوکه وکړه او هر څه يې له

پوښتنې سره مخ کړل، نو له هغې وروسته مقابل کې خلکو هم د رايو بيا ځلي شمېرنې ته غاړه کېښوده او هغه ډېرې رايې، چې دوی بې شمېره لېږې کولې، هغه ټولې بېرته وشمېرل شوې او د درغلۍ مخه ونيول شوه.

دلته نعيمي داسې خبرې هم واورېدې، چې ځينې کسان د ورځې سل- سل ډالر اخلي او د نورو په ګټه کار کوي. ځينو به داسې کول چې د سلو رايو بنډل به يې جوړ کړ، په هغه کې به اتيا يا پنځه اتيا رايې د حامد کرزي وې او نورې شل يا پنځلس رايې به په کې د بل کانديد وې، خو هغه ټول بنډل به يې د بل کانديد رايو ته وراچولی و.

دلته يو بل کار هم کېده، هغو ښځينه او نارينه کارکوونکو چې دلته يې کار کاوه، هغوی به له ځان سره قلمونه راوړل، کله به يې د حامد کرزي رايې خرابولې او ځينې وخت به يې سپينې رايې نورو ته اچولې. دلته تش قلم راوړل هم منع و، خو بيا به هم دوی له ځان سره په پټه راوړل.

خو نومړي څه شواهد او کره اسناد ترلاسه نه کړل، چې په دې اړه څه ګام پورته کړای شي.

دلته يوه بله مساله هم راپورته شوه. هغو خلکو چې د رايو شمېرنه کې يې درغلي کوله، کله چې پوه شول کار يې خراب شو، نو د نعيمي پر ضد راپورته شول. هغوی ويل چې دا د حامد کرزي ورور دی او د رايو په شمېرنه کې مداخله کوي. هغوی غوښتنه کوله چې بايد نعيمي له هر څه لاس واخلي، خو نومړی وايي: ((ما هغوی ټولو ته وويل چې زه د کرزي صېب د کورنۍ غړی نه يم، اما اوس يې زه طرفدار يم، زه يې د کمپاين مسوول پاتې شوی يم.))

نومړي خلکو ته وويل هر يو کانديد ته چې رايې ورکول شوې وي، دی د هرې رايې درناوی کوي، خو دلته يې له دغو خلکو غوښتنه وکړه، چې تاسو هم د هر يو کانديد رايو ته درناوی وکړئ.

ځکه د دې هر څه څارنه داخلي او خارجي مسوولينو کوله او هر څه هم د دوی په کنټرول کې و. نعيمي پر هيڅا فشار نه راوړ او هر چا چې داسې څه شکايت درلود، هغه بې ځايه و. دلته نعيمي خلکو ته د صبر او تحمل خبره وکړه، ورته يې وويل چې بايد موږ له لوړ فکر څخه کار واخلو او يو بل سره همکاري وکړو.

لومړۍ ورځ خو همداسې تېره شوه، خلک ارام شول، خو پر سبا بيا لوی جنجال جوړ و، خو نعيمي نشوای کولای چې له دې هر څه لاس واخلي، ځکه هغه د دې هر څه لپاره په ژمنتيا خواري کړې وه او خپله خواري يې په سيند نه شوای لاهو کولی.

نو هغه غوښتنه وکړه، چې کومې رايې شمېرل شوې دي، دا ټولې دې بيا وشمېرل شي او ودې کتل شي چې واقعاً رايې د چا دي؟ هغوی پر نعيمي ډېر ټينګار وکړ، چې دا ښه کار نه دی

او دا رايې خو شمېرل شوې دي، خو نوموړي ورته وويل: ((نه، دا په هر صورت بايد بيا وشمېرل شي، تر څو د هيچا له رايو سره خيانت ونه شي، د هر چا رايې ته دې احترام وشي.))

دا د دېموکراسۍ اصل دی چې د هر چا حق بايد ور ته ورسېږي. يو چا ټوله ورځ د يوې رايې ورکولو لپاره تېره کړې وي او خپل خوښ کانديد ته يې رايې ورکړې وي او د شمېرنې پر وخت د هغه رايه بل چاته ولاړه شي، نو دا خو ډېره لويه جفاء او ظلم دی.

کله چې د رايو شمېرنه بيا پيل شوه، نو نعيمي وليدل چې د نورو خلکو له رايو څخه د حامد کرزي پنځه ويشتو نه تر دېرش زره پورې رايې راووتې، چې په يو نوم او بل نوم د نورو نوماندانو په حساب کې شمېرل شوې وې.

وروسته نوموړي ته معلومه شوه، چې ټاکل شوو مسوولينو دې هر څه ته ډېره پاملرنه نه کوله او نه يې غوښتل چې له يو چا سره لاس او ګرېوان شي يا يې فکر کاوه، چې هر څوک بريالی کېږي نو بريالی دې شي، د يو چا رايو ورته دومره اهميت نه درلود.

څو ورځې وروسته نعيمي د ټولو کانديدانو له نمايندګانو سره ناسته وکړه، له هغوی سره يې وليدل، هغوی ته يې وويل چې هر يو کانديد بريالی کېږي، نو هغه به د افغانستان ولسمشر وي. نعيمي وويل: ((موږ بايد دلته نن خپل عزت وساتو، د خپلو رايو عزت وساتو او دلته يو بل ته په احترام قايل شو.))

نعيمي وويل دا دملت په ګټه نه ده ، چې له يو بل سره شخړې وکړو. دلته د ټولو استازو کانديدان بېلا بېل دي، خو د ټولو مرام يو دی. نوموړي وويل چې موږ ټول د دې لپاره راغونډ شوي يو چې افغانستان کې سوله او ثبات راشي، افغانستان کې پياوړی حکومت جوړ شي، افغانستان کې داسې ولسمشر انتخاب شي چې وکولای شي ټولو ناخوالو ته حل لارې وګوري.

دا د نعيمي لويه لاسته راوړنه وه، چې دلته يې د ټولو کانديدانو د نمايندګانو ترمنځ جنجالونه له منځه يووړل او د احترام فضا يې حاکمه کړه.

## حامد کرزی ولسمشر شو:

د رايو له شمېرلو وروسته حامد کرزي په ٣٤ ولايتونو کې د ٢١ ولايتونو رايې ګټلې وې او ٢٢ نوماندانو ته يې ماته ورکړې وه.

کله چې حامد کرزی بريالی او ولسمشر اعلان شو، دا نو د نعيمي او د دوی د ټول ټيم لپاره ډېره لويه د خوښۍ خبره وه. نعيمي وايي: ((د حامد کرزي له برياليتوب سره دومره خوشحاله شوی يم، چې هيڅ يې په کلماتو کې نه شم بيانولای.))

د حامد کرزي د بریالیتوب له اعلان وروسته ټولو یو بل ته مبارکۍ ویلې او چون نعیمي هلته د حامد کرزي د نماینده په توګه موجود و، نو هر چا به د حامد کرزي د بریالیتوب مبارکي دوی ته ورکوله.

ځکه د ټولو نمایندګانو ترمنځ جنجالونه د نعیمي په هڅو له منځه تللي و او ټولو د احترام په فضا کې له یو بل سره همکاري کوله. چاپېریال د دوی ترمنځ داسې جوړ شوی و، چې وروسته له دې دوی یو بل ته خپلې شمېرې ورکړې او یو بل سره یې د بیا لیدو هیلې وکړې.

د حامد کرزي د بریالیتوب په اړه نعیمي وایي: ((دا زما لپاره ډېره په زړه پورې صحنه وه، زموږ ګوند د حامد کرزي ملاتړ کړی و او موږ د ټاکنو په دې بهیر کې ډېرې زیاتې هلې ځلې کړې وې او په پایله کې هم موږ بریالي شو.))

دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ولسمشر دی چې په هېواد کې له دېموکراتیکو ټاکنو وروسته د افغانستان ولسمشر وټاکل شو.

د یو نوي افغانستان په لور قدمونه پورته شول، د ټولو خلکو په سترګو کې یو پرمختللی هېواد ځلېده او د دې تاریخي ورځې د بریا لپاره ټولو خلکو خپلې هڅې ترسره کړې وې.

# میدان وردگ

میدان وردگ ولایت د کابل په لویدیز کې په ۳۰ کیلومترۍ کې پروت دی، چې د کابل-کندهار لویه لاره پرې تېره شوې ده. دغه ولایت په ۱۳۴۳هـ ش کال کې د ځانګړي ولایت په توګه منل شوی. په دغه ولایت کې بېلا بېل توکمونه اوسي، چې ډېری یې وردګ دي.

دغه ولایت اوسمهال له مرکز پرته اته ولسوالۍ لري، چې نومونه یې سیدآباد، جغتو، چك، دایمیرداد (جلګه)، جلرېز، نرخ، لومړی بهسود او دویم بهسود، دي. د ولایت مرکز میدان ښار دی او مساحت یې ۱۰۹۱۲ کیلومتره مربع دی. د میدان وردګو ولایت په ټولیز ډول ۲۸۰۰۰ ایکړه اوبیزه یا کرنیزه ځمکه لري.

د دغه ولایت ډېری خلك پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي، د مڼو او کچالو د محصولاتو په برخه کې د هېواد مهم ولایت دی او پوهنې ته په کې ډېره پاملرنه کېږي.

په دې ولایت کې د مڼې ګل په نامه هر کال مشاعره کېږي. هغه وخت چې عبدالجبار نعیمي هلته والي و، شاوخوا ۲۲ ادبي او کلتوري ټولنو فعالیت درلود. جغتو، وردګ، ملي هدف اونیزه، دریځ، آذان، عهد او نورې مجلې او مهالنۍ په کې خپریدې.

په میدان وردګ کې د بندونو جوړولو ډېر امکانات هم شته، چې په زرګونه جریبه ځمکه خړوبولای شي.

د نعیمي په دوره کې د دې ولایت په نرخ ولسوالۍ کې ډېر ارزښتناك لرغوني ځایونه کشف او سروې شول.

همدا شان په دغه ولایت کې سپینې او سور رنګه ډبرې شته، چې د ودانیو په جوړولو کې ترې ګټه اخیستل کېږي.

# د میدان وردګو ولایت د والي په توګه

افغانستان کې له ډېرو کلونو کورنیو جګړو وروسته اوس نوی نظام جوړ شوی و او نویو ادارو په کار پیل کړی و. اوس نو په افغانستان کې د بیا رغونې، انکشاف، پوهنې او امنیت ټینګولو لپاره کارونه روان و او خلک هم ورو، ورو له مهاجرته بېرته خپل هېواد ته ستنېدل.

وزارتونو په خپلو کارونو پیل کړی و او ولایتونو کې والیان ټاکل شوي او ادارې جوړې شوې وې. عبدالجبار نعیمي هم د ټاکنو له چارو فارغ شوی او په کور کې و، هغه اوس پر دې فکر کاوه چې د خپلو خلکو د خدمت لپاره کومه لاره غوره کړي، ځکه داسې به کومه لاره وي چې له هغې لارې د خپلو خلکو خدمت ترسره کړي، په دې وخت کې نوموړي فکر وکړ، چې ځان ولسي جرګې ته کاندید کړي او په مرکز (کابل) کې د خپلې سیمې د خلکو نمایندګي وکړي.

خو د هغه دا ارمان همداسې نیمګړی پاتې شو، ځکه چې یو سهار ورته د ولسمشر حامد کرزي د سکرتر شهیدا محمد ابدالي پیغام راغی، هغه په خپل پیغام کې ورته وویل، چې ولسمشر حامد کرزي ارګ ته غوښتی دی.

کله چې نعیمي په ارګ کې له ولسمشر کرزي سره ولیدل، نو پوه شو چې ولسمشر یې په اړه بل فکر کړی او غواړي چې د میدان وردګو د والي په توګه یې وټاکي.

ولسمشر حامد کرزي له نوموړي هیله وکړه، چې هلته ولاړ شي، خو نعیمي دې ته زړه نه ښه کاوه، ځکه چې هغه له وړاندې پارلمان ته د تګ په اړه فکر کړی و.

خو کله چې له پیر صیب (ارواښاد پیر سید احمد ګیلاني) سره یې په دې اړه خبرې وکړې، نو د هغه هم خوښه وه، چې د ولسمشر کرزي خبره ومني او میدان وردګو ته د والي په توګه ولاړ شي. وروسته تر دې نوموړي هم پرېکړه وکړه چې د والي په حیث میدان وردګو ته تلل ورته ښه دي. هغه وایي: ((ما غوښتل چې د دوی ګډه همغږي راسره وي، نو زما لپاره به ځکه ګټوره وي، چې په میدان وردګو کې به کار وکړای شم.))

دا مهمه او ډېره ګټوره خبره ځکه وه، چې له یوې خوا پیر صېب د افغانستان یو له لویو سیاسیونو څخه و او بل خوا کرزی خو ولسمشر و، نو چې د دواړو خواو همغږي موجوده وي، نو کامیابي حتمي بنه خپلوله.

د مارچ پر ٤مه، کال ٢٠٠٥ز (د کب ١٤مه، ١٣٨٣هـ ش) عبدالجبار نعیمي په رسمي ډول د ولسمشر حامد کرزي له خوا د میدان وردګو د والي په توګه وټاکل شو او نوموړي د ولسمشر

حامد کرزي او پیر صېب همغږي او مرسته له ځان سره واخیسته او د میدان وردګو په لور روان شو.

## د میدان وردګو حال:

کله چې نعیمي میدان وردګو ته ولاړ او ولایت یې ولیده، نو حېران پاتې شو. میدان وردګ ولایت د کابل له ارګ نه په ۳۱ کیلومترۍ کې پروت دی، خو دومره وروسته پاتې و، چې حتاً د ځینو نورو ولایتونو ولسوالۍ پرې هم پرمختللې وې.

دا نو داسې وخت و، چې ټول ولایت کې یوه د ولایت مقام ودانۍ وه، خو داسې وړه او ګډه وډه ودانۍ، چې د اوسېدو او ناستې پاستې وړ نه وه او نه په کې کوم مېلمه کېنول کیدای شو او بله د مستوفیت ودانۍ وه. نور په دې ولایت کې هر څه ویجاړ و او حتاً د میدان ښار دننه د قیر سړک په نامه څه په کې نه لیدل کیدل.

په میدان ښار کې یواځې یو څو خام دوکانونه و ، چې خلکو په کرایه نیولي و او واړه، واړه کاروبارونه یې په کې ترسره کول. د دې دوکانونو کرایه هم زیات نه زیاته پنځوس افغانۍ وه.

په هر وخت او هره موده کې چې میدان وردګو ولایت ته دولتي مامور راغلی، نو کور یې په کابل کې او دنده یې په میدان وردګو کې ترسره کوله. ځینې خو په کې داسې و چې هغوی به هم کابل کې اوسېدل او راتګ ته به یې هیڅ زړه نه ښه کاوه. پر همدې اساس دغلته چا هیڅ کار نه و کړی او که څوک به هلته راتلل هم، نو په ولایت کې د پراخو مالي امکاناتو د نشتوالي له امله یې د ولایت پرمختیایي چارو ته چندان پاملرنه نه کوله.

ښه اندازه یې له دې کېدای شي، چې د ولایت د مقام په ودانۍ کې حتاً د اوبو څاه هم نه وه او اوبه په کې هم نه پیدا کېدې. همدا شان دلته خلک او چارواکي له ډېرو نورو ستونزو سره هم مخامخ و.

په ولایت کې اردو نه وه او یواځې ملي پولیسو او ملي امنیت حضور درلود. د ولایت ټولې عریضې به مرکز ته انتقالیدې او دلته چې څومره دولتي مامورین پر دندو ګومارل شوي و، فقط د حاضرۍ امضاء لپاره به راتلل او نور به کابل کې و. چا کار ته مخه نه کوله او هیچا هم دا فکر نه کاوه، چې دوی دا معاش د څه لپاره اخلي او د څه لپاره پر دندو ګومارل شوي دي؟

د نعیمي تر راتګ وروسته، د دې خلکو مزې چړچې په ختمېدو شوې او نور نو داسې څوک ولایت ته راغلی و، چې د هر څه پوښتنه یې کوله او کار یې غوښته. هغه وایي: ((کله چې ما له دې مامورینو څخه د کار غوښتنه وکړه او ورته مې وویل چې کوم وخت دولت د کار لپاره ټاکلی

دی، بايد هغه وخت په خپلو دفترونو کې حاضر وي او خپل کارونه پر مخ يوسي، نو دا مامورين آن تر کابل پورې ورسېدل او ويل يې چې ولايت کې ورسره زياتی روان دی او ظلم ورسره کېږي.))

دا نو د هغو مامورينو رښتينې څېره ده، چې دولت د خلکو د کارونو لپاره پر دندو ګومارلي خو دوی پر شخصي چارو بوخت و او د ستونزو د هواري پر ځای يې د خلکو ستونزې لا ډيرولې.

دا چې يو څوک د يو کار لپاره ټاکلی شوی او هغه کار نه ترسره کوي او معاش اخلي، دا نو له ولس او هېواد سره خيانت نه دی؟ دې ولايت ته د ځوان والي له راتګ وروسته، دولتي مامورين کنترول کړل شول او تر دې وروسته به هر يو پر وخت خپل دفتر ته راتلو او خپل کار به يې ترسره کاوه. دې ولايت کې وروسته تر دې، هيڅوک هم دې ته پرې نه ښودل شول، چې خپله خوښه وکړي او څه چې يې پر زړه وي هغه ترسره کړي. دوی له دې وروسته په کارونو پيل وکړ او د ولايت د اساسي پرمختګ ورځې له دې وروسته په پيلېدو شوې.

## ميدان شته او ښار يې نشته:

د ۱۳۸٤هـ ش کال د کب پر ١٦مه پر دوه نيمو بجو عبدالجبار نعيمي د يوې پېژنغونډې په ترڅ کې ميدان وردګو ولايت ته د والي په توګه وروپېژندل شو.

دې غونډه کې د کورنيو چارو وزارت اداري مرستيال شاه محمود مياخېل، د افغانستان ملي اسلامي محاذ مرستيال محترم سيد حامد ګېلاني او جناب سيد محمد ګېلاني، د افغانستان ملي اسلامي محاذ د مرکزي دفتر کارکوونکو، د خواخوږي ادبي او فرهنګي ټولنې مشر غرزي خواخوږي، د هلمند ولايت استازي ملا محمد عليزي، د کندهار ولايت استازي ملا حيات الله، د ميدان وردګو ولايت پخواني والي راز محمد دليلي، د غزني، کابل، پکتيا او پکتيکا له ولايتونو راغلو قومي مشرانو،



**عبدالجبار نعيمي د يو شمېر مخورو او چارواکيو لخوا ميدان وردګو ته معرفي شو**

قوماندانانو، دولتي چارواکو، ديني علماوو، سپين ږيرو، د ولسواليو د شوراګانو استازيو ګډون درلود.

خو غونډه کې برخه اخيستونکو کې هيڅ داسې يو تن نه و، چې له دولته يې خپل رضايت

ښوولی وای، ځکه د دې خلکو لپاره چا هیڅ کار نه و کړی او ټول خلک له دولتي مامورینو څخه خپه و. کله چې نوی والي خبرو ته پاڅېد، نو په خپله وینا کې یې د میدان وردګو ولس ته وویل: ((زه خو میدان ښار ته راغلی یم، خو دلته چې راغلم نو و مې لیدل چې شړ میدان شته، خو ښار یې نشته.)) دا خبره وروسته ډېره مشهوره شوه، چې ((میدان شته او ښار یې نشته.)) خو دا واقعیت و، چې دلته یواځې میدان و او ښار نه و.



۱۳۸۳\۱۲\۱۶ هـ ش: عبدالجبار نعیمي او د کورنیو چارو وزارت مرستیال شاه محمود میاخیل

نعیمي خلکو ته وویل: ((که څه هم میدان وردګو ولایت له کابل سره ډېر نږدې پروت دی، خو بیا یې هم تل له رنځونو، بې وزلیو او کړاوونو سره ژوند کړی دی.))

نوموړي پر دې خواشیني څرګنده کړه، چې تراوسه دې ولایت ته لازمه پاملرنه، نه ده شوې. خلکو ته یې وویل چې د دې ولایت د وګړیو د ژوند سطحه او اداري سیستم د نورو ولایتونو په پرتله ډېر خراب دی.

رښتیا هم داسې و، ځکه که یو ولایت کې کار ونشي، نو د هغه ولایت خلک له عصري ژوند څخه ډېر لېرې وي او د ژوند په هر پړاو او هره برخه کې له نور هېواده وروسته پاتېږي. د میدان وردګو ولایت همداسې و.

خو نعیمي خلکو ته ډاډ ورکړ چې ډېر ژر به د ولایت او خلکو لپاره اساسي کارونه پیل شي او له خلکو یې هم غوښتنه وکړه، چې ورسره د میدان وردګو ولایت په بدلون او پرمختګ کې مرسته وکړي.


نوموړي خلکو ته وویل: ((تاسو به راسره په ګډه د دې ولایت د پرمختګ او عصري ژوند لپاره کار کوئ، تر څو دا ولایت نور داسې پاتې نشي او د پرمختګ کارونه په کې روان او ترسره شي.))

## د ولايت مقام نوي ودانۍ:

عبدالجبار نعيمي او د دوی ټيم چې د ولايت مقام په کومه ودانۍ کې مېشت و، هغه د کار وړ نه وه. د انګړ ديوال يې پر بد حال، خونې يې وړې او کنډوالو ته ورته وې. تر ډېره وخته والي نه شواى کولى چې هلته څوک مېلمه کړي، ځکه هغه د مېلمه د ناستې ځای نه و، چې مېلمه په کې کېني يا پاتې شي. هر څوک چې دلته راغلي و، بس يوائې د حاضرۍ لپاره راتلل او نور وخت يې کابل کې تېراوه او دې ځای ته چا هيڅ پاملرنه نه وه کړې.

د ولايت مقام په ودانۍ کې هيڅ سهولت نه و. نعيمي وايي: ((ما ډېر وخت د شيدو په يو ګيلاس او يوه مڼه يا يوه کيله خوراک باندې وخت تېراوه.))

مرکز- ميدان ښار کې د ولايت مقام پر نوې ودانۍ کار روان و، خو ډېر سست و. هيڅا يې پوښتنه نه کوله. چا سره چې د دې ودانۍ د جوړولو قرارداد شوی و، هغه يې هم په غم کې نه و، خپل وخت يې تېراوه او کيفيت ته خو يې خيال هم نه و. کله چې والي نوموړی قراردادي راوغوښت اوپوښتنه يې ترې وکړه، چې د ودانۍ په اړه معلومات ورکړي، چې ودانۍ به کله سر ته رسي او کار يې کوم ځای ته رسېدلی دی؟



د ولايت مېلمستون هغه ودانۍ چې يو وخت پکې اوبه نه موندل کېدې، د مېلمنو لپاره په عصري ډول ورغول شوه

نو د قراردادي ځواب ډېر حېران کړ، هغه ورته وويل: ((ته هيڅ حق نه لرې چې له ما د دې کار پوښتنه وکړې. د دې ودانۍ قرارداد ما سره مرکز کړی او زه به له هغوی سره خبرې کوم.))

والي له صبر او تحمل نه کار واخيست او هيڅ يې هم ونه ويل خو له مرکز سره يې اړيکې ټينګې کړې او له هغه ځايه يې پر سرې فشار راوست. د فشار په نتيجه کې سړی مجبور شو چې د قرارداد له شرايطو سره سم د دې ودانۍ کار په شپږو مياشتو کې خلاص کړي او د ميدان وردګو والي له خپل ټيم سره د ولايت مقام نوې ودانۍ ته انتقال شو.

د کابل – کندهار تر لويې لارې پرته په ټول مرکز-ميدان ښار خو څه، چې ولايت کې هم پوخ سړک وجود نه درلود. يواځې د ولايت مقام مخې ته يو سړک تېر شوی و، چې تازه، تازه پرې د يوې نړيوالې مرستندويه ټولنې په مرسته کار پيل شوی او قرارداد يې لاسليک شوی و، کله چې والي سړک ته ورغی او ليدنه يې ترې وکړه، نو قراردادي سړک ډېر کوږ - ووږ روان کړی و.

د سړک له ليدو، وروسته والي ښاروال راوغوښت او ورته يې وويل:

((قراردادي پسې ورشئ او ورته ووايئ چې ولې يې دا سړک داسې کوږ - ووږ جوړ کړی دی. دا خو د ولايت مقام د مخې سړک دی، هر څوک پرې تيريږي، ددې ولايت په پرستيژ تاثير لري او زموږ لويه بدنامي ده.))

له ښاروال سره هم همدا لوبه وشوه، کله  چې هغه قراردادي ته ورغی، هغه ورته همدا خبره کړې وه، چې والي د پوښتنې هيڅ حق نه لري او هغه په مرکز کې له يوې بهرنۍ مؤسسې سره د سړک قرارداد کړی دی.

هر څوک پر خپل سر و. هيڅا هم ولايتي ادارې ته د څه په اړه د معلوماتو ورکول نه غوښتل، ځکه تراوسه دلته داسې څوک نه و تېر شوي، چې له مامورينو او خلکو د خپلو مسووليتونو پوښتنه وکړي او د هدف خوا ته يې رهبري کړي، نو دا خلک په هماغه پخوانۍ نشه کې مست و.

کله چې دا خبرې والي ته ورسېدې، نو قراردادي يې د ولايت مقام دفتر ته وغوښت، د ښاروال په حضور کې يې ورسره ليدنه وکړه، خو قراردادي بيا هم والي ته هماغه خبرې تکرار کړې.

نعيمي يې دې ته مجبور کړ چې له مرکز سره اړيکې ونيسي نو د قراردادي په اړه يې مرکز ته ليک ولېږه .له ليک وروسته چې کله والي له يادې مؤسسې سره کېناست او خبره يې ورسره شريکه کړه، ورته يې وويل: ((د داسې کوږ سړک جوړېدل خو ستاسو او زموږ ټولو بدنامي ده.))

له دې وروسته يې د والي خبره ومنله او قراردادي مجبور کړل شو، چې قرارداد، شرطونه او نور ټول معلومات له والي سره شريک کړي او قراردادي مجبور شو، چې کوږ - ووږ سړک وران کړي او له سره يې سم جوړ کړي. که څه هم دې کار قراردادي ته ډېر زيان ورساوه، خو هر څه يې له خپله لاسه و.

ټوله نړۍ کې دود دی، چې يو قراردادي په قرارداد کې لس، پنځلس يا ډير نه ډيره شل فيصده ګټه وکړي، خو بدبختانه دلته قراردادیان شپېته، اويا او اتيا فيصده ګټه غواړي او د کار کيفيت يې هيڅ په پام کې نه وي. دا قراردادي هم پر دې فکر لګيا و، چې ځه د پوښتنې څوک نشته، چې هر څه يې وکړل څوک يې غم کې نه دي. خو دلته اوس د هر څه ځارنه روانه وه  او د هرڅه پوښتنه کيدله.

## د نعيمي پر ضد تبليغات:

ميدان وردگو کې د نعيمي لومړی اختر و. نوموړي خپل لومړی اختر هم د ولايت له خلکو سره د تېرولو پرېکړه وکړه او کور ته ولاړ نه.

د اختر پر ورځ نعيمي خبر شو، هغه قراردادي، چې کوږ سړک يې پرې وران کړی او بيا جوړ کړی و، پر ضد يې تبليغات شروع کړي او د اختر پر ورځ يې جومات کې خلکو ته ويلي، چې والي د امريکا سړی دی.

د وخت د امنيې قوماندان والي ته راغی او ورته يې وويل: ((ور به شو او دا سړی به راونيسو، چې ولې داسې بې ځايه تبليغات کوي؟)) خو والي منع کړ او ورته يې وويل چې د بيان ازادي ده، هر څوک د خپل نظر او اندېښنو د اظهار حق لري او له بلې خوا د اختر ورځ ده، د خوشحالۍ ورځ ده، اوس يې پرېږدئ، دلته کور لري، بچي لري، پر دوی اختر مه غموئ.

نعيمي ورته وويل: ((پرېږدئ چې د اختر ورځې تېرې شي، د اختر تېرېدو وروسته به يې تعقيب کړو.))

له اختر نه څو ورځې وروسته والي بيا قراردادي راوغوښت او ترې پوښتنه يې وکړه، چې ولې داسې کوي؟

قراردادي خپل فرياد ورته پيل کړ، چې د سړک په ورانولو او بيا جوړولو کې يې ډېر تاوان وکړ، نو له دې وجې غوسه و او بله هيڅ لاره يې نه لرله نو د والي پر ضد يې تبليغات پيل کړل او خپله غوسه يې په دې ډول سړه کړه.

والي ورته وويل: ((دا هر څه خو تا له خپله لاسه کړي دي، که له لومړي سره دې سم کار کړی وای، نو نه به دې کار ډېريده او نه به دې دومره تاوان کېده. دا خو زموږ د ټولو هېواد دی او بيا خو ستا خپل ولايت دی، دا خو د ټول ولايت بدنامي او ناکامي ده، نور چې هر يو کار ترلاسه کوې، نو ستا به هڅه دا وي چې په ښه طريقه يې ترسره کړې. دا ستا لپاره يوه ښه تجربه او خاطره ده.))

## د ميدان وردگو سترې پروژې:

ميدان وردگو کې ډېرې لويې پروژې ترسره شوې. ډېرې پروژې د امريکا متحده ايالاتو، ترکيې او نورو هېوادونو په مرسته رامنځته او بشپړې شوې. دې پروژو د ميدان وردگو بڼه بدله کړه.

هغه وخت چې نعيمي ميدان وردگو ته ولاړ نو د امريکا ولايتي بيا رغونې ډله يا پي آر ټي په

غزني کې وه، خو د ميدان وردگو والي په دې لړ کې خپلې هڅې او کوښښونه کول، هلته به ورتللو او د ولايت پرمختيايي پلانونه، اړتياوې او لومړيتوبونه به يې ورسره شريکول او هغوی به يې قانع کول چې ميدان وردگو کې بېخبنايي پرمختيايي پروژې عملي کړي.



له کيڼ لوري: دامريکا د متحده ايالاتو لوی سفير رابرټ نيومن، د ميدان وردگو والي عبدالجبارنعيمي، د ترکيې سفير توکديمير او د عدليې وزارت معين هاشمزی، د ولايتي محکمې او څارنوالۍ ودانيو له پرانېستو وروسته ګډه رسنيزه غونډه کې د خبريالانو پوښتنو ته ولاړ دي

نعيمي وايي: ((کله به چې ما له دوی سره ليدل، نو پروژې به مې ورته مطرحولې او هغه څه، چې واقعاً ورته ضرورت و، د هغې په اړه به مو دوی ته قناعت بخش دلايل وړاندې کول.))

په دې لړ کې پراخې هلې ځلې او هڅې وشوې او د ميدان وردگو د ولس او ولايت لپاره ډېرې پروژې تر لاسه او په کاميابۍ بشپړې شوې.

د مثال په توگه: د ميدان وردگو د استيناف محکمې تعمير په داسې بد حال کې و، چې نه يې خونې او نه يې انگړ درلوده. په داسې حالت کې و چې هيچا په کې ژوند نشو کولای او د رسمي چارو ترسره کيدل خو په کې له امکان نه وتلې خبره وه.



د استناف محکمې لپاره نوې جوړه شوې ودانۍ

د څارنوالۍ لپاره هم څه نه و، کله چې د امريکا متحده ايالاتو له اړوندو مراجعو سره دا موضوع مطرح شوه، او د دې تعمير عکسونه يې هم ورته ورکړل، نو هغوی خپل پلاوی راولېږه، چې د محکمې او څارنوالۍ د ودانيو پر ليدو يې ډېره اندېښنه څرگنده کړه او د

ولايت وړانديزونه يې ومنل چې پايله کې يې په نړيواله کچه معياري ودانۍ جوړې کړې. همدا شان يې غټ او واړه اووه موټر هم د عدلي او قضايي اورګانونو لپاره د ميدان وردګو مقام ته وسپارل، تر څو عدلي او قضايي ارګانونه ترې ګټه پورته کړي.

نعيمي وايي: ((دا ډېر لوی کار وشو او زموږ د عدلي او قضايي ارګانونو ډېرې زياتې ستونزې يې هوارې کړې. له دې سره دا برخه په عصريترينو وسايلو سمبال شوه.))



د استناف څارنوالۍ لپاره نوې جوړه شوې ودانۍ

د دوی بلـه مرسـته د ولايت په داخل کې د ځينو سـړکونو رغـول و. لـومړنی سـړک يـې هغـه و چـې د ولايـت مقـام مخـې تـه تېـر شـوی دی. وروسـته لـه دې يـې ځينـو ولسـواليو تـه سړکونه وغځول چې دا هـم ډېر مهم او اړين کـار و. يـو سړک چې له ميـدان وردګـو نه تر لوګر ولايت پـورې غځېـدلی او د تنګـې سړک ورته وايي. د دې سړک پرانيسته والي په خپلو لاسونو وکړه.

پر دې سر بېره نعيمي د امريکا متحده ايالاتو په مرسته دلته د ډېرو ښوونځيو ودانۍ هم جوړې کړې. همدا شان د ښوونځيو زده کوونکو او تشويق لپاره يې ډېرې مرستې هم ترلاسه کړې. په ټوليز ډول د نعيمي وطنۍ مينې او تشويق د امريکا متحده ايالات دې ته وهڅول چې د ميدان وردګو ولايت په بيا رغونه کې فعاله ونډه واخلي او دلته ډېرې بېخبنايي انکشافي پروژې پلې کړي.

## ميدان ښار د کابل بديل:

د طالبانو له پرځېدو وروسته کابل يو دم د خلکو د پام وړ وګرځېد. هغه افغانان چې له هېواد څخه دباندې اوسېدل يا هم د هېواد په داخل کې بې ځايه شوي و، ټولو خپل سرنوشت په کابل کې ليده. هر افغان په کابل کې د اوسيدو کوښښ کاوه او هر څه امکانات چې يې لرل په کار يې اچول. په دغه وخت کې کابل کې شا و خوا څلور ميليونه وګړي مېشت و .

نعيمي دا مساله درک کړې وه او ويل يې چې ميدان ښار هغو خلکو ته چې کابل کې دندې لري، د استوګنې لپاره بهتر بديل کيداى شي، ځکه له يوې خوا کابل ته نژدې دى، له بلې خوا ګڼه ګوڼه پکې نشته او د ژوند لپاره بهتر سهولتونه پکې رامنځته کيداى شي. نوموړي په همدې خاطر د ميدان ښار د ابادۍ لپاره په منظم او ستراتيژيک ډول کار کاوه. دغلته يې د منظمو ښارګوټيو پلانونه نيول او پارکونو، لوبغاليو، سړکونو، ښوونځيو ته يې جدي پاملرنه کوله.

## د ايتلاف له قواوو سره د بېځايه ګرفتارۍ په اړه بحث او وړانديزونه:

د پرمختيايي چارو د لا تنظيم او پرمختيايي پروژو په خاطر د نعيمي په ټينګار او غوښتنه ميدان وردګو ته امريکايان راغلل او دغلته يې د غزني پي ار ټي د څانګې په ډول يو بېس جوړ کړ.

په دغه وخت کې په ټول هېواد کې د امريکايانو په اړه دا خبره خوره وه، چې دوى بې ګناه افغانان نيسي، زندانونو ته يې اچوي او کورونه يې تالاشي کوي، چې داسې ډېرې پېښې په بېلا بېلو ځايونو کې مخې ته راغلې وې. زياترو خلکو خپلې شخصي دښمنۍ هم په دوى پاللې. که د چا به يو څوک خوښ نه و، سليقوي، قومي يا کومه بله ستونزه به يې ورسره درلوده او امريکايانو ته به يې خبر ورکولاى شو، نو د هغه شخص په اړه به يې امريکايانو ته د درواغو يا رښتيا راپورونه ورکول او هغوى به هم د ځان له ډاره هغه اشخاص نيول. امريکايانو چې به يو ځل څوک ونيول، نو خلاصول يې ډېر ګران و، ځکه د خلاصون او تحقيق پروسيجر يې ډير پيچلى او اوږد و.

خو ميدان وردګو ته، د امريکايانو په راتګ نعيمي له دوى دا هيله لرله چې داسې څه ونه کړي، چې د دولت او ولس ترمنځ فاصلې زياتې کړي.

نوموړى وايي: ((موږ له دوى هيله لرله چې داسې يو څه ترسره نه کړي، چې زموږ او ولس ترمنځ فاصلې زياتې کړي او پر نظام د خلکو باور کم کړي.))

خو بياهم په ميدان وردګو کې ځينې پېښې رامنځته شوې، چې د والي د ښه مديريت له امله يې مخنيوى وشو. کله چې به څوک بې ګناه امريکايانو نيولي و، نو ولايت به يې د راخلاصولو لپاره خپلې هڅې ترسره کولې. لکه، په نرخ ولسوالۍ کې يو سړي ژوند کاوه، دى مرجان نومېده، نوموړي د ماليې په وزارت کې دنده هم لرله او د اتحاد اسلامي ګوند غړى و. امريکايانو د دې سړي کور تالاشي کړى او دى يې له ځان سره بيولى و. پر ده تور و چې د حکومت مخالف دى او له مخالفينو سره لاس لري. د ولايت والي له دې هر څه بې خبره و، کله چې ورته خلک راغلل او پر دې هر څه يې خبر کړ، تضمين يې ورکړ او ټوله کيسه يې ورته واضح

کړه، نو والي د امریکایانو له قوماندان څخه غوښتنه وکړه، چې دا سړی بې ګناه دی او باید خوشې شي.

والي ورته وویل، دا سړی مالیې وزارت کې کار کوي او په داسې څه کې لاس نه لري، چې هغه دې د دولت پر ضد وي، خو امریکایانو ورته همدا خبره کوله، چې د دې سړي نوم یې په لېست کې دی او له همدې امله یې نیولی دی. دامریکایانو زړه نه و چې سړی خوشې کړي، خو نعیمي دا خبره ورسره ډېره جدي ونیوله او ورته یې وویل چې هر څنګه کېدای شي باید دا سړی خوشې شي.

نعیمي استدلال کاوه چې دا سړی بې ګناه دی. که خوشې نشي نور مشکل به پیدا شي او یو سړی چې په دولت کې دنده لري، هغه داسې نیول کېږي، ځورېږي نو هغه غریب ولس چې دولت کې دندې نه لري او له مخالفینو سره لاس هم نه لري، که هغوی ونیول شي نو څوک به یې پوښتنه کوي. نعیمي هغوی ته وویل: ((د افغانانو دا رقم بندي کول مورږ ته واقعاً ډېرې زیاتې ستونزې راپیدا کوي.))



نعیمي د ناټو د ګډ ځواک قوماندان جنرال ایګون رامس او د ترکیې ولایتي بیارغونې ډلې له مشر سره میدان ښار کې وکتل

خو په دغه ځای کې د امریکایانو قوماندان دا خبره نه منله او بس پر همدې یې ټینګار کاوه، چې د دې سړي نوم ورته په لېست کې راغلی او دی نشي کولای چې دا سړی پرېږدي.

خو ولایت هم دا موضوع پرې نه ښوده او ډېره جدي یې ونیوله. د امریکایانو له مشرانو سره یې اړیکې ونیولې او هغوی یې مجبور کړل چې دا شخص راخوشې کړي. د ډېرو هڅو په پایله کې دا سړی په یوه شپه او ورځ کې راخوشې شو او د کور ښېښې چې یې ماتې شوې وې، د هغو تاوان یې هم ورکړ.

داسې يوه بله پېښه هم د يادونې ده. د معارف يو ډېر ښه کارمند مدير شريف چې ډېر ښه انسان و او چک ولسوالۍ کې د معارف مسوول او د حزب اسلامي غړی هم و، امريکايانو د ده پر کور چاپه ووهله، کور يې ورته تالاشي کړ او دی يې له ځان سره بوتلو. خلک ولايت ته راغلل او ويل يې چې نوموړی بې ګناه دی، کله چې نعيمي خبر شو، نو ډېر خپه شو.

ولايت ته چې کوم خلک راغلي و، هغوی وويل چې دې سړي سره ظلم شوی او له داسې سړي سره چې معارف کې دنده لري، داسې څه ترسره کېدل ډېر خطرناک کار دی.

نعيمي د امريکايانو له ځانګړې عسکري قوې سره تماس ونيو او هغوی ته يې وويل چې دا سړی خو دلته دنده لري او د ده کور داسې تالاشي کول او نيول خو ډېر خطرناک کار دی.

نعيمي امريکايانو ته وويل: ((کله چې څوک نيول کېږي نو بايد اول يې پوښتنه وشي، بله دا چې مونږ سره دې معلومات شريک شي، چې دا سړی په کوم جرم نيول کېږي چې ايا واقعاً په دې سړي کې دا جرم شته او که نه.))

هغوی ته وويل شول چې نيول شوی شخص د دولت برحاله مامور دی او هيڅ داسې څه کې لاس نه لري چې هغه دې د دولت پر ضد وي، خو هغوی دا ځل هم خبره نه منله. تر دې وروسته د هغوی له لوړو مقاماتو سره تماسونه ونيول شول او هغوی پر دې قانع کړل شول، چې دا سړی بې ګناه دی، نو په دې توګه دا سړی بيرته راخوشې کړل شو.

د نعيمي د ولسي مديريت يوه ځانګړتيا دا وه چې د ولس په هر غم او درد کې يې ځان شريک باله او د هغوی بې ځايه ځورول ورته د زغم وړ نه وه.

نعيمي وايي: (( دا عادلانه کار نه دی چې بې ګناه انسانان دې زندانونو ته ولاړ شي. د هغوی اولادونه دې بې سرنوشته پاتې شي او کورنۍ دې له مشکلاتو سره مخ شي.))

د يو بې ګناه پر کور چاپه وهل، د هغه کور تالاشي کول او هغه شخص له ځان سره بيول، دا که هر څوک کوي له انسان سره جفا او ظلم کوي. د ولايت والي تل هڅه کوله، چې داسې پېښې رامنځته نه شي او هيڅ بې ګناه افغان زندان ته وانه چول شي.

ميدان وردګو کې يوه بله داسې پېښه هم رامنځته شوې وه.

د مولوي عبدالحميد په نوم يو تن، چې د حرکت انقلاب اسلامي پخوانی قوماندان و او دا مهال سيداباد ولسوالۍ کې اوسېده، نوموړی ناروغ و او له کټه نه شو پاڅېدای، خو چا بهرنيو ځواکونو ته خبر ورکړی و چې دا سړی د مخالفينو ډېر لوی قوماندان دی او په هر صورت يې له دې ځايه ورکول او بندي کول په کار دي.

خو د ښه مديريت او تېرو پېښو سره د جدي چلند له کبله، کله چې امريکايانو له والي سره ملاقات درلود، نو هغوی ورسره دا موضوع شريکه کړه، خو نعيمي د دې ډېر سخت مخالفت

وکړ او هغوی ته یې وویل: ((پرون ماته د دې سړي عریضه راغلې ده، چې دا سړی ناروغ په کټ کې پروت دی او تاسو وایئ چې دا تروریست دی.))

وروسته له هغه نعیمي، د میدان وردګو یو ځوان راوغوښت او سیداباد ولسوالۍ ته یې ولېږه، چې هلته د هغه حال معلوم کړي چې دغه سړی په کوم حالت کې پروت دی ایا په رښتیا هم ناروغ دی او که نه.

هغه ځوان چې بیرته راغی نو د مولوي عبدالحمید عکسونه یې هم له ځان سره راوړل، چې سړی په کټ کې پروت او ډېر زیات ناروغ دی. بدبختانه خارجیانو ته کوم افغان دا خبر ورکړی و چې دغه سړی د مخالفینو ډېر لوی قوماندان دی. اوس سړی نه شي ویلای چې ده د څه لپاره امریکایانو ته دا خبر ورکړی و. له نوموړي سره یې پر څه خبره ورانه وه او غچ یې ترې اخیسته او که نه امریکایانو ته یې پر دې کار ځان نږدې کاوه.

کله چې نعیمي د هغه له دغسې حالت نه خبر شو، نو د هغه د درملنې لپاره یې یو چاته دنده وسپارله.

مولوي عبدالحمید څه موده وروسته وفات شو، خو دا ده چې ځینو بې رحمه افغانانو چې امریکایانو ته یې د خپلو ګټو لپاره غلط معلومات ورکول، هغوی د ډېرو افغانانو ژوند خراب کړی و.

په ټولیز ډول د نعیمي په هڅونه امریکایانو میدان وردګو کې په څو برخو کې ډېر مثبت رول ادا کړ. یو خوا دا چې د سړکونو، پلونو او مکتبونو په جوړولو کې، بل خوا دا چې د عدلي او قضایي ارګانونو په تقویه کې یې ډېره مرسته وکړه.

له دې پرته دوی د کتابونو په چاپولو، د راډیوګانو په جوړولو او چلولو کې هم خورا مرسته کړې وه. راډیو او نور مطبوعات ډېر مهم دي، د خلکو د اذهانو په روښانتیا، له نړۍ سره د وصل، قانون څخه د خبراوي، له نویو پرمختیاو نه د خبریدو او نورو برخو کې ډېره مرسته کوي.

خو په ځینو ځایونو کې چې به دوی خپلسرې تالاشۍ کولې، په یوه وړه خبره چې په دولت پسې به یې کړې وه د یو چا بندي کول، سم او پر ځای کارونه نه و، خو دا چې به چا دوی ته خبرونه او معلومات ورکول، هغوی له خپلو افغانانو سره ډېر لوی ظلم کاوه.

ځکه هر څوک دا حق لري چې افغانستان کې ازاد ژوند وکړي، نو له دې حق نه څوک بواځې په دې محرومول، چې په دولت پسې یې خبرې کړي، ډېر زیاتی دی. د ولایت د مقام د ښې همغږۍ او ښه مدیریت له امله د ډېرو دغسې ناوړه پېښو مخنیوی شوی و.

## ميدان وردگو ته د ولسمشر حامد کرزي راتگ:

دا د ميدان وردگو د ولسونو لپاره ډېره د خوشحالۍ ورځ وه، هم ولسونه خوشحال و او هم د ولايت رهبري، ځکه چې د حکومت په دې دوران کې دا لومړی ځل و، چې ولسمشر حامد کرزی او ورسره لوړپوړي چارواکي د ولايت مرکز - ميدان ښار ته راغلل.



۱۳۸۵\٦\۱۵هـ ش: ولسمشر حامد کرزی، د جمهوري رياست دويم مرستيال استاد کريم خليلي او والي عبدالجبار نعيمي د ځينو نورو چارواکيو په ملتيا د ميدان- بهسودو سړك د جوړښت چارې پيلوي

..................................

له ولسمشر حامد کرزي سره د جمهوري رياست دويم مرستيال استاد کريم خليلي، استاد محمد محقق، د باميانو ولايت رهبري حبيبه سرابي، د دواړو ولايتونو وکيلان او نور چارواکي په دې سفر کې مله و.

له ميدان ښار نه تر باميانو پورې د سړک قير کول يوه ډېره لويه او مهمه پروژه وه، د همدې پروژې د پرانيستې لپاره ولسمشر ميدان ښار ته راغلی و.

خو يوازې دا يوه پروژه نه وه، دلته د لومړي ځل لپاره د ترکانو په مالي مرسته د سپورټ کمپليکس او لوبغالی جوړ شوی و، چې پکې د بېلا بېلو لوبو اسانتياوې موجودې وې، د دې افتتاح هم وه او د يو جامع جومات د جوړېدو ډبره هم کېښودل شوه، له دې پرته يوه لويه غونډه هم رابلل شوې وه، چې په کې د دې پروژو په اړه معلومات ورکول کېدل او د ولسمشر حامد کرزي هرکلی په کې کېده.

که څه هم ګرمي ډېره وه، خو بيا هم په دې غونډه کې ډېرو زياتو خلکو برخه واخيسته او له دولت او ولسمشر سره يې خپله مينه ښکاره کړه.

کله چې مېلمستون کې غونډه پای ته ورسېده، نو همدلته ورته غرمنۍ هم تياره شوې وه، خلک ډېر خوشحال و، ځکه چې ولسمشر يې په منځ کې ناست و، د ټولو ولسواليو خلک ولسمشر ته راغلي و او ورسره يې خپلې ستونزې شريکولې.





۱۳۸۵\۶\۱۵هـ ش: ولسمشر حامد کرزی، والي عبدالجبار نعيمي او ځينې نور چارواکي د ورزشي مرکز د پيل چارو ننداره کوي

..................................

کله چې ډوډۍ وخوړل شوه، نو وروسته له هغې ولسمشر ته کسان راغلل، چې چورلکې د بيرته تلو لپاره چمتو دي، خو ولسمشر ورته وويل: ((پرې مې ږدئ، چې د ارگ نه بهر يو څو شېبې په ولايت کې تېرې کړم.))

له ډوډۍ او استراحت وروسته، ولسمشر حامد کرزي او ورسره راغليو مېلمنو د کابل پر لور حرکت وکړ.

نعيمي وايي: ((د جمهور رييس د بيارغونې او ابادۍ دا سفر ډېر په ښه طريقه ترسره شو.))

د ولسمشر حامد کرزي راتگ دې ځای ته ډېره گټه وکړه، دې سفر د بيارغونې او ابادۍ لپاره ډېر څه له ځان سره راوړل او ولسمشر هم له دې ځايه ډېره مينه له ځان سره يوړه، ځکه ولايتي ادارې د دې سفر لپاره هر څه ډېر په منظمه توگه ترسره کړي و او ولسمشر ترې خپله خوښي ښکاره کړه.

د ميدان وردگو ولس هم پر دې غونډه ډېره خوښي ښکاره کړه او هيچا له ولايتي رهبرۍ خپگان ونه ښوده. ټول خوښ و او د ولايتي رهبرۍ د کړنو ستاينه يې کوله. په غونډه کې يو ځانگړی نظم او ډسپلين موجود و، چې خلکو په کې په ډېره منظمه توگه برخه اخيستې وه.

نعيمي وايي: ((معمولاً ولايتونو کې خلک په دغسې غونډو کې شکايتونه کوي، خو دلته هيچا هم داسې شکايت ونه کړ، ټولو مننه کوله او د داسې پروژو په پيلېدو خوشحاله و.))

## د دايميرداد ولسوالۍ سفر:

عبدالجبار نعيمي چې له کله نه ميدان وردگو ولايت ته د والي په توگه تللی و، نو په دې فکر کې و چې ولسواليو ته سفرونه وکړي، هلته له خلکو سره ليدنې وکړي، د بيارغونې، امنيت او نورو ضرورتونو، چې ولسوالۍ يې لري، هغې ته لومړيتوبونه ورکړي.

نو په لومړي ځل والي د دايميردادو ولسوالۍ د سفر تابيا کړې وه او يوه مياشت مخکې يې د دې سفر لپاره ورځ ټاکلې وه او د اړين چمتوالي لپاره يې خلک ګومارلي و.

کله چې د تلو ورځ راغله نو پر دغه ورځ يوه ستونزه رامخې ته شوه. ستونزه دا وه چې د وخت امنيې قوماندان والي ته وويل چې ناروغ دی او نشي کولای چې ورسره تر دايميرداد ولسوالۍ پورې ولاړ شي.

خو مشکل بل و، ميدان وردګو کې دا ګومان کېده چې دايميرداد ولسوالۍ ته چې کومه لار تللې، هغه ډېره خطرناکه ده، خلکو فکر کاوه چې دلته د دولت مخالفې وسله والې ډلې بريدونه ترسره کولای شي.

خو چون والي يوه مياشت مخکې د دې سفر لپاره تابيا کړې وه او د سفر ورځ هم مياشت مخکې ټاکل شوې وه، نو هغه په هېڅ صورت دا سفر نه شو ځنډولای، نو د دايميرداد ولسوالۍ له ولسونو سره د ليدنو او کتنو لپاره يې تګ اړين باله.

والي د خپل ټول ټيم او ټولو ادارو له رييسانو سره يو ځای، سهار پر شپږو بجو حرکت وکړ. د دوی کاروان د چک پر لار روان و او کله چې دوی د چک له ساحې څخه جلګې ولسوالۍ ته روان و، نو په لاره کې يې يو ډېر لوی غر چې يوه لويه تپه ښکارېده، تر هغې لاندې يې په سلګونه ماشومان ناست وليدل. له لېرې دا ناست ماشومان داسې ښکارېدل چې چا په زور کېنولي وي، ځکه چې دا ځای د ناستې نه و، يو خوا شړ ځای و، بل خوا د غره بېخ و، نو سوال دا پيدا کېده چې دلته دا دومره ډېر ماشومان څه کوي چې ناست دي.

خو کله چې کاروان ماشومانو ته نږدې ورغی، نو ګوري چې ماشومان او ورسره ځوانان هم دلته د زده کړې لپاره راغونډ شوي او زده کړه کوي.

په داسې يو ځای کې، چې نه په کې اوبه وې، نه خېمه وه، نه دېوال هيڅ هم په دې ځای کې نه و، خو په دې ځای کې د دې سيمې ماشومانو درس وايه. استادان ولاړ ول او ماشومانو او هلکانو ته يې زده کړه ورکوله.

والي دوی ته ورغی او له نږدې يې ورسره وليدل، خبرې يې ورسره وکړې، د دوی مورال ډېر لوړ و او د خپلې راتلونکې لپاره يې ډېرې لوړې هيلې لرلې او هر يو پر دې فکر و، چې سبا به ترې يو لوی انسان جوړېږي او ټولنې ته به خير رسوي.

خو د ډېر غربت او اسانتياو د نشتوالي له امله ماشومان له ځينو ستونزو سره هم مخ شوي و. د هر ماشوم مخ چاودلی و، داسې چاودلی و لکه د پښو پوندې چې چاودلې وي.

والي د روغتيا له رييس نه پوښتنه وکړه، چې د دې څه وجه کېدای شي، هغه ورته وويل: ((دا کېدای شي څه تکليف ولري.))

خو کله چې والي له نږدې نه د ماشومانو مخونه وکتل نو ورته څرگنده شوه، چې د اوبو د نشتوالي له لاسه داسې شوي و، ځکه دغلته اوبه نه وې چې دوی پرې مخونه ووينځي، خاورې ترې پاکې کړي او د هر چا چې هم مخ يو ځل لږ چاودلی، نو بيا په کې خاورې ورغلې وې او همداسې يې د مخ چاودونه ورځ تر بلې ډير شوي و.

نعيمي د دې ماشومانو په اړه وايي: ((خو دلته د استادانو او شاگردانو دې لوړ مورال، چې دلته يې په دې شاړه سيمه کې د درس او زده کړې لپاره ځانونه چمتو کړي و او په داسې حال کې، چې هيڅ اسانتيا يې نه درلوده، زده کړې کولې، زه دې خبرې ډېر خپه او خوشحاله کړم. خپه په دې چې زموږ هېواد کې جنگونو موږ څومره شا ته وتمبولو او خوشحاله په دې چې زموږ په ولس کې له پوهنې سره څومره ډېره مينه شته ده.))

تر سفر وروسته د ولايت لخوا له دغو خلکو سره د خېمو مرسته وشوه، تر څو د سر سېوری يې پيدا شي او زده کړې په ښه طريقه سرته ورسوي. د دې ماشومانو د درملنې لپاره هم ډاکترانو ته هدايت ورکړل شو، تر څو دا ماشومان دقيق وگوري، ټېستونه يې وکړي او ناروغي يې سمه درملنه کړي.

نعيمي وايي: ((له دې ماشومانو نه ډېر زيات متاثره شوم، چې په داسې ځای کې دوی خپلې زده کړې کولې.))

کله چې د دوی کاروان دايميرداد ولسوالۍ ته ورسېد، هلته يې مشران او ولس د استقبال لپاره غونډ شوي و، په ډېر ښه ډول د دوی استقبال وشو. آن تر دې چې خلکو يې د راتلو په خوشحالۍ کې اتڼونه هم وکړل.

د دوی لپاره څاروي هم حلال شوي او دېگونه باندې و، کله چې نعيمي د دې سيمې له خلکو سره وليدل، نو ورته يې وويل: ((دلته راتگ زموږ وظيفه ده، تاسو ولې دومره تکليف کوئ؟))

نو يو مشر راپاڅېد او والي ته يې وويل: ((اووه څلوېښت کاله مخکې دلته يو حاکم راغلی و او د هغه نه راوروسته بيا موږ څوک ونه ليدل چې دلته دې راغلی وي.))

تاسو فکر وکړئ، چې په اووه څلوېښت کلونو کې يوې سيمې ته کوم لوړ پوړی دولتي چارواکی نه وي ورغلی، هغه سيمه کې به د پرمختگ کارونه څنگه شوې وي او بيارغونه به هلته په څه حال او د هغه ځای ولس به څومره هوسا ژوند ولري، طبيعي خبره ده چې هوساينه او پرمختگ نشي درلودلای.

جالبه لا دا وه، چې پر کومه ورځ والي او د دوی ټيم ولسوالۍ ته ورسېدل، پر همدې ورځ د حاجي سيف الله احمدزي د اجرااتو مکتوب دغې ولسوالۍ ته ورسېد. احمدزی د ميدان وردگو د تېرو شوو دوه درې واليانو څخه يو و او په دغه وخت کې وفات شوی و.

تاسو فکر وکړئ چې په دې سیمه کې به نو څه کار شوی وي. نعیمي د جلګې (دایمیرداد) ولسوالۍ د لیدلو حال راته داسې بیانوي: ((د جلګې ولسوالي چې مې کله ولیده، نو په دې ولسوالۍ کې دومره بد حال و، چې د یوې ښښتې کار هم په کې نه و شوی، هیڅ



د ملي محاذ رهبر ارواښاد پیر سیدا احمد ګیلاني او د ګوند نور غړي په میدان ښار کې د یو سفر پر مهال د نوموړي ولایت له والي سره لیدل کیږي

داسې یوه ښښته ما ونه لیده، چې دلته په کوم ځای کې لګېدلي وي او سړی ووایي چې دلته پخه ابادي شوې، ډېره وروسته پاتې ولسوالي ده.))

په هر حال، دوی د دې ولسوالۍ له روغتون او مکتب نه لیدنه وکړه. د دې ولسوالۍ له ولس سره یې ناستې وکړې، غونډې یې وکړې، د دوی لومړیتوبونه او وړاندیزونه یې واورېدل.

د دې ځای ولس د والي په ورتلو او ورسره په ناسته دومره خوشحاله شو، چې دغه خوشحالي یې هیڅ په تورو کې نه ځایېږي. نعیمي وایي: ((ما چې دلته د خلکو دومره خوشحالي او احساس ولیده، نو ځان مې د دې خلکو پوروړی وګاڼه.))

ځکه د دې ځای خلکو له دولت سره ډېره مینه لرله او د دولت حمایت یې کاوه، د هېواد احساس په کې ژوندی و، خو له دې سره-سره دې ولسوالۍ ته چا پاملرنه نه وه کړې او همداسې وروسته پاتې ساتل شوې وه.

د ولایت له مشرتابه سره په دې سفر کې د ټولو ادارو رییسان هم یو ځای و، نو والي دوی ته وویل چې د دې خلکو لومړیتوبونه او ضرورتونه اړوندو وزارتونو ته ورسوي او کوم کارونه چې د دوی له وس نه دباندې و، هغه والي له خپل ځان سره یادښت کړل، تر څو یې اړوندو ادارو ته ورسوي او د خلکو ضرورتونو ته لومړیتوب ورکړي.

خوشبختانه، والي ټولو ته هدایت ورکړ چې هر رییس خپلو وزارتونو ته یو مکمل راپور چمتو او ورته ورسوي او په دې ولسوالۍ کې د بیارغونې او پرمختګ کارونه پیل شي او د دې ولسوالۍ

لومړيتوبونه او ضرورتونه په ښه شان ترسره شي.

له دې سفر نه وروسته، په دې ولسوالۍ کې ډېرکارونه پيل شول. د دې خلکو د ژوند ځينې ضرورتونه پوره شول، د خلکو له دولت سره هم مينه زياته شوه او د خلکو ژوند هم د بهترۍ په خوا متحرک شو.

## بهسودو ته سفر:


د دايميرداد ولسوالۍ له سفر وروسته والي د بهسودو د سفر پرېکړه وکړه.

له نعيمي سره بهسودو ته په دې سفر کې د يوناما مسوولين، د ملکي او نظامي ادارو ټول مسوولين مله و.

کله چې والي بهسودو ته سفر کاوه، له هغې يوه اونۍ مخکې ټولو امنيتي ځواکونو ته خبر ورکړل شوی و، چې د لومړي او دويم بهسودو ولسواليو څخه به ليدنه کېږي، هلته به د بيا رغونې چارې کتل کېږي او له خلکو سره به د خلکو د ستونزو په اړه خبرې او مشورې کېږي.

نعيمي وايي: ((موږ غوښتل چې هلته له خلکو سره خبرې او مشورې وکړو او د هغوی غوښتنې او لومړيتوبونه معلوم کړو، تر څو دغې منطقې ته خاصه توجو وشي.))

نعيمي ځکه غوښتل چې دې منطقې ته ځانګړې پاملرنه وکړي، چې دا ځای ډېر لېرې او محروم پاتې شوی و.



۱۳۸۵\۵\۱۸هـ ش: دې کندواله کې يو شمېر زده کوونکي زده کړه کوي، له دې کندواله ښوونځي څخه نعيمي بهسودو ته د سفر پرمهال ليدنه وکړه.

..................................

د سفر پرېکړه شوې وه او د سفر لپاره لازم تياری هم نيول شوی و. پر کومه ورځ چې والي بهسودو ته روانېده، پر دغه ورځ سهار شپږ- شپږ نيمې بجې د ميدان وردګو امنيتي مسوولينو د والي د سکرتر په لاس پيغام ورکړ، چې دوی معلومات لري چې په لار کې ښايي پر والي بريد وشي.

امنيتي مسوولينو ورته ويلي و: ((موږ معلومات ترلاسه کړي چې په لاره کې شايد بريد وشي او دښمن کمين نيولى وي، نو که سفر وځنډول شي يا لاره بدله شي ښه به وي.))

امنيتي مسوولينو غوښتل چې نعيمي له دې سفر څخه منع کړي، يا يې دې ته اړ کړي چې د پروان له لارې ولاړ شي، چې د پروان لاره ډېره اوږده وه او هغه وخت چې والي هلته خلکو ته ورکړى و، پر هغه وخت بيا دوى د پروان له لارې نشو رسېداى.

کله چې والي په دې اړه فکر وکړ، چې ټول تيارى نيول شوى، هلته به ډېر قومونه او ولسونه خبر شوي وي او دې ته به خوشحال وي چې والي ورځي، نو که دا سفر وځنډول شي او يا هم لاره بدله کړل شي، ښه خبره به نه وي.

نعيمي وايي: ((ماته خپل ضمير اجازه رانه کړه، چې سفر وځنډوم او يا هم لاره بدله کړم، نو ځکه موږ حرکت وکړ او دوى ته مې وويل چې دعا کوئ او خپل ځانونه خداى ته وسپارئ.))

نو د سفر چمتوالى ونيول شو او د خداى(ج) په توکل ټول په سفر روان شو، ځکه والي ورته وويل چې دا زموږ د ولس د پرمختګ او د هغوى له حال نه د خبرېدو سفر دى او بايد په هېڅ ډول ونه ځنډول شي.

نعيمي د دغه سفر په اړه، چې کله دوى له هغو ساحو تېرېدل چې نا امنه ګڼل کېدې او تر ګواښ لاندې وې ، وايي: ((چې کله موږ له دغو ساحو څخه تېرېدلو او د خپلو ملګرو مخونو ته مې پام شو، نو د ټولو په مخونو ويره - ترهه خوره وه او له داسې يو حالت سره مخ و، چې هره دقيقه به ورته دا ښکارېده چې د مرميو باران به پرې وشي.))

خو نعيمي دې سفر ته د دغو سيمو د قومونو او ولسونو د سوکالۍ او ښېرازۍ د سفر نوم ورکړى و او ځان يې خداى(ج) ته سپارلى و.

هغه وايي: ((خو موږ خداى(ج) ته ځان سپارلى و او دا سفر مو د ولس د سوکالۍ او ښېرازۍ سفر باله، خوشبختانه له هغو ساحو څخه د امن په فضا کې تېر شو.))

نو له دغو ساحو نه، چې دوى ته ويل شوي و، چې کېداى شي دلته دښمن بريد وکړي او يا يې هم دلته کمين نيولى وي، هيڅ د نا امنۍ پېښه رامنځته نه شوه او د شلګونو موټرو کاروان په خېر و خېريت سره مخکې ولاړ، خو په دغه ځاى کې والي د سيمې د امنيت لپاره د خپل کاروان مسوولينو ته وويل، چې د جلرېز ولسوالۍ مسوولينو سره د ليدو لپاره ورځي، تر څو د دې لارې او د دې ځاى د ښه امنيت لپاره ورسره خبرې وکړي.

جلرېز ولسوالۍ کې چې کله ښکته شو، نعيمي د سيمې امنيتي چارواکو ته هدايت وکړ: ((په دې ساحه کې چې نا امني ده، دې ته بايد توجو وشي. د دغه ځاى له خلکو سره ناستې وشي، ځکه چې دا ډېره مهمه لاره ده. دا لاره باميانو ته تللې، د دايکندي لاره ده، تقريباً شاهراه

غوندې ده، نو په دې لاره کې باید هیڅ غفلت ونه شي. د دې ځای له خلکو سره ناستې وشي او دلته د امن راوستو لپاره هر اړخیز کار ترسره شي.))

وروسته له هغه د اووني (اوونۍ کوتل) په طرف سفر پیل شو کله چې کوتل ته ورسېدل، هلته یې دمه وکړه او د کاروان نورو موټرو ته معطل شول، کله چې د ټول کاروان موټرې کوتل ته ورسېدې، نو له هغه وروسته کاروان بیا د بهسودو په لور سفر پیل کړ.

کله چې دا کاروان بهسودو ته ورسېد، نو هلته ورته د استقبال لپاره قومونه او ولسونه راغونډ شوي و او ماشومانو او ځوانانو د افغانستان بېرغونه په لاسونو کې نیولي و او د سړک یو خوا - بل خوا ولاړ و، خلکو د والي د استقبال لپاره بېرغونه رپول او دا شعارونه یې ویل((خوش آمدی، خوش آمدی ــــــ والی جوان مو خوش آمدی ــــــ بسیار مهربان مو خوش آمدی.))



۱۳۸۵\۵\۱۸هـ ش: لومړیو بهسودو کې، په سلګونه هزاره ورونه والي عبدالجبار نعیمي او ورسره چارواکیو ته هرکلی کوي

دا نو ډېره خوندوره او له ملي جذباتو ډکه صحنه وه، چې درې رنګه بېرغ دواړو خواو ته رپېده او د هزاره جاتو مشران، علما او ځوانان د والي او ورسره ټیم استقبال ته ولاړ و او د هرکلي شعارونه یې ورکول. هرکلي ته دومره خلک په اوږدو کتارونو کې ولاړ و چې په لیدو یې سړی ګوته په غاښ پاتې کېده. سوال پیدا کیده، چې په بهسودو کې چې ډېره سیمه یې دښتو او غرونو پوښلې او کورونه په کې خال، خال لیدل کیږي، دومره خلک له کومو، کومو ځایونو راغونډ شوي و.

کله چې دا کاروان له میدان ښار څخه روانېده، نو والي نه غوښتل چې په بهسودو کې څوک په تکلیف کړي او هلته د چا په ځای کې شپه تېره کړي او یا هم ورته څوک اخلی پخلی وکړي، نو په دې خاطر دوی ښه سمبال تللي و او د ضرورت هر یو څیز یې له ځان سره اخیستی و، چې

په کې خېمې او د خوراک څښاک توکي هم موجود و.

خو کله چې دوی هلته ورسېدل، نو له دوی مخکې د بهسودو مشرانو دا پرېکړه کړې وه، چې د والي ټول پرسونل ته به د خپلو کورونو په مهمانخانو کې ځای ورکوي او اخلی پخلی به هم دوی په خپله غاړه اخلي، ځکه چې هغو خلکو له دولت او نظام سره مینه لرله او نظام يې حمايه کاوه. له دې پرته هم دوی دا پرېکړه کړې وه چې تر خپلې وسې به هڅه کوي، چې څوک داسې څه څرګندونه ونه کړي، چې والي او ورسره راغلو مسوولينو کې څوک خوابدی شي او دا مشوره يې هم په خپل منځ کې کړې وه، چې خپل ضرورتونه او وړانديزونه به په اجتماعي ډول او په ډېر ښه ډول بحث کوي، تر څو ورته والي او مسوولين لارې چارې ولټوي.

نعيمي وايي: ((موږ د خپل ضرورت ټول سامانونه له ځان سره اخيستي و، خو هغو خلکو زموږ له دې هر څه سره مخالفت وښوده او راته يې وويل، چې تاسو زموږ ورونه يئ، زموږ مېلمانه يئ، نو په هېڅ صورت موږ تاسو دې ته نه پرېږدو چې په خېمه کې پاتې شئ. دا نو د هغو خلکو مينه وه، چې ښکاره کوله يې.))

په دې ځای کې نه چېرته کوم هوټل موجود و او نه بله داسې پرمختللې ابادي وه، خو دې خلکو د مېلمه پالنې په دود د ولايت والي، ورسره راغلو مسوولينو او پرسونل ته ځانګړې سهولتونه برابر کړل.

نعيمي وايي: ((دلته يواځې ختين کورونه و، خو د دې خلکو مينه دومره زياته وه، چې ما يې هېڅ تصور هم نه و کړی. ما داسې مينه محبت ډېر کم ليدلی و.))

د دې ځای خلکو ټولو ته، چې په کې ملکي او نظامي مسوولين هم شامل و، يعنې ۱۳۰ موټره خلکو، ټولو ته ځايي خلکو په خپلو کورونو کې ځای ورکړ او د خوراک سرښته يې ورته ونيوه.

دا دوه شپې او درې ورځې سفر په ډېره ښه توګه ترسره شو. په دې کې لومړۍ شپه په لومړي بهسود کې او بله شپه يې په دويمو بهسودو کې تيرې کړې. په دې سفر کې وروستۍ شپه دوی په هغه روغتون کې وکړه، چې ډاکتر سيما ثمر جوړ کړی و او د روغتون د ډاکترانو لپاره چې کوم ځای جوړ شوی و، په هغې کې يې شپه تېره کړه.

په دې سفر کې والي د ښوونځيو حال وليده، چې نيم نړېدلي و او په پاتې نيمه برخه کې يې د دې ځای ماشومانو درس وايه، د بيا رغونې له کارونو هم ليدنه وشوه، دوی ته چې کوم راپورونه مخکې ورکړل شوي و، له هغو سره سم دلته د بيا رغونې کارونه روان و. له دې پرته د دې ځای د مشرانو او خلکو اړتياوې او وړانديزونه هم والي او ورسره ټيم يادښتول، چې وروسته ورته په ډير ښه ډول رسيدنه وشوه.

د دې ځای خلک ډېر غريب دي. زياتو خلکو يې د غربت له وجې له دې ځايه کډې کړې

او د کابل دشت برچي ته تللي، خو کوم خلک چې دلته پاتې دي، هغوی ډېر په غربت خپل ژوند تېروي.

نعيمي وايي: ((ما چې دلته څه وليدل، يو اړخ يې دا و، چې بايد دلته ډېره پاملرنه وشي، ځکه په هغو منطقو کې غربت بې حده زيات و.))

که څه هم د دې ځای خلکو په ډېر غربت کې ژوند کاوه، خو ښه خبره په کې دا وه چې په لومړي او دويم بهسودو کې هيڅ جنايي پېښې نه وې، دا نو ډېره د حېرانتيا خبره وه.

والي چې کله د لومړي او دويم بهسودو له امنيتي ځواکونو څخه پوښتنه وکړه: ((څومره جنايي پېښې ثبت شوي؟)) هغوی ورته وويل: ((صفر.))

دا نو ډېره عجيبه خبره وه، ځکه چې په هر ځای او په هره سيمه کې څه نا څه جنايي پېښې حتماً پېښېږي، نو هغه ترې بيا وپوښتل:

((دا څنګه کېدای شي، چې هېڅ جنايي پېښه نه وي ثبت شوې.))

هغوی ورته وويل: ((دلته چې زموږ د خلکو هر څه اختلافات منځته راځي يا هم هره ستونزه رامخې ته کېږي، نو زموږ مشران يې په ښه طريقه هواروي، جنګ او وينې تويېدو ته يې نه پرېږدي او زموږ علما په جوماتونو کې دا وعظ او نصيحت کوي، که داسې څه پېښې رامنځته شي، نو مخکې له دې چې خونړۍ شي، بايد د خبرو له لارې حل شي.))

د دې سيمې مشرانو او علماوو خپل رول ډېر ښه ادا کړی و او دې سيمه کې يې ثبات راوستلی و. عبدالجبار نعيمي چې کله دا خبرې واورېدې، نو د تعجب تر څنګ يې ډېره خوښي هم څرګنده کړه.

په دې سفر کې د عامې روغتيا رييس، د پوهنې رييس، د کليو او پراختيا رييس، د ولايت اداري رييس، د امنيې قوماندان، د امنيت رييس او نورو په دغه ځای کې خپلې-خپلې ادارې وکتې او د هغوی اړتياوې او وړانديزونه يې واورېدل، چې وروسته يې اړوندو وزارتونو او ادارو ته ولېږدول.

## چک ولسوالۍ ته سفر:

دا ځل نعيمي د ۱۳۸۴هـ ش کال د وري پر ۱۲مه د چک ولسوالۍ سفر تابيا کړې وه. په دې سفر کې ورسره له مخدره توکو سره د مبارزې وزير جنرال خدايداد او د تايلينډ يو لوړ پوړی چارواکی شهزاده بايسټ راجاني، چې تخصص يې د مېوه جاتو په بسته بندۍ کې کړی و، هم مل و.



**۱۳۸۵\۵\۱۲هـ ش: د تايلينډ شهزاده بايسټ راجاني له عبدالجبار نعيمي، دولايتي شورا غړي، کورنيو او باندنيو مرستندويانو او چارواکيو سره چك ولسوالۍ کې د يوې غونډې پر مهال ليدل کېږي**

لکه څنگه چې ميدان وردگو کې منې او نور مېوه جات ډېر کېدل، نو د بايسټ راجاني دلته راتگ او بيا له والي سره چک ولسوالۍ ته سفر کول، په خپله د هغه ځای ولس ته ډېره نا اشنا خبره وه.

کله چې دوی چک ولسوالۍ ته ورسېدل نو هلته يې په يو باغ کې غونډه وکړه. والي د تايلينډ شهزاده هلته خلکو ته ورمعرفي کړ، په دغه ځای کې دې تايلينډې خلکو ته د بسته بندۍ چل وروښود، خلک ورته حېران و چې دومره لوړ پوړی چارواکی او د وخت د پاچا کاکا، چک ولسوالۍ ته راځي او دلته خلکو ته د بسته بندۍ طريقه ښيي.

چک ولسوالۍ ته د تايلينډ د شهزاده سفر دغه ولس ته ډېرې هيلې پيدا کړې او په خپله تايلنډی شهزاده هم له دې سفر نه ډېر خوشحال و.

نعيمي وايي: ((دې سفر ماته په خپله ډېر خوند راکړ، که څه هم دا لاره پخه نه وه او نه په هغه وخت کې زرې موټرې وې، خو زموږ هڅه دا وه چې ولسوالۍ ته د ابادۍ او بيا رغونې کارونه وغځېږي.))

## د چک بند:

د چک ولسوالۍ په دې سفر کې د چک له بند نه هم ليدنه وشوه. د چک دا بند د المان يو شرکت چې زيمنس نومېده، په ۱۹-۱۳۱۷هـ ش کې جوړ کړی و. دا ډېر تاريخي بند دی او دې بند به ډېره برښنا توليدوله چې يو وخت به يې آن کابل ته هم برښنا ورکوله.

خو په بېلا بېلو وختونو کې دا بند له خاورو ډک شو او د برښنا توليد يې کم شو او آن تر دې چې په دغه وخت کې يې د وردګو ډېرو ساحو ته هم برښنا نشواى ورکولاى. نعيمي د دې بند د بيا رغولو لپاره ډېره هڅه وکړه. د دوی هڅې او کوښښونه و چې د بند لپاره يې بوديجه پيدا کړه، خو بدبختانه چې څومره يې غوښتنه وه، هغومره څه ونه شول او چا دې بند ته ډېره پاملرنه ونه کړه. دلته چې کوم تخنيکي مسوولين و، هغوی به همدا خبره کوله، چې د دې بند د بيا رغولو پر ځای دې پر نورو بندونو کار وشي او نور نوي بندونه دې جوړ شي، ځکه دوی انګېرله چې دې بند خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی.

خو دا ډېر تاريخي بند دی او نعيمي غوښتل چې په هر ډول کيږي بايد ورغول شي. له همدې امله يې ډېره پاملرنه ورته کوله او څو، څو ځله يې له مرستندويانو سره د رغولو او پاکولو ترونونه لاسليک شول خو له بده مرغه د نامعلومو ستونزو له امله به يې چارې په ټپه ودريدې، دې کار تر اخره پورې دوام ونه موند.

له دې بند سره خوا کې يو روغتون و، چې د جرمني هېواد يوې ښځې کارلاشيفټر Karla Schefter چلاوه. د دې ښځې پلار د چک بند د جوړولو په وخت کې دې بند کې کار کړی و، نو دا ښځه پر هماغه وخت له خپل پلار سره دلته راغلې وه او دومره انسان دوستې په کې وه، چې له هغې وروسته يې همدلته د پاتې کېدو پرېکړه وکړه او دلته يې دغه روغتون جوړ کړ، چې تر دغه مهاله يې چلاوه او د ناروغانو درملنه يې په کې کوله.



د عامې روغتيا رييس، عبدالجبار نعيمي او کارلا شيفتر، په چک روغتون کې

نوموړې دغه روغتون فعال ساتلی و او د ټولو ناروغانو درملنه يې په وړيا کوله.

په هېواد کې دومره جنګونه تېر شول، دومره بدبختۍ راغلې، دومره حکومتونه جوړ او ړنګ شول، خو دې ښځې همدلته ژوند غوره کړی و او له دې ځايه بل چيرته تللې نه وه.

دې ښځې په دې سيمه کې د افغانانو ډېر زيات خدمت کړی و، ځکه چې نوموړې به په جرمني کې په چندو پيسې راټولولې خو دلته به يې دا روغتون چلاوه او د غريبو او بې وزله ناروغو افغانانو درملنه به يې کوله.

کله چې والي دا روغتون وليد او د ښځې له دې دومره خدمت نه خبر شو، نو ډېره زياته خوشحالي يې ځرګنده کړه.

نعيمي وايي: ((د دې ښځې همت، مېړانې او دا دومره خدمت ډېر تقديروم او زه له دې ښځې ډېر زيات متاثره شوم، ځکه چې زموږ زياتره افغانان چې اکثره ځايونو کې ګورې نو يواځې خبرې کوي او کار نه کوي، اما دې ښځې په ډېره مينه خپل کار کاوه او بشري او خېريه مرکز يې فعال ساتلی و او د خلکو په خدمت کې مصروفه وه.))

## منې ګل مشاعره:

**د شملو وطن ته راشه چې شملې درته په سر کړو**
**ته رڼا د ستورو راوړه مونږ به وينې د زړه درکړو**

ميدان وردګو کې ((منې ګل مشاعره)) چې په دغه ولايت کې لومړنۍ لويه مشاعره وه، د عبدالجبار نعيمي په هڅو د چک ولسوالۍ په يو باغ کې د غويي پر ۱۳مه، ۱۳۸۴هـ ش کال کې جوړه شوه.



**ميدان وردګو والي، فرهنګيان، ليکوال، مينه وال او چارواکي چک ولسوالۍ کې منې ګل مشاعرې ته ناست دي**

په دې مشاعره کې د شهيدانو او معلولينو وزيرې صديقې بلخي، ليکوال او سياستوال غرزي خواخوږي، په سلګونو مينه والو، فرهنګيانو، ليکوالانو، ولسي وګړو او دولتي چارواکو ګډون کړی و. دې مشاعرې خلکو ته ډېره خوشحالي ورکړه او خلکو ترې ډېر خوند واخيست.

نعيمي وايي: ((ما چې د خلکو لپاره د خوشحالۍ کوم کارونه کړي، زه فکر کوم چې يوه په کې دا مشاعره هم وه، چې خلکو ته يې ډېره خوشحالي ورکړه او ډېرې هيلې يې ورته پيدا کړې.))

دا نو داسې وخت و چې ټلويزيونونه او له خلکو سره موبايلونه دومره ډېر نه و، خلکو به هم له داسې غونډو خوند اخيسته او بيا مشاعرې ته به ډېر خلک غونډېدل او تر مياشتو مياشتو به يې بيا يادونه کېده. د ((منې گل مشاعره)) هم همداسې وه، چې تر مياشتو مياشتو يې يادونه کېده او خلکو يې ستاينې کولې.

دې مشاعرې د چک پر خلکو ډېره فرهنگي مينه وشيندله، ځکه دلته له شعرونو سره - سره ډېرې مقالې هم ولوستل شوې او دلته ټولو خلکو يو ښه پيغام له ځان سره يووړ، ځکه چې په دې مشاعره کې د هېواد د ابادۍ لپاره ډېر پيغامونه ورکړل شول.

دې مشاعرې ځوانان ډېر تشويق کړل او ځوانانو کې يې د هېواد د ابادۍ او پرمختگ لپاره نوې هيلې راژوندۍ کړې. چې دا سلسله پسې همداسې وغځېده او تر دې وروسته هم په ميدان ښار کې د ((منې گل)) په نوم مشاعرې جوړې شوې، چې د ولايت د مشرتابه په گډون دولتي چارواکو په کې پراخه برخه اخيسته او د هېواد له بېلا بېلو ولايتونو څخه نوميالیو شاعرانو په کې ونډه درلوده او د دې ځای د ځوانانو د تشويق، ويښتيا او روښانتيا لپاره يې لويه زمينه گنډلای شو.

## ميدان وردگو کې مظاهره:

کله چې د امريکا په کوم ايالت کې يو امريکايي د قرآن پاک بې حرمتي وکړه، نو د نړۍ هر مسلمان پر دې ډېر خوابدی شو او د دې پر ضد د نړۍ په بېلا بېلو اسلامي هېوادونو کې لاريونونه وشول.

همداسې د دې امريکايي پر ضد افغانستان کې هم زيات لاريونونه وشول، چې په دې لړ کې په ميدان ښار کې هم د ۱۳۸۴هـ ش کال د غويي پر ٢٤مه يوه لويه مظاهره راووته.

په ميدان ښار کې شوې مظاهره ډېره لويه او ډېره په شدت روانه وه، تقريباً دوه -دوه نيم زره ځوانانو په کې برخه اخيستې وه. دا مظاهره له تورو تيگو نه راروانه وه او دوی غوښتل چې تر ولايت پورې مظاهره ترسره کړي.

نعيمي په دې وخت کې په ولايت کې و او د وخت معارف رييس ورغی او له دې مظاهرې يې خبر کړ، هغه ورته وويل:

((والي صيب! مظاهره ډېره په شدت روانه ده، نو ته له دې ځای څخه ولاړ شه او دا ولايت

پرېږده، ځکه چې د خلکو ډېر لوی هجوم راروان دی او ممکن دوی دلته ورانکاري او اخ و ډب هم وکړي، نو په دې خاطر که دفتر پرېږدې او ولاړ شې، نو ښه به وي.))

والي فکر وکړ، چې که دی له دې ځایه ولاړ شي خو دفتر یې سوځول کېږي، د دولت تعمیر، موټرو او فرنېچرو ته تاوان رسېږي، نو دا خو ډېره لویه بدنامي ده چې دی نه وي او دا هر څه خلک وران ویجاړ کړي، یا ورته څه زیان ورسوي، بله خبره دا وه چې د دولت مال ضایع کېده، نو د دولت مال خو د همدې ولس مال و، نو ښه خبره نه وه چې زیان ورته رسېدلی وای.

زموږ هېواد کې چې مظاهرې کېږي، هغې کې دا خبره خرابه وي، چې کله مظاهره کوونکي پر څه وربرابر شي، نو هغې ته زیان رسوي، چې زیاتره وخت دولتي ودانیو ته دوی ډېر زیان رسوي او هیڅ فکر نه کوي، چې دا خو دوی خپل ځان او د خپل راتلونکي نسل شتمنۍ ته تاوان اړوي.

عبدالجبار نعیمي له ځان سره فکر وکړ، چې دا ځای داسې پرېښودل نه دي په کار او باید له دې مظاهرې سره یو څه حکمت وشي، تر څو ټولګټو ځایونو او خلکو ته په کې زیان ونه رسېږي او مظاهره د امن او سولې په فضا کې ترسره او ختمه شي.

والي د معارف رییس ته وویل: ((ته کېنه، زه تیاری نیسم چې دغې مظاهرې ته ورشو.))

په دې وخت کې یې اووه - اته همکارانو ته وویل، چې سپینې خولۍ پر سر کړئ او دغې مظاهرې ته ورننوځئ. د الله اکبر نعرې وهئ او صرف دومره وکړئ، چې هلته وګورئ چې چاسره خو به ټوپک یا تومانچه نه وي، ځکه که داسې څه له چا سره وي او دفعتاً له هغې نه استفاده وکړي، نو تاوان به ورته ورسېږي، چې یو ځل دوی سره خبرې اترې وشي، بیا وروسته دوی ارامول اسانه خبره ده.

زموږ د ټولنې یوه بدبختي دا هم ده، چې په هر څه کې خپل دولت ته زیان رسوي او د تېرو نظامونو ظلم دولت او ولس سره جلا برخې ګرځولي او د یو بل مقابل کې یې واقع کړي دي.

کله چې هغوی والي ته خبر ورکړ، چې مظاهره کې یې ځانونه ځای پر ځای کړي او هیڅ داسې څه یې تر سترګو شوي نه دي، نو وروسته له هغې والي حرکت وکړ، چې نوموړی د پوهنې رییس هم ورسره په موټر کې ناست و او د مظاهرې په لور ورغلل.

کله چې نعیمي د مظاهرې ځای ته ورسېد، نو لا له موټر څخه ښکته شوی نه و، چې د پوهنې رییس ورته وویل: ((دا خلک به موږ ته څه تاوان راورسوي، ښه خبره به دا وي چې له خپل موټر څخه کوز نه شو.))

خو نعیمي ټینګار وکړ او ورته یې وویل: ((دا خلک باید موږ ته هیڅ تاوان ونه رسوي، موږ ته په کار ده چې دومره حکمت ولرو، چې خپل بچیان په خپله ارام کړو او دې ته یې پرې نه ږدو

چې څه ورانکاري وکړي او د دولت يا ولس مالونو ته څه زيان ورسوي.))

کله چې دوی له موټرو ښکته شول، نو ويې ليدل چې په دغې مظاهره کې ((مرګ پر امريکا))، ((مرګ د افغانستان په دولت))، ((مرګ د افغانستان په نظام)) او داسې د ولايتي ادارې پر ضد هم نارې وهل کېدې. ټولو ځوانانو غټې غټې لرګي او ډېرې له ځانو سره اخيستې وې او پر خلکو يې ګوزارونه کول او ودانۍ يې هم په ډبرو ويشتله.

نعيمي خواته ورغی او هغه تن چې لاسپېکر يې په لاس کې و او د مظاهرې مشري يې کوله، له هغه څخه يې لاسپېکر واخېست او خلکو ته يې ((السلام عليکم)) وويل، خو چا هم ورته ځواب ور نه کړ. والي بيا پر ټولو سلام وکړ، خو هيڅ ځواب رانغی، هم داسې يې په دريم ځل هم وکړل، خو بيا هم چا ځواب ورنه کړ. بالاخره والي هغه هلک، چې لاسپېکر ورسره و او د مظاهرې مشري يې کوله، له سر نه يې د ټوټې پټۍ تړلې وه، ورته يې وويل: ((ته څوک يې، ځان راته معرفي که.))

کله چې ورته دغه هلک ځان معرفي کړ، نو والي ترې پوښتنه وکړه: ((د کوم ځای يې؟)).

هغه ورته وويل: ((د نرخ يم.))

کله چې ترې والي ټول معلومات ترلاسه کړل چې د کوم کلي او کوم ځای اوسېدونکی دی، نو وروسته يې ترې وپوښتل: ((هره ورځ د لمانځه لپاره مسجد ته هم ځې او که نه؟))

هغه ورته وويل: ((هو، ځم.))

والي ورته وويل: ((د خپل جومات د ملا نوم راته ووايه.))

هلک ته د خپل کلي د جومات د امام نوم نه و معلوم. ورته يې وويل: ((نه مې دی ياد.))

هلک ته چې د خپل جومات د امام نوم نه و ياد، نو مطلب يې دا و چې دی په خپله جومات ته نه تللو، خو دلته يې د دې ځوانانو احساسات داسې پارول، چې ټول په شريکه هر څه ته اور واچوي او ورانکاري وکړي.

والي چې له دې هلک سره خبرې کولې نو بيا هم مظاهره کوونکو د مرګ مرګ نارې وهلې او نه غلي کېدل، خو په دې دومره ساعت کې دا ځوانان يو څه په کنټرول کې شول او نارې يې ورو- ورو په کمېدو شوې.

والي مظاهره کوونکو ته مخ واړو او له هغوی يې پوښتنه وکړه: ((ځوانانو! تاسو دلته د څه لپاره راغلي يئ؟))

د ځوانانو احساسات ډېر زيات جدي و، هغوی ورته وويل: ((امريکايي په خپل هېواد کې زموږ د قرآن شريف بې حرمتي کړې.))

والي ورته وويل: ((هغه سړي خو غلط کار کړی، په دې خو موږ ټول مسلمانان خواشيني يو. په دې خو په ټول عالم اسلام کې خپګان شته دی، خو طريقه يې دا نه ده چې تاسو د قرآن

شريف د بې حرمتۍ د مخنيوي په خاطر راپورته شئ او تعميرونو، موټرو او خلکو ته زيان رسوئ.))

والي ځوانانو ته کړل: ((بايد چې تاسو ځينې نورې لارې غوره کړئ. په مساجدو کې کېنئ، يا دولت ته داسې مشورې ورکړئ، چې د افغانستان دولت څه وکړي، د وردګو ولايت رهبري څه وکړي او کوم پيغام موږ د امريکا حکومت ته ورکړو، چې تاسو په خپل هېواد کې داسې څوک مه پرېږدئ چې د بل مذهب يا د بل مذهب مقدساتو ته توهين وکوي. په دې کار سره د هېوادونو ترمنځ فاصلې زياتېږي او دغسې خلک پر احساساتو راځي، نو موږ او تاسو ته يو څه په کار دي، چې په فکري لحاظ، په علمي لحاظ او په ډيپلوماتيک لحاظ او داسې نورو لارو هغوی ته خبره وکړو، چې د هغوی حکومت، هغه خلک چې پر داسې عملونو اخته وي، چې حکومت يې مجبور کړي داسې ونه کړي، چې د مسلمانانو او يا نورو مذهبونو د منونکو احساسات راپاروي.))

والي په دې کې بريالی شو، چې ځوانان له ورانکارۍ څخه راوګرځوي او د خبرو له لارې يې قانع کړي، چې که دوی کوم تعمير، موټر يا کوم چا ته څه زيان رسوي، نو دا زيان يې خپل زيان دی.

ځوانان پر دې پوه شول، چې د ميدان وردګو ولايت رهبري دلته چاته هم د ګډوډۍ او ورانکارۍ اجازه نه ورکوي او په دې هم ورسېدل، چې د والي پر دې کار څومره خوا بده شوې ده. ځکه چې دلته ټول وګړي مسلمانان دي او قرآن پاک د ټولو مسلمانانو دی، هر هغه فرد چې کلمه وايي، د قرآن پاک احترام پر هغه فرض دی، په امريکا کې چې يو تن داسې څه کړي، نو پر دې د افغانستان ټول ولس او دولت خپه دی.

کله چې ځوانان ارام شول، نو وروسته يې ډېرې پر هماغه ځای وغورځولې او يو، يو همداسې روان شول او مظاهره يې ختمه کړه.

کله چې مظاهره ختمه شوه، نو والي بيا هغه هلک راوغوښته، چې دا مظاهره يې رهبري کوله او ترې يې د ژوند نور معلومات وپوښتل.

کله چې والي له دغه هلک نه خبر شو، نو هغه بېچاره يتيم و او قرآن پاک يې کله په ژوند کې رااخېستی هم نه و او نه يې د قرآن پاک کوم آيات زده و.

والي ورته وويل: ((هر کار چې کوې، نو له يو فکر سره يې کوه، کله هم داسې فکر مه کوه، چې خلکو ته په کې تاوان ورسېږي.))

کله چې داسې پېښه رامنځته کېږي، نو علماوو ته په کار ده، چې خپل رول ولوبوي، خلک دغسې پرې نه ږدي، چې هغوی دې د احساساتو په جذبه کې نورو مسلمانانو ته تاوان ورسوي يا دې مالونو ته تاوان ورسوي، يا دې موټرې او ودانۍ ورانې کړي او يا دې هم انسانانو ته څه ضرر

ورسوي.

داسې وختونو کې په کار دي، چې مظاهره په داسې ښه طریقه ترسره شي، چې هېڅ انسان ته تکلیف ونه رسېږي. هېڅ ودانۍ، موټر یا بل څه ته زیان په کې ونه رسېږي او امن په فضا کې خپل لاریون ترسره کړي، ځکه چې اسلام د امن او سولې دین دی او موږ ته په کار دي چې هر یو کار کوو، نو د امن او سولې په سېوري کې یې وکړو.

## جغتو ولسوالۍ ته سفر:

جغتو ولسوالۍ د میدان وردګو هغه ولسوالۍ ده، چې له غزني سره پوله لري. په دې وخت کې د غزني د دره شیران ولسوالۍ د طالبانو ولکې ته ولوېده او سقوط یې وکړ او جغتو ولسوالۍ د دره شیران ولسوالۍ سره ډېره نږدې ده، نو په دې وخت کې والي ته اندېښنه پیدا شوه، چې خدای مه کړه دا ولسوالي هم له سقوط سره مخ شي، نو په دې خاطر یې د دې ولسوالۍ د سفر پرېکړه وکړه تر څو هلته ولاړ شي او د دغې ولسوالۍ له ولس سره لیدنې کتنې وکړي او د دوی له ضرورتونو څخه هم ځان خبر کړي.

کله چې به هم کومې ولسوالۍ ته سفر کیده، نو نعیمي به له ځان سره د ټولو ادارو مسوولین، ځینې مشران او د ولایتي شورا وکیلان حتماً بیول.

د کب پر ١٤مه، ١٣٨٤المریز کال والي او ورسره ټول ټیم جغتو ولسوالۍ ته ولاړل. په دغه ولسوالۍ کې لویه غونډه راجوړه شوې وه، تقریباً دوه زره نفرو په کې برخه اخیستې وه.

کله چې دوی هلته ورسېدل، نو ولس د والي د استقبال لپاره لویه دروازه جوړه کړې وه. د دې ځای مشران، علماء او ځوانان ټول په یو کتار کې دواړو خواو ته استقبال ته ولاړ و.

کله چې دوی سالون ته ورسېدل، نو غونډه پیل شوه. والي غوښتل چې د دې خلکو اړتیاوې او لومړیتوبونه معلوم کړي او بیا ورته رسېدګي وکړي. په غونډه کې یو تن راپورته شو او ویې ویل:

((یه والي صاحب! خدای ته ګوره! نور خلک ګټې کا، وردګ خټې کا.))

مقصد یې له دې خبرې دا و چې والي ته خپل پیغام ورسوي، چې د میدان وردګو ولایت له کابل سره نږدې پروت دی، خو بیا هم ورته سمه رسیدګي نه کېږي. دلته چې د دې خلکو څومره ضرورتونه او اړتیاوې دي، دولت ورته سمه توجو نه کوي، نو خپل پیغام یې په ډېره ښه طریقه او ښه انداز والي ته ورساوه، چې ((نور خلک ګټې کا، وردګ خټې کا.))

کله چې نعیمي د غونډې ګډونوالو ته د خبرو لپاره پاڅېد، نو هغوی ته یې وویل: ((تاسو

واقعاً حق لرئ، ما نن دلته په قوماندانۍ کې ولیدل، چې شپږ پولیس ولاړ دي او له دې شپږو پولیسو سره چې ستاسو همکاري نه وي، ستاسو حمایت نه وي، نو دا کله کېدای شي چې هغوی دومره غټه ولسوالۍ کې امنیت راولي. بیا دا هم چې د پولې سره نږدې د غزني ولسوالۍ سقوط کړی او تاسو خپله سیمه د دولت مخالفینو ته نه ده پرې ایښې، لوی کار مو کړی دی.))

په دغه وخت کې دا ولسوالي یواځې شپږو تنو پولیسو ساتله، چې دا ډېره گرانه خبره وه، اما د خلکو ملاتړ ورسره و، د خلکو حمایت و او د خلکو خپلې ولسوالۍ، خپل هېواد او خپل دولت سره مینه وه، نو په دې ولسوالۍ کې هیڅ بده پېښه نه رامنځته کېده.

والي له خلکو وغوښتل او همدا راز وعده یې هم ورسره وکړه: ((تاسو متحد شئ او دلته په خپل منځ کې مخالفین مه پرېږدئ، ځکه چې هغوی تاسو ته تاوان دررسوي، د دې ولسوالۍ ابادي پر ما باندې ده.))

د دې ولسوالۍ د خلکو لپاره د خوشحالۍ لویه خبره دا وه، چې په سفر کې د مکتب تعمیر، د روغتون او کلینیکونو د تعمیرونو، د مېوه جاتو لپاره د سړو خونو جوړولو او همداسې د ځینو سړکونو د جوړولو پروژې اعلان شوې. په دې سفر کې تقریباً اووه اته پروژې اعلان شوې، چې د ځینو یې په کې



۱۳۸۴/۸/۲۳هـ ش: د ښځو چارو وزیره مسعوده جلال د نعیمي په ملتیا د ښځو چارو د ریاست ودانۍ پرانېست غونډې ته روان دي

عملاً کار پر همدغه وخت پیل شو، دا نو د دې ولسوالۍ د خلکو لپاره ډېره د خوشحالۍ خبره وه، چې والي او نور مسوولین یې ولسوالۍ ته ورغلل او دومره پروژې یې هم ورته پیل کړې.

د ولسوالۍ خلک پر دې هم ډېر خوشحال و، چې د ولایت رهبري دوی ته ځان وررسوي او د دوی له لومړیتوبونو او ضرورتونو غافله نه دي، په هر وخت او هر حالت کې له دوی سره اوږه په اوږه ولاړ دي.

## جلرېز ولسوالۍ ته سفر:

د ۱۳۸۴هـ ش کال د غويي پر ۲۷مه والي جلرېز ولسوالۍ ته سفر وکړ. په دې سفر کې هم له والي سره ټول ټيم او د ټولو ادارو رييسان يو ځای و.

کله چې دوی جلرېز ته ورسېدل، د جلرېز ولس يې په ډېر ښه ډول استقبال وکړ او د دوی په ورتګ يې ډېره خوشحالي څرګنده کړه.

جلرېز ولسوالۍ کې يوه لويه غونډه جوړه شوه، چې په کې والي د جلرېز له دولتي چارواکو، قومي مشرانو او علماوو سره وکتل، د هغوی له لومړيتوبونو او ضرورتونو څخه يې ځان خبر کړ، تر څو حل لارې ورته پيدا کړي.

په دې غونډه کې والي د امنيت پر ټينګښت، د کوکنارو پر نه کرلو، د بې وسلې کولو پر لړۍ، د سړکونو، روغتونونو او مکتبونو پر جوړولو او د ټولګټو ځايونو پر رغولو او جوړولو يې هم له دوی سره خبرې وکړې.

## د ترکيې بيارغونې ډله:

کله چې د ولسمشر کرزي لنډمهالې ادارې په کار پيل وکړ، نو ويلای شو چې د پرمختګ چارې له صفر نه شروع شوې. دولتي دستګاه عملاً وجود نه درلود، ړنګه شوې وه او يو ډول اداري انارشي حاکمه وه. په داسې شرايطو کې حامدکرزی قدرت ته ورسيد چې د ولس غوښتنې او هيلې زياتې وې، ولې دولت د خدماتو ورکولو محدود يا هيڅ



۱۳۸۵\۷\۱۶هـ ش: عبدالجبار نعيمي په ميدان ښار کې د ترکيې ولايتي بيارغونې ډلې د پرانېستې پر مهال خبرې کوي. ښي لوري ته يې د ترکيې ولايتي بيارغونې ډلې مشر ناست دی او تر څنګ ژباړن يې ترکيې دفاع وزير ته د نعيمي خبرې په ترکي ژباړي.

..................................

ظرفيت نه درلود. نړيوالې ټولنې په ولايتونو کې د خپلو پروژو د پلي کولو لپاره د ولايتي بيارغونې ډلو يا پي آر ټي ګانو يو ميکانيزم جوړ کړ. دا طبيعي وه چې داسې ميکانيزم هم د ولس او هم د

نوې اداري له مرستې برخورداره واوسي. ولايتي بيا رغونې ډلې د هېواد د نورو ولايتونو پرتله په سرحدي ولايتونو کې ډېرې فعالې وې، ځکه چې د دې ولايتونو سياسي اهميت او د مخالفينو د بيا راپورته کېدو قوي احتمال موجود و. بله دا چې حکومت د خپل قدرت د مشروعيت او غځولو په خاطر په دې ولايتونو کې مېشت ولس سره تړون ته ډېره لېوالتيا درلوده.

زموږ په اسلامي دوستو هېوادونو کې يو ترکيې ده، چې د ترکيې پي آر ټي د ترکيې پخواني سياستوال او افغانستان کې د ناټو د ملکي ځانګې استازي حکمت چتين په همکارۍ او د دولت په هڅو ميدان وردګو کې مېشت شوه، د ميدان وردګو والي عبدالجبار نعيمي هم دې ته ډېر ليوال و چې د يو اسلامي هېواد پي آر ټي ميدان وردګو ته راولي، چې دا ارزو يې په خپلو هلو ځلو پوره کړه.

د ترکيې د دغه وخت دفاع وزير ميدان وردګو ته راوبلل شو او د پي آر ټي سند يې د ولايت له والي نعيمي سره لاسليک کړ. والي دا يو کار وکړ، چې د ترکيې هېواد پي آر ټي مېشت کېدو ته يې د ابيارۍ هغه ودانۍ ورکړه، چې د کورنيو جنګونو پر مهال ويجاړه شوې وه او دغه وخت يوه بېکاره کنډواله وه.

نوموړې دا ودانۍ دوی ته د دې لپاره ورکړه، چې په نوي او ښکلي شکل يې جوړه کړي او ترون کې راغلي و، چې د ترکانو له تللو وروسته به ودانۍ دولت ته سپاري او دولت به ترې ګټه پورته کوي.



۱۳۸۵/۷/۱٦ هـ ش: د ترکيې دفاع وزير وجدي ګونول له عبدالجبار نعيمي سره په ميدان ښار کې د ولايتي بيارغونې ډلې د پرانېستې پر مهال

ترکيې هېواد دا ودانۍ په ډېره ښکلې او معياري بڼه جوړه کړه. ډېزاين يې داسې طرح شو چې کله دوی له دې ځايه وځي، نو ودانۍ کې به روغتون، کلينيک يا تعليمي مرکز جوړ کړل شي.

د خپل شتون په وخت کې د ترکيې پي آر ټي د دې ولايت له خلکو سره په ډېرو برخو کې مرستې وکړې. د جوماتونو په جوړولو، مکتبونو په جوړولو، د لويو سړو خونو په جوړولو، علمي مرکزونو په جوړولو، مدرسو سره مرستو، ښوونځيو لپاره د ښوونتوکيو او بېلا بېلو کتابونو په برخو کې يې د پام وړ مرستې ترسره کړې.

## د ترکيې د بهرنيو چارو وزير او مرستيال لومړي وزير راتګ:

هغه وخت کې د ترکيې د بهرنيو چارو وزير او د لومړي وزير مرستيال عبدالله ګل افغانستان ته راتللو او پلان کې وه چې لومړی ميدان ښار ته سفر وکړي.

خو جالبه دا وه، چې پر دغه شپه چې سبا نوموړی راځي، د ميدان ښار په داخل کې د راکټونو ډزې وشوې او داسې يو چاپيريال جوړ کړل شو، چې سبا عبدالله ګل ميدان ښار ته رانشي. د امنيتي مسوولينو داسې خپل سرې او هيڅ بې هېڅه ډزې او ويره - ترهه خورول د انديښنې وړ وه. کله چې والي د دې ډزو پوښتنه کوي، نو ځواب ورکول کېږي، چې دلته غله راغلي و. په غلو پسې خو ځوک د راکټ ډزونه نه کوي او نه د غلو پر ضد ځوک دومره درنه وسله کاروي، غله خو په ډېره کوچنۍ وسله هم نيول کېدای شي. له دې سره يو داسې چاپيريال جوړ کړل شو او بې نظمي منځته راوستل شوه، چې ميدان ښار ناامنه وښيي.

پر سبا ورځ ډېره زياته واوره هم ووربده. په ميدان ښار کې ټول امنيتي ځواکونه او په خاصه توګه ملي اردو ځای پر ځای شوې وه.



نعيمي د ترکيې له لومړي وزير مرستيال او باندنيو چارو وزير عبدالله ګل سره د ميدان وردګو پر حالاتو غږيږي، تر څنګ يې کابل کې د ترکيې سفير هم ناست دی.

کله چې د ترکيې مرستيال لومړي وزير د کابل په هوايي ډګر کې له الوتکې ښکته کېږي، نو لومړی راپور ورته ورکول کېږي، چې په ميدان وردګو کې د شپې دغسې حالت تېر شوی، خو اوس د ولايت والي اطمينان راکوي چې هيڅ مشکل نشته دی، خو بيا هم نوموړي ته مشوره ورکول کېږي، که سفر وځنډول شي، نو ښه به وي.

خو د عبدالله ګل ډېرې انسان دوستۍ، افغان دوستۍ او ډېرې مينې، چې زموږ له هېواد او خلکو سره يې درلوده په بنسټ دغو خلکو ته يې وويل، چې د ولايت والي اطمينان راکوي، نو زه حتماً ورځم.

په داسې حال کې چې میدان ښار ټول سپينو واورو نیولی و او تېره شپه هم داسې يو حالت منځته راغلی و، چې ګواکې امنيتي تهديدونه موجود و، نوموړي بيا هم میدان ښار ته سفر وکړ چې د ميدان وردګو والي يې په ډېر ښه ډول استقبال وکړ.

د نوموړي په راتګ څو پروژې ځای پر ځای اعلان شوې او د ځينو کارونه هم پيل شول.

د لومړي ځل لپاره په ميدان ښار کې د ځوانانو د تفريح لپاره سپورټ کمپليکس، صحي مرکز او د زراعت مسلکي لېسې پر تعمير باندې کار پيل شو. له دې سره سره دلته د بهسودو، چک او سيد اباد په ساحو کې د مکتبونو تعميرونو باندې کار پيل شو.

نعيمي وايي: ((تر ټولو مهمه خبره دا وه، چې د دوی دلته راتګ، هغه هم په داسې سختو شرايطو او دومره ډېره واوره کې، ما واقعاً د دوی د دغه راتګ، تصميم او مينې قدردانی وکړ.))

که څه هم دومره تهديد موجود و، خو بيا هم د ترکيې لومړی درجه لوړپوړی چارواکی ميدان ښار ته راغی، دا کار د ترکي چارواکو مينه او ليوالتيا له افغانانو سره ښکاره کوي.

نعيمي وايي: ((په داسې سختو شرايطو کې دوی زموږ لاسنيوی وکړ، چې موږ يې قدرداني کوو.))

## د پي آر ټي بنديدل او وسايل يې ځايي ادارو ته سپارل:

د مخکې ياد شوي تړون له مخې له دوی سره پرېکړه شوې وه چې کله د ترکيې د بيا رغونې ډله له ميدان ښار څخه بېرته ځي يا دلته د دوی کارونه خلاصېږي او دا هر څه بندوي، نو هغوی چې په خپل مصرف څومره کارونه کړي او څومره معياري ودانۍ يې جوړه کړې او خپل ټول وسايل چې يې ولايت ته راوړي، له دې ځايه له تلو سره به هغه هر څه دولت ته سپاري او بيا به له دې ځايه ځي.

دا به يوازينی دولت وي، چې څومره لګښت يې کړی، له وتلو وروسته به يې دولت ته سپاري.

نعيمي وايي: ((د ترکيې هېواد د دې دومره ډېرې مرستې او د هغوی د وسايلو دولت ته سپارلو له امله زه او د ميدان وردګو ولس ډېره مننه او قدرداني کوو.))

## ديني علماوو سره اړيکې:

عبدالجبار نعيمي په خپله هم يو مجاهد پاتې شوی او بيا د ارواښاد پير سيد احمد ګېلاني د ګوند ((د افغانستان اسلامي ملي محاذ)) له مهمو غړو څخه دی، نو د نوموړي اړيکې له علماوو سره ډېرې نږدې او بهترينې وې.

کله چې دوی میدان وردګو کې د ولایت دوره ترسره کوله، نو په دې موده کې یې دیني علماوو سره ډېرې ښې اړیکې ساتلې. دی وايي، موږ ته په کار دي چې له علماوو سره اړیکې ډېرې ټینګې وساتل شي. د هغه عقیده وه چې په هره برخه کې له علماوو سره ناستې وشي، هغوی سره تګ- راتګ وشي، ستونزو ته یې رسیدګي وشي او هغوی ته د احترام ډاډ ورکړل شي.

نعیمي وايي: ((علماء کرام زموږ هغه قشر دی، چې زموږ امامت کوي او ټولنې ته رڼا ورکوي، دوی ډېر د احترام وړ دي او ټول یې باید احترام وکړو.))

د طالبانو د واکمنۍ له سقوط نه وروسته چې کله بهرنیان افغانستان ته راغلل، په اکثره ځایونو کې علماوو ځان ډېر محدود او ګوښه ګاڼه. دوی فکر کاوه، چې ګواکې د دې هېواد دویمه درجه اوسېدونکي دي.

په دې خاطر، چې علماء ډاډه شي او اطمینان ورکړل شي، نو والي تل په دې هڅه کې و، چې له علماوو سره نږدې پاتې شي او هیڅوک ورته په هېڅ نامه، غلطو راپورونو، توطیو او دسیسو تاوان ونه رسوي.


عبدالجبار نعیمي د حج د ادا کولو پر مهال

نعیمي وايي: ((زموږ دولت کې هم ځینو داسې خلکو وجود درلود، چې فکر یې کاوه، دا د دولت مخالفین دي، خو دوی اشتباه کوله او اشتباه یې کړې وه، ځکه موږ تر هغې پر چا شک نشو کولای، چې د دولت پر ضد یې څه کړي نه وي او کره شواهد یې په اړه موجود نه وي. یواځې شک بې اعتمادي پیدا کوي او فاصلې زیاتوي.))

لکه څنګه چې مخکې د سید اباد ولسوالۍ د مولوي عبدالحمید اخندزاده یادونه وشوه چې د بې ځایه شک او توطیو په بنسټ یې امریکایانو د نیولو تابیا کړې وه.

نعیمي د بهرنیانو د بې شواهدو عملیاتو په اړه ویل: ((زه په دې ډېر خوشحاله یم چې ما دوی له دې کاره منع کړل او ورته مې وویل، چې تاسو په هوایي معلوماتو هیڅ عملیات مه کوئ،

تر څو چې مو، سم معلومات نه وي ترلاسه کړي او يقيني شوي نه يئ، تر هغه هېڅ ګام مه پورته کوئ.))

په دغه وخت کې په ميدان وردګو کې له ټولو علماوو سره اړيکې ساتل کيدې او هيڅ کله هم څوک دې ته نه پرېښودل کيدل، چې کوم عالم ته زجر، ازار او تکليف ورکړل شي او مايوسۍ حالت ته ولاړ شي.

که څه هم علماوو به خپلې څرګندونې هر وخت کولې. پر دولت به يې انتقادونه کول، خو نعيمي ويل په کار ده چې موږ انتقادونه وزغمو، له علماوو سره تګ راتګ وکړو، ځکه هغه د ټولنې مهمه برخه ده او افغاني ټولنه د هغو په مشوره او لارښودنه روانه ده او د افغاني ژوند تګلورى د هغوى په مشوره او نظريو ولاړ دى.

ميدان ښار کې به هره ديني او مذهبي ورځ په ښو مراسمو نمانځل کيده. د مولود شريف ورځ به هر کال نمانځل کېده او ولايتي اداري به ورته له درې ورځو مخکې تيارى نيولى و، چې پر دې ورځ به د خيراتونو ترڅنګ د ټول ولايت ديني علماء رابلل کيدل او خپلې ويناوې به يې هم کولې. آن د يادونې وړ ده چې د ولايت د مشرتابه په تشويق به زياتو دوستانو، د کورنۍ غړيو او مينه والو په مرسته د پسونو بندوبست کاوه او تقريباً پر يوه ورځ تر اتلس پسونو او څارويو د خېرات لپاره راوستل شوي، چې له دې د مذهبي ورځو د نمانځغونډو لويوالى څرګنديداى شي.

د مولود شريف يوه پېښه به دلته بې اهميته نه وي. له مولود شريف نه يوه ورځ مخکې ډېر زيات بارانونه وشول او هر ځاى کې سېلابونه راغلل. اوبو ټولې لارې بندې کړې او هېڅ تګ راتګ نه کېده. والي په کابل کې و او د کابل او ميدان ښار لار هم اوبو بنده کړې وه، ځکه چې د اوبو د زياتوالي له امله د کابل د کمپنۍ په ساحه کې پُل نړېدلى و او له دشت برچي نه دېخوا راتلل نه کېدل.

کله چې والي سهار معلومات ترلاسه کړل چې لارې بندې دي، خو والي بيا هم وغوښتل چې په هر صورت مولود شريف ته ځان ورسوي او برخه پکې واخلي، نو يې تصميم ونيو، چې د لوګر له پُل علم څخه، د تنګي سيد اباد له لارې ميدان ښار ته راشي.

دا نو داسې وخت و چې د تنګي لاره ډېره ښه نه وه، دا لار نا امنه ګڼل کېده او چارواکو ته سفر پرې له ګواښ نه ډک و. چون والي په يوه مقدسه غونډه کې برخه اخيسته او غونډه کې يې ګډون ضروري ګاڼه نو په هر حالت پر همدې لار راغى او ځان يې غونډې ته ورساوه.

خو له دې دومره باران، سېلابونو او لار بندۍ نه پس چې کله والي غونډې ته راغى، نو ويې ليدل چې له دوه نيم زرو نه زيات خلک غونډې ته راغلي دي.

نعيمي وايي: ((د دې دومره ډېرو خلکو دلته راغونډېدل، د مولود شريف نمانځل، د نبي

کریم(ص) د سیرت په غونډه کې ناسته  او له دیني علماوو سره معرفي کېدل ډېره لویه خبره وه او د همدې لپاره مې دومره ستر امنیتي گواښ ته ځان تسلیم نه کړ او په خدای پاک مې ځان وسپاره.))

په دې غونډه کې یواځې دا نه چې د مولود شریف په اړه خبرې وشوې، د ولایت د امنیتي، اجتماعي، سیاسي او اداري برخو په اړه هم خبرې وشوې. د غونډې په پای کې د غونډې برخه والو علماوو ته جای نمازونه، سپینې جامې او یو، یو قرآن شریف ورکړل شول.

د غونډې له ختمېدو وروسته خلک ډېر خوشحال و او ډېره زیاته مینه یې له ځان سره یووړه. نعیمي وایي: ((تر ډېرو لویو عملیاتو، دغسې غونډې چې په کې اطمینان وي، ډاډ  وي، ورورگلوي وي او له مینې ډک پیغامونه وي راته ډېر مهم و.))

میدان وردگو کې د ډېرو جوماتونو او ډېرو مدرسو علماوو او مدرسینو له دولت سره ډېرې ښې اړیکې لرلې او ډېرې ښې پالل کیدې.

کله چې بهرنیان هېواد ته راغلل، نو دوی د جوماتونو او مدرسو لپاره څه خاص پروگرام او بودیجه نه لرله، دوی د جومات یا مدرسې د جوړونې لپاره څه مرسته نه کوله.  نعیمي وایي: ((زه مجبور وم چې دا خلا ډکه کړم او د جوماتونو او مدرسو لپاره بودیجه پیدا کړم او دا کارونه په خپله ترسره کړم.))

د میدان وردگو په تاریخ کې دیني علماوو ته نعیمي دومره مینه ورکړه چې خپله دیني علماوو او شا و خوا کسانو احساسوای شوه او هره ورځ به بلا ناغه د ولایت په مقام کې دیني علماء مېلمانه و. آن تر دې چې نعیمي د میدان وردگو ولایت پرېښود، خو د میدان وردگو له علماوو سره یې اړیکې پرې اینښې نه دي او له هغوی سره یې راشې-درشې او بولې-بلنې لا هم دوام لري. په دې اړه نعیمي وایي: ((د دغو علماوو دعاگانې ماسره دي او له دوی سره ښې اړیکې ساتل، زما لپاره لویه سرمایه ده.))

## د ډاکتر عبدالوکیل څلی:

ډاکتر عبدالوکیل د کرنې یو اتل و، نوموړی ډېر ښه خادم او ښه انسان و، ده خپل ولس ته خېر رسولی. دی چې له کوم مسلک سره تړلی و او کوم تخصص یې چې درلوده له هغه سره ژمن پاتې شوی و. خپلې تجربې یې عملي کړې وې او د کرنې په برخه کې یې لوی کار ترسره کړی و.

د مېو له پخوانیو باغونو  حاصلات لږ ترلاسه کېدل او هم به یې کیفیت ښه نـه و، کلـه چـې ډاکتر وکیل دې برخه کې کـار وکـړ، اصـلاحي تخمونـه یـې خلکـو تـه ورکـړل او کرنیـز اصـلاحي

پروګرامونه يې ترسره کړل، نو د پخوا پرتله خلکو له خپلو ځمکو پنځه شپږ چنده زيات حاصلات ترلاسه کول. يوائې دا نه، د مېوې جنس هم ورسره ډېر ښه شو او له دې وروسته به خلکو ډېرې ښې مڼې له خپلو باغونو ترلاسه کولې.

نوموړي د خلکو په ژوند کې ډېر مثبت تغير راوست، ځکه له يوې خوا يې حاصلات زيات شول او له بلې خوا يې ګټه هم زياته او حاصلات يې هم ښه شول.

ډاکتر عبدالوکيل نه يوائې دا چې ميدان وردګو کې کار وکړ او خلکو ته يې ګټه ورسوله، په نورو ډېرو ولايتونو کې يې هم خپلې تجربې عملي کړې، چې په دغو ولايتونو کې يې لا هم نوم ډېر ښه پاتې او په ډېر درنښت يادېږي.

ډاکتر عبدالوکيل د سردار خان زوی او د ميدان وردګو ولايت د نرخ ولسوالۍ اوسېدونکی و. نوموړی په ۱۲۹۸هـ ش کال په کابل ښار کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې او د ۱۳۷۹هـ ش کال د ليندۍ پر ۲۳مه، د ورپېښې ناروغۍ له کبله وفات او د ميدان وردګو د نرخ ولسوالۍ په مربوطاتو کې خاورو ته سپارل شوی دی.



ميدان ښار کې د ډاکتر عبدالوکيل ځلی چې بنسټ يې د عبدالجبار نعيمي لخوا ايښودل شوی او د ورپسې والي په دوره کې بشپړ شو.

نوموړي لوړې زده کړې د کرنې او بڼوالۍ په برخه کې په هندوستان، انګلستان او امريکا کې کړې وې. د استاد، ملي شورا غړي او کرنې د وزير په توګه يې نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړي دي.

کله چې نعيمي د نوموړي په اړه معلومات ترلاسه کړل او مقبرې ته يې ورغی، نو پرېکړه يې وکړه چې د ده په نامه به يو ځلی جوړوي.

نعيمي وايي: ((د دې ځلي جوړولو پرېکړه مې ځکه وکړه، هر افغان چې ښه کار کوي، بايد تقدير شي. هر څوک چې افغانانو ته خدمت کوي، ولو که هغه وفات شوی هم وي بايد ياد او د

ژوند انځور یې ژوندی وي، تر څو راتلونکي نسل ته مخبېلګه واوسي او له یاده ونه وځي.))

دا ډېره ښه خبره ده، چې داسې مشران ځوانان یاد وساتي، د دوی له افکارو استفاده وکړي، له تجربو یې فایده پورته کړي او خبر شي چې خدمت څنګه کېدای شي او څنګه د پرمختګ پر لارو تلای شي.

نعیمي د هغه وخت د ښاري انکشاف وزیر انجنیر محمد یوسف پښتون سره دا موضوع مطرح کړه او هغه ته یې وویل چې غواړي په میدان ښار کې د ډاکتر عبدالوکیل په نامه یو څلی جوړ کړي. کله چې وزیر دا خبره واورېده نو ډېره یې خوښه شوه او په ډېر شوق یې والي ته وویل: ((زه حاضر یم په دې برخه کې مرسته وکړم، دا سړی د قدر وړ دی. تاسو نه مننه کوم چې د دغسې یو مخلص او وطندوست انسان لپاره هلې ځلې کوئ.))

وزیر پر دې کار ډېر خوښ شو او خپل انجنیران یې راوغوښتل، په دوی کې یوه ښځینه انجنیره وه، هغه خبره شوه چې د داسې یو وطندوست خدمتګار په یاد څلی جوړېږي، نو هغې وویل چې د دې څلي د جوړولو په لړ کې چې څومره کار ترسره کوي، نو هغه به په وړیا توګه ترسره کړي او هیڅ قیمت به یې نه غواړي. هغې وویل: ((دا به زما لپاره افتخار وي چې د داسې یو خدمتګار د څلي ډیزاین جوړ کړم.))



په لومړي ځل د منې ګل مشاعره په میدان ښار کې ونمانځل شوه او منې ګل مېله د میدان وردګو سراسري مېله وګرځېده . تر منې ګل مېلې وروسته د ډاکتر عبدالوکیل په یاد د څلي ډبره کېښودل شوه

نعیمي هغوی ته د څلي د ډیزاین په اړه معلومات ورکړل. ورته یې وویل چې دغه څلی به درې پایې ولري. درې پایې د دې لپاره چې هره پایه به د میدان وردګو د درې ګونو سیمو: وردګ، میدان او بهسودو سمبول وي او د یووالي نماینده ګي به کوي او د دې په سر کې به منه وي، چې ډاکتر عبدالوکیل د یو ستوري په څېر خلکو ته روښانه کړي.

کله چې دا ډیزاین جوړ شو نو وروسته پر داسې یوه ورځ د څلي د کار پیل وشو، چې میدان ښار کې لویه مشاعره هم جوړه شوې وه. له مشاعرې وروسته د مشاعرې ګډونوال د نعیمي په

مشرۍ د ډاکټر عبدالوکيل څلي ډېرې اېښودو ته ولاړل او په دې ډول نعيمي ددغه تاريخي څلي د بنسټ ډبره کېښوده، چې د ډېرو مدني فعالانو، ليکوالو، شاعرانو او ځوانانو د خوشحالۍ او ستاينې وړ وګرځېده.

نعيمي وايي: ((ځوانانو راته وويل، دا ډېر ښه کار وشو. دا هغه څوک نه و چې ټوپک يې راخېستی و، دا د ولس خدمتګار و.))

دا د عبدالجبار نعيمي لاسته راوړنه ده چې د ډاکټر عبدالوکيل نوم يې ځلاند او روښان کړ او دغه څلی يې د ميدان وردګو نښان وګرځاوه.

## د بهرنيانو له مرستو انکار:

لکه څنګه چې مخکې ياده شوه، ميدان وردګو کې په لومړي سر کې پي آر ټي نه وه. د امريکايانو پي آر ټي په غزني کې وه، نو دوی چې به کله ميدان ښار ته راتلل، دلته به يې له والي سره پر بېلا بېلو پروژو خبرې کولې. د امنيت په اړه به ورسره غږېدل، خو د دوی زيات کار له بيارغونې سره و او د بيا رغونې په لړ کې يې خپله مرسته او کومک کاوه.

د ولايت رهبري به له دوی سره خپل لومړيتوبونه شريکول. د ولس غوښتنې چې مکتبونه، کلينيکونه، سړکونه او نور په کې شامل و ورسره مطرحول.

يو وخت داسې راغی، چې د دغې پي آر ټي قوماندان نعيمي ته وويل، چې له ځان سره د ولايت ښاروال، عامې روغتيا رييس، کرنې او مالدارۍ رييس، د کليو او پراختيا رييس او نور کليدي رييسان راوله. موږ به له تاسو سره پر شا و خوا ۲۷ پروژو بحث وکړو، تاييد به يې کړو او منظوري به يې درکړو.

نعيمي له ټولو رييسانو سره ډېر په خوشحالۍ حرکت وکړ او د غزني په لور روان شو، کله چې دوی په غزني کې د امريکايانو پي آر ټي ته ورسېدل، په لومړي سر کې څو تنه افغانان ولاړ و، چې د هغوی امنيتي مسوولين و. هغوی والي ته وويل: ((له موټره ښکته شئ، لاسونه مو په سر ونيسئ او همدغسې په دې لاره باندې ننوځئ، چې ستاسو تالاشي وشي، بيا به تاسو داخل ته ننوځئ.))

دا نو د يو والي لپاره د نه منلو خبره وه، ځکه چې ولايت په خپله سياسي او ټولنيز مؤقف لري، د ولسمشر سيمه ييز نماينده وي داسې هيڅکله هم نه شي کېدای، چې والي دې بهر پر سړک لاسونه پر سر نيولي وي او تالاشي دې ورکوي او بيا دې پي آر ټي ته ننوځي، نو والي ورته وويل: ((ماسره خو تومانچه نشته، ټوپک نشته، موټر کې څه نه لرم، که زه د سړک پر سر داسې

يو كار كوم، نو د ولايت پرستيژ او د دې نظام مؤقف او حيثيت سره نه ښايي.))

هغه ورته وويل: ((ماته امر شوى دى او همداسې راته ويل شوي دي.))

نعيمي ورته وويل چې داسې خو نه شي کېداى، ورسره وغږېږه او ورته ووايه چې زه د ولايت والي يم او دومره اعتماد خو بايد موجود وي.که پر والي اعتماد ونه شي، نو بيا به اعتماد پر چا کېږي؟

کله چې هغه په ټيلېفون خبرې وکړې، نو له هغې خوا هم ورته همداسې يو څه وويل شول، چې موږ داسې يو سيسټم لرو او بايد دا هر څه همداسې وشي او تالاشي ورکړل شي.

نعيمي وايي: ((ما خو د تالاشۍ نه بد نه وړل، خو دا چې زه د ولسمشر سياسي استازى او والي وم او د ولسمشر پر استازي دومره اعتماد نه کيده نو دا ماته د منلو وړ نه وه، که ما دا کار کولاى، نو د ولايت پرستيژ به څه و؟))

يو خوا چې د ولايت والي پي آر ټي ته ځي نو بهرنيانو ترې دا غوښتنه کوله، له بلې خوا چې کله همدا خارجيان د ولايتونو دفترونو ته تلل، نو په دفترونو کې به له خپلو وسلو سره د والي مخې ته ناست و. دا ډېره نا اشنا خبره وه، چې يو والي پر دوى اعتماد کوي او دوى پر والي اعتماد نه کوي.



د ميدان وردگو د اطلاعات او کلتور رياست لپاره چې مخکې يې د ميدان ښار، ښاروالۍ په يوه گوټ کې چارې ترسره کولې، نوې ودانۍ جوړه شوه

..................................

نعيمي په دې ځاى کې تصميم ونيو، چې بيرته وگرځي. هغه وويل چې له دغسې کومک څخه تېر يم، چې په کې د ولس او نظام عزت او پرستيژ ته زيان رسيږي.

کله چې والي له خپل ټيم او رييسانو سره بيرته وگرځېد او د تورو تيگو سيمې ته ورسېد، نو له پي آر ټي ورته ټيلېفون راغى، ورته يې وويل: ((له دوى اشتباه شوې ده، تاسو بيرته راشئ.))

خو والي ورته پرېکنده خبره وکړه، چې نه دی او نه یې ولس، په هیڅ صورت دغسې مرسته نه غواړي چې د ولس او نظام عزت په کې نه وي.

د نوموړي په وینا، د خارجیانو مرستې ډېرې د قدر وړ وې او دي. د دوی مرستو واقعاً موږ ته ډېر کومک رسولی دی. ډېر هغه سهولتونه چې پخوا موږ نه درلودل اوس یې لرو او دا ټول د نړیوالې ټولنې د مرستو برکت دی.

خو والي له دوی څخه وغوښتل چې کومې مرستې کېږي، د دې لپاره دې یو سیستم جوړ شي او داسې لارې دې ورته وکتل شي، چې هم په کې نزاکتونه مراعت شوي وي، سیاسي موقف په کې ساتل شوی وي او هر ولایت ته مرستې هم د یو ښه عزتمندانه سیستم له لارې ورکړل شوې وي.

همداراز، که چاته مرسته ورکول کېږي، نو باید له یو ډاډ سره ورکړل شي، که یو چاته مرستې په دې ډول ورکول کېږي، چې مرسته درکوم خو له دغسې پروسیجر نه به تېرېږي، نو دې سره خو د دولت او نظام پرستېژ له منځه ځي او داسې مرستو او کومک ته افغاني ټولنه کې څوک غاړه نشي کېښودای.

## د والي استعفاء:

عبدالجبار نعیمي په میدان وردګو کې ډېر په مینه، ډېر په شوق او د ولس له غوښتنو سره سم شپه او ورځ هلې ځلې کولې. نوموړي د امنیت په برخه کې، د بیارغونې په برخه کې، د ولس د یووالي او د ولس او نظام په یو ځای کولو کې هغه څه ترسره کړل، چې چا یې تصور هم نه و کړی. چا هیڅ فکر نه و کړی چې دی به دومره زیات کار وکړي او د میدان وردګو ولایت لپاره به دومره سیستماتیک بېخبنایي کارونه ترسره کړي.

یو وخت د کورنیو چارو وزارت چارواکو میدان وردګو کې هغه خلک د اربکیانو په نامه وګومارل، چې یو شمېر یې مجرمین و او ولس کې یې ښه محبوبیت نه درلود. د دې خلکو په وسلو سمبالښت د نا امنۍ سبب کېدل. د دې خلکو وسله وال کېدل، په میدان وردګو کې دولت او نظام ته ډېرې ستونزې پیدا کولې، له همدې امله نعیمي د دې پروسې ډېر سخت مخالفت کاوه. نوموړي نه غوښتل چې د اربکیانو په نامه ولایت نا امنه کړل شي او داسې خلک ورته راشي چې بیا یې مهارول ګران وي.

نعیمي وایي: ((ما همېش له خپل مرکزي دولت او نړیوالې ټولنې څخه دا غوښتنه کوله، چې باید موږ د ملي امنیت، ملي پولیسو او ملي اردو اداري په دومره عالي امکاناتو، روحیه او

معيارونو سمبال کړو، چې د امنيت مسوولين يواځې او يواځې هم دوی وي او بل موازي امنيتي ځواک ته پرمختيا ورنه کړل شي.))

ځکه دا دنده يوازې د همدې ادارو ده. دا ادارې د همدې لپاره جوړې شوې دي، چې د خلکو عامه نظم او امنيت لپاره کار وکړي او هېواد کې امنيت تامين کړي. اربکيان او ملېشه خو د دولت له نظام نه بهر دي او دوی د امنيت سبب نه، بلکې د نا امنۍ سبب کېږي. نعيمي هم د دې سخت مخالف و.

خو دوی ولايت ته څلور سوه نفره استخدام کړل، والي دغه موضوع د ولسمشر حامد کرزي دفتر ته انتقال کړه، خو بدبختانه هغه ولسمشر حامد کرزي ته ونه رسېده او برعکس هغې ادارې ته ورسېده، چا چې اربکيان گومارل نو په دې ډول همدغه اداره له والي سره تضاد کې راغله.

پر دې سربېره يوه بله موضوع هم وه، هغه دا چې د ولايت مقام دفتر مخې ته پنځه شپېته کسانو يو ځای غير قانوني نيولی و او دغلته يې ډېره زياته وسله هم ټوله کړې او راوړې وه. دا دومره وسله وه چې ولايت مقام هم دغومره وسله نه لرله.

کله چې والي له دې خبر شو، نو امنيتي مسوول ته يې حکم ورکړ، چې دا خلک معلوم کړي، چې څوک دي او وسلې ترې په خپله قبضه کې واخلي. امنيتي مسوول دوی ونيول، وسله يې ترې واخيسته او بندي يې کړل، خو کله چې والي سبا خبر شو، نو ډېره نا اشنا پېښه شوې وه، ځکه چې دغه خلک ټول خوشې شوي و او پر ځای يې دغه امنيتي مسوول بندي شوی و، چې ولې يې دا کار کړی دی.

نعيمي وايي: ((تر اخره زه په دې پوه نه شوم چې دا وسله د چا وه، دلته يې د څه لپاره راوړې وه او ولې دا خلک په همغه ورځ بيرته خوشې شول.)) د دې خلکو د پلټنې پروسه تر اخره تعقيب نه شوه، خو له دې داسې ښکارېده، چې د ميدان وردگو ولايت چې د سولې کور و، د زده کړې کور و او د بازسازۍ کور و، ځينو خلکو قصداً د ولايت د نا امنه کولو هلې ځلې کولې.

والي دا خبرې له ولسمشر حامد کرزي سره شريکې کړې، په داسې وخت کې چې دوی ډوډۍ ته ناست و او د ولسمشر د دفتر رييس کريم خرم هم ناست و. والي ولسمشر ته وويل: ((زه دغه مسايل په ميدان وردگو کې وينم، که ماسره مرسته ونشي، نو زه په دې رقم خپلې دندې ته دوام نه ورکوم، ځکه ماته به گرانه شي.))

همدا راز ځينې نورې هم داسې ستونزې رامخې ته شوې. دلته غلطې گومارنې هم کېدې، داسې خلک گومارل کېدل، چې په بل ځای کې يې کار نه شو کولای، نو دلته به يې را واستول. يا به په بل ځای کې بدنام و، دلته به يې راولېږه.

کله چې عبدالجبار نعيمي پوه شو چې خپله دنده په سمه توګه نشي ترسره کولای، خلک يې د دندې پر وړاندې ستونزې ولاړوي او دې ته يې نه پرېږدي، چې د ولس خدمت په سمه توګه ترسره کړي او د ولس او دولت ترمنځ اړيکې ټينګې کړي، نو د استعفاء پرېکړه يې وکړه.

نعيمي وايي: ((ما چې خپل کار سم نه شو کولای، نو بيا ما يوه ډېره خوندوره استعفاء ورکړه.))

نعيمي دې استعفاء ته خوندوره ځکه وايي، چې په دې استعفاء کې له ولسمشر نه مننه شوې وه، د ولسمشر له هغه اعتماد څخه مننه شوې وه چې پر نوموړي يې کړی و او له استعفاء ورکولو سره سم نوموړي کار هم پرېښود. د نعيمي د استعفاء له منظورېدو نه مخکې، ولسمشر حامد کرزي ته نږدې خلکو ډېر غلط پيغام ورکړی و، هغوی ورته ويلي و چې والي مصاحبه کړې او د نظام پر ضد يې څرګندونې کړې دي.

خو نعيمي داسې هيڅ هم نه و کړي. هغه خو د ولسمشر حامد کرزي له هغه اعتماد نه مننه کړې وه، چې پر نوموړي يې کړی و. په دې ډول د نعيمي او ولسمشر حامد کرزي ترمنځ فاصله رامنځته شوه.

نعيمي غوښتل چې د ډاډمن امنيت لپاره کار وکړي. د بيا رغونې لپاره کار وکړي، د ولس د خير او ښېګنې لپاره کار وکړي او همدغسې کارونه يې کول هم، خو چې کله د هغه په کارونو کې خنډونه پيدا کېدل او داسې کارونه ترسره کېدل، چې هغه ته د منلو وړ نه و، نو ځکه يې استعفاء ورکړه او کار يې پرېښود. دا په ټوله نړۍ کې يوه ښه لاره ده،که يو څوک کار ته نه پرېښودل کېږي او په کار کې يې خنډونه پيداکېږي، نو د احتجاج په توګه هغه استعفاء ورکوي.

کله چې نعيمي استعفاء ورکړه، نو دا خبر د ميدان وردګو په ولس کې د ځنګله د اور په څېر خور شو، د ميدان وردګو ولس نه غوښتل چې عبدالجبار نعيمي له دې ولايت نه ولاړ شي نو په دې خاطر يې غونډې او لاريونونه وکړل او له ولسمشر نه يې غوښتنه وکړه چې دا استعفاء دې نه مني.

زه دلته د هغې غونډې يو راپور وړاندې کوم:

**((ولسمشر دې د عبدالجبار نعيمي استعفاء نه مني**

راپور: م.جلالزی دخپرېدو نېټه: ١٦، ٠٥، ٢٠٠٨ز

سرچينه: http://www.benawa.com/details.php?id=18325

د ميدان وردګو ولايت له زرو نه ډېرو مخورو، ديني علماوو او قوماندانانو ددې لپاره لاريون وکړ، چې د نوموړي ولايت والي عبدالجبار نعيمي دې خپله استعفاء بېرته واخلي او له ولسمشر

حامدکرزي نه يې وغوښتل، چې د والي استعفاء دې نه منظوروي او غوښتنې دې ورته قبولې کړي. په لاريون کې د ميدان وردگو له ټولو نهو اداري واحدونو نه قومي مشرانو، مخورو، جهادي قوماندانانو او ديني علماوو برخه اخيستې وه، له سوله ييز لاريون نه وړاندې لاريون کوونکيو د ميدان ښار د لوبو په مرکز کې ناسته وکړه او بېلا بېلو مشرانو په کې خبرې وکړې.

د بهسودو ولسوالۍ يوه نماينده مصلح وويل: ((دولت وايي، چې موږ د ولس هيلو ته احترام لرو، نن زموږ هيله ده، چې دولت دې د والي استعفاء نه مني.))

د جلګې ولسوالۍ يو تن حاجي خليل وويل: ((د دې ولايت د والي د استعفاء خبر زموږ لپاره ډېر زړه بوږنوونکی و. ده په درېيو کلونو کې د خدمت شاهدي عملا وړاندې کړې ده)).

ده وويل: ((نعيمي زموږ هغې لېرې پرتې ولسوالۍ ته هم سفر کړی، چې د ولايت په تاريخ کې څوک ورته نه و راغلي.))

د جلرېز ولسوالۍ يوه تن استاد محمد الرحمان رحيمي وويل: ((که د نعيمي په رښتيا سره په ولس باندې زړه سوځي نو خپله استعفاء دې بېرته واخلي، که کرزی ادعا کوي چې د ولس خدمتګار دی نو د ده استعفاء دې نه منظوروي.))

د هزاره مېشتې ولسوالۍ بهسودو پر استازولۍ بلال اغا وويل: ((که اغای کرزی رښتيا غواړي، چې ولس سوکاله واوسي نو د نعيمي غوښتنې دې ومني، د نورو ولايتونو په شان دې ورته امکانات ورکړي.))

ده يادونه وکړه، چې نعيمي د ملي يووالي سمبول دی او ددغه ولايت ټولو توکمونو سره يې ښې اړيکې درلودلې دي.

د سيداباد ولسوالۍ يوه تن مدير عبدالواسع وويل: ((د تاريخ په اوږدو کې، چې څوک دې ولايت ته راغلي خپل جېبونه يې ډک کړي دي، مګر نعيمي دې ولايت ته نه هېرېدونکي کارونه وکړل.)) هغه له والي نه وغوښتل چې خپله استعفاء دې بېرته واخلي.

د جلګې ولسوالۍ نه اغا توکلي وويل: ((که نعيمي له ولس نه خوابدی وي، د ولس په استازولۍ موږ ترې بښنه غواړو او که له مرکزي دولت سره ستونزې لري نو مرکزي دولت دې ورته ستونزې هوارې کړي.))

د دغه لاريون په پای کې يو پرېکړه ليک هم تصويب شو. په پرېکړه ليک کې غوښتل شوي و، چې ولسمشر دې د نعيمي استعفاء نه منظوروي او نعيمي دې خپله استعفاء بېرته واخلي. له بلې خوا د ميدان وردګو ولايت والي عبدالجبار نعيمي وايي، چې دی نه غواړي سمبوليک والي واوسي او تر هغه مهاله يې چې وړانديزونه ونه منل شي، خپله استعفاء به بېرته وانخلي. دی زياتوي چې دغه قدم يې ولس ته د احترام او خدمت په موخه اخيستی دی.))

اوس به تاسو ته د دې لاريون او غونډې له خبر نه معلومه شوې وي، چې په ډېرو کمو امکاناتو عبدالجبار نعيمي په دغه ولايت کې په درېيو کلونو کې څومره کارونه وکړل.

دا په ميدان وردگو ولايت کې د نعيمي درې کلن کاري سفر و چې په کلک هوډ يې د ميدان وردگو لپاره داسې بېخبنايي کارونه ترسره کړل چې هر څوک يې هېر کړي، خو د ميدان وردگو د پرمختګ او ودې تاريخ به يې هېڅکله هم هېر نه شي کړای.

# خوست

خوست د افغانستان په سوېل ختيز کې پروت دی، ٤۰۲۹کيلومتره مربع پراخوالی لري، نفوس يې له يو ميليون څخه زيات دی. دولس ولسوالۍ، درې غېر رسمي اداري واحدونه او د ښاروالۍ ۳ ناحيې او دکوچيانو ۳۰۰۰۰ کورنۍ لري.

خوست د قبايلي سيمو سره ١٨٤ کيلومتره ګډه پوله لري. خوست ولايت له پکتيا او پکتيکا ولايتونو سره هم ګډه پوله لري. د ډيورنډ کرښې له هغې غاړې راغلی د غلام خان سړک له دغه ولايت څخه تېرېږي، ګردېز ته رسېږي او بيا له پلازمېنې کابل سره نښلي.

خوست د نورو ولايتونو په پرتله ښه هوا لري او د ژوند د ډېرو چارو لپاره پراخه لمنه لري. د خوست ځمکې حاصل خېزې دي، زراعتي ځمکو سربېره ځنګلونه هم لري، د ځنګلونو څخه وچې مېوې لکه چارمغز او جلغوزي په زياته پيمانه لاسته راځي. د وچو مېوو ترڅنګ تازه مېوې لکه خورمانۍ، الوچه، انار، مڼه، شفتالو هم د دې ولايت له زراعتي حاصلاتو څخه دي. د وګړو ډېره برخه يې پر مالدارۍ بوخت دي، چې د ژوند اړتياوې له همدې لارې پوره کوي. د کرنيزو ځمکو او ځنګلونو د خړوبولو لپاره د سيند، باران، ژورو څاګانو او چينو له اوبو ګټه اخلي او زياترو سيمو کې رواني اوبه هم لري، چې په ځينو سيمو کې د برښنا د توليد لوی او کوچني بندونه هم پرې جوړېدای شي.

خوست ګڼ تاريخي ځايونه هم لري، له جملې يې د منګسو په سيمه کې د حصار غونډۍ يادولای شو. د پخوانيو خلکو په وينا دغه غونډۍ په مصنوعي توګه د خلکو په مټ جوړه شوې ده او ګرد جوړښت لري. د سيمې د خلکو په خبره پخوا زمانو کې ځينې تاريخي اثار په دې غونډۍ کې پيدا شوي و، چې د وخت په تېرېدو ځينې يې پلورل شوي دي.

دا ولايت په خپل غېږ کې د اولياوو او بزرګانو وياړ هم لري، چې مشهور يې کوکرک بابا، عالم شېر پير، نصري اقا، عاد محمد، خواجه متون بابا او ګلزار اقا يادولای شو.

خوست نه يواځې دا چې ځنګلزار او سمسور ولايت دی، بلکې دغه ولايت له طبيعي زېرمو هم ډک دی، چې په ځينو سيمو کې يې ( Caco3) ډبرې، د اوسپنې ډبرې، مس لرونکې ډبرې، جست لرونکې ډبرې او کرومېټ لرونکې ډبرې پيدا شوې دي.


د خوست ډېری ځوانان پر زده کړو بوخت دي او ترڅنګ يې د نورو په پرتله ډېر له خپله وطنه د باندې کار کوي، چې ډېر عوايد دغه ولايت ته راوړي.

د عبدالجبار نعيمي پر مهال دغه ولايت دويمې درجې ته لوړ شو.

# د خوست ولايت د والي په توگه

د ۱۳۸۹هـ ش کال له وري مياشتې څخه مخکې خوست ولايت ناامنيو دومره بدرنگه کړی و، چې د خوست د نوم له اورېدو سره به د سرې سترگو ته ډله ييز ځانمرگي بريدونه، چاودنې، مخامخ بريدونه او ويجاړی ودرېدې او د دولتي پلاويو په گډون د ډېری هغو کسانو زړه خوست ته د تگ لپاره نه کېده، چې په دې ولايت کې يې دندې درلودلې، ځکه چې دغه ولايت ته دجگړې په لومړی کرښه پروت ولايت ويل کېده. هغه مهال په خوست ولايت کې زياتره ادارې بندې وې او کومې، چې خلاصې هم وې، نو مامورين به يې د سهار پر لسو بجو راتلل او د غرمې له ډوډی مخکې به بېرته کورونو ته تلل، چې زياتره مامورينو به د ورځې له دوو ساعتونو زيات کار نه کاوه. د خوست زياترو ادارو رييسان نه درلودل او که به و هم هغه به سرپرست و، ددې پر ځای، چې ځينې کسان خوست کې خپلې دفتري ستونزې حل کړي، هغوی به کابل ته راتلل او څو شپې به يې په هوټلونو کې تېرولې او خپلې اداري ستونزې يې حلولې. همدا شان په خوست کې يو شمېر دولتي چارواکو ددولت د مخالفينو ترڅنگ په دې ولايت کې د شخصي گټو په موخه اوبه خړولې او ماهيان يې په کې نيول او مرکزي ادارې ته يې داسې ښوولې، چې خوست ناسور زخم دی، چې ورنژدې کېدل ورته خطرناک دي.

تقريباً خوست د ناامنيو سور تنور جوړ شوی و او هره ورځ په کې په لسگونه تنو په چاودنو،



د خوست ښار يو انځور

ځانمرگو بريدونو او نښتو کې خپل اندامونه له لاسه ورکول. د وينو بهېدو ادامه درلوده، خو هغه

مهال د ولايت يو شمېر چارواکي د ځمکو پر غصب، د ځنګلونو پر وهلو، د بې کيفيته پروژو پر پلي کېدو، د دولتي بوديجې پر حيف وميل، د رشوتونو پر اخېستو، په بهرنيو ځواکونو د بې ګناه کسانو پر نيولو او له خوست څخه د ځينو ځېرو په فراري کولو بوخت و. هيچا هم فکر نه کاوه، چې خوست خو پرېږده، چې آن په افغانستان کې هم حکومت شته او که نه. هر څوک په خپل سر و، چې له دې سره د حکومت او ولس ترمنځ هيڅ اړيکه نه وه او نه خلکو د خپلو ستونزو د حل په موخه دولتي ادارو ته مراجعه کوله، د ياد ولايت يو زيات شمېرځوانانو د زده کړې پر ځای ټوپک او وسلې ته لاس کړی و، يو شمېر يې د دولت وسلوالو مخالفينو ليکو ته تللي و او په زرګونه نور يې د ځمکو پر سر د قومي شخړو په ليکو کې ولاړ او وسلې يې اخيستې وې، چې په دې سره تر ډېره بريده د پوهنې ډيوه مړه شوې وه.

د دغه ولايت په سرحدونو کې سم کنټرول، څارنه اداره او همغږي نه وه او له همدې امله و، چې د خوست له ناامنۍ نور ولايتونه هم اغېزمن شوي و او هره ورځ به د وجود د غړيو په څېر دردېدل او ډول ډول پېښې به رامنځته کېدې.

هغه مهال په نوموړي ولايت کې د ستونزو او ناامنيو له امله د خوست ولايت مقام، چې د خوست ښار په زړه کې دی، تړلی و، ټول مسوولين د چارو په ترسره کولو کې پاتې راغلي و. خوست چې د هېواد يو سرحدي ولايت دی، له شمالي او جنوبي وزيرستان سره ۱۸٤ کيلومتره ګډه پوله لري.

د خوست ولس لپاره دا ډېر د خوشحالۍ زېری و، چې د ۱۳۸۹هـ ش کال د وري پر ۱۱مه ، د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې په وړانديز او د هېواد د ولسمشر کرزي په منظورۍ عبدالجبار نعيمي د خوست د والي په توګه وټاکل شو.

ياده دې وي چې د عبدالجبار نعيمي له راتلو مخکې، دې ولايت نهه مياشتې هيڅ والي نه درلود او د سرپرست لخوا اداره کېده.

## خوست ته تګ:

کله چې نعيمي د خوست والي وټاکل شو، نو نوموړی د ملي اردو په چورلکه کې هلته ولاړ. په دې سفر کې ورسره د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې ادارې مرستيال عبدالمالک صديقي، وکيلان او يو شمېر نور مسوولين يو ځای و.

کله چې چورلکه شا و خوا ستړو کنډو ته رسېږي، نو هلته هوا ډېره زياته خرابه وه، چورلکه نه شوای کېناستلی او مجبوراً چورلکه د پکتيا ولايت ګردېز ته مخ ګرځوي. په ګردېز کې چورلکه په

تندر قول اردو کې ناسته کوي او عبدالجبار نعيمي او ورسره نور مسوولين انتظار باسي، تر څو هوا سمه شي، خو دا لومړۍ شپه پر دوی د پکتيا ولايت مقام کې راځي او په سبا سهار بيا دوی د خوست په لور الوت کوي.

کله چې دوی خوست ته ورسېدل، نو چورلکې د متون پر تپه ناسته وکړه، له هغه ځايه په موټرو کې نېغ د ولايت مېلمستون ته د پېژندګلوۍ غونډې ته ولاړل.

کله چې والي او ورسره نور مسوولين د متون له تپې څخه تر مېلمستون پورې تلل، نو هم په لاره کې دوه- درې چاودنې ترسره کېږي.

کله چې والي له مسوولينو پوښتنه کوي، چې ولې په زميني لار رانغلل، چورلکې ته څه ضرورت و؟ ورته وويل شول چې سړک يو خوا ډېر زيات خراب دی او بل خوا دا لاره ډېره نا امنه ده، نو هېڅوک دې ته زړه نه ښه کوي چې پر دې لار سفر وکړي.

## پېژنغونډه:

د ۱۳۸۹هـ ش کال د وري پر ۱۵مه، د يکشنبې پر ورځ د خوست ولايتي ادارې، قومي مشرانو او مدني ټولنو غړو ته د خوست نوی والي عبدالجبار نعيمي د سيمه ييزو ارګانونو د اداري مرستيال عبدالمالک صديقي له خوا وروپېژندل شو.



**عبدالجبار نعيمي د خوست ولسونو ته د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د مالي او اداري معين عبدالمالک صديقي او مشرانو لخوا رسماً معرفي شو**

پېژنغونډه کې چې چا هم خبرې وکړې، ټولو له دولت څخه ډېر شکايتونه درلودل. د دولت او ولس ترمنځ ډېره لويه فاصله وه. په خوست کې د امنيت په اړه دوی شکايتونه لرل او همداسې د قومونو ترمنځ د شخړو حل لارې دوی غوښتې.

په ټولو ولسواليو کې قومونو د غرونو پر سر جنجالونه لرل، دلته ځينو قومونو د مسلح قوتونو حالت غوره کړی و، هره ورځ به په کې جنګونه کېدل او ځوانان به په کې وژل کيدل.

دلته خلکو له ډېرو بې عدالتيو هم سر ټکاوه، له کمزورې حکومتدارۍ نه هم خلک په تنګ و، یواځې او یواځې خلکو شکایتونه درلودل، هېچا هم له ځان سره د خوشحالۍ ښه خبر نه لرلو.
د معرفت غونډه پای ته ورسېده او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې مرستیال عبدالمالک صدیقي بېرته کابل ته ولاړ او عبدالجبار نعیمي خوست کې پاتې او له خلکو سره یې لیدنې پیل کړې.

## د خلکو اندېښنې:

والي له خلکو سره لیدنې کتنې پیل کړې او د خلکو مشکلات او د خوست په اړه یې د خلکو تشویشونو ته غوږ کېښود.
والي ته وویل شول چې په ښار کې هره ورځ درې څلور چاودنې کېږي. یو تن ورته وویل چې د ولایت پر مقام دوه ځلې برید شوی دی، یو ځل د غونډو په تالار کې د هغه وخت د سرپرست والي تر څوکۍ لاندې بم ایښودل شوی و او هغه وخت یې چاودنه وکړه، چې اداري جلسه روانه وه.
یو وخت داسې هم و چې د هغه وخت والي په ولایت مقام کې ناست و، چې په ولایت مقام



خوست کې د عبدالجبار نعیمي د کار لومړۍ ورځې ګډې او هراړخیزه هڅې

ډله ییز برید ترسره شو، که په دغه وخت کې سرحدي ځواکونه نه وای، نو بریدګرو کولی شوای والي ژوندی ونیسي، خو دا د سرحدي ځواکونو مېړانه وه، چې د بریدګرو مخه یې ونیوله.
همداسې پر امنیې قوماندانۍ هم ډله ییز بریدونه ترسره شوي و او پر ملي امنیت هم، چې په کې یو معاون هم شهید شوی و.
دلته خلکو همدا ډول تشویشونه لرل او له والي سره یې په لیدنو کتنو کې همدا اندېښنې شریکولې، چې خوست دې حالت ته رسېدلی، چې پر هېچا او په هېڅ حالت هم باور نه شي

کېدای.

له دې پرته د خوست ولسونو د ادارو په اړه هم دا خبره کوله چې دوی ته هېڅ خدمات نه ترسره کوي.

## د مسوولینو ویره:

کله چې عبدالجبار نعیمي د والي په توګه خوست ته وروپېژندل شو، نو له هغه پنځه ورځې وروسته اداري غونډه راوبلل شوه، چې په کې د ټولو ادارو مسوولینو برخه واخیسته.

دلته نو والي ډېر نوي څه ولیدل، چې هېڅ یې د دې په اړه فکر هم نه و کړی، کله چې غونډه پیل شوه او کېمره مېن کېمره ولګوله، نو ټولو مسوولینو خپل سرونه ښکته کړل او تقاضا یې وکړه، چې د دوی عکس دې په ټلویزون کې نشر نه شي، کله چې ترې والي پوښتنه وکړه: ((ولې؟))



خوست والي د ماموریت په لومړیو کې د ولایت له ټولو ادارو څخه منظمه څارنه پیل کړه

هغوی ورته وویل: ((بهر چې موږ ځو، نو مخالفین مو پېژني او له منځه مو وړي.))

والي ورته وویل: ((تاسو خو په ښار کې ژوند کوئ، نو بیا دومره وېره د څه لپاره؟))

هغوی وویل: ((په ښار کې ژوند هېڅ مانا نه لري، ځکه چې په ښار کې هېڅ امنیت نشته.))

دا نو والي ته ډېره جالبه خبره وه، چې د یو ولایت د اداري مسوولین دې دومره وېره ولري، چې هغوی خپل ځانونه په ټلویزون کې نه شي ښکاره کولای او وایي چې په ښار کې امنیت نشته، نو په داسې ولایت کې به بیا دوی څه کار ترسره کړي؟

کله چې والي معلومات وکړل، نو ورته معلومه شوه، چې د یوې اداري په دفتر هم د دفتر لوحه نشته، یواځې امنیه قوماندانۍ لوحه لرله، چې خلک پرې پوهېدل چې دا د قوماندانۍ ودانۍ ده.

تر دې پورې، چې پر ولایت مقام هم داسې څه لوحه نه وه، چې ترې څرګنده شي چې دا د

ولايت مقام دی، ډېری خلک پر دې نه پوهېدل چې کومه اداره کوم ځای کې فعالیت کوي او ودانۍ یې چېرته ده.

بله ډېره جالبه خبره دا هم وه، که د یوې ادارې مسوول به له ځان سره عریضې په تخرګ کې نیولې وې او روان به و او چا به ترې پوښتنه وکړه، چې دا پلانکۍ اداره دلته ده، یو څه کار مې دی په کې، نو هغه به ورته دا نه ویل چې زه په دې اداره کې مسوول یم، ځان به یې ترې پټاوه.

## د والي کور او د ولایت مېلمستون:

کله چې والي خوست ته راغی نو ځای یې نه درلود، ځکه چې د والي کور یو چارواکي ته په کرایه ورکړل شوی و او مېلمستون یو ترکي وګړي د میاشتې په دېرش زره افغانۍ په کرایه نیولی و.

والي به له ترکي وګړي سره په همدې مېلمستون کې غونډې هم کولې او د ترکیې هېواد دغه انجنیر، چې جنېد نومېده، هره ورځ والي ته ویل: ((ته زما مېلمه یې.))

والي به ورته ویل: ((دا ځای خو زما دی، نو زه ستا مېلمه څنګه شوم؟)) انجنېر جنېد ته خو ځای په کرایه ورکړل شوی و، خو دولت ته یې هېڅ ګټه نه رسېده، ځکه چې دا کرایه دولت ته نه رسېده او انجنیر جنېد به دلته ځان داسې ښکاره کاوه، چې ګوا کې له نړیوالې ټولنې او لوړپوړیو مسوولینو سره ډېرې اړیکې لري. ده داسې ښودله، چې باید د ده ټولې خبرې ومنل شي او قراردادونه هم ټول د ده له لارې نورو ته ورکړل شي، یعنې داسې فکر یې کاوه، چې دلته دی حاکم دی او باید والي هم د ده تر لاس لاندې کار وکړي.

خو کله چې نعیمي دا هر څه ولیدل، چې دولتي مېلمستون کې څه کارونه کېږي، نو دا ورته د منلو نه وه او اخر یې هم اداري غونډه راوغوښته، د انجنېر جنېد سره شوی قرارداد یې فسخ کړ او ورته یې وویل چې دا ځای دې خالي کړي، ځکه چې دا د ولایت د پرېکړو مرکز دی، د مېلمنو ځای دی او د ولایت د غونډو یواځنی تالار دی، نو په دې ډول له انجنیر جنېد نه مېلمستون خالي کړل شو او همداسې بیا د والي کور هم خالي کړل شو. له دې وروسته والي په ارامه فضا کې خپلو کارونو ته دوام ورکړ.

## د علماوو غونډه او دولت ضد څرګندونې:

په خوست کې د والي اوومه ورځ وه، چې یو شمېر علماء یې لیدنې ته راغلل، تر څو نوي والي ته تبریکي ووایي، له دوی سره په خوست کې د قومونو د پېوستون شورا مشر غازي نواز تڼی هم له خپلو یو شمېر ملګرو سره یو ځای راغی.

پر همدې ورځ له کابل څخه د څارنوال شاه علي خان په مشرۍ يو پلاوی هم راغلی و. والي فکر وکړ، چې له علماوو سره ليدنه ده، نو د پلاوي مشر يې هم غونډې ته راوباله تر څو دا پلاوی کابل ته له ځان سره ځانګړی يادښت انتقال کړي، خو کله چې دوی په غونډه کې کېناستل او غونډه پيل شوه، نو هر يو عالم چې به پاڅېده او خبرې به يې کولې، نو د دولت پر ضد به يې ډېره توهين امېزه لهجه کاروله.

هر يو چې به پاڅېده نو له دولت نه به ډېر ګيله من و، خپله خوابدي به يې څرګندوله. يو په کې راپاڅېد، کومه پسته چې يې خوړلې وه، د هغې پوټکي يې مخې ته پراته و، د هغې نه يې د پستې يو پوټکی رااوچت کړ او ويې ويل:

((ستاسو رييس جمهور د دې پوټکي هومره حيثيت ماته نه لري. ستاسو حکومت داسې حکومت دی چې زموږ جوړه ورسره په هېڅ صورت هم نه شي راتلای.))

دوی داسې فکر کاوه، چې په حکومت يا ولايت کې ناست چارواکي د کوم بهرني هېواد تابعيت لري او هېڅ د دوی له منځه نه دي.

هر ملا چې به پاڅېده، نو همدغه خبرې به يې تکرارولې او له دې به بهخي اخوا دېخوا نه تللل. والي فکر وکړ، چې دلته خو د حکومت او علماوو ترمنځ فاصلې سختې ډېرې شوې دي.

پر همدې ورځ، چې څه وخت دلته په ولايت مقام کې غونډه روانه وه او علماء په کې خپلې خبرې کوي، بل خوا د پوليسو يو رينجر ځي، هلته د يوې مدرسې يو دېوال په دې نامه ورانوي، چې دا يې غصب کړی دی.

د خبرو اترو له لارې د ستونزو حل کول او تفاهم کول هېچا ته په ياد نه و، هر سړی جنګ ته نېغ ولاړ و او هر سړي غوښتل چې له بل سره جنګ وکړي. نعيمي وايي: ((هر ځای د جنګ او زور ژبه وه، تفاهم چا نه پېژانده.))

## چاپې او د خلکو بنديانول:

يوه بله لويه ستونزه هم دلته وه، هغه دا چې په لسګونه خلک به والي سره ليدو ته راغلل، ورته به يې وويل چې داخلي قواوو يا بهرنيو ځواکونو يې پر کور چاپه وهلې او بې ګناه مشران يې له ځان سره بيولي دي.

په دغه وخت کې د خوست ۱۲۵۰ کسان په بګرام زندان کې بنديان و او په خوست کې هم زندانونه ډک و، بس چې د چا به څوک بدي راتلل يا به يې ورته طبيعت خراب شو، نو په څه نا څه طريقه به يې بند ته رساوه.



خوست ته د زون په کچه امنيتي چارواکي رابلل شوي چې پر ګډې همکارۍ او همغږۍ خبرې وکړي

کله چې والي په خوست کې له دې حالته خبر شو، نو ډېر زيات خپه او اندېښمن شو، ځکه چې هېڅ اصول چا نه مراعتول او نه په اداري سيستم کې چا کار کاوه، هر سړی پر خپل سر روان و، هېچا قانون په سمه توګه نه پلی کاوه او د خلکو ترمنځ پر يو بل اعتماد له منځه تللی و او امنيتي حالت هم ډېر په بد حال کې و.

نعيمي وايي: ((کله چې ما دا هر څه وليدل، نو د نااميدۍ فکر راته راتلو، دلته يواځې او يواځې نا اميدي وه، نور هېڅ هم نه و.))

## د والي تصميم او د نا امنۍ علت معلومول:

والي وايي چې کلک تصميم يې ونيو، چې پر څو برخو بايد عاجل کار وکړي، چې لومړی په کې د نا امنۍ خبره وه، چې سبب او علت يې پيدا کړي، ځکه په خوست کې د بهرنيو هوايي او ځمکنيو ځواکونو ډېر لوی شمېر موجود و، ډېر لوی قوت يې درلود، چورلکې ورسره وې. بل خوا ملي اردو، ملي پوليس، ملي امنيت او سرحدي پوليس هم ګڼ شمېر موجود و، خو د دې هر څه باوجود هم په ښار کې نا امني وه.

کله چې يې د علت په اړه پوښتنه وکړه او معلومات يې ترلاسه کړل، نو ورته څرګنده شوه، چې په کشفي او امنيتي ارګانونو کې داسې خلک موجود و، چې څوک به يې خوښ نه و نو بهرنيو ځواکونو ته به يې په ګوته کړ او په هغو به يې بندي کړ.

دلته تربګنۍ روانې وې او د چا که به له يو چا سره څه لانجه هم راغله، نو بهرنيو ځواکونو ته به يې په ګوته کاوه، چې په هر نامه يې کاوه، خو نا امني يې ډېره کړې وه او بې ګناه ولس يې ځوراوه. وروسته له دې، والي له بهرنيو ځواکونو سره ناسته وکړه او له هغوی يې غوښتنه وکړه،

چې تاسو باید د بل چا د شخصي ګټو ښکار نه شئ. هغوی ته یې وویل: ((تاسو چې هر عملیات کوئ، هغه وګورئ، چې سل په سل هدفمن عملیات دي او که نه.))

هغوی یې پر دې وپوهول، چې که ستاسو یو څوک ارتباطي وي او تاسو د هغوی په راپور داسې کار ترسره کوئ، چې تاسو ته یې په خپله پوره معلومات نه وي، چې ایا دا په رښتیا هم داسې دی اوکه نه، نو زموږ او ستاسو ټولو عواقب به خراب وي.

بل خوا والي له خپلو کورنیو څواکونو او چارواکو سره ځانګړې ناستې وکړې او له هغوی یې وغوښتل، چې خدای(ج) مه کړه امنیتي څواکونه نه باید پر داسې څه اخته شي، چې یواځې بې ځایه او بې هدفه عملیات ترسره کړي.

هغوی ته یې وویل: ((موږ باید خپل هدفونه وټاکو، موږ باید خپل لومړی هدف دا وټاکو، چې د ښار او بیا د ولسوالیو د امنیت د ښه والي لپاره څه کولای شو؟))

له امنیتي څواکونو سره په ناستو کې د امنیت پر بهترۍ او له څواکونو څخه په سمه توګه په استفاده خبرې وشوې او پر دې بحث وشو، چې حالت څنګه ښه کېدای شي.

په دې غونډو کې والي امنیتي مسوولینو سره پر دې خبرې وکړې، چې څواکونه یې له سیاست نه وساتي او د هېڅ سیاست ښکار نه شي او امنیتي مسوولین باید خپله دنده په سمه توګه ترسره کړي او د څواکونو نظم او ډسپلین ته متوجې واوسي. والي وویل: ((په هر حالت کې باید موږ خپل لومړیتوبونه وټاکو او تعقیب یې کړو.))

## لومړیتوبونه:

والي د ځینو مهمو ستونزو هوارول خپل لومړیتوبونه وټاکل، چې په کې د قومونو ترمنځ د شخړو د هواري، د نا امنۍ له منځه وړل، د ادارو او خلکو ترمنځ د اړیکو ټینګول مهم و.

څکه هره ورځ د قومونو ترمنځ شخړې پېښېدې، چې په کې دواړو لورو ته مرګ ژوبله اوښته، نا امني ډېره شوې وه او هېڅوک خوندي نه و، بې ثباتي زیاته شوې وه، د ولایت ادارې ټولې فلج شوې وې او د ادارو او ولس ترمنځ اړیکې ډېرې خرابې شوې وې، چې ولس پر دولتي ادارو هېڅ باور نه درلود.

والي په لومړیتوبونو کې وپتېیله چې پر ملکي ادارو، عدلي او قضایي ارګانونو او امنیتي ارګانونو کار وکړي او په کې مثبت تغیر راولي.

کله چې والي د ملي پولیسو، ملي اردو او ملي امنیت له مسوولینو سره دا لومړیتوبونه مطرح کړل، نو خوشبختانه هغوی پر دې په کرار کرار کار پیل کړ.

د ناامنۍ علتونه معلوم کړل شول، تشخيص یې وشو، تثبيت يې کړل او پرې ډېر جدي کار پيل شو. نعيمي وايي: ((له تشخيص وروسته، موږ وکولای شو چې پر خپلو لومړيتوبونو باندې عملي کار وکړو.))

د نړيوالې ټولنې او په ځانګړې توګه له امريکايانو سره داسې اړيکې جوړې شوې، چې په کې د هېواد او ولس ګټه وي.


## غصب شوې ۱۲ سوه فاميلي:

د خوست ښار د ملي امنيت له رياست سره په نيم کيلومترۍ کې يوه دولتي پروژه  چې په ښاروالۍ پورې اړوند وه او دولس سوه فاميلۍ ورته ويل کېده، موجوده وه، دا ځينو خلکو غصب کړې وه او هلته يې داسې استوګنځايونه جوړ کړي و، چې ډېره لويه بې عدالتي يې راوستې وه. هغه چاته چې دا نومرې قانوني ورکړل شوې وې، هغوی اسناد په لاس در په دره ګرځېدل، خو ځينې خلک په کې په زوره مېشت شوي و. د ۱۲ سوه فاميليو نوم وروسته په ازادۍ مېنه واړول شو.

په ۱۲ سوه فاميليو کې هر ډول بې قانونۍ هم ترسره کېدې او د ښار د ناامنۍ لوی سبب هم دا ځای و.

والي کشفي ارګانونه راوغوښتل او له هغوی يې د دې ځای په اړه پوښتنه وکړه. ورته يې وويل، که د ښار نا امني په رښتيا هم له دې ځايه وي، نو موضوع دې ورته په ليکلي ډول ورکړي.

کشفي ارګانونو والي ته ټول اړين معلومات ورکړل او ټولې ستونزې يې ورته په ګوته کړې. ورسره يې والي ته مشوره ورکړه، چې دې کار ته دې لاس نه اچوي، ځکه چې هېڅ والي او چارواکی پر دې نه دی توانېدلای چې دا ځای له بې قانونۍ يا غصب نه راخلاص کړي. هغوی والي ته وويل چې دلته يوه لويه او قوي ډله موجوده ده، که څه ورته وايي، نو دوی کابل ته ځي او هلته د سړي پر ضد تبليغات کوي او په کابل کې د مقاماتو ذهنونه ورخرابوي.



کله چې ازادۍ مېنه له غصب خلاصه شوه نو ورباندې د ابادۍ کارونه پيل شول

خو والي ورته وويل، چې دا نومرې په قانوني ډول چاته ورکړل شوې دي، څوک چې د دې نومرو قانوني اسناد لري، هغوی ورته راځي او غوښتنه ترې

کوي چې د دې ځمکې اسناد لري او دا دې ورته له غصب څخه خلاصه کړي. والي ورته وويل چې زما لپاره تر ټولو دا مهمه ده چې زه دا ځای له غصب څخه خلاص کړم او چې د چا حق دی او څوک یې قانوني اسناد لري، هغوی ته يې ورکړم، ماته له دې بل هیڅ شی هم مهم نه دي.


بالاخره والي دې ته پلان جوړ کړ، ټول هغه اسناد يې راپيدا کړل چې دا ځمکه چا ته ورکړل شوې ده، دا نومرې کله توزيع شوې دي، چا توزيع کړي، پر توزيع يې څومره وخت تېر شوی دی، ټولې قانوني لارې يې ورته ولټولې او بيا يې له علماوو څخه هم فتوا واخيسته.

والي علماوو ته وويل چې په دغه ځمکه، چې بل چا ته ورکړل شوې ده، او اوس نورو خلکو غصب کړې ده، د دوی دغلته اوسیدل څه مانا لري؟ هغوی ورته وويل، چې د دوی لمونځ نه کېږي، د دوی ډوډۍ خوړل په حرامو کې حسابېږي او د دې خلکو مطلق ژوند له اسلام سره په ټکر کې دی.

علماوو والي ته وويل، چې دا ستاسو دنده ده، چې دا ځمکه له دې خلکو خلاصه کړئ او چې د چا حق دی، هغوی ته یې ورکړئ.

نو والي په خپل مديريت او حکمت، دا غصب شوې ځمکه له دغو خلکو خلاصه کړه. د ازادۍ مېنې دغه ۱۲۰۰ نومرې هغو مستحقينو ته ورکړل شوې، چې پخوا ورته توزيع شوې وې.

دا ډېر ستونزمن او له مشکلاتو ډک کار و، خو والي په هیڅ صورت پرې نه ښود او هر څومره چې ستونزې ورته راولاړې شوې، له منځه یې یوړې او دا ځمکه یې له غصب نه خلاصه کړه. ځينو خلکو هڅه وکړه چې والي په نورو ډېرو لانجو کې راښکېل کړي، خو چون د والي اراده پاکه او د ولس په ګټه وه، نو هغوی په هیڅ ناوړه کړنه کې کامياب نه شول او اخر هم له ازادۍ مېنې نه وويستل شول.



**ازادۍ مېنه د غصب پر ضد د مبارزې لومړی سنګر و، دغه ښکلې انځور هغه وخت اخيستل شوی چې ياده ساحه له غصب خلاصه او خلکو په کې د خپلو کورونو جوړولو چارې پيل کړې**

که يو خوا دا کار د ښار د امنيت لپاره هم ضروري و، نو بل خوا دا د ولايتي رهبرۍ دنده وه چې خلکو ته خپل حقونه ورکړي، نو د دې کار په ترسره کولو خلکو ډېره لويه خوشحالي وکړه. په لومړي ځل

ولس له ملي بېرغ سره د ازادۍ مېنې ته ننوت. د افغانستان زنده باد او د افغانستان نظام زنده باد نارې يې ووهلې. په ولايتي اداره او نظام د خلکو باور پيدا شو، هغوی پر دې پوه شول چې ولايتي اداره دنده لري، چې د دې خلکو ستونزې هوارې کړي، دوی ته ډاډمن امنيت راولي او د دوی حقونه ورته وسپاري.

کله چې دغه نومرې مستحقينو ته ورسېدې، نو د هغوی هغه ارمانونه په پوره کېدو شول، چې دلته يې د خپلو کورونو د جوړولو لپاره لرل. له دې سره والي د دې ځای د خلکو لپاره سړکونه، پارکونه جوړ کړل، پنځه جوماتونه، د هلکانو او نجونو يوه يوه لېسه، اطفايه او د ښاروالۍ د ناحيې لپاره يې دلته تعمير جوړ کړ.



په ازادۍ مېنه کې يو ښکلی جومات

دلته ډېره لويه سرمايه ګزاري وشوه، ځکه چې هر چا دلته کور جوړاوه نو له سل زره ډالرو نه واخله تر يو نيم سل زره ډالرو پورې يې پرې لګښت کاوه. که تاسو دې ته په سل زرو کې هم حساب ورکړئ، نو يو سل او شل ميليونه ډالره سرمايه ګزاري دلته وشوه. له دې هم لويه خبره دا وه چې خوست کې يو نوی ښار اباد شو. په خوست کې يوازينی ښه او خوندور ځای همدا دی.

د حکومت حاکميت هم ټينګ شو، خلکو ته ښکاره شوه چې حکومت څه وپتېيله، هغه بيا ترسره کوي، هېڅوک يې مخې ته نه شي درېدلای.

## د قومونو ترمنځ د ځمکو پر سر د شخړو د هواري لپاره بنسټيزې هڅې:

خوست کې د قومونو ترمنځ شخړې هم يو له مهمو او لويو ستونزو څخه وې، د والي په مخکې دا لويه ستونزه پرته وه، چې بايد حل يې راويستی وای او ولس يې له شخړو خلاص کړی وای. د دې شخړو په اړه والي تقريباً ١٤ مياشتې هڅې وکړې، ټول قومونه يې له يو بل سره کېنول، له دوی سره يې خبرې وکړې او د دوی د شخړو په هوارې کې ١٤ مياشتې وخت ولګېده.

په دې ١٤ میاشتو کې والي له هر یو قوم سره ځانګړې ناستې وکړې، له هغوی یې د هواري لارې وغوښتې، بحثونه یې ورسره وکړل او اخر یې دې ته قانع کړل، چې نور له دې شخړو تېر او سوله کې ژوند وکړي.

په خوست کې د لاندې قومونو ترمنځ د ځمکو پر سر شخړې له کلونو راهیسې روانې وې.

١-: د ګربز په ولسوالۍ کې د نصرالدین او بوري خیلو قومونو ترمنځ شخړه

٢-: د شمل او ګربز قومونو ترمنځ لانجه

٣-: د حیدر خیل او لیوان خیل قومونو ترمنځ شخړه

٤-: د منګلو او مقبل قومونو ترمنځ شخړه

٥-: د نادرشاه کوټ ولسوالۍ د ګیډورې خانانو او تنیو د دخیو قوم ترمنځ لانجه

٦-: په ځاځي میدان ولسوالۍ کې د بیداد او الګډې قومونو لانجه

٧-: د صبریو ولسوالۍ د خلبسات قوم او باک ولسوالۍ د نار کلي د قوم ترمنځ لانجه

٨-: د باک او ځاځي میدان قومونو ترمنځ لانجه

٩-: پر دولتي ځمکه د اسماعیل خیلو او مندوزیو قومونو لانجه



د منګل او مقبل قومونو ترمنځ د شخړې د هوارې لپاره د والي هڅې

١٠-: د نادرشاه کوټ ولسوالۍ د پکي او لوړه قومونو ترمنځ لانجه

١١-: د بولي د خلکو او ولایت خان ترمنځ لانجه

د یادو قومونو ترمنځ شخړې او لانجې له کلونو کلونو راهیسې راروانې وې. دې قومونو په غرونو، دښتو او ځینو دولتي ځمکو له یو بل سره شخړې روانې کړې وې، چې پکې زیات شمېر مړي هم شوي و، خو بیا هم دا شخړې په کلونو روانې وې.

دې شخړو او لانجو زیات شمېر منفي پایلې لرلې:

**ټولنیزه برخه کې:**

- د قومونو ترمنځ بې باوري زیاته، یووالي او سولهییز ژوند ته ژور زیان رسیدلی و.
- د قومونو ترمنځ دښمنۍ، بدبینۍ، تربګنۍ، بدۍ او نورې ناخوالې خورا زیاتې شوې وې.

- د عام ولس ټولنيز ژوند، هوساينې، نيکمرغۍ او عامه نظم ته هر اړخيز زيان اوښتی و.
- د ځوانانو راتلونکې او برخليک تياره شوی و.
- تر ۴۰۰۰ څخه زيات ځوانان د اربکيو په نوم د سوله ييز ژوند پر ضد مورچې نيولې وې تر ۶۰ زيات ځوانان په دې شخړو او لانجو کې قتل يا زخميان شوي و.
- هرې کورنۍ هره مياشت اربکيانو ته مياشتني معاشونه او نور لګښتونه ورکول چې د خلکو پر ټولنيز ژوند يې ژورې منفي اغېزې شيندلې وې.

**پوهنيزه برخه کې:**

- په هغو ځايونو کې چې شخړې، لانجې او منازعې موجودې وې، ډېری ښوونځي تړل شوي و او په زرګونو زده کوونکي د علم او پوهې له نعمت څخه بې برخې پاتې و.
- ځوانان د ښوونځيو او پوهنتونونو پرځای مورچو او سنګرونو ته استول کيدل.
- هر ځوان د همدې بدمرغيو له امله د قلم پر ځای ټوپک ته ارزښت ورکاوه، د خپلې راتلونکې سره يې په څرګنده دښمني کوله.
- د دې فرصت موجود نه و چې دولت په يادو سيمو کې ښوونځي او يا نورې ټولګټې پروژې پلې کړي.

**سياسي برخه کې:**

- د ولس او دولت ترمنځ واټن زيات شوی و، پر دولت ولسي باور ته سخت زيان رسيدلی و.
- دولتي حاکميت پر وړاندې جدي ګواښونه پيدا شوي و، آن تر دې چې پرديو استخباراتو هم د قومونو ترمنځ شخړو او جګړو ته لمن وهله او له همدې لارې يې د دولت حاکميت او پرستيژ ته زيان رساوه.
- په شخړو، لانجو او منازعاتو کې ښکيلو قومونو ملي پروسو او بهيرونو ته درناوی نه درلود، بلکې يواځې دوی لپاره د ځمکو پر سر دعوې او لانجې اهميت درلود.
- نافذه قوانينو، فرامينو، مصوباتو او نورو احکامو د تطبيق په وړاندې جدي خنډونه موجود و، د ښې حکومتدارۍ مخه نيول شوې وه او خلکو ته د خدماتو د عرضې مخه ډب وه.

**امنيتي برخه کې:**

- د ولايت انځور بد، امنيتي ننګونې زياتې او دولتي حاکميت تر جدي ګواښ لاندې و.
- د ولس او خاورې دښمن ته ددې زمينه مساعده وه چې په يادو سيمو کې منظم فعاليت وکړي او دولتي تګلارې وننګوي.

- دښمن به له همدې سيمو پر ښار او نورو دولتي ځايونو باندې تروريستي او ويجاړونکي بريدونه پلان کول.
- له امنيتي ارگانونو سره د ولس همکاري موجوده نه وه او برعکس ځينې وخت به قومي اربکيو د امنيتي ارگانونو پر پوستو او تاسيساتو بريدونه ترسره کول.
- د ولايت په کچه د جرايمو گراف لوړ او خپلسرۍ زياتې شوې وې.

**اقتصادي برخه کې:**

- د ولايت په کچه د اساسي پروژو د پلي کيدو مخه ډب شوې وه او ټولو اساسي فرصتونو ته زيان رسيدلی و.
- د هرې کورنۍ اقتصادي ستونزې خورا زياتې شوې وې ځکه چې هره مياشت به ترې د اربکيو د معاش او يا نورو لگښتونو په نوم پيسې راټوليدلې، يا به شخصي جيبونو ته تللې او يا به نورو ناروا فعاليتونو باندې په لگښت رسيدلې.
- په زرگونو جريبه دولتي ځمکه غصب شوې وه، چې د زياتو پلان شويو ټولگټو پروژو د تطبيق مخه ډب وه د ميليونونو امريکايي ډالرو پروژې په دې خاطر مسترد شوې چې ورته د پلان له مخې په نظر کې نيول شوې ځمکې تر غصب لاندې وې.
- قومي شخړو د خوست د هوايي ډگر، غلام خان بندر د تاسيساتو او گڼ شمېر نورو پروژو د تطبيق مخه نيولې وه، چې کله شخړې بندې شوې، نو يادې پروژې هم تطبيق شوې.
- د ځنگلونو او نورو قيمتي ډبرو قاچاق جريان درلود او گاونډيو هېوادونو ته غير قانوني تجارت ترسره کيده.



د يوې قومي لانجې او شخړې د هوارې وروستۍ ناسته او دعاء، په شخړه کې ښکيل اړخونه سره يو او گډ ژوند يې پيل کړ

د دې قومونـــو د شـــخړو او لانجو دومره زيات شـمېر زيانونـه ولايت او ولس ته اړولي و، پـه دې اړه والي جدي گامونه پورتـه کـړل او ټولې هغه لارې يـې وسـنجولې، چـــې د دې شـــخړو او لانجـــو د هوارې څرک يې پکې ليده. له هر څـه مخکـې والي د دې شـخړو او لانجـو د هوارې لپاره کمېسيونونه جوړ کـړل او ورتـه يې دنده وسپارله، چې د هرې شخړې او لانجې اړوند ټول مواد دې راغونـډ کـړي، تـر څـو د دې

شخړو د حل لپاره ګامونه پورته کړل شي. والي کمېسيونونو ته لاندې لارښوونې وکړې:

- قضيه څومره تاريخ لري؟
- د کومو اړخونو پرې دعوه ده؟
- پر کومو حدودو دعوه ده او ملکيت د چا دی؟
- تر اوسه پورې په کې دواړو خواو ته څومره تلفات اوښتي؟
- تر اوسه پورې په کې څومره اجراات شوي؟
- که اجراات شوي، نو ولې د منلو وړ نه دي؟
- په کوم ځای کې څومره وسله موجوده ده؟
- کوم ځای کې څومره ځوانان د اربکيانو په نامه په مورچو کې ناست دي؟
- دغو اربکيانو ته پيسې څوک ورکوي؟
- دا ځوانان يا اربکيان د جنګ لپاره څوک هڅوي؟



د قومي تړون وروسته، قومي مشران يو بل ته غاړه په غاړه شول

والي د ټولو شخړو بندولو لپاره يوه ښه تګلاره غوره کړه، کله چې ټول معلومات راغونډ شول، نو له هغه وروسته يې کميسيونونو ته وويل، چې له دواړو خواو اسناد وغواړي، تر څو معلومه شي چې دوی په کومو اسنادو پر دغو ځايونو دعوه لري او خپله يې ګڼي.

کله چې دا هر څه سر ته ورسېدل، نو والي ټولو قومونو سره ناسته وکړه، هغوی ته يې وويل چې د ځمکې په اسنادو کې زه څه غرض نه لرم، دا اسناد او حدود به اړونده ادارې او عدلي او قضايي ارګانونه څېړي. والي ټولو قومونو ته وويل:

- مورچې به خالي کړئ.
- جنګ ته به نور ((نه)) ووايئ.
- د ځمکو مسئله به په محکمه يا جرګه حل کوئ.

- عدلي، قضايي ارګانونو او نورو اړونده ادارو ته به مراجعه کوئ.
- قومي ثبات به په هر حالت کې ساتئ.
- له يو بل سره به ناسته ولاړه کوئ، تګ راتګ به کوئ او پخلا کېږئ به سره.

والي د خپلې ښې تګلارې له امله پـر دې وتوانېـده چـې د کومـو قومونـو تـرمنځ شـخړې او لانجې روانې وې، په هغوی مورچې خالي کړي، جنګ پرې بند کړي، د ټوپک پر ځای يـې دې تـه اماده کړل چې قانون ته به غاړه ږدي، قومي ثبات به ساتي، د ځمکو د شـخړو او لانجـو لپـاره بـه اړونده ادارو ته مراجعه کوي، په خپل منځ کې به سره پخلا کېږي او لـه يـو بـل سره بـه غونـډې کوي.

له ټولو قومونو څخه اسناد واخيستل شول، توافقنامې لاسليک شوې، چې د شخړو ټول اسناد اوس هم د خوست په ټولو ملکي، عدلي، قضايي او امنيتي ادارو کې شته. ان په مرکزي ادارو کې هم موجود دي. هغه وخت د شخړو په اړه ټول معلومات، د اسـنادو او تړونونـو پـه ګـډون چـاپ شوي او خپاره شوي هم دي.

له دې قومونو څخه څوارلس سوه ميله وسله هم راغونډه شوه. د ټولو قومونو څخه مخور او د واک خاونـــدان وټاکـــل شول، تر څو د قـوم خلـک يې له تړون سرغړونـه ونـه کړي او بيا ټوپـک تـه لاس نه کړي او نه هم جنګ ته مخـه کـړي. لـه دې پرتـه ټولـو امنيتـي ارګـانونو تـه رسمي دنده ورکـړل شـوه، هر څوک چې قومي شخړو ته لمن وهي او يـا د شـويو تعهداتو خلاف عمل کوي، ګرفتار او د قـانون منګولـو تـه دې وسپارل شي.



د خوست والي په هڅو او د امنيتي ځواکونو په مټ ډېرې لويې او درنې وسلې
په قومي شخړو کې له ښکيلو اړخونو څخه راټولې او دولت ته وسپارل شوې

له دې هر څه وروسته په يادو سيمو کې تړل شوي ښوونځي پرانيسـتل شـول، هغـه ځوانـان چې په مورچو کې به ناست و، ښوونځيو او پوهنتونونو ته روان شول، ټولګټې پروژې پلې شـوې او

قومونو له یو بل سره تګ راتګ پیل کړ.

نعیمي ویل: ((قومونه ډېر درانه دي، تاریخونه لري، دودونه لري، نرخونه لري او ډېر قدرمن مشران لري، نو دا څنګه کېدای شي چې دوی موجود دي او هره ورځ دې دغلته مړي کېږي او هره ورځ دې دولتي ځواکونه دغلته روان وي.))

د قومونو ترمنځ له ډزبندۍ، جنګ ختمولو او پخلاینې وروسته ډېرې مثبتې پایلې راووتې.

- د قومونو ترمنځ د یووالي، ورورولۍ او سوله ییز ژوند ټغر خور شو، د دښمنیو، قتلونو او ویجاړونکو اعمالو مخه ونیول شوه او ورسره سم د خوست انځور روښانه شو.
- دولتي حاکمیت ټینګ، د امنیت لمنه ولسوالیو او لیرې پرتو سیمو ته وغځېدله، له دولت سره د ولسونو همکاري پراخه او پر دولت ولسي باور زیات شو.
- زیاتې دولتي ځمکې له غصب خلاصې او د ټولګټو پروژې تطبیق ته وړاندې شوې، د بیارغونې بهیر ګړندی او زیات کاري فرصتونه رامنځته شول. په ټولیزه توګه تر ۲٤۰۰۰ څخه زیاته دولتي ځمکه چې په بېلا بېلو شکلونو سره غصب شوې وه له غصب خلاصه او د ټولګټو پروژو پلي کیدو ته وړاندې شوه.
- له غصب په خلاصو شویو ځمکو کې د میلیونونو امریکایي ډالرو په ارزښت سره پروژې پلې او ګټې اخیستنې ته وړاندې شوې.
- د نافذه قوانینو، فرامینو، احکامو او مصوباتو د پلي کیدو لپاره ښه زمینه مساعده، قانون حاکم او ښې حکومتدارۍ پراختیا ومونده او خلکو ته د خدماتو عرضه ګړندۍ شوه.
- تر ٤۰۰۰ څخه زیات وسلوال اربکي منحل، وسلې ترې راټولې او ډاياګ پروسې ته تسلیم شوې، ځوانان د مورچو پر ځای ښوونځیو او پوهنتونونو ته وهڅول شول.
- د خلکو ورځنی ژوند ښه شو، له ټولو هغه ناخوالو او بدمرغیو خلاص شول چې د همدې شخړو او منازعاتو له امله ورسره مخامخ و او هغه لګښتونه هم پای ته ورسیدل چې هره میاشت به د قومي شخړو او انتقام اخیستو له امله د اربکیو د معاش او یانورو لګښتونو په نوم د قوم ځینو مشرانو ته ورکول کیدل.
- تر ۱٦۰۰ میله څخه زیاته سپکه او درنه وسله راټوله او د ډاياګ پروګرام ته ورکړل شوه.
- خلکو ته د کار زمینه مساعده شوه، تجارت وده وکړه او هر چا په نورمال ډول

خپلې ورځنۍ چارې او کړنې پیل کړې.

- هغه ښوونځي او روغتیایي کلینکونه چې د شخړو او لانجو له امله تړل شوي و، بیرته پرانیستل شول او همدا شان په یادو ساحاتو کې جوماتونه، ښوونځي او روغتیایي کلینکونه هم جوړ شول.
- د یادو سیمو د خلکو مراجعه حکومت ته زیاته شوه او په خپلو سیمو کې یې له امنیتي ارګانونو سره د امنیت په تامین کې بشپړه همکاري پیل کړه.

د پورته شخړو، لانجو او منازعاتو له امله په یادو سیمو کې ۸ بابه ښوونځي تړل شوي و چې له امله یې (٦٢٨١) تنه نارینه زده کوونکي او (۲۸۷۳) تنه اناث زده کوونکي چې ټوله شمیره یې (۹۱٥٤) تنه کیږي، د ښوونې او روزنې له بهیر څخه محروم و، ښوونځي بیرته پرانیستل شول او د ځوانانو لپاره د ښوونې او روزنې بهیر بیا ګړندی شو.

له قومونو سره ناستې پاستې او د ولسونو په منځ کې د تګ راتګ له لارې والي په دې وتوانېده چې دا شخړې کنټرول کړي. جنګونه یې ارام کړل او د دې شخړو په منځ کې چې دې قومونو څومره هم ستونزې لرلې، هغه والي په صمیمیت وربدلې کړې.



خوست والي تفاهم او مذاکره د قومي شخړو د هوارۍ لپاره یواځنۍ تګلاره ګڼي

د والي غوره کار دا و، چې کله به هم چېرته افتتاح ته تلو، نو د دواړو خواو نه به یې مشران راغوښتل او ځان سره به یې یو ځای ملګري کول، چې په خوشحالۍ کې دواړه یو شان برخه واخلي، له دې پرته به یې د قومونو ترمنځ په ولایت مقام کې ناستې هم ترسره کولې، دې قومونو ته به یې ډوډۍ کوله، تر څو دوی یو له بل سره مخامخ کېنوي او له یو بل سره یې د ورورولۍ او یووالي تړون کلک شي، نو د دې یوه ګټه دا وه چې دواړو خواو به یو بل سره لیدل، روغبړ به یې سره کاوه او یو هغه وخت و چې یو بل ته به په مورچو کې ناست و، خو په دې وخت کې به یې یو بل سره په مینه او خوشحالۍ لیدل کول.

نعيمي ډېرې کورنۍ له غمونو وژغورلې، ډېرې ميندې يې له بورې کېدو او ډېرې مېرمنې يې له کونډېدو، ډېر ماشومان يې له يتيمانېدو وژغورل او د خلکو اندېښنې او وېره - ترهه يې ختمه کړه.

د والي لپاره يوه نه هېرېدونکې ورځ دا هم وه، چې پر کومه ورځ د شمل او گربزو ترمنځ جنگ وشو، دا جنگ سهار لس بجې پيل شو، چې د مکتب او پوهنتون له هلکانو نه يې د لاسونو قلمونه اخيستي و او ټوپکې يې ورته ورکړې وې او د يو او بل پر ضد يې جنگول.

د والي په وينا امنيتي ځواکونو د جنگ له ډگره پنځه پنځوس هلکان، چې د پوهنتون او لېسو د دوولسم صنف زده کوونکي او محصلين و، ونيول او بنديان يې کړل.

کله چې د دې هلکانو مشران والي ته راغلل او د خوشې کېدو غوښتنه يې ترې وکړه، نو والي ورته ځواب ورکړ، چې دا هلکان نه خوشې کوم.

هغوی وپوښتل: ((ولې؟)).

والي ورته وويل: ((دا د دوی ظلم نه دی، د دوی پر ځای بايد چې تاسو بنديان شئ، ځکه چې تاسو د دې ځوان نسل ژوند ورخراب کړی، يو خو مو ورته ژوند په دښمنۍ اړولی او بل مو په دې عصر کې قلم ترې اخيستی دی، چې د هغوی عزت او ژوند دی او ټوپک مو ورکړی چې د خپل ورور وژلو ته يې تشويقوئ.))



د منگلو او مقبلو قومونو ترمنځ چې په کومه ځمکه شخړه موجوده وه، هلته په خپل سر کورونه او مورچې جوړې شوې وې چې وروسته ړنگې شوې

والي دوی ته وويل، که تضمين ورکړي، چې د ټوپک پر ځای به دې هلکانو ته قلم ورکوي، نو بيا يې خوشې کوي، گنې همدلته دې ناست وي، لږ تر لږه د يو بل د وينې تويولو نه خو به خوندي وي.

کله چې دوی تضمين ورکړ، نو بيا والي ټول خوشې کړل او د والي د ماموريت تر اخره پورې بيا داسې يو حالت په خوست کې رامنځته نه شو، چې قومونه دې يو بل پسې ټوپک راواخلي او هلکان دې مورچو ته ولېږي.

عبدالجبار نعیمي په خوست کې د والي په توګه د دندې ترسره کولو په موده کې له نورو ډېرو کارونو سره، سره یو ستر کار دا هم وکړ، هغه قومونه چې ټول عمر به یې یو بل پسې ټوپک راخیستي و او مورچو کې به یو بل ته ناست و، د سولې پر ټغر یې کېنول او د پرمختګ پر لاره یې روان کړل، چې دا د یووالي او وروروليۍ ښه نمونه وه.

دلته ځینو خلکو دې دښمنیو ته د خپلو شخصي ګټو په خاطر هم لمن وهله، نو کله چې د دوی دا شخصي ګټې بندې شوې او کاروبار یې خراب شو، نو دوی بیا د والي پر ضد څرګندونې کولې او تورونه یې لګول، خو وروسته بیا د خوست ټول ولس له نعیمي نه خوښ و او ډېره مننه یې ترې کوله، چې د دوی ترمنځ یې جنګ ختم او ټول یې سره پخلا کړل.

## د پي آر ټي له جوړو کړو خالي ودانیو استفاده:

کله چې نعیمي په خوست کې خپل ماموریت پیل کړ، نو وروسته له هغې، په ۲۰۱۰ز کال کې د امریکا پي آر ټي مسوولینو له والي سره ولیدل، چې په کې د امریکا حکومت (سټېټ ډیپارټمنټ) یوه مېرمن هم وه او سارا نومېده، بل د ویلیم په نوم یو تن و، دوی والي سره ولیدل او ورته یې وویل، چې موږ تاسو ته نور کومک نه درکوو.

والي ترې وپوښتل: ((ولې؟))

هغوی ورته وویل: ((په خوست کې تقریباً شپاړس ودانۍ دي، چې د امریکا حکومت پرې په میلیونو ډالر مصرف کړي او هغه نن بېکاره دي، نو چې کله موږ د خپل ټیکس په پیسو تاسو ته ودانۍ جوړې کړو او تاسو ترې استفاده نه کوئ، نو موږ څنګه تاسو سره نورې مرستې وکړو؟))

والي ورته وویل: ((دا راته لېست کړئ، چې چېرې دي او د څه لپاره جوړې شوې دي.))

خوست اداري کمپلیکس کې د ولایت مقام په ګډون یو شمېر ودانۍ جوړې شوې وې، کېفیت یې خراب او په ډېر بد حالت کې وې، په اوسني حال کې، چې لا تراوسه ترې چا استفاده هم نه وه کړې، بیا هم په کې غټ غټ درزونه پیدا شوي و.

بل د دارالعلوم تعمیر و، چې ډېر ښکلی او په معیاري ډول جوړ شوی و. والي ته په دې تعمیر کې هېڅ مشکل نه ښکارېده، خو تعمیر چې په کوم ځای کې جوړ شوی و، ساحه یې ډېره لېرې وه نو ځکه څوک نه ورتلل.

همداسې د خوست ولایت نوی محبس، د ملکي روغتون ودانۍ او په مرکز او ولسوالیو کې ځینې ښوونځي هم دوی جوړ کړي و، چې دا ټول خالي پراته و او هېڅ استفاده ترې نه کېده.

پر هر تعمیر له اته سوه زره ډالرو نه تر یو نیم میلیون ډالرو مصرف شوی و، خو له یو نه

هم چا استفاده نه کوله.

نو په دې خاطر د امریکا پي آر ټي والي ته خط کش کړ، چې نوره مرسته ورسره نه کوي، ځکه چې استفاده ترې نه کېږي، نو د مرستو مطلب څه دی.

والي له هغوی غوښتنه وکړه، چې وخت دې ورته ورکړل شي، ځکه چې خوست ته د والي په توګه نوی راغلی او دا تعمیرونه د ده په وخت کې نه پلان شوي او نه هم د ده په وخت کې جوړ شوي دي.

خو هغوی هم یوه خبره کوله، چې دې ولایت کې مخکې څوک والي و، هغه هم د دې ولایت مسوول و، د هغه په وخت کې جوړ شوي دي، خو نن ترې باید تاسو ګټه واخلئ.

کله چې دوی ولاړل، له تګ نه وروسته والي د دې ټولو تعمیرونو په اړه معلومات راغونډ کړل، نو ورته معلومه شوه، چې مشکلات حتماً لري.



د خوست ولایت مقام نوې ودانۍ چې کلونه خالي ولاړه وه، مګر خوست والي دغه ودانۍ د کار کولو لپاره چمتو کړه

مشکلات دا و چې د امنیت ساحه ډېره خرابه وه، هېچا هم دا فکر نه کاوه چې اداري کمپلیکس ته دې کومه اداره ولاړه شي او هلته دې کار وکړي، نه څوک دې ته تیارېدل چې دارالعلوم ته ولاړ شي او هلته زده کړې وکړي.

جالبه خو دا وه، چې د ښار په داخل کې پر متون تپه چې کوم محبس و، د دې حالت دومره خراب و، چې په هره کوټه کې به یې اوبه راڅڅېدلې، دلته چې به کوم خلک بندیان و، د باران په وخت کې به پرې اوبه روانې وې او دوی یې هېڅ چاره نه شوه کولای، خو د محبس نوې ودانۍ چې د راډیو ټلویزون ودانۍ شاته جوړه شوې وه، د هغې کیفیت بیا ډېر خراب و.

کله چې والي د دې ټولو تعمیرونو ارزونه وکړه، نو له هغه وروسته یې بیا د امریکایانو له پي آر ټي ټیم سره ناسته وکړه. هغوی ته یې وویل چې ما دا هر څه په خپله وارزول، خو اوس ځینو ځایونو ته سرکونه نشته، ځینې سړکونه جوړول مهم دي او په ځینو تعمیرونو کې دننه کار هم په

کار دی، نو تاسو دا کارونه وکړئ، بیا به زه د هر څه لپاره یو پلان جوړ کړم، چې له تعمیرونو استفاده وکړو.

هغوی هېڅ تصور هم نه کاوه چې والي دې داسې یو کار وکړي، چې دا ټول تعمیرونه د استفادې وړ شي او ګټه ترې پورته کړل شي، خو والي په دې هره برخه کې عملي ګامونه پورته کړل او لومړی یې پرېکړه وکړه، چې په خپله به د ولایت مقام نوې ودانۍ ته انتقال شي، له هغه وروسته به نورې ادارې نویو تعمیرونو ته انتقال کړي.

کله چې والي د ولایت مقام نوي تعمیر ته انتقالاوه، نو په ولایت کې ټولو ادارو دا خبره کوله، چې دا خو ډېر لېرې دی، خدای(ج) مه کړه موږ به یو وخت مخالفینو نیولي یو، خو والي ورته وویل: ((موږ باید دې وطن ته قرباني ورکړو.))

قرباني دا وه چې دوی د انکشاف لپاره هر ډول هلې ځلې وکړې. که والي دا هلې ځلې او کارونه نه وای کړي، نو بهرنیانو خوست ولایت ته نورې پیسې نه ورکولې او خوست کې ابادي او انکشاف په ټپه ودرېدل.

بله مهمه خبره دا هم وه چې تعمیرونه هم داسې له منځه تلل، نو دا هم ښه خبره نه وه، ځکه پر دې تعمیرونو ډېرې زیاتې پیسې مصرف شوې وې.

له دې وروسته والي محبس له متون ټپې څخه نوي محبس ته انتقال کړ. په هغه وخت کې د محبس مسوول والي ته وویل: ((که په لاره څه پېښه وشوه، مسوولیت یې پر تا دی.)) لاره هم دومره ډېره نه وه، یواځې او یواځې یو کیلومتر وه، خو بیا هم دوی دغه مسوولیت نه مانه او دا تعمیر یې خالي پرېښی و او په کوم تعمیر کې چې دوی و، په هغه کې پر انسانانو اوبه هم رابهېدې.

والي هیله لرله، چې ټول باید انساني او بشري فکر وکړي. کله چې له زوړ تعمیر نه محبس نوي تعمیر ته انتقال شو، نو له هغې وروسته والي خارجیانو باندې دلته سړک جوړ کړ او چې تعمیر کې دننه کوم تعمیري کارونه په کار و، هغه یې هم پرې وکړل.

لکه څنګه چې محبس دلته ضرورت و، چې یو معیاري محبس وي، د هغه د جوړولو لپاره بیا هم پر دې محبس په لکونه ډالر مصرف شول، خو اخر هم دا یو معیاري او په اسانتیاو سمبال محبس شو.

که څه هم دا ځای غېر معیاري او بې پلانه جوړ شوی و، خو نوره هېڅ چاره نه وه، ځکه چې پر دې پیسې مصرف شوې وې، خو یو کار دا هم ښه وشو، چې له نورو اسانتیاو سره سره زندانیانو ته هم ډېر سهولتونه برابر کړل شول.

کله چې والي د دارالعلوم مسوولین راوغوښتل او هغوی ته یې وویل چې نوي دارالعلوم ته

انتقال شي، نو هغوی انکار وکړ، والي ورته وويل چې نوي دارالعلوم ته نه ځئ، نو بيا استعفاء وکړئ.



خوست کې د دارالعلوم ودانۍ، چې له جوړېدو وروسته خالي پرته وه، وروسته ترې خوست والي ګټه پورته کړه

دارالعلوم خو ديني مدرسه ده او ديني مدرسه هېڅ ټوپک او تومانچه نه غواړي، دا ډېره عجيبه خبره ده، چې دلته دې په کرايه ځای نيولی او هلته چې يو دومره معياري او عصري دارالعلوم جوړ شوی، جومات لري، د اوبو سيستم لري، په هر اتاق کې چپرکټونه شته او بيا هم د دارالعلوم مسوولين نه ورځي. والي له هغوی ټولو نه استعفاوې واخيستې، چا چې هلته له تګ نه انکار وکړ، نوي مسوولين د دارالعلوم لپاره وټاکل شول او له هغه ځای نه هم استفاده پيل شوه، خوست کې د دارالعلوم تعمير يو له بهترينو او عصري تعميرونو څخه دی، چې هر ډول سهولتونه په کې موجود دي.

دې نويو تعميرونو ته له ورتللو وروسته، نه يواځې دا چې دغه تعميرونه د استفادې وړ شول، بلکې دلته د اطلاعات او کلتور رياست، اقتصاد رياست، ملي پېوستون رياست، معدن رياست، صنايعو تجارت امريت، پوسته خانې اداري ودانۍ، آيسا اداري ودانۍ، عدليې رياست، احصايې اداري ودانۍ او معارف رياست هم جوړ شول، چې اوس يې څوک هم وګوري نو پوه به شي چې يو پرمختللی اداري مرکز دی.


د ولايت د يو لوی روغتون قرارداد هم له يو افغان سره شوی و، چې بدبختانه هغه دا روغتون ډېر غير معياري جوړ کړی و. نعيمي وايي: ((قراردادي دا روغتون دومره غير معياري جوړ کړی و، چې ما په خپل ژوند کې داسې کار نه و ليدلی. يو افغان چې په خپل هېواد کې له يو روغتيايي مرکز سره دومره ظلم وکړي، ما کله هم داسې تصور نه و کړی، چې يو افغان به داسې هم وکړي.))

خو دا کار شوی و، نو والي پر خارجيانو فشار راوړ، چې له دې ځايه استفاده کوي، خو چې

معياري جوړ شي. والي ورته وويل: ((که دا ځای معياري جوړ نه شي، نو ايا تاسو د خپلو بچيانو لپاره داسې يو ځای جوړوئ چې سبا راونړېږي؟)) د خوښۍ خبره دا وه، چې په دې روغتون کې هم کار وشو او د استفادې وړ شو.

## عسکري روغتون:

نور تعميرونه خو د استفادې وړ شول او ګټه ترې واخيستل شوه، خو د عسکري روغتون تعمير لا هم په خپل ځای همداسې خالي پروت و. والي په کابل کې د ايم ايس ايف يا بې سرحده ډاکترانو ټولنې مسوولينو سره ملاقات وکړ، هغوی ته يې وويل: ((تاسو په هلمند کې هم روغتون لرئ، په کابل او کندوز کې يې هم لرئ، تاسو که وکولای شئ چې په خوست کې هم روغتون ولرئ نو دا به ډېر ښه وي، ځکه په خوست کې د مور او ماشوم د مړينې شمېر بې حده زيات دی.))



عسکري روغتون، چې وروسته د بې پولې ډاکترانو د روغتون په نوم ونومول شو

والي دوی ته وويل چې په خوست کې ولس روغتيايي اسانتياوې ډېرې نه لري او له دې امله خلک له يو شمېر ستونزو سره مخ دي. هغوی يې قانع کړل چې په خوست کې دې هم خپل روغتون پرانيزي، د مور او ماشوم د مړينې د دې بې حده زيات شمېر مخه دې ونيسي. هغوی ورته وويل چې موږ به پلاوی درولېږو، نو له هغه وروسته به پرېکړه وکړو چې څه کولای شو.

کله چې دوی خوست ته پلاوی ولېږه، نو والي ورته وويل، چې نوی روغتون غواړئ، که هغه روغتون چې کار پرې روان دی او ډېر ژر به يې تعميراتي کارونه سرته ورسېږي او که نه دا عسکري روغتون غواړئ.

د دوی خوښه پر عسکري روغتون راغله، خو وزارت دفاع د دې مخالفت وکړ او ويې ويل چې دا

زموږ روغتون دی، حال دا چې دلته هېڅ هم نه و، تعمیر خالي پروت و او حېوانات په کې ګرځېدل.

کله چې بې سرحده ډاکترانو دا موافقه وکړه، چې دوی به دلته پاتې کېږي، نو والي د هغه وخت دفاع وزیر ستر جنرال عبدالرحیم وردګ ته پېشنهاد وکړ، چې عسکري روغتون د بې سرحده ډاکترانو په واک کې ورکړي.

والي ورته وویل: ((دا تعمیر خالي دی او تاسو ترې هېڅ استفاده هم نه کوئ، بله مهمه خبره دا ده چې په خوست کې د داسې یو روغتون اړتیا ډېره زیاته ده، چې دا روغتون دلته کار پیل کړي نو په زرګونه خلکو ته به یې ګټه ورسېږي.))

د خوښۍ خبره دا وه چې ستر جنرال عبدالرحیم وردګ دا خبره ومنله او د عامې روغتیا وزارت ته یې احکام ولېږل، چې د عسکري روغتون له تعمیر څخه استفاده وکړي او کله چې دا روغتون پرانیستل شو، نو د خوست د خلکو لپاره یې د خوښۍ زېری راوړ او د ډېرو خلکو د ګټې ځای وګرځېده.

خو دا داسې ساده هم نه وه، د دې پر ضد ډېر تبلیغات هم وشول، هغه ډاکتران چې دلته یې شخصي ګټې په خطر کې وې، هغوی د والي پر ضد هم تبلیغات وکړل، ځکه چې هغوی به په هر عملیات ډېرې پیسې اخېستې او دلته د روغتون له جوړېدو نه وروسته هغه عملیات وړیا کېدل.

خو دا د والي د مدیریت او هېوادنۍ مینې برکت و، چې دا پروسه یې هم په ډېره ښه طریقه سرته ورسوله او ټولو ته یې وویل، چې باید دا پروسه ډېره پاکه واوسي او هېڅوک د دې پر ضد تبلیغات ونه کړي.

په لومړیو درې میاشتو کې په دې روغتون کې له شپږ سوو نه تر اته سوو پورې ماشومان زېږېدلي و، چې په دې سره د مور او ماشوم د مړینې کچه بېخي راکښته شوه چې دا ډېره د خوشحالۍ خبره وه.

دلته د هر ماشوم نوم، وزن، د زېږېدو نېټه هر څه په سمه توګه معلومېدل او دا په خوست کې لومړی ځل و، چې د هر ماشوم له زېږېدو وروسته به هغه ته د تولد سند ورکول کېده.

نعیمي وایي: ((خوشبختانه زه افتخار لرم، چې دې روغتون تراوسه ګومره خدمات ترسره کړي یا یې ترسره کوي، ما د دې په جوړولو کې خپل ټول امکانات په کار اچولي و او زه پرې ویاړ کوم.))

## د نظام د پرېکړو په مخ کې خنډ:

د اطلاعات او کلتور وزارت له خوا یو ځوان ژورنالېست فیض الله غمخور جمهوري ریاست ته پېشنهاد شوی و او د هغوی په منظورۍ د خوست د ملي راډیو ټلویزون د امر په توګه مقرر شوی و.

کله چې دی خوست ته راغی او له والي سره یې ولیدل، نو والي د ولایت مرستیال ته دنده

وسپارله، چې نوموړی دندې ته معرفي کړي، کله چې د فیض الله غمخور د معرفت وخت ټاکل شوی و، له هغه مخکې د ولایت مرستیال، والي ته راغی او ورته یې وویل، چې خارجیانو ورته زنګ وهلی، چې فیض الله غمخور دندې ته معرفي نه کړي.

کله چې والي پوښتنه وکړه، چې ولې، څه خبره ده چې دی به نه معرفي کوو، نو هغوی وویل چې دا سړی زموږ د باور وړ نه دی، خو والي ورته وویل چې دا سړی رسمي مقرر شوی او که دنده اشغال نه کړي، نو دا به ورته ډېره ګرانه شي، ځکه نه غواړي چې په ولایت کې داسې مسوول پاتې شي، چې د خپل دولت او نظام حکمونه تطبیق نه کړای شي.

کله چې والي په خپله د هغوی مسوولینو سره خبرې وکړې، نو هغوی ورته وویل چې موږ یې نه منو، باید دا سړی دندې ته معرفي نه شي.

دا نو ډېره د خپګان وړ خبره وه، ځکه چې موږ خپل ملي بیرغ لرو، اساسي قانون لرو، منتخب ولسمشر لرو، منتخب حکومت او نظام لرو او والي په خپله د یوې ادارې مسوول دی، نو چې له هغه وروسته هم داسې ستونزه مخې ته راځي، دا نو د خپګان وړ خبره وه.

والي تصمیم ونیو او فوراً یې د کابل سفر وکړ. کابل کې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې مشر جېلاني پوپل، چې یو ډېر تکړه مدیر او سیاستوال دی، سره ولیدل او دا خبره یې ورسره له نږدې مطرح کړه.

والي هغه ته وویل، که دا مساله حل نه شي، نو دی نه شي کولای چې د والي په توګه دنده پر مخ یوسي، ځکه هغه غوښتل هر هغه څوک، چې قانوني اسناد لري، هغه باید تطبیق شي، ځکه د دولت او نظام په مخکې چې څوک خنډونه پیدا کوي، نو ګرانه ده چې تحمل شي.

جېلاني پوپل ورته وویل، چې سبا ته به د دوی مسوولین راوغواړي او دا خبره به ورسره مطرح کړي.

پر سبا ورځ د امریکا حکومت استازو سره غونډه وه، چې په کې د امریکا د حکومت یو لوړپوړی چارواکی جنرال ډیویډ روډریګس او د هغه ټیم برخه واخیسته. د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې رهبري او والي هم په دې غونډه کې برخه درلوده او والي پر دې موضوعاتو هلته بحث وکړ.

والي هغوی ته وویل: ((څو موضوعات ډېر مهم دي، زموږ توقع دا ده چې تاسو دلته کوم فعالیتونه کوئ، باید د افغانستان د اساسي قانون، د افغانستان د نظام پیاوړتیا او د افغانستان د ولس عزت او زموږ چې څه مقررات دي، د هغې سره سم واوسي او تاسو دا هر څه په نظر کې ونیسئ او درناوی ورته وکړئ.

دوهم ستاسو د مرستو موږ ډېر تقدیر کوو، واقعاً ستاسو مرستې دي چې موږ ته یې وطن کې د انکشاف دروازې خلاصې کړې دي، خو ستاسو مرستې باید چې د دولت له ټولو قوانینو سره همغږې

وي، تر څو موږ وکولای شو، چې د يو مکمل انکشافي پلان او لومړيتوبونو سره سم پرمختګ وکړو.

دربم دا، تاسو ته چې هر څوک راپورونه راوړي، نو د اجرااتو سلسله يې په داسې ډول وي، چې هلته حقيقتيابي وشي، معلومه شي چې ايا ستاسو اجراات پر حقيقت بنا او هدف من دي او که نه.))

په دې غونډه کې له دوه نيمو نه تر دربو ساعتونو پورې بحث وشو، وروسته د فيض الله غمخور د مقررېدو موضوع هم مطرح شوه، چې دا مامور يې دو لري، د جمهور رييس حکم لري، چې بايد پر دغه ځای مقرر شي.

هغوی والي ته اطمينان ورکړ، د والي پېشنهادونه يې ومنل او ورته ډاډ يې ورکړ چې ورسره به په هره برخه کې همکاري کوي.

نعيمي وايي: ((زه ډېر خوشحاله شوم، ځکه چې ستونزو ته حل لاره پيدا شوه او د سيمه ييزو ارګانونو له سخت ملاتړ سره بېرته راغلم.))

کله چې والي بېرته خوست ته راغی، نو فيض الله غمخور يې په عزت او درناوي هلته مقرر کړ. دا پوسټ دومره لوی نه و، خو د والي لپاره مهمه دا وه چې هغه د نظام او دولت هره پرېکړه بايد تطبيق کړې وای، د نظام پرېکړو ته درناوی والي ته ډېر مهم و.

د والي دا هڅې د دې وړ شوې، چې په ډېرو ساحو کې يې له بهرنيانو سره همغږي او همفکري پيدا کړه، د امنيت د بهترۍ لپاره ډېره ښه او غوره قدمونه پورته شول، چې په خوست کې يو ډېر مثبت تغير راغی.

## د سولې کاروانونه:

په خوست کې عبدالجبار نعيمي د خپلې دندې پر مهال يو دا کار ترسره کړ، چې ډېری ولسواليو ته يې د ((سولې کاروان)) په نامه سفرونه وکړل.

داسې ځايونو ته له سلګونه کسانو سره د سولې لپاره ولاړ، چې هلته تردغه مهاله د خوست ډېری اوسېدونکي هم نه و تللي، يو خو هغه وخت و چې په خوست ښار کې به څوک د نا امنۍ له امله نه شو ګرځېدای او يو داسې وخت هم راغی، چې والي به د سلګونه قومي مشرانو، علماوو، دولتي چارواکو، مدني فعالانو، ژورنالېستانو او ځوانانو سره لېرې پرتو ولسواليو ته سفرونه کول او د سولې پيغام به يې دغو ولسواليو ته رساوه.

د لېرې پرتو قومونو پوښتنه يې کوله، هغوی ته يې د دولت له لوري ډاډ ورکاوه او هغوی ته يې دا پيغام ورکاوه، چې دولت ورسره اوږه په اوږه ولاړ دی او هېڅ داسې کړنې ته به اجازه ور نه کړي، چې ولس ته زيان ورسوي.

## عاد محمد ته سفر:

د سولې د کاروان لومړی سفر د ۱۳۹۱هـ ش کال د چنګاښ پر ۲۰مه، د تڼيو ولسوالۍ ((عاد محمد)) په نامه زيارت ته وشو. دا سفر د تڼيو د عاد محمد او شمالي وزيرستان تر پولې په داسې حال کې ترسره شو، چې د والي ترڅنګ د دغه ولايت د ټولو ملکي او پوځي ادارو مشرانو، ماموري‌نو، د مدني ټولنو استازو، قومي مشرانو، ژورنالېستانو او ګڼ شمېرځوانانو په کې ګډون درلود.

د سولې دا اوږد کاروان دغه ساحې ته ولاړ او د هغه ځای له مشـرانو سره يې ناسـته وکـړه. والي د دې ځای له مشـرانو سره د امنيت، سولې او ثبات په خاطر خبرې وکړې، چې څنګه دلته سوله راشي او ډاډمن امنيت ټينګ شي.

والي دوی ته وويل: ((ستاسو په سيمه کې بايد چې دښمن هېڅ ډول فعاليت ونه لري، تاسو موږ سره يو موټی شئ، دلته چې تاسو کوم پيشنهادونه لرئ، کوم لومړيتوبونه لرئ، موږ ته يې ووايئ، موږ به ورته هرکلی ووايو او رسيدګي به ورته وکړو.))

په دې سفر کې والي د تڼيو يو لوی سړک هم افتتاح کړ، چې خلکو ته په تګ -راتګ کې اسانتياوې پيدا شي. د والي په وينا دا يو کامياب او ډېر ډاډمن سفر و.

دا نو دلته لومړی ځل و چې ټولو ولسونو د داسې يـو ځـای ليدنـه وکـړه، دلتـه سره ټـول پـه شريکـه کېناسـتل، يـو بـل سره يـې خپلـه پېژنـدګلوي وکـړه، ځکـه چـې دلتـه ډېـر داسـې خلـک و، چـې دې ساحې تـه تراوسـه نه و تللي.

نعيمي وايي: ((دا زمـا ډېـر کامياب سفر و، زه ورته ډېر خوشحاله



عاد محمد سيمې ته د سولې کاروان چې د خوست والي په مشرۍ، دغه مهمې سيمې ته رسيدلی دی

پر دې يم چې کله کله سړی تعميرونـه جـوړوي، خـو کلـه کلـه سـړی فکرونـه جـوړوي.)) د فکـر جوړونې لپاره د سولې کاروان دا سفر ډېر زيات مهم و، دا نو داسې يو کـار و، چـې اغېـز بـه يـې

دايم وي او راروانو نسلونو ته به هم دا فکر ولېږدول شي، چې دولت او ولسونه سره يو ځـای دي او هر څوک، چې دولت تخريبوي، هغه د دې ولسونو په منځ کې ځای نه لري.


دلته په غرونو کې د ونو وهلو د مخنيوي لپاره هم ګامونه پورته شول او د قومونو ترمنځ د جنګ جګړو مخنيوی هم وشو او د محلي ادارو د فعاله ساتلو په برخه کې هم ګامونه واخيستل شول.

نو د ذهنيت جوړونې او نژدې والي لپاره دغسې تګ راتګ، ناستې او بحثونه ډېر مهم دي چې په هر ځای کې او په هره ولسوالۍ کې له خلکو سره وشي، د دې ګټې تل پاتې وي.

د عاد محمد سيمه له خوست ښار څخه نږدې شپېته کيلومتره لېرې پرته غرنۍ سيمه ده. دې سيمه کې د عاد محمد په نامه يو زيارت دی، چې دغه سيمه هم په همدې نامه نومول شوې ده. د نوروز او نورو خوښيو په ورځو کې د خوست ګڼ ځوانان دغه ځای ته ورځي او مېلې کوي. دغه زيارت د يو هسک غره پر سر دی، شاوخوا ټول غرونه او غونډۍ يې په شنو ونو پوښل شوي دي. د عاد محمد سيمه د شمالي وزيرستان د شوال له سيمې سره جوخته پرته ده. د سيمې د خلکو په وينا، چې عاد او محمد هغه دوه کسان دي، چې افغانستان ته د اسلام د راوړو پر مهال دلته راغلي، په جګړه کې شهيدان شوي او بيا دلته خاورو ته سپارل شوي دي.

## ځاځي ميدان ولسوالۍ ته سفر:

له دې وروسته د والي په مشرۍ د ((سولې کاروان)) د تلې پر ۷مه، په۱۳۹۱ هـ ش کال کې د ځاځي ميدان ولسوالۍ ته سفر وکړ.



د ځاځي ميدان ولسوالۍ ته د سولې د کاروان يو انځور، دغه کاروان يو سوليز او تاريخي اهميت درلود د امن او سولې په تامين کې يې خورا زياته مرسته وکړه

دا ولسوالي په ډېورنډ کرښه له کرمې ايجنسۍ سره نښتې ده. په دې سفر کې د والي تر څنګ د دغه ولايت د ټولو ملکي او پوځي ادارو مشرانو، مامورينو، د مدني ټولنې فعالانو، قومي

مشرانو، خبریالانو او ګڼ شمېرځوانانو ګډون درلود.

که څه هم ځاځي میدان د سوېل ختیز زون په کچه یوه ارامه او خلک یې په ټولیزډول له دولت سره جوړ دي، خو د باک او صبریو له نا ارامو ولسوالیو څخه د دومره لوی کاروان تېرېدل په تېرو لسو کلونو کې بې بېلګې بلل کېږي.

د سولې پر دې کاروان صبریو ولسوالۍ کې ډزې هم وشوې، خو والي ډېر کلک تصمیم نیولی و، که هر څه کېږي، باید د سولې له پیغام سره ځاځي میدان ولسوالۍ ته ولاړ شي. د ډزو له امله د یو ساعت لپاره کاروان په صبریو ولسوالۍ کې ودرېد، خو دوی بیا خپل سفر ته ادامه ورکړه او له ملي بیرغ سره یو ځای د ځاځي میدان ولسوالۍ ته ولاړل.

د ځاځي میدان ولسوالۍ کې د هغه ځای له مشرانو سره ډېرې پراخې او له مینې ډکې ناستې او غونډې وشوې. والي له دوی سره خبرې وکړې، ځینې تصمیمونه ونیول شول او هغوی ته ډاډ ورکړل شو چې ولایتي اداره څومره امکانات ولري، هغه به دلته په کار اچوي، د بازسازۍ، امنیت او یووالي لپاره به کار ترسره کوي.

هلته د رسنیو استازو ته والي په خپلو خبرو کې وویل: ((له دې سفر څخه یې موخه د دې سرحدي سیمې خلکو ته د سولې پیغام رسول دي. د دې سیمو خلک په تېرو څو لسیزو کې تر ټولو زیات د جنګ جګړو قرباني شوي دي، که په دې سرحدي سیمه کې امن راشي او ثبات ټینګ شي، نو نه یواځې په سرحدي ولایتونو کې، بلکې د ټول افغانستان پر حالاتو ښه اغېز کولای شي.))

والي پر دې سفر ډېر خوشحال و، ځکه چې سفر یې ډېر بریالی و او په دې سره یې هغو خلکو ته د سولې پیغام ورساوه، چې اوس هم د بېلا بېلو لاملونو له امله په جګړه کې ښکېل دي.



د ځاځي میدان ولسوالۍ مشران د خوست والي هرکلی کوي

د دې سفر بل هدف دا و، چې د خوست خلکو ته څرګنده شي، چې دولت له دوی سره دی او دوی چې په هر ځای کې دي، دولت یې پوښتنه کوي.

د دومره لوی سفر ترسره کېدل، دا څرګندوله چې په خوست کې امنیت د ډاډ وړ دی او اوس خلک کولای شي چې خپلو ورځنیو کارونو ته دوام ورکړي.

دلته ځینو قومي مشرانو هم له رسنیو سره خبرې وکړې، چې په کې یو قومي مشر مدیر میر زمان وویل: ((دغو درو ولسوالیو ته د سولې په نامه د کاروان تګ د دې څرګندونه کوي، چې خوست کې د پخوا په پرتله امن ښه شوی دی. دا د خوست مېشتو په ذهن کې هم نه راتله، چې دولتي چارواکي دې له خوست ښار څخه تر ځاځي میدان ولسوالۍ پورې په رڼا ورځ، چې سلګونه قومي مشران یې ملتیا کوي، سفر وکړي. سرحدي سیمو ته د چارواکو تګ د ولس او دولت په منځ کې رامنځته شوی واټن راکمولای شي او خلکو ته د دې جرات ورکوي، چې د وسلوالو پر خلاف پورته شي.))

همداسې ملک پاچا میر هم رسنیو سره په خپلو خبرو کې وویل: ((زه اوس دا احساسوم چې دولت زموږ او موږ د دولت یو او په هېڅ وخت کې دا اړیکې څوک نه شي زیانمنولای.))

## ګربزو ولسوالۍ ته سفر:

د ((سولې کاروان)) بل سفر ګربزو سرحدي ولسوالۍ ته و، په دې سفر کې هم په سلګونه تنو د والي ملتیا کوله. په ګربزو ولسوالۍ کې ولسونو د ((سولې کاروان)) ډېر ښه هرکلی وکړ. له خلکو سره ناستې وشوې، غونډې ترسره شوې او د ځینو تاسیساتو ډبرې هم کېښودل شوې.

دلته چې د کومو تاسیساتو ډبرې کېښودل شوې، دا د پخواني والي ارواښاد ارسلا جمال په وخت کې چا نه پرېښودې، خو اوس یې کار پیل شو.



د غلام خان بندر د تاسیساتو د پرانیستو د ورځې د برخوالو یو ډلیز انځور
خوست والي په دغه ځای کې د خپل ماموریت ستري لاسته راوړنې اعلان کړې

دلته له غلام خان بندر څخه تر خوست ښار پورې د سړک جوړول، د ګمرکي تاسیساتو جوړول، د سرحدي پولیسو د تاسیساتو جوړول، د ښوونځیو جوړول، د احاطي او استنادي

دېوالونو په جوړولو په میلیونونه ډالر ولګول شول.

والي خلکو ته قناعت ورکاوه، چې دلته هر کار دولت کوي نو هغه ستاسو لپاره کوي، ستاسو د هوساینې او ابادۍ لپاره یې کوي او ستاسو د بچیانو د ښه ژوند لپاره یې کوي.

والي ورته وویل: ((زما هیله دا ده، چې هېڅوک په دې نامه د تاسیساتو جوړولو مخه ونه نیسي، چې دا زموږ د قوم ځمکه ده، ځکه چې دا د دولت ځمکه ده، پرېږدئ چې دولتي پروژې په کې پلې شي او تاسو په دې تطبیق کې برخه واخلئ او دولت سره مرسته وکړئ.))

د والي په هڅو او کوښښونو په ګربزو ولسوالۍ کې ډېرې پروژې پلې شوې او بهترین تاسیسات په کې جوړ شول. هلته د ځايي شخړو د حل لپاره هم ډېر کار ترسره شو.

## سپېرې ولسوالۍ ته سفر:

د والي په مشرۍ د ((سولې کاروان)) بل سفر د کب پر ١٤مه، ١٣٩١هـ ش کال کې سپېرې ولسوالۍ ته وشو، کله چې د سولې دا کاروان، چې سلګونه تنو یې ملتیا کوله، د سپېرې ولسوالۍته ورسېد، نو د سپېرې ولسوالۍ ولسونو یې ډېر دروند هرکلی وکړ. دلته یوه لویه غونډه جوړه شوې وه، چې په کې والي په خپلو خبرو کې د دې ځای ولسونو ته وویل: ((د سولې له روانې پروسې څخه کلک ملاتړ وکړئ، د خپلو امنیتي ځواکونو تر شا ودرېږئ او هغه چاته اجازه ورنه



**د خوست والي په مشرۍ سپېرې ولسوالۍ ته د سولې سفر**

کړئ چې زموږ د ملک پر سرنوشت لوبې کوي او زموږ باغېرته قومونه د تاریخ تور او بدنام راتلونکي ته پرېږدي،کوښښ وکړئ چې داسې کارنامې وکړئ چې راتلونکی نسل ستاسو پر تاریخونو وویاړي، که داسې ونه کړو او خاموش پاتې شو، نو زموږ راتلونکي نسلونه به زموږ د کارنامو په یادولو د ویاړ پر ځای شرم کوي، نو هیله مې له تاسو درنو باغېرته ولسونو څخه دا ده چې په خپل ټول وس سره د سولې د روانې پروسې ملاتړ وکړئ او د خپلو امنیتي ځواکونو تر شا

ودرېږئ، ترڅو ستاسو په سيمه کې امنيت ښه او د بيارغنيزو پروژو لپاره زمينه برابره شي.))

د غونډې په پای کې والي د سپېرې ولسوالۍ ځوانان تعليم ته وهڅول او ورته يې وويل چې په زده کړه يې راتلونکی روښانه کېږي، نو زده کړې دې وکړي تر څو روښانه راتلونکی ولري.

دې ولسوالۍ کې د نورو بيا رغنيزو کارونو ترڅنګ، د امريکا د متحده ايالاتو په مالي لګښت او د کورنيو چارو وزارت په مرسته د پوليسو لپاره نوې جوړه شوې ودانۍ هم پرانېستل شوه.

دلته هم د ولسونو ترمنځ د شخړو او جګړو د مخنيوي په اړه خبرې وشوې او د ولسوالۍ د سيمه ييزو ستونزو د حل لارې چارې ولټول شوې. د سپېرې ولسوال محمد عظيم ځدراڼ په خپلو خبرو کې وويل: ((د دا ډول کاروانونو سفرونه ډېر ګټور دي، په دې سره  د لېرو پرتو سيمو خلکو



خوست والي د ملکي او نظامي ادارو د مسؤلينو، قومي مشرانو او ځوانانو سره يو ځای سپېرې ولسوالۍ ته د سولې کاروان ورساوه او خلکو ته يې د يووالي، سولې او نظام د ملاتړ پيغام ورکړ

ته ددې روحيه ورکول کېږي چې د دښمن په ناوړه تبليغاتو ونه غولېږي، د خوست والي عبدالجبار نعيمي يواځنی هغه والي دی، چې په ټول افغانستان کې يواځې او يواځې د ده له خوا د سولې کاروان بهير په نامه د سولې او امن پيغامونه د لېرو پرتو سيمو خلکو ته رسول کېږي.))

د ((سولې کاروان)) په نامه دې سفرونو ډېره ګټه ورسوله، په دې سفرونو کې به د هر يو سفر لپاره ځانګړی پلان جوړېده او د هر سفر لپاره به خپل هدف ټاکل کېده. د والي په هڅو د ((سولې کاروان)) له پيغام سره ټول ولسونه يو ځای کړل شول او د دولت ضد هرې پېښې مخه ونيول شوه، ځکه چې ولسونو

ژمنه وکړه، چې هر څوک د دولت پر ضد څه کړنه ترسره کوي، نو ولسونه به يې په خپله ځواب ورکوي.

د بېلګې په توګه، د روژې په مبارکه مياشت کې يوه ورځ مخالفينو د ځاځي ميدان په ولسوالۍ کې پر سرحدي پوستو بريد وکړ او سقوط يې کړې، کله چې د ځاځي ميدان ولس پرې خبر شو، نو ټول په ګډه د دې پر ضد ور ووتل، پوستو ته يې له سقوط نه نجات ورکړ او مخالفينو چې له پوستو نه کومې وسلې وړې وې، هغه يې ترې هم بېرته راوړې او هلته چې کله امنيتي ځواکونه ورسېدل، نو د مخالفينو مړي پراته و، چې له ولس سره په جګړه کې وژل شوي و.

بله پېښه د تنيو په ولسوالۍ کې رامنځته شوه، چې طالبانو ۲۷ تنه ماين پاکوونکي وتښتول، کله چې د دغې سيمې قومونه له دې خبر شول، نو ټول سره متحد شول، د سيمې ټولو خلکو په ګډه په ډېر لږ وخت کې دغه تښتوونکي محاصره کړل او ماين پاکوونکي يې ترې راخلاص کړل او ماين پاکوونکو بېرته خپل کار ته ادامه ورکړه.

دا د سولې د کاروان هغه لوېې لاسته راوړنې وې، چې ډېر ژر يې والي او د خوست خلکو بېلګې وليدلې، دې سفرونو د خوست ټول قومونه سره په يو مزي تړلي و او هغوی له نظام سره تعهد کړی و، چې دا يې ښکاره بېلګې وې.

دا د نعيمي لويه لاسته راوړنه وه، چې ټول قومونه يې له دولت سره يو ځای کړل، که په دې کې دولت ګټه ترلاسه کړه، نو تر هغې زياته ګټه دغو قومونو ته ورسېده، چې په سيمو کې يې سوله راغله، ثبات راغی، رغنيز کارونه پيل شول او ډېر تاسيسات په کې جوړ شول.

## د خوست له علماوو سره ښې اړيکې:

د ميدان وردګو ولايت په څېر په خوست کې د عبدالجبار نعيمي يو بل لوی کار دا وکړ، چې د خوست له علماوو سره يې ډېرې ښې اړيکې وپاللې، له هغوی سره يې ناسته پاسته وکړه او



**د مهال وېش سره د خوست له ديني علماوو او مخورو مشرانو سره ناستې کېدې، تر دې چې په دليزه توګه پلازمېنې ته د پروژو په تعقيب پسې استول کېدل**

د هغوی اصلاحي انتقادونو ته يې غوږ کېښود.

د جوماتونو او مدرسو د جوړولو او ترميم لپاره يې سوداګر وهڅول او په دې لړ کې يې د سوداګرو په مرسته په لسګونه جوماتونه جوړ کړل.

عبدالجبار نعيمي د تڼيو په ولسوالۍ کې په خپل شخصي لګښت د عيدګاه جومات په شپږ جريبه ځمکه کې جوړ کړ، چې په يو وخت په کې ١٦٠٠٠ لمونځ کوونکي ځايږي.

همدا راز نوموړی په لومړي ځل په خوست کې د مولوي ګلاب شاه حقبين کور ته ورغی. مولوي ګلاب شاه حقبين، چې ډېر پاک او سپېڅلی او د خوست جيد ډېر لوی عالم و، د جهاد په وخت کې لوی قوماندان تېر شوی و.



خوست والي عبدالجبار نعيمي د هېواد په کچه وتلي ديني عالم مولوي ګلاب شاه حقبين پوښتنې ته ورغلی

کله چې والي د ده کور ته د ورتلو پرېکړه وکړه، کشفي ارګانونو ورته وويل، چې موږ پر دې سړي شک لرو، چې دی مخالفين ساتي، مرستې ورسره کوي او په شا و خوا ساحه کې ماينونه ښخوي، خو والي دا ټولې خبرې يو خوا وغورځولې او د هغه ليدو ته کور ته ورغی، کله چې والي له هغه سره د هغه په کور کې ناسته وکړه، نو تر هغه وروسته امنيتي ځواکونو والي ته وويل، چې په رښتيا هم د ده په اړه چې کوم راپورونه راغلي و، ټول غلط و.

امنيتي ځواکونو ورته وويل: ((ستا دا اقدام زموږ لپاره ستره لاسته راوړنه ده، ځکه چې موږ دلته شک درلود او هره ورځ مو دا فکر کاوه چې دلته عمليات ترسره کړو، خو که موږ داسې کار کړی وای، نو موږ به له خپلو علماوو سره په جنګ اخته شوي وای.))

والي ورته وويل: ((کله به هم داسې وخت رانشي، چې زه دلته موجود يم او له يوه ديني عالم سره به داسې کار ترسره شي، چې هغه پرې خوابدی شي.))

عبدالجبار نعيمي د ميدان وردگو په ښار خوست کې هم له علماوو سره ډېرې نږدې اړيکې درلودې. د هغوی په پروګرامونو کې به يې برخه اخيسته، هغوی به يې پروګرامونو ته رابلل، خپل کور ته به يې دعوتول، ناستې به يې ورسره کولې، د هغوی انتقادونو ته به يې غوږ نيوه.

له دوی سره په ناستو کې به يې رسنۍ منع کولې، تر څو دوی د خپل زړه خبرې په ازادانه ډول وکړي او له وېرې پرته خپلې خبرې د ولايت رهبرۍ مخې ته کېږدي.

نعيمي وايي: ((خوشحاله پر دې يم، چې له علماوو سره په ناسته کې چې به کوم انتقادونه کېدل، نو دا به هم اصلاحي انتقادونه و، له هغوی سره زما مينه او ناسته ولاړه، د هغوی د ولسي او ملي يووالي او پرمختګونو حمايت او ملاتړ و، نو واقعاً ما وکولای شول، چې ډېرې د ابادۍ دروازې پرانيزم.))

## عامه پوهاوی او فکري رغونه:

عامه پوهاى يا ذهن جوړونه يوه ډېره مهمه تګلاره ده، ځکه چې په کومو هېوادونو کې ولس عامه پوهاوی لري او ذهنونه يې جوړ شوي، نو هغوی تل هڅه کوي چې خپل دولت ته ګټه ورسوي، ځکه دولت او حکومت هم د خلکو وي، که دې ته زيان رسيږي نو ولس ته زيان رسيږي.

نو په دې لړ کې د ولس ذهن جوړونه ډېر مهم کار دی او ډېرى هېوادونه په دې لړ کې له خپلو وسايلو کار اخلي او ولس ته عامه پوهاوی ورکوي. په خوست کې هم والي په دې لړ کې ډېر کار وکړ، تر څو د خوست ولس او ځوانانو ته عامه پوهاوی ورکړي.

په دې لړ کې والي له ژورنالېستانو، مدني فعالانو او ځوانانو سره ډېرې ناستې وکړې او په



د خوست ولايت خبرياالان او د مدني ټولنو غړي له خوست والي سره په يوه ګډ انځور کې

دې لړ کې ډېرې غونډې هم ترسره شوې. والي به تل د خوست ژورنالېستانو ته دعوت ورکاوه، چې راشئ ناستې وکړو او پر هغو لارو خبرې وکړو، چې د ټولو په کې ګټه وي. والي به د دوی

خبرې اورېدې، بيا به يې ورته خپل گزارش ورکاوه او له هغه وروسته به يې په ځانگړو برخو کې له دوی سره خبرې کولې. والي به دوی ته ويل، کوم قومونه چې جنگونه کوي، نو د هغوی په اړه بايد تاسو څه ډول خبرونه خپاره کړئ، بايد هېڅ وخت داسې يو خبر خپور نه شي، چې پلاني قوم پر پلاني قوم برى ترلاسه کړ، بلکې دې ته دې زور ورکړل شي، چې دا جنگ ښه کار نه دی او بايد قومونه له دې جنگونو تېر شي او په سوله کې ژوند وکړي.

له ژورنالېستانو غوښتنه وشوه، چې د غصب پر ضد مبارزه کې دې له ولايتي رهبرۍ سره يو ځای ودرېږي، تر څو د غصب مخنيوی وشي او په دې کې د ولس او ټولنې گټه ده. والي به په مياشت کې حتماً يو ځل له ژورنالېستانو، مدني فعالانو، ليکوالو او ځوانانو سره ناسته کوله، تر څو ټول په شريکه مسووليت اداء کړي او د خلکو ذهن جوړونه وکړي.

د عامه پوهاوي لپاره نه يواځې دا چې له ژورنالېستانو او مدني فعالانو سره ناستې وشوې، په دې لړ کې د ((ملي احساس)) په نامه ورځپاڼه او مجله هم خپرېدله، له دې پرته د راډيوگانو، ټلويزونونو او ويبپاڼو نه هم گټه واخيستل شوه او د عامه پوهاوي لپاره به رسالې هم خپرېدې، تر څو ولس عامه پوهاوی ترلاسه کړي او ذهن جوړونه يې وشي.

## چاپي فعاليتونه:

خوست کې د عبدالجبار نعيمي په وخت کې په چاپي ډگر کې هم ډېر لوی کار وشو، که يو خوا په ولس کې د عامه پوهاوي د خپرولو او ذهن جوړونې لپاره له رسنيو کار اخيستل کېده، نو بل خوا په لومړي ځل په خوست کې د والي په هڅو د ((ملي احساس)) په نامه ورځپاڼه خپريدل پيل شول، چې څلور کاله يې حمايه کړه او په خوست کې هره ورځ چاپ او خپرېده.




**په خوست کې په لومړي ځل د ((ملي احساس)) په نوم ورځپاڼه د خوست والي په مالي او معنوي ملاتړ خپره شوه**
**خوست والي د ((ملي احساس)) ورځپاڼې د خپرېدا د لومړۍ کليزې په وياړ غونډې ته وينا کوي**

په دې ورځپاڼه کې تقريباً اووه ويشت تنو کار کاوه، چې لومړی مسوول مدير يې نجيب الله الوخېل و، وروسته د دې ورځپاڼې مديريت د سپين گل روان نورزي په غاړه شو، چې تر اخره

يې دوام ورکړ.

د دې ورځپاڼې لومړۍ ګڼه د مرغومې پر څلورمه کال ۱۳۸۹هـ ش کې خپره شوه، چې له زرو زياتې ګڼې يې چاپ او خپرې شوې دي او دا لومړی ځل و، چې په خوست کې يوه ورځپاڼه په داسې ښه او منظم ډول چاپ او خپره شوې ده.

د ورځپاڼې چلول يو له ډېرو سختو کارونو څخه دي، خو دلته په خوست کې د والي په مرسته په ډېرې کاميابۍ دې ورځپاڼې خپل فعاليت ته دوام ورکړ او ډېرې لاسته راوړنې يې درلودې.

له دې سره سره به په خوست کې د ((ملي احساس)) په نامه يوه مياشتنۍ مجله هم چاپېده، چې هره مياشت به يې نه يوازې د خوست په اړه ليکنې، بلکې د هېواد د مشهورو ليکوالانو ليکنې هم خپرولې.

د ((ولس ارمان)) په نوم يوه بله مجله هر مياشت چاپېده او په وسيله به يې ولس د دولت او ولايتي اداري له کارونو خبرېده او هم يې د عامه پوهاوي په لړ کې خپله رغنده ونډه لرله.



خوست کې د ملي احساس ورځپاڼې کار کوونکي او لوستونکي

له دې پرته د خوست پېژندنې په اړه کتابونه وليکل، چاپ او خپاره شول. له هغه پرته يو شمېر نور کتابونه، چې د بېلا بېلو ليکوالو و، هم چاپ شول، ورسره وخت نا وخته رسالې چاپېدې، چې د عامه پوهاوي او د ولس د ذهن جوړونې په برخه کې يې ډېره ګټه کوله.

په چاپي ډګر کې هم عبدالجبار نعيمي لوی لوی کارونه ترسره کړل او يو غوره ميراث يې تر شا پرېښود.

## د مقدسو پېغامونو لوحې:

موږ ټول مسلمانان يو او اسلام موږ ته د امن، ورورولۍ او زغم درس راکوي. موږ ټول مسلمانان يو او اسلام موږ ته د امن، سولې، يووالي، صبر او زغم درس راکوي، له بده مرغه په خوست ولايت کې قومي شخړې، د ځمکو پر سر لانجې، شخصي بدۍ، ناحقې دعوې او نورې داسې کړنې موجودې وې، چې ولسي هوساينې، امن، پرمختګ او يووالي ته يې زيان رسولی و، اړتيا وه چې مقدس پېغامونه ولس ته ورسول شي.

موږ ته خو په کار دا دي، چې د قرآن پاک نه لارښوونه واخلو، په هغه لارښوونه خپل ژوند روان کړو او د خپلو خلکو اصلاح پرې وکړو، خو دلته ځينو خلکو قرآن پاک يواځې او يواځې د قسمونو خوړلو لپاره ځانګړی کړی و.

نو په دې خاطر د خوست په بېلا بېلو واټونو کې د خلکو د ذهن جوړونې او د غلطو کارونو د مخنيوي په خاطر د مقدسو پېغامونو لوحې ولګول شوې، چې ورسره به پښتو ژباړه هم وه.




عامه پوهاوی فکرونه روښانوي پر همدې بنسټ د خوست په مرکز او ولسواليو کې په لسګونه پيغام رسونکي لوحې نصب شوې

لوحو د ژوند د هرې برخې په اړه پېغامونه درلودل چې ډېرې مثبتې پايلې يې درلودې.

## خوست کې د پلونو جوړول:

خوست کې د پلونو جوړول یو له ډېرو مهمو کارونو څخه و، ځکه دلته سیندونه او خوړونه زیات و او د پلونو نشتوالي د خلکو په تگ راتگ کې ستونزې راولاړې کړې وې، چې د بارانونو په وخت به خلک له یو ځای څخه بل ځای ته نه شو تلای او د تگ راتگ لارې به یې تړل شوې وې.

یوه ورځ د خوست یو پخوانی والي عبدالقیوم خان، والي ته راغلو او د ملاقات پر وخت یې ورته ډېر په مینه وویل: ((له ما څخه په خپل وخت کې یو کار پاتې شوی، که دا راته تکمیل کړې.))

نعیمي ورته وویل: ((خان صاحب! مهرباني وکړئ، کوم کار دی؟))

هغه ورته وویل: ((د لکنو پُل جوړول غواړي، ما په خپل وخت کې ونه شو کولای چې جوړ یې کړم، او د دې پُل جوړولو ته ډېر زیات ضرورت دی، ځکه چې کله باران وشي او دلته اوبه راشي، نو بیا د تگ راتگ لارې بندې شي، نو په دې لړ کې مې ستاسو همکاري په کار ده.))

له هغه وروسته د نادر شاه کوټ ولسوالۍ یو تن حاجي جمعه نور، والي ته راغی او هلته یې ترې د پُل جوړولو غوښتنه وکړه.



خوست والي د لکنو پُل د افتتاح پټی پرېکوي

یوه ورځ والي دلته د پلونو جوړولو اړتیا په خپلو سترگو ولیده، چې په خوست کې په ځینو ځایونو کې پلونه جوړول څومره مهم او اړین دي، کله چې نوموړی یوه ورځ د متون د بلالي صاحب مدرسې سره نږدې اوبه ولیدلې، چې راغلې وې او د تگ راتگ لار یې د خلکو په مخ بنده کړې وه، داسې یو خراب حالت رامنځته شوی و، چې د یوې خوا خلک بلې خوا پاتې شوي و او یو ورور یو خوا پاتې و او بل، بلې خوا ته، پلار یو خوا پاتې و او زوی ترې بلې خوا ته، نو له هغه وروسته والي کلک تصمیم ونیو، چې په دې لړ کې خپل ټول امکانات په کار واچوي او اساسي کار ترسره کړي.

والي وروسته له دې يو ټيم وټاکه، چې هغوی په خوست ولايت کې هغه ټول ځايونه وګوري، چې د پلونو جوړولو ضرورت پکې وي، د هغو يو لېست جوړ کړي او دې ته لومړيتوبونه ورکړي. والي پر دې ټيم ډېر ټينګار وکړ چې په دې لړ کې څومره ژر کېدای شي، چې کارونه ترسره کړي او د خلکو د تګ- راتګ د اسانتيا لپاره پلونه جوړ شي.

لومړی پُل په نادر شاه کوټ ولسوالۍ کې جوړ شو، چې په درو مياشتو کې يې کار بشپړ شو. دا پُل يواځې د پياده تلونکو راتلونکو لپاره و، بايسکل او موټرسايکل هم پرې تلای- راتلای شول او د دې ځای خلکو ته يې ډېره ګټه وکړه، ځکه چې شپږ سوه ماشومان به هره ورځ مکتب ته تلل او د سيلابونو په وخت کې به بيا مکتب ته له تللو پاتې و، اوس هغوی په هر وخت کې



د خوست والي د ځانګړې توجه پر اساس د فارم باغ پُل جوړ شو، چې ډېرې سيمې يې سره وصل کړې

کولای شول چې خپلو ښوونځيو ته ولاړ شي. له دې پرته پر دې پله له دواړو خواو نه ډېرو خلکو تګ راتګ کاوه او ډېر خلک د دې پله پر جوړولو له ستونزو وژغورل شول.

د خان صاحب عبدالقيوم خان ورور وفات شوی و، چې حاجي اسماعيل جان نوميده، کله چې نعيمي د مرحوم فاتحې ته ورغی، نو هلته يې وليدل چې اوبه ډېرې زياتې دي او يو وخت خو ورسره دا ډار هم پيدا شو، چې اوبه يې موټر يو نسي. نعيمي په دغه ځای کې خان صاحب ته بيا يادونه وکړه، چې هر څومره ژر کېږي پر دې پله به کار پيلوي. له هغه يې غوښتنه وکړه چې په دې لړ کې ورته دعاوې وکړي، تر څو خدای[ج] توفيق ورکړي چې دا پُل ژر تر ژره جوړ شي، نو دغه و چې د ولايت په هڅو او کوښښونو د لکونو د پله ډبره هم کېښودل شوه، خو کله چې پُل جوړ شو، نو د خانصاحب نصيب يې په ليدو کې نه و او هغه د پله له بشپړېدو مخکې په حق ورسېد، خو نعيمي د هغه ارمان سر ته ورساوه.

دا پُل د غبرګولي پر ۹مه، ۱۳۹۳ لمريز کال کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. د پله جوړېدو سره ښار ته د لکنو د خوړ د هغې غاړې د زرګونو خلکو د تګ راتګ اسانتيا برابره شوه.

دا پُل د نړيوال بانک له لوري د فوايد عامې رياست په چوکاټ کې د شا و خوا يو ميليون

امریکايي ډالرو په لګښت جوړ شوی و، چې ۱٤۰ متره اوږدوالی او ۸ متره سور يې درلود او په يوولس مياشتو کې تکميل شو. له رسنيو سره په خبرو کې په دې اړه والي وويل: ((د لکڼو د زکوخېلو د پله جوړېدل د دې سيمې د خلکو تر ټولو لومړنۍ او اساسي غوښتنه وه او له دې وروسته به د هغو خلکو تر ډېره ستونزې حل شي، چې لاره يې پرې تېرېږي.))

د سيمې يو قومي مشر محمد قيوم خان هم رسنيو ته په خپلو خبرو کې وويل: ((د پله تر جوړېدو مخکې له خوړ څخه د تېرېدو پر مهال له ډېرو ستونزو سره مخ و، چې د سېلابونو د راتلو پر مهال به ساعتونه، ساعتونه د خوړ دواړو غاړو ته سلګونه خلک بند پاتې و او آن ناروغان يې پر



د سيګۍ پُل لومړی په دې حالت کې و، چې خلکو به پرې د پيسو په بدل کې ټګ راټګ کاوه، چې وروسته په اساسي ډول جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو

................................

وخت روغتون ته نه شو رسېدای چې د ده په خبره اوس د پله په جوړېدو سره دغه ټولې ستونزې حل شوې.))

همدغسې د فارم باغ پُل، د ايوب خېلو پُل، د عليشېرو پُل، تنيو پُل، د متون پُل او په متون کې د بلالي صاحب د مدرسې سره هم پُل جوړ شو.

په خوست کې د نعيمي په وخت کې ۲۸ پلونه په پلان کې نيول شوي و او دې ټولو پلونو ته يې داسې پلان جوړ کړی و، چې ټول بايد تر ۲۰۱۸ز کال پورې سر ته ورسوي. ډېری پلونه د هغه په وخت کې او ځينې يې تر هغه وروسته بشپړ شول.

## له سیلاب نه خلک ژغورل:

دا هم د عبدالجبار نعیمي په ژوند کې یوه مهمه ورځ وه، په خوست کې به والي هره اونۍ یوه امنیتي غونډه کوله، چې به په کې له داخلي امنیتي مسوولینو سره د بهرنیو ځواکونو مسوولینو هم برخه اخیسته.

پر دغه ورځ هم د متون په تپه کې د همغږۍ په دفتر کې امنیتي غونډه روانه وه، چې په کې د داخلي امنیتي مسوولینو سربېره خارجي امنیتي مسوولین هم ناست و. غونډه روانه وه چې والي ته يې سکرتر خبر راوړ، چې سېلاب راغلی او ډېر زیان يې خلکو ته رسولی دی، ډېر خلک يې وړي دي، خو ځیني خلک اوس هم په سېلاب کې بند پاتې دي، پر کومو ځایونو چې سېلاب راغلی و، د دې په منځ منځ کې ځینې ټاپوګان و، چې په دې کې خلک بند پاتې و او د سیلاب اوبه ورو - ورو زیاتېدې، نږدې و سېلاب يې یوسي.

سېلاب ډېر خطرناک و او څه خلک يې له ځان سره وړي و، چې پکې نارینه، زنانه او ماشومان و، ډېرى تاوان يې خلکو ته رسولی و او ډېر څه يې ویجاړ کړي هم و، خلکو له ولایتي اداري غوښتنه کوله چې دا کوم خلک چې په ټاپوګانو کې بند پاتې دي، دوی دې وژغورل شي.



خوست زیات بارانونه او سیلابونه لري، چې همیشه لارې بندوي، همدا لامل دی چې په دغه ولایت کې ستر پلونه جوړ شول

والي امنیتي ځواکونو ته وویل: ((څومره امکانات چې تاسو سره وي، په کار يې واچوئ او دا خلک وژغورئ.)) خو کله چې داخلي امنیتي ځواکونو دا هر څه ولیدل، نو والي ته يې وویل، چې نه شي کولای بندو خلکو ته ځان ورسوي، ځکه که هلته موټرې ورولي، نو اوبه يې وړي. په دې وخت کې والي له خارجیانو نه غوښتنه وکړه، چې له چورلکو نه استفاده وکړي او دا خلک وژغوري، خو خارجیانو والي ته وویل، چې د دې کار لپاره له چورلکو نه کار نه شي اخیستلای.

والي د پي آر ټي قوماندان ته وويل: ((زه مسووليت لرم چې د دغو خلکو ژوند وژغورم، پر تا غږ کوم چې منحيث د يو بشري قوت عمل وکړه. چورلکې يواځې د جنګ لپاره نه دي او نه هم امنيتي ځواکونه يواځې د جنګ لپاره دي، دا د انسانانو د ژوند د ژغورلو لپاره هم دي، که د هر چا اجازه ستا په کار وه، زه ورته وايم، خو دا کار بايد چې وکړې.))

د والي خبرو د پي آر ټي پر قوماندان ډېر مثبت تاثير وکړ، هغه يو ځای ته ټيليفون وکړ او له هغه چې بېرته راغلو، نو والي ته يې وويل: ((زموږ چورلکې اماده دي.))

دا نو لومړی ځل و چې داسې يو کار ترسره کېده، ځکه د ايتلاف ځواکونه يواځې د جنګ په ډګر کې بوخت و، خو په خوست کې په لومړي ځل د ايتلاف چورلکې د خلکو ژوند ژغوري. ډېر زيات خلک لاندې ولاړ دي او دا هر څه په خپلو سترګو ويني او د ايتلاف د ځواکونو په دې کار ولس ډېر خوشحاله شو.

د ايتلاف ځواکونو وکولای شول، چې د سېلاب په منځ کې په ټاپوګانو کې بند ټول خلک له مرګه وژغوري او وچې ته يې راوباسي.

پر دې ورځ کورنيو او بهرنيو ځواکونو په ګډه څه کم سل کسان له سېلابه وژغورل او ژوند يې ورته خوندي کړ. د خوښۍ خبره دا هم وه، چې په دغو بندو کسانو کې ځينې خلک داسې هم و، چې د کور ټول بار يې په اوږو پروت و، خدای مه کړه که دا خلک سېلاب وړي وای، نو له يو کس سره به يې ټوله کورنۍ هم تباه شوې وای.

دا د والي د ښه مديريت پايله وه، چې په داسې وخت کې يې نور هر څه پرېښودل او ټول ځواکونه يې دې ته چمتو کړل، چې په سېلاب کې بند انسانان وژغوري. دې کار په امنيتي ځواکونو، نظام او پر ولايتي اداري د خلکو باور او اعتماد زيات کړ او خلک پر دې پوه شول چې امنيتي ځواکونه او دولت چې هر څه کوي، د دوی د ګټې لپاره يې کوي او په هره سخته کې دوی سره جوخت ولاړ دي، ځکه دلته هېچا هم دا تصور نه کاوه، چې د ايتلاف چورلکې دې راځګې شي او يو، يو تن ته دې نجات ورکړي.

نعيمي وايي: ((دلته يو تشويش هم موجود و، چې دښمن ممکن له دې نه غلطه استفاده هم کړې وای، خو ولې ما د ايتلاف ځواکونو د دې کار سخت تقدير وکړ، ځکه چې دا ډېر پر ځای کار و، چې دغه خلک وژغورل شول.))

## د لويو لارو د جوړېدو معما:

د خوست – ګردېز لاره او د خوست – غلام خان لاره، چې دواړو لويو لارو، دافغانستان او په تېره د خوست خلکو لپاره ډېر زيات اهميت درلود، خو دې دواړو لارو د يوې معما شکل خپل

کړی و، ځکه چې له تېرو پنځلس کلونو راهيسې د دې لارو جوړېدل سر ته نه رسېدل.

کوم شرکت چې له غلام خان نه د خوست ولايت تر مرکز پورې لاره جوړوله، تر ۲۰۱۰ز کال پورې چې يې څومره لاره جوړه کړې وه، هغه ډېره بې کېفيته وه. دلته چې کوم ساختماني شرکت کار کاوه، پر ځای د دې چې خپل ساختماني کار ترسره کړي، دوی دلته يو جنګي حالت رامنځته کړی و.

دا يو خارجي ساختماني شرکت و، چې مسوول يې په خپله نعيمي ته رسمي راپور ورکړی و. د راپور له مخې، د دوی دلته ۳۹ وسايط او ۱۳ انجنيران له منځه تللي و او پر دوی ٤٦٢ بريدونه شوي و.

کله چې والي پوه شو چې دا خلک دلته کار په سمه توګه سر ته نه رسوي او مشکلات جوړوي، نو له مرکزي ادارې نه يې غوښتنه وکړه چې دا شرکت دې نور دلته له کار کولو منع کړي او د دوی کار دې بند کړل شي، ځکه چې دا يو خارجي شرکت دی، ستونزې لري او نه شي کولای چې دلته کار وکړي.



**د خوست-ګردېز د سرک د جوړېدو نوی حالت، خوست والي د دغه سرک د کار تکميل خپل لومړيتوب بللو او همېشه يې د يادې پروژې د کارونو پوښتنه کوله**

بالاخره والي په خپلو ځانګړو هڅو او خاصو رسيدګيو پر دې بريالی شو، چې په دې ساختماني شرکت کار بند کړي او نور يې کار ته پرې نه ږدي.

د دې سړک جوړېدل ودرېدل. خارجيانو پيسې هم نه لرلې چې پر سړک يې مصرف کړي، خو د والي په ځانګړو هڅو له غلام خان نه تر خوست ښاره پورې او له خوست ښار نه تر ګردېزه

پورې د دې سړک قیریزي وشوه.

والي د دې سړک په جوړولو کې چې څومره هڅې او تلاشونه کړي، هغه له دې هم ښکاري چې دوه شپېته ملاقاتونه یې له مرکزي ادارې، ځینو خارجیانو او امریکایانو سره د دې سړک د جوړولو لپاره کړي دي.

د دې سړک موضوع ډېره مهمه پر دې وه، چې یو خوا دا اقتصادي لار وه، بله دا چې د خوست تر ټولو مهمه لاره هم دا وه او د خوست د خلکو ارزو وه چې دغه لاره دې جوړه شي، ځکه دوی د دې لارې د خرابېدو له امله ډېر په تکلیف و او ډېر ځورېدل.

د دې لارې د جوړولو لپاره مالي بودیجه د امریکا حکومت ورکړه، قراردادونه هم دوی په خپله وکړل او د دې هر څه د نظارت او کنټرول لپاره هم دوی مسوولیت پر غاړه واخیسته، ځکه چې دوی دلته ځانګړي انجنیران راوستي و، نو د هغوی نظارت او کنټرول هم دوی کاوه.

دا د والي لپاره د بریا خبره ځکه وه، چې په تېرو پنځلس کلونو کې د دې لارې د جوړېدو ستونزه روانه وه او هغه بیا په خپلو ځانګړو تلاشونو او هڅو وکولای شول چې په اخري وخت کې دا لار جوړه کړي.



**د خوست-ګردېز سړک پخواني حالت**

د یادونې ده چې د دې لارې په جوړولو کې د دغه ځای ځینو خلکو ډېر خنډونه هم رامنځ ته کول، ځکه ځینې وخت به خلک راتلل او ویل به یې چې زما دوکان په کې راغلی، ماته یې پیسې راکړئ، چا به ویل زما ځمکه په کې راغلې ده، چا به یو څه او چا بل څه ویل، خو د دې خلکو هېڅ پیسې نه جوړېدې او خلکو یواځې او یواځې په دې ډول د لارې په جوړولو کې خنډونه رامنځ ته کول.

## د شېخ زايد پوهنتون لسمه کليزه:

د خوست والي په ځانګړو هڅو د شېخ زايد پوهنتون د لسمې کليزې پروګرام د سې شنبې پر ورځ، د اپريل پر ۳مه په ۲۰۱۲ز نېټه جوړ شو.

د کليزې د نمانځلو په دې پروګرام کې د خوست والي ترڅنګ د هېواد وتلو ليکوالو، ملي سوداګرو او په هېواد کې ملي فرهنګي ټولنو استازو، ژورنالېستانو، په ولسي جرګه کې د خوست د خلکو استازو، د پوهنتون استادانو او ګڼو خوست مېشتو او د پوهنتون محصلينو ګډون درلود. له دې پرته والي په ځانګړې توګه د متحده عربي اماراتو څخه هغه افغان سوداګر هم دې کليزې ته رابللي و، چې په دغه هېواد کې ژوند کوي.

د شېخ زايد پوهنتون دا لسمه کليزه په ډېره ښکلې بڼه ونمانځل شوه، چې هم راغلي مېلمانه خوشحاله و او هم د پوهنتون استادان او محصلين خوشحاله و. والي غوښتل چې د دې



**د شېخ زايد پوهنتون د لسمې کليزې د نمانځونډې د برخوالو يو انځور چې د هېواد په کچه مخکښ مشران په کې ليدل کېږي**

کليزې په نمانځلو څو پيغامونه ټولو هېوادوالو او د متحده عربي اماراتو حکومت ته ورکړي.

هغه د متحده عربي اماراتو حکومت ته دا پيغام ورکول غوښتل، چې دوی له افغانانو سره کومه مرسته کړې ده، د دوی لپاره ډېره د قدر وړ ده، چې دلته ترې په زرګونه محصلينو ته ګټه رسېږي او دوی به په هر صورت دا په ډېر ښه ډول ساتي.

بل والي غوښتل چې ټول هېواد ته دا پيغام ورکړي، چې خوست اوس هغه ولايت نه دی، چې هره ورځ به په کې چاودنې کېدې او څوک به په په ښار کې په ډاډه زړه نه شول ګرځېدای، خوست اوس داسې يو ولايت دی چې ډاډمن امنيت لري او سوله په کې تامين شوې ده.

له دې سره سره ټولو ته دا پيغام هم ډېر مهم و، چې په خوست کې اوس تعليمي بهير ډېر پرمختګ کړی او د خوست ولسونه اوس په هر حال غواړي چې پر خپلو اولادونو زده کړې وکړي

او دلته له زده کړو سره مينه زياته شوې ده.

والي دا هم غوښتل چې د متحده عربي اماراتو حکومت ته ووايي، چې هغوی لس کاله مخکې کوم تعميرونه جوړ کړي او کومه مرسته يې کړې، هغه ډېره د قدر وړ ده، خو که د متحده عربي اماراتو حکومت په خوست کې د تعميرونو جوړولو په لړ کې نوره مرسته وکړي، نو د خلکو د ګټې سبب به شي، ځکه دلته ډېرو تعميرونو ته اړتيا شته، چې د متحده عربي اماراتو حکومت بايد په دې لړ کې مرسته وکړي.

د کليزې په پروګرام کې د افغانستان له ملي بېرغ سره يو ځای د متحده عربي اماراتو بېرغ هم راځوړند و او د ولسمشر حامد کرزي له انځور سره جوخت د متحده عربي اماراتو د پاچا عکس هم لګېدلی و، تر څو د متحده عربي اماراتو حکومت ته يو خاص او ځانګړی پيغام ورکړل شي، چې وروسته دا هر څه په چاپي ډول هم د متحده عربي اماراتو حکومت ته ورکړل شول.

د دې غونډې په ترسره کولو هغو افغان سوداګرو ته هم پيغام ورکړل شو، چې په متحده



خوست والي عبدالجبار نعيمي د شېخ زايد پوهنتون لسمې کليزې برخوالو ته د وينا پر مهال

عربي اماراتو کې مېشت و او هلته يې کاروبارونه کول، چې هغوی هم له خپل ولس سره په ځينو برخو کې خپلې مرستې او کومک وکړي.

دې غونډې ډېره ښه پايله ورکړه، ځکه چې پوهنتون ته له ډېر وخت راهيسې سمه پاملرنه نه وه شوې او په ډېرو برخو کې ورته مالي ضرورت و، نو دلته غونډه کې برخه اخيستونکو له پوهنتون سره نغدي مرسته وکړه او د پوهنتون رييس ښاغلي وليزي ته تقريباً شپاړس - اوولس سوه زره افغانۍ راټولې شوې، چې د پوهنتون ځينې ستونزې پرې حل کړي.

بل په دې پوهنتون کې د نجونو ليليې ته ضرورت و، چې والي په خپلو هڅو او تلاشونو په

دې پوهنتون کې د نجونو د ليليې لپاره يو لوی تعمير جوړ کړ، چې هم يې د ډوډۍ خوړلو خونه لرله، هم يې تدريسي اتاقونه او هم په کې د اوسېدنې لپاره اتاقونه موجود و.

والي د مرکزي حکومت او په خاصه توګه د لوړو زده کړو وزارت نه غوښتنه وکړه، چې دې پوهنتون ته ځانګړې پاملرنه وکړي او دلته د شرعياتو پوهنځی جوړ کړي، تر څو د خوست ولس ته د زده کړو په برخه کې نورې اسانتياوې هم په برخه شي، چې خوشبختانه د شرعياتو د پوهنځي لپاره دا تعمير هم منظور شو.

له دې کليزې وروسته، متحده عربي اماراتو خوست ولايت کې د پوهنتون او جوماتونو جوړولو برخو کې لېوالتيا وښوده او خوست والي سره يو شمېر استازو هم ليدنه وکړه.

## د ژوند څلی:

د پوهنتون يو محصل، چې داود افغان نومېده او د هلمند اوسېدونکی و، والي ته راغی او غوښتنه يې وکړه، که ورسره مرسته وکړي، نو غواړي چې د پوهنتون مخې ته يو څلی جوړ کړي.

والي ورته وويل: ((څه ډول څلی جوړوې؟))

محصل ورته وويل، چې نقشه او ډيزاين يې زه جوړوم او نوره مرسته راسره تاسو وکړئ، کله چې والي د دې هلک احساساتو، مينې او وطندوستۍ ته وکتل، نو د هغه وړانديز ته يې هرکلی ووايه.



د ژوند څلی د نوښتګرو ځوانانو د هڅو او د والي په ملاتړ جوړ شو ښکلی او دنګ څلی دی پر هر ديوال يې يو پيغام ليکل شوی دی

کــــه نويـــــو اســتعدادونو تــه داړ ورکړل شي او د هغوی په نوښتونو کې ورسره مرسته وشي، نو افغان ځوانـان ډېـر نوښـتونه کـولای شي، چــې پــه دې نوښـتګرو ځوانـانو کې يو دا ځوان هـم و، چې پـه خپلـه د شېخ زايد پوهنتون محصـل و.

څلي يو ښه پيغام لرلو چې والي ته ډېر په زړه پورې و، دې څلي کې تاريخ خوندي کېده،

ژوند ته پام وراوښته او له دې سره، سره د ابادۍ نښه هم وه او د شېخ زايد پوهنتون ترڅنګ يې خوست ښار ته هم ښکلا ورکوله، نو په دې خاطر هم والي له دې محصل سره په دې کار کې د مرستې کولو پرېکړه وکړه.

والي په خوست کې پر يو ملي سوداګر غږ وکړ، چې دا محصل يو ډېر ښه کار ترسره کوي، که ورسره مرسته وکړي، نو هغه سوداګر د ځلي جوړولو کې مرستې ته غاړه کېښوده. دې محصل وکولای شول چې يو ښه، ښکلی او په زړه پورې ځلی جوړ کړي، په دې ځلي کې د افغانستان د مخورو مشرانو، ولسمشرانو او استادانو تاريخ خوندي شو او يو ډېر ښکلی پيغام يې هم ولس ته ورکړ. له دې سره والي د دې ځلي شا و خوا ټول سړک هم قير کړ.

کله چې دا ځلی جوړ او افتتاح شو، نو له هغه وروسته به خلک د ځلي ننداري ته راتلل، له ځلي سره به يې انځورونه اخيستل.

نعيمي وايي: ((دا د يو ځوان غوښتنه وه او ما ورته هرکلی وواېه او رښتيا خبره ده چې دې ځوان دلته يو ښه ابتکار وکړ او د ولس لپاره يې ښه پيغام درلودونکی ځای جوړ کړ.))

## خوست دويمې درجې ته لوړول:

خوست ولايت تر دغه وخته پورې د دريمې درجې ولايت و، چې د لومړۍ او دويمې درجو ولايتونو په پرتله ورته پاملرنه کمه کېده. د خوست والي عبدالجبار نعيمي په دې لړکې هم خپلې هڅې او تلاشونه پيل کړل او پر هغو معيارونو يې کار شروع کړ، چې يو ولايت له دريمې درجې نه دويمې درجې ته لوړولای شي، چې دا ډېر سخت کار و.

څکه يو خوا خوست لېرې پروت ولايت دی، له بلې خوا يو سرحدي ولايت هم دی، نو دې ولايت ته ځانګړې پاملرنه په کار وه، بايد چې مرکزي ادارې ورته خاصه توجو کړې وای.

نعيمي وايي: ((دې ولايت ته بايد خاصه توجو وشي، دې ولايت ته مرکزي اداره بايد هغه امکانات په اختيار کې ورکړي، چې دا ولايت يو اباد او پرمختللی ولايت شي او يوه پياوړې او قوي اداره ولري.))

په دې لړ کې والي خپلې هڅې وکړې، چې دا ولايت دويمې درجې ته لوړ شي. د نوموړي هڅې ډېرې د ستاينې وړ دي، څکه چې يو وخت خوست کې نا امني، بې عدالتي زياته شوې وه، ادارې فلج وې او د ولس او دولت ترمنځ ډېره زياته فاصله رامنځ ته شوې وه، خو اوس خوست يو امن ولايت و، چې ولسونه يې هم دولت سره اوږه په اوږه ولاړ و، عدالت په کې ټينګ شوی و، ولايتي اداره قوي شوې وه، د بيا رغونې کارونه په کې ترسره شوي و او خلک په کې خوشحاله و.

د خوست ولايتي اداري د پرلپسې وړانديزونو، تلاشونو او د خوست ولايت د خلکو د غوښتنې سره سم وروسته له درو کلونو ولسمشر حامد کرزي د خوست ولايت ستراتيژيک موقعيت، اهميت، نفوس، ټولنيزو، پوهنيزو، اقتصادي، فرهنګي، تجارتي او په نورو برخو کې رامنځته شويو مثبتو پرمختګونو او بدلونونو ته په کتو سره له دريمې درجې څخه دويمې درجې ته د خوست ولايت د ارتقا حکم صادر کړ.

ولسمشر د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې اداري ته دنده وسپارله چې د سيمه ييزو ادارو د قانون له مخې اقدام وکړي او خوست ولايت دويمې درجې ته لوړ کړي.

له دريمې درجې څخه دويمې درجې ته د خوست ولايت په پورته کيدو سره د دغه ولايت ټول اداري تشکيلات لوړ، عادي او انکشافي بوديجه زياته، مالي او معنوي امکانات او امتيازات يې لوړ، په ملي شورا او ولايتي شوراګانو کې يې څوکۍ زياتې، په ملي بهيرونو کې يې ونډه پراخه شوه، په ملي او نړيواله کچه د مرستندويه ټولنو او نورو بنسټونو په محراق کې يې ځای پيدا کړ او دغه ولايت ته په هره برخه کې داسې امتيازات او امکانات ورکړل شو چې هم د ولسونو ستونزې پرې هوارې شوې او هم د خوست ولايت په مرکز او ولسواليو کې شته ټولو بنسټيزو غوښتنو مثبت ځواب پيدا کړ.

نعيمي وايي: ((په دې لړ کې چې ماسره چا هم مرسته کړې، زه له هغو ټولو مننه کوم.))

## کابل ته پلاوی لېږل:

کله چې عبدالجبار نعيمي خوست ولايت ته د والي په توګه راغی، نو په دغو وختونو کې دلته ډېر زيات کار ته اړتيا وه، دلته لارې خرابې او ناامني وه. خوست ولايت هوايي ډګر نه درلود، بيا رغونې ته ډېر ضرورت و، ابادي په کار وه، دولتدارۍ او حکومتولۍ کې ډېر څه ته ضرورت و او د پرمختيايي کارونو ترسره کول ډېر مهم و.

خوست ته د وزيرانو او نورو لوړ پوړو چارواکو راتګ هم ډېر کم و، نو والي په دې خاطر هر کال يو پلاوی ټاکه. د دې پلاوي لپاره به يې ټول امکانات برابرول او بيا به يې دا پلاوی کابل ته استاوه.

دې پلاوي کې به د ولايتي شورا وکيلان، مخور، قومي مشران، علماء او مدني بنسټونو ځينې غړي شامل و. والي به دوی ټولو ته پلان ورکړ، چې کوم وزارت ته به ځي او هلته به له هغوی څه غوښتنې کوي. د دې لپاره به يې اېډوکېسي کوله، خپل لومړيتوبونه به يې وزيرانو ته وړاندې کول او دا هر څه به يې بيا وروسته تعقيبول هم.

دا کار به والي په میدان وردگو کې هم د خپل مدیریت په وخت کې کاوه، خو دلته یې بیا دا کار په ډېره لویه سویه او په ښه ډول وکړ، دا د نورو لپاره هم یوه نمونه وګرځېدله، د دې کار نتیجه ډېره ښه وه، یو خو دا چې د خلکو له وزارتونو سره شناخت پیدا کېده، د خلکو له دولت سره مینه پیدا کېده او دولت به یې خپل ګاڼه، بل دا چې په دې کار د وزارتونو او ولایت ترمنځ اړیکې هم نږدې کېدې.

د دې کار بله ګټه دا هم وه، چې خوست کې به کومه پروژه هم پلې کېده، نو هر یو به ځان د دې پروژې مسوول ګاڼه، هر یو به ویل چې خوست ته د دې پروژې په راوړلو کې ما هم منډې



کابل ته استول شوی پلاوی د خپلو لاسته راوړنو راپور ولس ته وړاندې کوي

ترړې کړې دي، نو له دې سره دا کار وشو، چې پروژې به یواځې د دولت پروژې نه ګڼل کېدې، هر یو به دا فکر کاوه چې د ټولو ګډ ملکیت دی.

دا ډېر ښه او مثبت فکر و، د ولس او دولت د نږدې والي فکر و، ځکه دوی به چې هرچېرته کېناستل، نو خلکو ته به یې کیسې کولې، چې زه خو پلاني وزارت ته ولاړم، داسې احکام مې ترې واخیستل. مقصد د دې کار موخه دا وه چې خلک له دولتدارۍ سره بلد شي، خلک له نظام سره بلد شي، خلک د دولت له اصولو او مقرراتو سره بلد شي، خلک په دې پوه شي چې غوښتنه څنګه وکړي، خپل او د ټولنې مشکلات څنګه بیان کړي.

## خوست کې د پارکونو جوړول:

په خوست کې د نورو کارونو تر څنګ، لکه دا ډمن امنیت، د قومونو ترمنځ د شخړو حلول، بې عدالتي ختمول، ولایتي ادارې منظمول، د بیارغونې او ابادۍ کارونه په مخ وړل، له دې سره سره نعیمي په خوست کې له ځان سره دا فکر هم درلود، چې څنګه خلکو ته یو خوشحاله

چاپیریال جوړ کړي.

هر چاته که مامور وي، که سوداګر وي، که محصل وي او که مزدور وي او که بل څه کار کوي، هغه چې ټوله ورځ کار وکړي، نو د تفریح لپاره، د ارام لپاره او خوشحالۍ لپاره ورته داسې یو ځای په کار دی، چې لږ ساعت پکې په خوشحالۍ او تفریح تېر کړي.



خوست والي عبدالجبار نعیمي د ملي پارک د بنسټ ډبره ږدي

نو نعیمي د دې لپاره هڅه پیل کړه، چې په خوست کې دوه درې لوی لوی پارکونه جوړ کړي، نو یې د تفریحي پارک لپاره یوه ډېره لویه او ښه ساحه د متون په غونډۍ کې احاطه کړه، دېوال یې ترې چاپېر کړ، د دې لپاره پلان جوړ شو، سړک هم ورته جوړ شو چې په راتلونکې کې دلته یو لوی تفریحي پارک جوړ شي، خوشبختانه دا پارک، چې په ۲۰۰ جریبه ځمکه کې و د ۲۰۱۳ز کال په فبرورۍ کې افتتاح شو. دا پارک د خوست ښاروالۍ د انکشافي بودیجې څخه د ٤٩ میلیونه افغانیو په لګښت جوړ شو.

د پارک د پرانیستې پر مهال والي وویل: ((دغه تفریحي پارک مو په دې ولایت کې د سولې، امن، دوستۍ، یووالي، فکري رغونې او تمدن د بنسټونو د پیاوړتیا او ولس ته په همدې تړاو د څرګند پیغام استولو په خاطر جوړ کړی دی.))

والي په دې وخت کې د ښاروالۍ له چارواکو غوښتنه وکړه، چې د پارک د ښکلا د ساتلو لپاره دې د ونو بوټو ساتنې ته پوره پام وکړي.

له دې سره یو بل پارک د ((ملي پارک)) په نامه جوړ شو، چې ټول لګښت یې له نشه یي توکو سره د مبارزې له وزارت نه واخیستل شو. په دې پارک کې جومات، د لوبو ځایونه، د ګرځېدو ځایونه، د ناستې ځایونه موجود و او خلکو کولای شول چې له خپلو کورنیو سره پارک ته د تفریح لپاره ولاړ شي. د دوولس سوه فامیلیو په منځ کې چې د پارک لپاره کوم ځای غوره شوی و، د هغه احاطه هم جوړه شوه، چې هسې نه څوک یې غصب کړي، ځکه چې دا ځای د پارک لپاره ځانګړی شوی و، چېرته چې ښار جوړېږي، هلته د پارک جوړېدل حتمي دي. د نعیمي په هڅو په خوست کې ډېر پارکونه جوړ شول او د خلکو لپاره یې د تفریح ځایونه پیدا کړل.

## د لوبو وده:

د نړۍ په هر گوټ کې د انسان د روغتيا او خوښۍ په موخه پر سپورټ کولو ډېر ټينگار کېږي، خو بدبختانه زموږ هېواد کې دې برخې ته اړين پام نه دی اوښتی. نعيمي په خوست کې د خپل مديريت په موده کې د لوبو په برخه کې هم ډېر کار ترسره کړ، نه يواځې دا چې د ځوانانو لپاره يې پارکونه جوړ کړل. په خوست کې يې ځوانان ورزش کولو ته هم وهڅول. نوموړي په دې برخه کې اړينې هڅې او تلاشونه وکړل او په خوست کې يې د المان د ORD مؤسسې په مرسته د کرکټ نړيوال لوبغالی جوړ کړ.



خوست کې د فوټبال لوبغالی

نعيمي په خوست کې نه يواځې دا چې ځوانان تعليم او مطالعې ته تشويق کړل، بلکې دوی يې لوبو ته هم هڅول. ځوانانو ته يې دا پيغام ورکړ، چې دوی دې پر هغه لار ولاړ شي، چې په کې امن، يووالي او پرمختگ تضمين وي. د نوموړي په کاري دوره کې په خوست کې د نورو کارونو ترڅنگ سپورټ ته هم ډېر پام اړول شوی و.

## ولسمشريزو ټاکنو کې خوست ته نه پاملرنه:

افغانستان کې د ۲۰۱٤ز کال د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره، د ټاکنو له ورځې نه يو نيم کال مخکې په کابل کې په دې اړه غونډې پيل شوې وې، چې د نورو پلانونو ترڅنگ به په کې د کمپاينونو په اړه هم خبرې کېدې، چې کمپاينونه په څه ډول او چېرته وشي.

په دې غونډو کې به زياترو دا خبرې کولې، چې په لويو لويو ولايتونو کې به کمپاينونه کوو، لکه بلخ، کندهار، هرات او کابل او له هغه وروسته به بيا نورو ولايتونو ته وگورو.

کله چې نعيمي د خوست خبره وکړه، نو چا به هم د خوست نوم نه اخيسته، دوی به ويل چې د خوست خلک او ټاکنې لېرې خبره ده. نعيمي ته به دې خبرې ډېر زور ورکاوه، ځکه چې په خوست کې د ولس شعور ډېر لوړ و، د خوست والي له دولت او نظام سره مينه درلوده او پر

دې پوهېده چې له خپلو رايو نه ګټه واخلي او هغه د سم کانديد لپاره وکاروي.

د والي په هڅو د خوست په ولس کې دا شعور پيدا شوی و، خو والي غوښتل چې اوس د خوست د خلکو شعور ټول هېواد ته ښکاره کړي او ورته وښيي چې دا خلک له دولت او نظام سره څومره مينه لري او څومره په مينه به دوی په ټاکنو کې برخه اخلي.

والي پر دې فکر و، چې د خوست قومونو ته پيغام ورسوي، چې دوی د ټاکنو کارتونه واخلي. دا که څه هم ګران کار و، خو لکه څنګه چې والي له دې مخکې په پاکستان کې د حامد کرزي د ټاکنيز کمپاين مسوول پاتې شوی و، نو په دې کې يې ښه تجربه لرله.

والي د دې کار لپاره کميسيونونه وټاکل، چې دوی هرې ولسوالۍ ته ولاړ شي، له خلکو سره خبرې وکړي، هلته غونډې وکړي، خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي او خلکو ته ووايي چې په هېڅ ولسوالۍ کې هېڅ يو تن هم بې کارته پاتې نه شي، هغه څوک، چې د رايې ورکولو په شرطونو برابر وي، هغوی دې حتماً کارتونه واخلي.

په دې کې يواځې دا نه چې کميسيونونو کار وکړ، بلکې والي له قومي مشرانو، علماوو او مدني بنسټونو نه هم ګټه پورته کړه او خپل ټول قوت يې په دې لړ کې وکاراوه، ځکه چې والي په کابل کې ليدلي و، چې خوست ته هېچا هم توجو نه کوله، دوی يواځې داسې فکر کاوه، چې رايې په لويو ولايتونو کې دي او د خوست په څېر ولايتونو کې هېڅ رايې نشته.

کله چې کمپاين په ښه طريقه سرته ورسول شو، نو د خوست ډېرى خلکو د رايو کارتونه واخيستل، خو دا خبره هر چاته نه ده معلومه او يواځې د ټاکنو کميسيون ته معلومه ده، ځکه چې خلکو ته به کارتونه هغوی ورکول او ټول ريکارډ له هغوی سره و.

کله چې د خوست ولس د رايو کارتونه واخيستل، نو والي له هغه وروسته دا پرېکړه وکړه، چې داسې يوه لويه غونډه ترسره کړي، چې په زرګونه خلک په کې ګډون وکړي، نو د دې لپاره يې تصميم ونيوه، چې د کرکټ لوبغاړي خوست ته راوغواړي.

## خوست ته د کرکټ د ملي اتلانو راتګ:

والي د کرکټ بورډ مشر ته پيغام واستاوه، چې غواړي د کرکټ ملي اتلان خوست ته رادعوت کړي او ويې نازوي. هغوی ترې وپوښتل، چې ملي اتلانو ته به څه ورکړل شي؟ والي ورته وويل، چې دومره مينه به ورکړي، چې ټول هېواد کې به يې سارى نه ليدل کېږي، ځکه مينه او احترام له ټولو مهم دي.

کرکټ بورډ سره تر ډېرو خبرو او پيغامونو وروسته خوست ته د کرکټ د ملي اتلانو د راتللو

پروگرام جوړ شو.

د کرکټ بورډ مشران او د کرکټ ملي اتلان د ملي اردو په چورلکو کې خوست ته راغلل. خوست ته د ملي اتلانو د راوستلو موخې او پیغام په لاندې ډول و:

- داتلانو هڅونه او نازول
- د ملي یووالي ټینګښت
- د تل پاتې سولې تامین
- د پرمختګ لپاره غږ اوچتول
- په ټاکنو کې د ګډون لپاره د ولس هڅونه
- د جلالتماب جمهور رییس د ملي لاسته راوړنو یادونه
- د ټولو ناروا کړنو پر ضد د ولس همکاري جلبول
- ټولې نړۍ ته د نېکمرغۍ او بشرپالنې د پیغام رسول

د ۱۳۹۲هـ ش کال د مرغومي پر ۲۵ نېټه د افغانستان د کرکټ د ملي لوبډلې اتلان د جرګو او مرکو وطن (خوست) ته راورسېدل چې له رارسېدو سره سم یې د خوست د مشرتابه او تر ۳۰ زرو څخه زیاتو خوستوالو له لوري، چې دیني علماء، قومي مشران، لوبغاړي، ځوانان، د ښوونځیو



**خوست ته د کرکټ د ملي لوبډلې د اتلانو راتګ او د دوی تاریخي استقبال**

زده کوونکي، ښوونکي، محصلین، معیوبین او د ټولنې د هر قشر استازي په کې شامل و، تود او تاریخي هرکلی وشو، داسې هرکلی چې تراوسه یې ساری د سیمې په تاریخ کې نه لیدل کېده.

خوست ته د کرکټ ملي لوبډلې اتلانو د هرکلي مراسمو ته د خوست ولایت له مرکز او ولسوالیو څخه په زرګونه د کرکټ مینه وال او ځوانان د هرکلي لپاره په منظمو لیکو کې ولاړ و،

چې د افغانستان ملي بېرغونه، د هېواد د جمهور رييس انځورونه او د ملي لوبډلې د اتلانو انځورونه یې له ځان سره لېږدول.

تر مرکزي لوبغالي پورې په ټولو لارو کې په زرګونه ځوانانو په ډېره مینه ((ژوندی دې وي افغانستان)) او ((ژوندۍ دې وي د افغانستان د کرکټ ملي لوبډله)) نارې وهلې او د خوښیو په شېبو کې یې د خپلو ملي اتلانو هرکلی کاوه  او خپل اتلان یې بدرګه کول.

د ملي اتلانو د راتګ په ویاړ او درناوي د خوست په لوی مرکزي لوبغالي کې د هڅونې  او نازونې په موخه پرتمین مراسم نیول شوي و، چې په زرګونو کسانو په کې برخه واخیسته.

په دې شانداره او پرتمینه غونډه کې والي خپلې خبرې په دې ډول وکړې: ((د خوست اداره او ولسونه په ملي مینې سره ویاړي چې د هېواد د داسې واقعي اتلانو د راتګ کوربتوب کوي، چې په کم وخت کې یې د افغانستان بېرغ د نړۍ په ورغوي کې ځلاند او رپاند کړ او د نړۍ په هر میدان کې یې خپلو سیالانو ته ماتې ورکړې.



د کرکټ د ملي لوبډلې تاریخي استقبال، دغه مراسم د والي په نوښت جوړ شوي و

موږ د کرکټ د ملي لوبډلې اتلانو ته په دې خاطر خوست ته د راتګ بلنه ورکړه، تر څو له یوې خوا په خپل راتګ سره موږ ته یو ملي ویاړ راوبخښي او بل لوري ته همدغه نازولي اتلان د همدې سرحدي ولایت څخه سیمې او نړۍ ته د سولې، امن، یووالي، روغتیا، ترقۍ، تمدن او نړیوالې سیالۍ پیغام واستوي.

دا واقعیت په ملي او نړیواله کچه ټولو ته څرګند دی، چې یواځې تاسو وکولای شول چې په

کم وخت کې د افغانستان بېرغ، هویت، دریځ او قوت ټولې نړۍ ته وروپېژنئ، په داسې حال کې چې موږ د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې په لسګونه سفیران لرو، مګر زموږ د هېواد سفیران دومره لاسته راوړنې نه لري، لکه تاسې چې په نړېوال ډګر کې د افغان ملت، خاورې او تاریخ لپاره راخپلې کړې دي، چې د تل لپاره به د همدې لرغوني او لوی هېواد د تاریخ په پاڼو کې راتلونکو نسلونو ته د درس او پیغام په توګه پاتې وي.

د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د دې هېواد د زرګونه کلونو تاریخ په اوږدو کې د ملي یووالي لپاره هېچا په دې کچه کار نه و کړی، لکه دغو ملي اتلانو چې په خپلو لوبو، اتلولیو او لاسته راوړنو سره د دې هېواد په ښکلې جغرافیه کې د ملي یووالي بنسټونه پیاوړي کړل، په همت، وحدت، درایت، عقلانیت، خلاقیت، ملي عشق او مسوولیت سره یې ټول د کرکې او ناپوهۍ دېوالونه ونړول او ځوان نسل لپاره یې داسې دروازې پرانیستې، چې د یو ځواکمن، واکمن، متمدن او مترقي افغانستان زېری ورکوي.

د دې لرغوني هېواد او په ځانګړې توګه د دې سرحدي مهم ولایت هر وګړی د خپلو ملي اتلانو د هرې هغه لوبې ننداره کوي، چې د نړۍ په هر میدان کې روانه وي، هره شېبه د خوښۍ



د کرکټ ملي لوبډلې اتلان د خوست والي په ملتیا په دغه ولایت کې د کرکټ د ملي لوبغالي د جوړېدو لپاره یو مناسب ځای ګوري

اوښکې تویوي او په هره بریا یې د خپل ژوند غمونه هېروي او په هر پرمختګ یې د ژوندانه نوی پړاو پیلوي. له ماشوم نه نیولې ترسپین ږیري، له تورسرې نیولې تر سپین سرې، له یتیم نه نیولې تر معیوبو ماشومانو پورې ټول د خپلو اتلانو د هرې لوبې ننداره کوي، هره شېبه ورته د بریا دعا کوي او په هره بریا یې ملي خوښي څرګندوي.

د کرکټ ملي اتلانو زموږ بېرغ اوچت کړی دی، د نړۍ په ورغوي کې ټول مېشت ملتونه اوس افغانان، د افغانستان د خلکو هویت، ملي ګټې، ملي دریځ او ملي لوبډله پېژني. دغه کار له یوې خوا زموږ تاریخي دښمنان حېران او ګوته په غاښ کړي دي او بل لوري ته ټولې نړۍ ته دا

پيغام رسېدلی دی، چې افغان ملت يو سوله خوښونکی، سوله پال، بشر پال او نړۍ پال ملت دی.

زموږ ملي اتلانو نړۍ ته داسلامي ورورولۍ پيغامونه هم ورسول، کله چې دوی په نړېوالو لوبغالو کې تر لوبې مخکې او يا وروسته عبادت کوي، د نورو اديانو پر پېروانو باندې يې اغېز کړی دی.

په هېواد کې دا ټولې لاسته راوړنې د افغانستان د جمهور رييس جلالتماب حامد کرزي تر ملي او مدبرانه مشرۍ لاندې ترلاسه شوي او د نوموړي د ملي تلاشونو او تګلارو په رڼا کې د نړۍ په هر ميدان کې د دې هېواد ځوانان لوبې کوي او د نړۍ د نورو ملتونو ځوانانو ته ماتې ورکوي.

خوست ولايتي ادارې په دې وروستيو کلونو کې په دغه ولايت کې د ځوان نسل د ښوونې او روزنې او په ځانګړې توګه له خپلو امکاناتو سره سم خپلو لوبغاړو د هڅونې لپاره زيات کار کړی، همدا اوس په دغه ولايت کې په زرګونه لوبغاړي د ۲۵ بېلابېلو فدراسيونونو په چوکاټ کې لوبې کوي.))

نعيمي په دې غونډه کې د جرمني په مالي تمويل د کرکټ د لوبو د ميدان د جوړېدو په اړه هم ولس ته زېری ورکړ او همدغسې يې د خوست له ولس نه وغوښتل، چې په راتلونکو ټاکنو کې پراخ ګډون وکړي، د خپلې رايې په ځواک سره د ملي پرمختګ، يووالي او ثبات بنسټونه پياوړي کړي.

د مراسمو په ترڅ کې د خوست ولايت د بېلابېلو فدراسيونونو د لوبغاړو له لوري ورزشي نمايشونه ترسره شول، چې په خوښيو سره بدرګه شول. راغليو اتلانو په داسې حال کې چې د خوست ادارې مسوولينو يې ملتيا کوله، په لوبغالي کې د زرګونه مينه والو په منځ کې وګرځېدل او له مينه والو سره يې روغبړ وکړ. وروسته ملي اتلانو د ښار د بېلابېلو ښکلو ساحو، لکه مرکزي لوی جومات، تفريحي پارک، شېخ زايد پوهنتون، اداري کمپليکس، ازادۍ مېنې او هغه ۲۵ جريبه ځمکې څخه هم ليدنه وکړه، چې د ولايت مقام له لوري د کرکټ د لوبغالي د جوړولو لپاره ځانګړې شوې وه. همدا شان خوست ته راغلو اتلانو په خپلو لاسونو په ملي لوبغالو کې د ياد لوبغالي د مرمرکارۍ پروژې چارې هم پيل کړې.

د ملي اتلانو د تاريخي هرکلي له مراسمو څخه دا څرګنده شوه چې د خوست ټول شريف ولس له خپلو ملي اتلانو سره ملي مينه لري او د دوی په برياوو او لاسته راوړنو وياړي.

د خوست ادارې او ولسونو د ځانګړو مراسمو: هڅونو، نمايشاتو او ملي اتڼونو په کولو سره خپلو اتلانو ته د ټول هېواد په کچه يو ځانګړی ملي درناوی او هرکلی وکړ.

دا د خوست په تاريخ کې لومړی ځل و، چې دومره زيات کسان د خپلو اتلانو هرکلي ته راټول شوي و.

د مراسمو په وروستيو کې خوست ته راغلي ملي اتلان د خوست د ادارې له لوري په ځانګړو ډاليو ونازول شول او لا وهڅول شول، تر څو افغانستان ته نورې برياوې هم راوړي. خوست ته رابلل شوي اتلان د مرغومي پر ۲۶مه بېرته پلازمېنې ته په داسې حال کې ستانه شول،

چې له خوست څخه يې له ځان سره د سولې، امن، ملي يووالي او پرمختګ پيغامونه يوووړل.

نعيمي وکولای شول، چې دومره ډېر خلک راغونډ کړي او ملي اتلانو ته يې دومره لوی درناوی ورکړ، په هېواد کې دننه او له هېواده بهر په ټولو رسنيو کې دا پيغام خپور شو، چې دومره زيات خلک، بې له کومې لوبې، يواځې او يواځې د خپلو ملي اتلانو لپاره راغونډ شول او دا هم وښودل شول، چې په ټاکنيز بهير کې به د خوست ولسونه ډېر په مينه برخه واخلي او دا چې خوست د سولې کور دی، يوازې شعار نه دی.

## د ولسي جرګې ټاکنې:

خوست کې د عبدالجبار نعيمي د ماموريت په موده کې دوه ټاکنيز بهيرونه ترسره شول، چې يو يې د ولسمشريزو ټاکنو او دويم يې د ولسي جرګې ټاکنې وې. د نوموړي په وينا، په خوست کې دواړه ټاکنې چې په کوم ښه ډول ترسره شوې، نو د ديموکراسۍ فضاء ته يې وده ورکړه او د ټاکنيزو بهيرونو په ترسره کېدو، سړي ته ښکارېده چې په خوست کې واقعاً دېموکراسي ده.

نعيمي وايي: ((زه د دغسې فضاء ډېر علاقه من يم، چې په هغې کې دې اطمينان او قناعت وي او خپل طرفداران دې ته وهڅول شي چې د رايو مرکزونو ته ولاړ شي.))



**خوست والي په خپل ماموريت کې هر ځل د دغه ولايت ولسونه وهڅول چې په ټاکنو کې پراخ ګډون وکړي**

دلته ځينې ستونزې هم رامخې ته شوې. ځينو هڅه کوله چې هلته داسې څوک مقرر کړي، چې يا يې خپلوان وي او يا هم د دوی په ګټه کار وکړي. ځينو د انتخاباتو په کميسيون کې د رخنې اچولو لپاره ډېرې پېسې مصرفولې، د رايو اچولو په مرکزونو کې يې هڅه کوله چې خلک واخلي، تر څو تقلبي رايې ډېرې تېرې کړای شي.

نعيمي وايي: ((ځينې تجربې يې ښې نه وې، بايد چې د دې مخه ونيول شي او په هېڅ ځای

کې دا تجربې بیا تکرار نه شي، ځکه دا د ډېموکراسۍ فضا نه ده، چې په ټاکنو کې دې د تقلب لپاره پیسې مصرف شي، یا دې د خپلو ګټو لپاره خپل- خپلوان مقرر کړای شي.))

د هغه په وینا، چېرته چې رایې راغونډې شي، هلته رای شمېرنه، نه کېږي، لومړی رایې انتقال شي بیا وروسته شمېرل کېږي، په دې کې هم بې عدالتي راتلای شي او بله خبره دا چې رایې به د ولایتونو په کچه نه اعلانېدې، په مرکز کې ورته یو څوک ناست وي او هغه یې په کمپیوټر کې لیکي، نو هغه هم کولای شي چې په رایو کې تغیر و تبدیل وکړي، نو دا ښه نه ده ، ځکه چې له دې سره په رایو کې بې عدالتي او تقلب رامنځته کېږي.

نعیمي وایي: ((زه د خپلې رایې حق لرم او یو کاندید ته به یې ورکوم او هغه چاته به یې ورکوم چې ماته ور ښکاري. ما په خپل وخت کې د هېچا په ګټه کار ونه کړ او نه مې دولتي مسوولین دې ته پرېښودل چې د چا په ګټه کار وکړي.

خو څوک چې چاته رایې ورکوي، نو په کار ده دا تضمین ولري، چې دغه سړی به یې د رایې احترام وکړي.))

## د اوبو د بندونو د جوړولو لپاره بنیادي هڅې:

په خوست کې عبدالجبار نعیمي د خپل ماموریت په وخت کې د نورو کارونو تر څنګ د اوبو د بندونو جوړولو لپاره هم بنیادي هڅې وکړې. د بندونو جوړول د یو هېواد د پرمختګ لپاره بېخبنایي کار ګڼل کېږي.

د اوبو بندونو جوړولو په لړ کې نعیمي له ټولو هغو ځایونو څخه په خپله لیدنه وکړه، چې د اوبو بندونه جوړول پکې مهم و.

په دې لړ کې یې لومړی سفر مذغور ته وکړ، چې امنیه قوماندان جنرال اسحاقزي، د ولایتي شورا رییس، انجنیرانو او نورو یې ملتیا کوله. والي دا سفر په داسې ډول وکړ، چې هېڅوک له دې سفره خبر نه و او نه هم د سفر په وخت چاته د دې خبرې معلومات کېده، چې والي په کوم موټر کې ناست او چیرته سفر کوي.

په مذغور کې د بند جوړولو لپاره ټول ځایونه د انجنیرانو په ملتیا وکتل شول او والي هلته په اوبو کې له لمبا کوونکو هلکانو سره هم ولیدل او دا ټول ځایونه یې دقیق وکتل، چې که دلته د اوبو بند جوړېږي، نو څومره پورې اوبه په کې زېرمه کېدای شي.

له دې بند سره سره د ځینو نورو بندونو سروې هم وشوه، چې د بېلګې په توګه پکې د نادر شاه کوټ، دوه مندو، نریزې، علي شېرو، باک او نور بندونه شامل دي.

## پر لاره ايښودل شوی ماين:

کله چې والي په مذغور کې د اوبو د بند د ساحې د کتلو لپاره تللی و، نو د بېرته راتلو پر مهال ورته په لاره کې ماين ايښودل شوی و، کله چې د دوی موټرې بېرته راروانې وې، نو په لاره کې يو ديارلس کلن هلک د دې کاروان لومړي موټر ته د ودرېدو اشاره وکړه، په لومړي موټر کې ناستو عسکرو داسې فکر وکړ، چې دا انتحاري دی او غواړي چې په موټر ځانمرگی برید وکړي، نو په دې خاطر هغوی خپلې ټوپکې سمې کړې، چې ويې ولي، خو والي چې د موټرو د کتار له منځ نه دا هلک وليده، نو وپوهېده چې خبره بل څه ده او دا هلک څه ويل غواړي، نو امنيتي مسوول يې په لومړي موټر په مخابره کې غږ وکړ: ((هلک ته څه مه وايئ، هلک اشاره کوي، چې موټرې ودروئ، حتماً څه خبره ده.))

څکه دا هلک د لارې په منځ کې ولاړ و او داسې اشاره يې کوله چې مخکې مه ځئ، يعنې ښکارېده داسې چې هلک مخکې څه ليدلي و او نه يې غوښتل چې دا موټرې مخکې ولاړې شي، که دې هلک انتحاري کول غوښتل، نو بيا خو به يې د موټرو د کتار منځته ځان رساوه او په لاره کې به نه ودرېده ، بلکې موټرو ته به يې په منډه ځان رساوه.

کله چې والي هلک راوغوښت او ترې پوښتنه يې وکړه چې څه خبره ده؟ نو هغه ورته په خپله ژبه وويل: ((والي کاکا ته يې ماين ايښی دی.))

والي ترې پوښتنه وکړه: ((چا ايښی دی؟))

هغه ورته وويل: ((دلته يو څو نفره و، د ونې په ښاخ باندې يې د غوړو په ډبه کې ماين ايښی دی.))

والي ورته وويل: ((تا څنگه وليدو؟))

هغه ورته وويل: ((تاسو چې له دې ځای څخه تېرېدلئ، نو خلکو ويل چې والي لاړو، لږ ساعت وروسته يو څو کسان راغلل، يو ونې ته وختل او نور ورته لاندې ولاړ و، لاينونه يې بسته کړل، نو ما هم دلته ځان په ساعتېری کې مشغول کړ، چې هېڅ مې هم نه دي ليدلي.))

والي ورته وويل: ((بچيه! ته کور ته لاړ شه، چې ماسره دې څوک ونه وينې او څوک دربانديې شک ونه کړي.))

نو کاروان هغه لار پرېښوده، په کومه لاره کې چې ورته ماين ايښودل شوی و او په بله لار ولاړل. وروسته يې د ماين کتلو لپاره تخنيکي ټيم ورولېږه، کله چې هغوی دا ځای وکوت، نو ماين يې پيدا کړ، دومره خطرناک ماين و، که په دې موټرو چاودېدلی وای، نو هېڅ موټر به ترې روغ وتلای نه و، څکه د غوړو په ډبه کې يې شل کيلو مواد ځای پر ځای کړي و.

يو ديارلس کلن ماشوم د والي او ورسره نورو ټولو ژوند ته نجات ورکړ.

## خوست کې مشاعرې:

خوست کې به هر کال د چنار په نامه مشاعره ترسره کېده، خو له دې پرته به هم والي وخت نا وخت مشاعرې جوړولې، چې د خوست ولس او ځوانان د خوشحالۍ موقعې پیدا کړي.

د دې مشاعرو په ترڅ کې به د سولې، مینې او یووالي پیغامونه که یو خوا په ټول خوست کې خورېدل، نو بل خوا به د هېواد په کچه هم دا پيغامونه خلکو ته رسېدل.

دې مشاعرو ته به د هېواد له گوټ گوټ نه شاعران راتلل، لکه د عبدالباري جهاني په څېر نوموتي شاعران به هم راتلل، چې نوموړي د خوست په یوه مشاعره کې گډون کړی و او د خپلو شعرونو په زور یې د خوست ولس ته د مینې، یووالي، سولې او پرمختگ پیغام ورکړی و.

یوه ورځ والي په خپل کور کې د ماښام پر وخت د سولې په نوم یوه مشاعره جوړه کړې وه. دوی فکر کړی و که زیات نه زیات خلک راشي، نو اته سوه تنو پورې به په دې مشاعره کې گډون وکړي، خو کله چې مشاعره پیل شوه، د خلکو راتگ پرله پسې زیاتېده، چې له درو زرو نه خلک زیات شول او نور د ناستې او ولاړې ځای هم ختم شو.



د سولې د مشاعرې يو انځور، چې خوست والي، د هېواد وتلی شاعر عبدالباري جهاني او نور مشران پکې ليدل کېږي

پر دغه شپه ډېره خوندوره مشاعره ترسره شوه، چې دا مشاعره د سهار تر اذانو پورې روانه وه، ځکه که یو خوا شاعران ډېر راغلي و، نو بلخوا یې مینه وال او ننداره کوونکي هم ډېر زیات و او خلکو به د شعرونو د بیا بیا اورېدو غوښتنه کوله.

د دې مشاعرو په ترڅ کې والي غوښتل چې یو خوا په خوست کې د ځوانانو او فرهنگیانو لپاره د خوښۍ شېبې جوړې کړي، نو بلخوا یې په دې کار د ځوانانو فکري وده کوله، هغه غوښتل چې د ځوانانو له خپل هېواد سره مینه زیاته شي، د پرمختگ او سولې پیغام ورته

ورسېږي او د خپل هېواد د جوړونې لپاره کار او فکر وکړي.

## د سولې جشن:

د غبرګولي پر دویمې نېټې کال ۱۳۹۲هـ ش د والي په ځانګړو هڅو د ولایت په مقام کې د سولې جشن جوړ شو.

د سولې په دې جشن کې تر شا و خوا څلور زره تنو برخه واخیسته. دې جشن ته د هېواد نامتو سندرغاړي هم رابلل شوي و، د هېواد بېلا بېلو ولایتونو یو شمېر ادبي او فرهنګي څېرو هم په دې جشن کې ګډون کړی و.

والي د دې جشن په اړه وایي: ((د سولې جشن او په هغه کې د کنسرت له جوړېدو څخه یې موخه سولې ته کار کول و.))

والي په جشن کې برخه اخیستونکو ځوانانو ته په خپلو خبرو کې وویل: ((زه فکر کوم که اوس هم بیداره او هوښیار نه شو، اوس هم په دې مبارزه کې یو لاس نه شو او که چېرې په دې لاره کې قرباني ورنکړو، هیڅکله به موږ او تاسو پرمختللی، اباد او با عزته ژوند ونه لرو، نو په کار ده، چې له خپل



د سولې د جشن برخوال

جومات څخه د سولې اواز راپورته کړو، له خپل ښوونځي څخه د سولې اواز راپورته کړو، په کلي کې ځوانان، علماء کرام، قومي مشران د سولې اواز راپورته کړي، له هر کونج څخه د سولې اواز راپورته کړو، بالاخره هغه څوک چې په دې شوم فکر او مفکوره اخته وي، یا به شرمیږي، یا به ورکیږي.))

د سولې دې جشن تر سهاره دوام وکړ، په دې جشن کې استاد ګل زمان، عبدالحمید کندهاري، جاوید امیرخېل، خېر محمد خندان او نورو سیمه ییزو سندرغاړو په ملي روحیه جوړې شوې سندرې او نغمې زمزمه کړې. د دې تر څنګ د تیاتر ممثلینو هم په زړه پورې ډرامې وړاندې کړې او ورزشکارانو خپل سپورتي نمایشونه وکړل.

## خوست کې اخترونه:

والي په دې خاطر چې تل يې د خوست له خلکو سره اړيکې نږدې وي، له نږدې ورسره ناسته ولاړه وکړي، نو هغه څوک چې په دفترونو کې نه شي ليدای، والي به د اختر پر ورځ په جامع جومات کې د لمانځه پر مهال له نږدې ورسره ليدل. د اختر په لمانځه کې به جومات له خلکو ډک و او هر ځل به لږ تر لږه د اووه زرو څخه زيات خلک راغلي و.

په خوست کې د خپل ماموريت په موده کې عبدالجبار نعيمي خپل اخترونه هم د خوست له ولسونو سره تېر کړي او هېڅکله هم د اختر تېرولو لپاره خپل کور ته نه دی تللی، ځکه چې د خوست خلک ورته خپل خلک ښکارېدل او هره خوشحالي او غم يې له دوی سره يو ځای تېراوه.

په جامع جومات کې به له خلکو سره له لنډې ليدنې وروسته والي د اختر درې واړه ورځې په مېلمستون کې ناسته کوله او په دې درې ورځو کې به يې د خوست ولسونه او خلک د اختر مبارکۍ ته راتلل او دا درې ورځې به له سهار نه تر ماښامه والي د خوست له خلکو سره د اختر په مبارکۍ تېرولې او له دوی سره به يې ملاقاتونه کول.

په هر اختر کې به په جامع جومات کې امنيتي تدابير نيول کېدل، خو يو ځل د اختر پر ورځ، د اختر له لمانځه مخکې د ملي امنيت اداري والي ته خبر ورکړ، چې د لمانځه په وخت پرې انتحاري حمله کېدونکې ده.



**خوست والي ټول اخترونه په دغه ولايت کې له مشرانو سره يوځای تېرول**

والي د ملي اردو مسوول ته وويل، له هغه ټيم سره دې چې ماينونه ګوري، ولاړ شي او جامع جومات دې وڅاري، چې ايا په رښتيا هم پرې انتحاري حمله کېدونکې ده؟.

کله چې هغوی جومات ته ولاړل او هلته يې څارنه وکړه، نو دننه په جومات کې يې په تشنابونو کې په يوه بورۍ کې شپاړس اوولس کيلوګرامه يو واسکټ پيدا کړ.

پر شپږ نيمو بجو والي ته د دې واسکټ د پيدا کېدو خبر ورکړل شو، خو د حېرانتيا خبره

دا وه چې دا واسکټ څنګه دې جومات ته يوووړل شو؟ ځکه چې امنيتي تدابير ډېر سخت و او جومات ته تلونکو لارو باندې کمربندونه جوړ شوي و، نو دا واسکټ يو چا څنګه له دې کمربندونو تېر کړ او جومات ته يې ورساوه.

سهار اووه نيمې بجې شوې، له والي څخه وغوښتل شول چې جومات ته ولاړ نه شي، ځکه هېڅ پته نه لګېږي، هسې نه چې بيا هم څه ناوړه پېښه رامنځته شي.

خو والي د دې پر ځای چې جومات ته له تګ پاتې نه شي، فوراً يې هلته امنيتي مسوولين تبديل کړل او له لوا څخه نور امنيتي ځواکونه راغلل او د جومات شا و خوا ټول امنيت يې ټينګ کړ.

والي، د لوا قوماندان، د امنيې قوماندان، ځينې قومي مشران او نور په شريکه جومات ته ولاړل، کله چې لمونځ وشو، نو والي خبرې وکړې. والي لومړی خلکو ته د اختر مبارکي ورکړه، د اختر پر ورځ د ولسمشر ځانګړې مبارکي او پيغام يې هم خلکو ته ورساوه، بيا يې له هغه وروسته وويل: ((ګورئ، هغه چا چې نن يې په جومات کې شيطاني او ناروا عمل کاوه، پلان يې جوړ کړی و چې موږ او تاسې ټول په وينو ولړي، ولې خوشبختانه هغه پلان ناکام شو، خدای(ج) پيدا کړي يو او خدای(ج) به مو ساتي، دغسې شيطاني عملونه انشاء الله چې ستاسو په دعا او برکت سره هېڅ کله هم نه شي کامیابېدای، ځکه چې زموږ لاره سپېڅلې ده.))

ټولو خلکو د الله اکبر په نارو سره خپله خوشحالي څرګنده کړه او خپل يووالی يې وښود. ځکه دلته ټول خلک د خدای(ج) د عبادت لپاره راټول شوي و، نو په داسې يو پاک او مقدس ځای کې داسې کار، چې انساني وينه يې بهوله، يو شيطاني او مردود کار و چې شنډ شو.

نعيمي وايي: ((موږ هر څه منلي، خو موږ له خپلې تګلارې په شا نه يو تللي. موږ چې د خپلو ملي او ولسي ګټو، د خپل نظام د پياوړتيا په موخه څه پلان کړي، د هغه لپاره مو هر څه منلي، خو خپله لاره مو نه ده بدله کړې.))

## خوست ته د ډاکتر محمد اشرف غني راتګ:

افغانستان کې له نړيوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنيتي چارو د لېږد پروسې کميسيون مشر ډاکتر محمد اشرف غني دوه ځلې خوست ته په سفر راغلی و.

نومړی د سلواغې پر ۲٦مه، ۱۳۹۱هـ ش کال خوست ته له يو لوړ رتبه پلاوي سره سفر وکړ او دې ولايت کې يې د امنيتي حالت، دولتي حاکميت او اداري چارو کې د شويو پرمختګونو ارزونه وکړه.

په دغه پلاوي کې له ډاکتر غني سره د ملي دفاع وزارت د ځمکنيو ځواکونو قوماندان ډګر

جنرال مراد علي مراد، د کورنيو چارو وزارت استازی جنرال داد الله معصومي او د ملي امنيت اداري استازي هم شامل و.

لومړی سفر دوی هغه وخت وکړ چې د انتقال د پروسې پيل و، خو وروستی سفر بيا په داسې مهال و، چې کله د انتقال پروسه د پای په پړاو کې وه.

خوست هغه وروستی ولايت و، چې له خارجي ځواکونو نه په کې افغان ځواکونو ته قدرت انتقال شو او دا پروسه پای ته ورسېده، له دې وروسته بيا د ټاکنو پروسه پيل شوه. په خوست ولايت کې له ډاکتر غني سره د انتقال د قدرت په اړه څو موضوعات مطرح شول.

نعيمي ورته وويل: ((د قدرت انتقال چې کېږي نو زموږ نظام بايد چې پياوړی وي، زموږ امنيتي ځواکونه بايد پياوړي وي او موږ دومره حاکميت ولرو، چې له خارجي ځواکونو نه پرته خپل امنيت وساتو او د دوی نه بغېر خپل پرمختگونه وکړو. د هغوی مالي مرسته به راسره وي، څو د هغوی له امنيتي ځواکونو نه پرته موږ خپل حاکميت پيدا کړو.))



افغان ځواکونو ته د امنيتي مسوولیتونو د لېږد کميسيون مشر ډاکتر محمد اشرف غني د خوست والي په ملتيا د دغه ولايت له مشرانو او دولتي مسوولينو سره روغبړ کوي

کله چې پر دې هر څه بحث کېده، نو پر دې هم بحث وشو، چې ځينو وزارتونو کې ستونزې وې، چې په کار وې دا حل شوې وای.

ډاکتر غني په دويم ځل راتگ کې په خوست کې ليدنې کتنې وکړې، چې په کې د ملکي او نظامي ادارو مسوولينو، د ولايتي شورا غړو، مخورو قومي مشرانو او ديني علماوو سره ليدنې شاملې وې.

ډاکتر غني او ورسره راغلي پلاوي لومړی د خوست والي په گډون د ټولو امنيتي، کشفي او نظامي ارگانونو له مسوولينو سره امنيتي غونډه وکړه.

په غونډه کې والي وويل: ((په خوست کې د ډاډمن امنيت لپاره له ټولو قومونو سره تل مشورې کېږي، همدا لامل دی چې په دې سرحدي ولايت کې امنيتي حالت د ډاډ وړ دی او

ولسي همکاري له دولت سره زياته شوې ده. هغه څه چې لا زيات د امنيت په ټينګښت کې رول لري، هغه د افغان ځواکونو ښه اکمال، تجهيز او روزنه ده، چې مرکزي اداره او نړيواله ټولنه بايد ورته ځانګړې پاملرنه وکړي.

مرکزي اداره بايد د بيارغونې د بنسټيزو پروژو پلي کولو، د عدلي او قضايي ارګانونو پياوړتيا، تجهيز او د ادارو اکمال ته جدي پاملرنه وکړي، ځکه چې له دې لارې د سولې او امن لپاره لازياته زمينه برابرېږي.

که د باور او اعتماد فضا موجوده نه وي، هدف ته رسېدل ګران کار دی. بايد د ټولنې هر وګړی د نظام ملاتړ وکړي او دا نظام خپل وګڼي.

د مايوسۍ دېوالونه بايد ونړول شي او پر ځای يې وحدت او ملي يووالی غوره شي، تر څو ښه راتلونکې او پرمختللی هېواد ولرو، نو په همدې خاطر ټول ماشومان او ځوانان بايد سم لور ته سوق او د علم په ګاڼه سمبال شي همدا شان هره کورنۍ بايد په دې فکر کې واوسي، چې اولادونه يې د پرديو په لمسون د خپل نظام، ملت او خاورې پرضد ورانکاره کړنې ترسره نه کړي.))



خوست والي افغان ځواکونو ته د انتقال د پروسې له مشر او اوسني ولسمشر سره په يو انځور کې

ډاکتر اشرف غني په خپلو خبرو کې وويل: ((اوس مهال په بېلا بېلو اقتصادي، پوهنيزو، ټولنيزو، سوداګريزو، امنيتي او نورو برخو کې پرمختګونه شوي، چې لامل يې د غوره مديريت او مشرتوب شتون دی.

په خوست ولايت کې امنيتي حالت په بشپړه توګه د ډاډ وړ دی او د لېږد پروسه پرته له کومو ننګونو په دې ولايت کې سرته رسېږي.))

نعيمي وايي: ((ما دوی ته وويل چې د خوست ښار کې ځينو ځمکو چې د ملي دفاع وزارت يې د ملکيت ادعا لري، د ښار د پرمختګ مخه يې نيولې ده، که دا ښاروالۍ ته انتقال شي، تر څو

دلته د خوست سوداګر وکولای شي، چې ابادي وکړي، ښه به وي.

د ځينو پروژو قراردادونه په مرکز کې کېږي، چې وروسته د قراردادونو پر سر لوی جنجالونه پيدا کېږي، چې په پرمختګ کې مشکلات راپيدا کوي، نو د دغو قراردادونو معيار دې وټاکل شي او د دغو پروژو ټول خنډ وځنډ دې لېرې شي.

د خوست ځينې ستونزې چې په مرکز کې اړونده وزارتونو ته انتقال شي، نو په ځينو وزارتونو کې وربانديې اجراات نه کېږي.))

ډاکتر غني د خوست والي وړاندېزونه او غوښتنې پر ځای وبللې او ويې ويل، چې په کابل کې پومبه ډېره ګرانه شوې ده، ځينو وزيرانو او د وزراتونو مسوولينو په غوږونو کې پومبه ايښې ده او هېڅ هم نه اوري، خو ژمنه يې وکړه چې وړاندېزونه، غوښتنې او ستونزې به يې په پلازمېنه کابل کې له اړونده وزارتونو سره د هواري په تړاو شريکې کړي او په کابينه کې به پرې بحث هم وکړي.

وروسته يوه ورځ ډاکتر غني والي ته احوال ورکړ، چې کابل ته دې ورشي او ورسره دې وګوري.

کله چې والي ورسره وليدل، نو هغه ورته وويل: ((ستا پېشنهادونه ما مطرح کول، خو په کابينه کې ځينو وزير صاحبانو راته وويل، چې ته د کابينې غړی نه يې، نو په دې خاطر ما ونه شو کولای چې هلته ستاسو پر ستونزو، غوښتنو او پېشنهادونو بحث وکړم.))



د امنيتي مسووليتونو د لېږد کميسيون مشر او اوسني ولسمشر خوست ته د هر سفر پر مهال په ښه توګه د دغه ولايت حالت او وضعيت بررسي کړ
..................................

هغه ورته وويل چې ما تاسو سره کومه ژمنه کړې وه، هغه نه شم کولای چې تر هغې يې پوره کړم، چې دغه حالت تغير نه وي موندلای.

نعيمي وايي: ((زه په دې ډېر خوشحاله شوم چې يو مشر چې کوم وړانديز له ځان سره اخلي، کومه ژمنه کوي، هغه بيا تعقيبوي، دا چې نتيجه ورکوي او که نه، دا نو وروستۍ خبره ده، خو زه خپه پر دې شوم، چې ډاکتر غني چې د انتقال د پروسې مشر و، تجربه لرونکی او نړيوال منل

شوى شخصيت و، هغه ته فرصت نه ورکول کېده، چې د ستونزو، پېشنهادونو او وړاندېزونو په اړه خبرې وکړي، دا يو سوال و.))

## د استاد برهان الدين رباني راتګ:

د سولې د عالي شورا مشر استاد برهان الدين رباني د چارشنبې پر ورځ، د مارچ پر ۱۶مه، ۲۰۱۱ز کال کې خوست ولايت ته په سفر راغی، چې ورسره د سولې عالي شورا د دارالانشاء مشر محمد معصوم ستانکزی هم يو ځای و.

د استاد برهان الدين رباني دا سفر د سولې لپاره و او د خوست له خلکو سره يې غونډې لرلې، ناستې يې لرلې او دوی ته يې د سولې پيغام رساوه.

خوست والي عبدالجبار نعيمي ته ارواښاد پير سيد احمد ګېلاني خاصه سپارښتنه کړې وه، چې د جهادي رهبر او مشر استاد برهان الدين رباني د سفر د کاميابولو په لړ کې ورسره خپله مرسته وکړي.



خوست والي د افغانستان د پخواني جمهور رييس او د سولې د عالي شورا د مشر هرکلی کوي

د هغه په وينا، چې ولسمشر به هم ورته سپارښتنه کوي، خو په کار دا ده چې د داسې جهادي رهبرانو عزت او درناوی وشي.

همداسې ولسمشر حامد کرزي هم خوست والي ته پيغام لېږلی و، چې استاد رباني ته رسېدګي، عزت او درناوی يې وشي.

نعيمي وايي: ((د خوست له خلکو، رسنيو او ځوانانو مې غوښتنه وکړه، چې د استاد رباني په راتګ هېڅ د اختلافاتو خبرې ونه کړي، موږ ته په کار دي چې په خپل کور کې خپل مېلمه ته ډېر عزت او درناوی ورکړو، چې زموږ له ولس سره يې په زړه کې مينه پيدا شي.))

د استاد برهان الدين رباني او ورسره راغلي پلاوي د راتګ په وياړ تاريخي او پرتمينه غونډه

رابلل شوې وه، چې د خوست والي ترځنګ په کې د بېلابېلو قومونو مشرانو، علماوو، د ولایتي شورا وکیلانو، ملکي، نظامي او کشفي ارګانونو مسوولینو، د پوهنتون استادانو، ښوونکو، د مدني ټولنو فعالانو، خبریالانو، ځوانانو، مېرمنو او په لویه کې لسګونه زده کوونکو په کې برخه اخیستې وه.

والي په خپلو خبرو کې وویل، چې دلته له راتګ سره سم یې د سولې راوستو په موخه ګڼې هڅې د سولې په نامه د شانداره مشاعرې له جوړېدو شروع کړې، چې شاعرانو، لیکوالو او په زرګونه مینه والو په کې برخه اخیستې وه او همدا شان یې له بېلا بېلو ولسوالیو څخه لیدنې کړې او یو شمېر ولسوالۍ یې د ښه امنیت درلودو له امله د سولې په نامه نومولې.

دلته نعیمي د سولې عالي شورا کړنې او فعالیتونه وستایل او راغلي پلاوي ته یې ډاډ ورکړ، چې د خوست اداره او امنیتي ځواکونه به له ټول هېواد څخه دفاع کوي.

د سولې عالي شورا مشر پروفیسور برهان الدین رباني په خپلو خبرو کې د خوست له ټولو اوسېدونکو او په ځانګړي ډول له خوست والي مننه وکړه، چې خوست ته د راتګ پر مهال یې د دوی ګرم استقبال وکړ.



**استاد برهان الدين رباني او ورسره مشران د خوست والي په ملتيا له شيخ زايد پوهنتون څخه د ليدنې پرمهال د دغه پوهنتون له استادانو او محصلينو سره د پوهنتون په علمي وده خبرې کوي**

استاد رباني وویل: ((خوست ته د جهاد په کلونو کې څو ځله راغلی او د خوست د اوسېدونکو د سپېڅلي جهاد په برکت افغانستان له اشغال خلاص شو او دلته د استقلالیت بېرغ ورپېږده. زه پر دې خوښ یم چې د عبدالجبار نعیمي په هلو ځلو دلته امنیتي او سیاسي حالت د پخوا په پرتله ښه شوی او راتلونکي کې به هم په دې ولایت کې هر ډول قومي شخړې او نورې لانجې د اوس په څېر هوارې شي.))

استاد رباني د سولې عالي شورا د جوړېدو پر اړتیا هم وغږېده او تمه یې وښوده چې د

مخلصانه هلو ځلو په پايله کې د سولې راتګ حتمي دی.

هغه وويل: ((په افغانستان او نړۍ کې ديني علماء شته، خو بيا هم دلته وژنې او نورې پېښې ترسره کېږي. امن او سوله د اسلام سپېڅلي دين له اړخه زيات ارزښت لري او هر څوک چې جنګ جګړو ته لمن وهي له اسلامي اديانو سره په مخالفت کې دي.))

پر دې ورځ په ازادۍ مېنه کې دوه پروژې هم افتتاح شوې، چې يوه يې د پارک پروژه وه او بله يې د ښاروالۍ د ناحيې د تعمير پروژه وه.



استاد برهان الدين رباني له خوست والي سره يو ځای د خلکو خبرې اوري

مازديګر استاد رباني او ورسره راغلي پلاوی د خوست والي په ملتيا پوهنتون ته ولاړ او هلته يې محصلينو ته د ملي يووالي او د قومونو او ولسونو د يووالي په اړه ډېرې ګټورې خبرې وکړې.

استاد رباني محصلينو ته وويل، چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، خپلو ملي ګټو او ملي يووالي ته وفاداره واوسي، له سمتي او ژبني تعصبونو نه راووځي، د دې هېواد پالنه او ساتنه وکړي او د دې هېواد د ترقۍ، ابادۍ او پرمختګ لپاره کار وکړي.

خوست ته د استاد رباني دا سفر واقعاً چې يو ډېر کامياب او خوشحاله سفر و، چې د خوست ولسونو او ولايت ته يې ډېره ګټه وکړه.

کله چې استاد رباني بېرته کابل ته راغی، نو د ولسمشر حامد کرزي تر مشرۍ لاندې غونډه جوړه شوې وه، چې په کې استاد رباني د خوست په اړه پنځه ويشت دقيقې خبرې وکړې، د خوست ولايت، ادارې او ولسونو نه يې مننه وکړه.

دلته استاد رباني د خپل سفر راپور او د خوست ډېر ښه انځور وړاندې کړی و.

## خوست ته د ایتلافي ځواکونو مشر راتګ:

د ایتلافي ځواکونو مشر جنرال ډیوېډ پیټرویس خوست ته په سفر راغی او بیا د والي په ملتیا د خوست له ښار څخه یې ځاځي میدان ولسوالۍ ته هم سفر وکړ. والي بې له دې چې هلته زیاته قوه ولري او یا هم هلته تلاشي وکړي، دې سفر ته ادامه ورکړه او دوی د ځاځي میدان ولسوالۍ په بازار او ابادۍ کې پلي وګرځېدل.

په ځاځي میدان ولسوالۍ کې دوی له خلکو سره له نږدې لیدنه وکړه، خلکو سره یې ناسته او خبرې وکړې او د دغه ځای د خلکو غوښتنو ته یې غوږ کېښود.

له دې سفر نه دا څرګنده ښکارېده چې په خوست کې دغه وخت ډاډمن امنیت راغلی و او هېڅ د ناامنۍ اثار په کې نه و. بل دا چې د خوست ولسونو له خپل دولت او نظام سره ډېره مینه درلوده او د دولت او ولس ترمنځ د اعتماد فضا رامنځته شوې وه.



**خوست والي په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو له عمومي قوماندان جنرال ډیوډ پیټرویس سره یو ځای د ځاځي میدان ولسوالۍ څخه د لیدنې پر مهال**

ځکه چې د ایتلاف د ځواکونو مشر دلته راځي او بې له دې  چې سخت امنیتي تدابیر نیول شوي وي، داسې یوې لېرې پرتې ولسوالۍ ته سفر کوي، مطلب دا دی چې په دغه وخت کې امنیت څومره ښه شوی و. دې سفر یو ډېر ښه پیغام ټول هېواد او نړۍ ته ورکړ، چې د خوست نوي انځور ته یې ډېره ګټه ورسوله.

خوست د هېواد په کچه د امنیت په برخه کې ډېر ډاډمن ولایت یاد شو، د ولسونو او دولت ترمنځ د اړیکو په پار هم یو ښه ولایت یاد شو او له دې سره خوست ته د بهرنیانو د مرستو پام راواوښت، ځکه دلته د خلکو د لومړیتوبونو او ضرورتونو په اړه د ایتلاف ځواکونو مشر ته یادونه وشوه، چې وروسته یې ډېر مثبت ځواب راووت.

کله چې عبدالجبار نعیمي د خوست د والي په حیث وټاکل شو، نو په خوست کې حالت ډېر خراب و، خو د نوموړي د ښه مدیریت او بریالي ماموریت په ترسره کولو خوست یو له سوله ییزو ولایتونو څخه شو، نه یواځې دا چې په خوست کې دا ډمن امنیت راغی، د ولسونو او قومونو ترمنځ د شخړو د هوارولو لپاره پوره کوښښونه وشول، بیارغونه وشوه، ابادي وشوه، خلکو پرمختګونه ولیدل، تعلیمي بهیر مخ په بره روان شو او د خوست ولسونو د خوښی سا واخېسته.

## ٤٢٠ جریبه ځمکه له غصب نه خلاصول:

د پکتیا ولایت د اریوب ځاځی ولسوالی یو اوسېدونکي له ۱۳۸۳هـ ش کال راهیسې هڅه پیل کړې وه، چې د بلخ ولایت د مزار شریف ۴۲۰ جریبه ځمکه خوست ولایت ته تبادله کړي.

نوموړي په یوه او بل نوم اسناد راټول کړي او د خوست په یوه داسې ځای کې یې د ځان لپاره ځمکه په نښه کړې وه، چې یاده سیمه دغه مهال په ماسټر پلان کې هم راغلې وه او دولت په کې ولس ته د ټولګټو چارو ښاري خدمات وړاندې کول غوښتل.

د دې سرې د ځمکې له تبادلې سره په ۱۳۸۳هـ ش او همدغه شان په راوروسته کلونو کې هم ولایتي ادارې، ولایتي شورا او ولس سخت مخالفت کړی و، چې له هغې وروسته یې بیا هم هڅه کوله، چې له پلازمېنې کابل څخه یو هیئت راوغواړي او پر دې ځمکه قبضه وکړي.



د ٤٢٠ جریبه ځمکې د غصبولو لپاره راوړل شوي ګټې د خوست ولسونو په خپله راغونډې او له یادې ځمکې څخه یې لېرې کړې

..................................

خو دغه هیئت ته هم ولایتي ادارې قناعت ورکړ، چې په دې سره راغلی هیئت هم په قانع ډول بېرته پرته له اجرااتو کابل ته تللی و.

والي د ۱۳۸۹هـ ش کال د لړم د میاشتې پر ۹ نېټه په اداري غونډه کې د ۱۰۷ نمبر تصویب سره په سخت مخالفت کې پرېکړه وکړه، چې د ٤٢٠ جریبه ځمکې دوسیه بېرته له ټولو معلوماتو

سره کابل ته ولېږي، تر څو هلته پرې څېړنې وشي، چې د بلخ ولایت د مزار ځمکه څومره قیمت لري، په مزار کې د نوموړي ځمکه په کوم ډول استملاک شوې او بیا دا چې په بدیل کې ورته خوست ولایت ولې انتخاب شوی دی.

ځکه چې په دې اړه د ځمکې د تبادلې قانون ٥٤ ماده وایي، چې د ځمکې تبادله یوائې د یوه ولایت په داخل کې کېږي، هغه هم په دې صورت کې چې د ځمکې قیمت، موقعیت او درجه معلومه وي.

خو نوموړی پر دې هم پړ و، چې پوره اسناد یې نه لرل او بیا یې هم هڅه کوله چې د خوست ښار په زړه کې چې یې پر کومه ځمکه ډېرې اچولي دي، دا په خلکو وپلوري.

تر دغه ورځې پورې هم دې سرې ادارو ته ټول معلومات په واک کې نه ورکول او غوښتل یې چې دا موضوع په همدې شکل گونگه پاتې شي او له خلکو څخه یې په پلورلو پیسې لاسته راوړي.

ده د خوست ښار د ختیز خوا ته په مېلمه کوټ کې دغه ځمکه لاندې کړې وه، چې له نېکه مرغه د دغه غاصب دسیسه شنډه او د (٤٢٠) جریبه ځمکې سندونه یې په خړ سېلاب لاهو شول.



پر هغو ځمکو ښوونځي جوړ شول چې غصب شوې وې او خوست والي راخلاصې کړې

د ولس او ادارې په مرسته عبدالجبار نعیمي وکولای شول چې د دې مخه ونیسي او دا ځمکه له دې غاصب څخه خلاصه کړي. د ولس په مرسته د غصب کوونکي هغه ټولې ډېرې له دغې ځمکې څخه لېرې کړل شوې او دا ځمکه له دې غاصب څخه خلاصه شوه.

دې ځمکې په خوست کې ډېره لوړه بیه لرله، چې په دغه وخت کې د دې ځمکې د یو جریب بیه د ١٥٠ زرو نه تر ١٦٠ زرو ډالرو پورې وه، حال دا چې د دغه غاصب د بلخ ځمکې یو جریب ٥ زره افغانۍ بیه لرله.

## د خوست هوايي ډګر:

خوست د افغانستان هغه ولایت دی، چې زیات خلک یې په بهرنیو هېوادونو کې کار کوي، د یوې اندازې له مخې، د خوست تر دوه سوه زره زیات ځوانان په عربي هېوادونو کې مزدوري او کاروبار کوي، چې د دوی د کار له برکته ډېره سرمایه او مسلکي تجارب هېواد ته راانتقالېږي.

په خوست کې له ډېر وخت راهیسې د یو هوايي ډګر د جوړېدو اوازې او خبرې کېدې، خو چې څومره دلته هوايي ډګر جوړېدو ته ضرورت و، دومره ورته چا اهمیت نه ورکاوه، که څه هم په دغه وخت کې دلته د امریکایانو له پي آر ټي سره پیسې ډېرې زیاتې وې او هغوی غوښتل چې د هوايي ډګر لپاره بودیجه ورکړي، خو که یو خوا ورته دلته چا جدي پاملرنه نه کوله، نو بل خوا چې به په کوم ځای کې د هوايي ډګر لپاره ځمکه خوښول کېده، پر هغه ځمکه به ځینو خلکو غصب کاوه او ولایتي اداره به یې دې ته نه پرېښووده، چې پر دغه ځمکه پروژه پلې کړي.

خو کله چې خوست ته عبدالجبار نعیمي د والي په حیث راغی، نو نوموړي د نورو کارونو تر څنګ د هوايي ډګر لپاره هم جدي ګامونه پورته کړل.



خوست کې د نړیوال هوايي ډګر د پروژې د کار د پیل مراسم، دا هوايي ډګر د سیمې په کچه ارزښت لري، که په اساسي توګه یې کارونه تکمیل شي د هېواد یو له مهمو هوايي ډګرونو څخه به وي

کله چې نوموړی په متحده عربي اماراتو کې پر ۲٦، ۳، ۲۰۱۱ز د افغانانو له خوا مېلمه و، نو هلته مېشتو افغانانو له نعیمي وغوښتل، چې دوی هوايي ډګر ته ډېره زیاته اړتیا لري او که په دې لړ کې خپل ګامونه پورته کړي، ځکه له دې سره به نه یوازې دا چې د خوست اقتصاد پیاوړی شي، بلکې په افغانستان کې به خوست ولایت په یو مهم ولایت بدل شي.

له دې وروسته والي په دې اړه ټول قانوني کارونه وڅارل او دا موضوع یې په جدي توګه مخ په وړاندې یووړه او اخر هم پر دې بريالی شو، چې د هوايي ډګر د بنسټ ډبره کېږدي.

د دې هوايي ډګر د جوړېدو چارې د اسماعيل خيلو او تڼيو ولسواليو ترمنځ پراخه سيمه کې پيل شوې، چې پر دې ځای هم ځينو خلکو دعوې لرلې، چې دا دولتي ځمکه د دوی ده، خو والي د دې خلکو له دعوو دا ځمکه راخلاصه کړه او د هوايي ډګر د جوړېدو چارې پرې پيل شوې.

پر ۲۱، ۰۹، ۲۰۱۱ز د خوست هوايي ډګر د جوړونې ډبره د يو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه، چې په کې د خوست ولسونو، ولايتي ادارې، امنيتي مسوولينو او رييسانو برخه واخيسته.

نعيمي د هوايي ډګر د ډبرې ايښودو پر مهال وويل:

((د دې پروژې په پلي کولو سره به د خوست د خلکو لپاره د کار کولو ښه زمينه برابره شي او د دې ولايت هر وګړی به يې له ګټو برخمن شي.))

همدا راز نومړي له هغو کسانو ځانګړې مننه وکړه، چې د هوايي ډګر په پروژه کې يې زيار ايستلی و او د ولايتي ادارې په استازيتوب يې د خوست ټولو ولسونو ته د هوايي ډګر د جوړيدو مبارکي وويله.

## متحده عربي اماراتو ته سفر:

عبدالجبار نعيمي د مارچ پر ٢٦مه کال ۲۰۱۱ز اماراتو کې د مېشتو افغانانو په بلنه متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ او هلته يې له هغوی سره ځانګړې ناستې وکړې.



عبدالجبار نعيمي په عربي اماراتو کې د خوست له خلکو، مخورو او سوداګرو سره غونډه کې

د نعيمي د مېلمستيا لپاره په متحده عربي اماراتو کې افغانانو په العېن کې يوه غونډه جوړه کړې وه، چې هلته مېشتو افغانانو، چې زيات په کې د خوست اوسېدونکي و، ګډون کړی و او هلته يې نعيمي ته په خوست کې د ښه مديريت له امله ستاينليک هم ورکړ.

په دې ناسته کې دلته مېشتو افغانانو له عبدالجبار نعيمي ځينې غوښتنې هم وکړې.

دلته د مېشتو افغانانو لومړۍ غوښتنه دا وه، چې په خوست کې د هوايي ډګر د جوړېدو

چارې دې ژر تر ژره پيل شي، ځکه دوی دې ته ډېر ضرورت لري.

د دوی بله غوښتنه دا وه، که نعيمي وکولای شي، د دوی دا ستونزه ولسمشر ته ورسوي، چې په متحده عربي اماراتو کې د دوی په اقامو کې رامخې ته شوې ده، که ولسمشر سفارت ته ووايي، چې د دې خلکو دا ستونزې حل کړي.

بله غوښتنه يې دا وه، چې د دوی د اولادونو لپاره دې دولت ځينې بورسونه ورکړي، تر څو د دوی اولادونه هم په بورسونو بهرنيو هېوادونو ته ولاړ شي او هلته زده کړې وکړي.

که څه هم دا دوه غوښتنې د عبدالجبار نعيمي اړوند نه وې، خو هغه بيا هم خپلې ټولې هڅې ترسره کړې او متحده عربي اماراتو کې د مېشتو افغانانو غوښتنې يې ولسمشر ته ورسولې، تر څو د دوی دا ستونزې حل شي او په خوست کې د هوايي ډګر جوړول يې په خپله په جدي توګه وڅارل.

## له خوست څخه د امريکايانو د پي آر ټي وتل:

خوست کې د امريکايانو پي آر ټي د ۲۰۰٤ز کال په لومړيو کې جوړه شوې وه، چې ۹ کلونه کار يې وکړ او له هغه وروسته په ۲۰۱۳ز کال کې يې دلته کارونه راغونډ کړل او له دې ځايه ووتل.

په خوست کې د امريکايانو پي آر ټي ډېر لوی خدمت ترسره کړی و او د بيارغونې په کارونو کې يې له ولايتي ادارې سره ډېره لويه مرسته کړې وه، چې هېڅ د هېرولو نه ده. دوی په هره برخه کې خپلې مرستې نه سپمولې او د ولس د خېر ښېګنو د کارونو لپاره به هر وخت له حکومت سره ولاړ و.

د امريکايانو پي آر ټي په سلار نو (فارم باغ) کې جوړه شوې وه، چې دلته دوی په ميليونونه ډالر مصرف کړي و، ځکه دلته يې پوره سيستم برابر کړی و، چې ۹ کلونه وخت يې دلته تېر کړ.

خو کله چې دوی له دې ځايه بېرته تلل، نو دوی هر څه انتقالول غوښتل. خوست والي ورته په رسمي توګه مکتوب ولېږه، چې دلته دوی څه جوړ کړي، که دا د تخريب او انتقال پر ځای حکومت ته وسپاري، نو په تلو تلو کې به يې له حکومت سره لويه مرسته وي.

دلته د برق سيستم برابر شوی و، دلته ډېر لوی لوی جنراتورونه لګېدلي و، دلته لرګينې خونې جوړې شوې وې، دلته کانتېنرونه و، دلته موټر و او نور ډېر د ضرورت سامانونه موجود و.

والي له دوی غوښتنه وکړه که جنراتورونه او د برښنا لاينونه د برښنا ادارې ته ورکړي، نو له دې سره به په خوست کې د برښنا ډېرې ستونزې راکمې شي. دې سره به ډېرو کورونو، ادارو او حکومتي ودانيو ته برق ورسېږي او د خوست برق به ډېر ورسره ښه شي.

همداسې دوی ترې وغوښتل، که دا لرګينې کوټې د معارف رياست ته ورکړل شي، نو هغوی به ترې د مکتبونو لپاره څوکۍ، مېزونه او نور اړوند شيان جوړ کړي، دوی کولای شي ځينې

مکتبونو کې له همدې لرگينو کوټو څخه هم کار واخلي. همداسې که له دوی پاتې کېدونکې موټرې هم دوی معارف رياست ته ورکړي، نو دوی به ترې ډېره گټه پورته کړي.

د دوی ډېر سامانونه داسې هم و، چې هغه د ملي اردو او پوليسو لپاره گټور و او په همدې وجه والي له دوی رسمي غوښتنه وکړه، چې دغه سامانونه دې افغان دولت ته وسپاري.



کله چې بهرنيان له خوست څخه وتل نو يې خپل وسايل او سامان الات تور بازار ته وړاندې او يا يې خپله له منځه يوړل

خو پي آر ټي دا خبره ونه منله او هغوی وويل، چې دوی سره دلته هېڅ داسې خبره نه ده شوې، چې د دوی له وتلو وروسته دې، دا هر څه حکومت ته وسپاري، نو دوی نه غواړي چې دا هر څه حکومت ته وسپاري او دوی دا هر څه تخريبول غواړي.

خوست کې پي آر ټي ۹ کلونه کار کړی و او دلته يې ډېر زيات څه جوړ کړي و، خو بدبختانه چې هغه هر څه دوی تخريب يا انتقال کړل، هغه ټول څيزونه دوی چيت کړل او د دې هر څه په تخريبولو يې ډېر زيات ډالر مصرف کړل، خو دلته يې حکومت ته ور نه کړل، چې گټه ترې پورته کړي، دا ډېره د بدبختۍ خبره وه، ځکه چې دوی له حکومت سره څومره مرسته کړې وه، هغه هېڅ د هېرولو نه وه، خو دا څيزونه چې دوی ترې کباړ جوړولو، دلته پرې د خوست د خلکو او ادارو ډېرې ستونزې هوارېدې، چې دا به په تلو تلو کې د دوی له دې خلکو سره لويه مرسته وای، چې بدبختانه دوی ورسره ونه کړه.

### له شېخ زايد پوهنتون سره د متحده عربي اماراتو مرسته:

د خوست د شېخ زايد پوهنتون د لسمې کليزې له نمانځلو څه وخت وروسته متحده عربي اماراتو وغوښتل چې له خوست پوهنتون سره يو لړ مرستې وکړي.

په دې لړ کې له متحده عربي اماراتو څخه یو پلاوی راغی، چې د عبدالجبار نعیمي سره یې د متحده عربي اماراتو په سفارت کې لیدنه وکړه او هغوی ته یې وویل، چې دوی غواړي له خوست پوهنتون سره ۳۰ میلیونه امریکایي ډالر مرسته وکړي.



**عبدالجبار نعیمي د عربي اماراتو له سفیر جمعه الکعبي او چارواکیو سره ولیدل اماراتو په خوست ولایت کې له والي سره د شیخ زاید پوهنتون لپاره د ۳۰ میلیونه ډالرو مرستې ژمنه وکړه**

نعیمي له هغوی مننه وکړه او یاد پلاوی یې د هغه وخت د خوست پوهنتون له رییس محمد رسول باوري (چې اوس د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست وزیر دی) سره مخ کړ، تر څو دا مرستې د خوست شیخ زاید پوهنتون ته په سمه توگه ورسیږي.

دا د عبدالجبار نعیمي له ځانگړو هڅو او لاسته راوړنو څخه وه، چې د شیخ زاید پوهنتون لسمه کلیزه یې ونمانځله او متحده عربي امارات یې دې ته وهڅول چې له دې پوهنتون سره نوره مرسته هم وکړي.

## د خوست پرمختیایي کنفرانس:

د عبدالجبار نعیمي په وړاندیز او د سیمه ییزو ارگانونو د خپلواکې ادارې په مشرۍ، په پلازمېنه کې د وزیرانو شورا ماڼۍ کې پر ۲۳، ٦، ۱۳۹۲هـ ش کال د ((خوست پرمختیایي کنفرانس)) تر سرلیک لاندې کنفرانس جوړ شو.

په دغه کنفرانس کې د سکتوري وزارتونو مسوولینو، د نړیوالو مرستندویه ټولنو غړو، په ملي شورا کې د خوست ولایت استازو، د خوست ولایتي شورا وکیلانو، د ولایتي ادارې مسوولینو او د مدني ټولنو استازو گډون کړی و.

د دې کنفرانس د راجوړېدو هدف دا و چې د خوست د پنځه کلن ستراتیژیک پلان په

چوکاټ کې ټولې غوښتنې، وړاندېزونه او ستونزې له مرکزي ادارو، سکتوري وزارتونو او مرستندویه ټولنو سره شریکې شي.



د خوست پرمختیايي کنفرانس ګډونوال

په دې کنفرانس کې عبدالجبار نعیمي د خوست ولایت په لاسته راوړنو او پرمختګونو خبرې وکړې. هغه وویل چې اوس خوست کې د ښې حکومتدارۍ، ډاډمن امنیت، دولتي حاکمیت د ټینګښت، قومي شخړو د هوارې او خلکو ته د غوره خدمتونو د وړاندې کولو په عرصو کې د پام وړ کار شوی. هغه وویل چې اوس دویمه درجه ولایت دی، سکتوري وزارت او مرکزي اداره دې د خوست د ولسونو د ستونزو د هوارې لپاره اساسي ګامونه پورته کړي.

په دې کنفرانس کې د ګډونوالو سره د خوست ولایت د هرې یوې بشپړې شوې پروژې معلومات شریک شول، چېرته چې کومې اړتیاوې وې، هغه له ټولو سره شریکې شوې او له اړوندو ادارو غوښتنه وشوه، چې په دې برخه کې له خوست سره خپله همکاري وکړي.

دې کنفرانس د خوست لپاره ډېرې لاسته راوړنې درلودې، له کنفرانس وروسته د خوست ولس په خوست کې نوي پرمختګونه ولیدل او دا یې د عبدالجبار نعیمي ښه مدیریت وباله.

## د خوست له مشرانو سره د ولسمشر حامد کرزي لیدنه:

د چنګاښ پر ٤مه، ۱۳۹۲هـ ش کال د خوست ولایت قومي مشرانو، دیني عالمانو او مخورو د افغانستان له جمهور رییس حامد کرزي سره ولیدل او دوی خپلې ستونزې او غوښتنې ورسره مطرح کړې.

څو تنو په ارګ کې د قومي مشرانو، دیني عالمانو او مخورو په استازیتوب له ولسمشر حامد کرزي سره خبرې وکړې. دوی وویل چې په خوست کې امنیت د ډاډ وړ دی او د خلکو او سیمه ییزې ادارې ترمنځ ښه همغږي رامنځته شوې ده.

په دې ليدنه کې د ولسمشر نه د هوايي ډګر او د خوست ـ ګرديز پر سړک باندې د کار د چټکتيا، د خوست ښار د ماستر پلان د پلي کېدلو، د برښنا د بندونو، صنعتي پارکونو د جوړېدو او له دريمې درجې څخه دويمې درجې ته د خوست ولايت د لوړولو غوښتنه شوې وه.

ولسمشر حامد کرزي د خوست د مشرانو او مخورو د ستونزو او غوښتنو له اورېدو وروسته وويل، چې خوست د افغانستان له ٣٤ ولايتونو څخه هغه يو دی، چې د خپلو خلکو په لاس يې ښه پرمختګ کړی دی او همداسې يې اړونده وزارتونو ته لارښوونه وکړه، چې د خوست د خلکو ستونزو ته رسيدګي وکړي.

## ولسمشر سره ويډيويي کنفرانس:

کله چې ډاکټر محمد اشرف غني د افغانستان ولسمشر شو، نو پرېکړه يې وکړه چې له ولايتي مسوولينو سره د ليدنو پر ځای د ويډيويي کنفرانس له لارې خبرې وکړي او ټولې ستونزې او غوښتنې يې واوري.



**والي نوي ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني سره د ويډيويي کنفرانس له لارې د دغه ولايت د خلکو اساسي ستونزې او غوښتنې شريکوي**

په دې لړ کې پر ٢١، ٧، ١٣٩٣هـ ش کال والي له ولسمشر سره په هېواد کې په لومړي ځل په ويډيويي کنفرانس خبرې وکړې.

په دې ويډيويي کنفرانس کې د عبدالجبار نعيمي ترڅنګ ملکي او امنيتي مسوولينو، ولايتي شورا غړو، ديني علماوو، مخورو مشرانو، استادانو، مدني ټولنو استازو، کلتوري بنسټونو

مسوولينو، له مرکز او ولسواليو څخه راغليو په سلگونه کسانو برخه واخيسته.

نعيمي ولسمشر ته د خوست ولايت د حالت، د خلکو د اساسي ستونزو او غوښتنو په تړاو هر اړخيز معلومات وړاندې کړل. وارداتي برښنا، ذخيروي بندونو جوړول، لويو پلونو جوړول، د ملکيتونو د ستونزو هوارى، غلام خان لارې ترانزيټ، ځينو ولسواليو ته د سړکونو جوړول، امنيتي ارگانونو تشکيلاتي، تاسيساتي او تجهيزاتي ستونزو حل، په ادارو کې متخصص کدرونه پر دنده گومارل، انکشافي بوديجې ليږد په خپل وخت ولايت ته، د هوايي ډگر د پروژې پر قرارداد باندې له سره کتنه، د بې نمبر پليټه موټرونو ثبت، کډوالو سره بشري مرستې او شيخ زايد پوهنتون ته ځانگړې توجو هغه اساسي موضوعات و چې ولسمشر سره شريک شول.

ولسمشر ډاکتر محمد اشرف غني د خوست د ولسونو له اعتماد څخه د زړه له کومې مننه وکړه. ولسمشر وويل چې ولس خپل مسووليت اداء کړ او اوس مسووليت زما دى، چې د خپل ولس خدمت وکړم.

د يادونې وړ ده چې دا لومړى ځل و چې ولسمشر د يو ولايت له مسوولينو او ولسي مشرانو سره د ويډيويي کنفرانس له لارې خبرې کولې، چې له نيکمرغه خوست يې په خپل اساسي لومړي کاري لومړيتوب کې شامل کړ.

## د ماموريت وروستۍ ورځې، لاسته راوړنې او مننه:

د نوي حکومت له راتلو وروسته ډېر څه تغير شول، په دې لړ کې په ولايتونو کې هم ډېر بدلونونه راغلل.

عبدالجبار نعيمي په خوست کې د خپل ماموريت په وروستيو ورځو کې د يوې مهمې پروژې د غلام خان بندر د سرحدي گمرک او کميسارۍ د تاسيساتو پرانيسته وکړه. د تاسيساتو د پرانيستې غونډه پر ۱۸، ۱۲، ۱۳۹۳هـ ش کال ترسره شوه، چې په غونډه کې د والي تر څنگ ملکي او امنيتي ادارو مسوولينو، د ټولو ولسواليو قومي مشرانو، مخورو، علماوو، مدني فعالانو او د خوست زيات شمېر اوسېدونکو برخه اخيستې وه.

د دې سترې پروژې د پرانيستې پر مهال والي گډونوالو ته مبارکي وويله، ځکه دا د خوست ولايت لپاره يو ستر تجارتي او اقتصادي پرمختگ و، چې له جوړېدو وروسته يې يو ستر اقتصادي بدلون رامنځته کېده.

عبدالجبار نعيمي په خپلو خبرو کې له خلکو مننه وکړه او د خوست د بستېزو پروژو يادونه يې هم وکړه، هغه وويل:

((امنيت د ټولو پرمختګونو اساس او ښه بستر دی، همدا لامل دی چې د افغانستان په دغه سرحدي ولايت کې د ډاډمن امنيت په شتون کې دغه ډول ملي پروژې هم پلي کيږي او هم ګټې اخيستنې ته سپارل کيږي، هر هغه څوک چې په هېواد کې د پرمختګ، بيارغونې، امن، سولې او ثبات مخه نيسي، په څرګنده له ولس او نظام سره دښمني کوي.

پر ټولو هغو کسانو باندې د سولې له بهير سره د پيوستون غږ کوم چې د نورو په اشاره خپل هېواد ورانوي او افغان مسلمان ولس د غم پر ټغر کېنوي او په دې خاوره کې د ترقۍ او پرمختګ مخه نيسي. دا د هر فرد دنده ده چې په اسلامي او ملي مسووليت سره د سولې، امن، ثبات او يووالي پيغامونه د دې هېواد تر هر ګوټ، سيمې او کلي پورې ورسوي.



د غلام خان بندر د سرحدي ګمرک او کميسارۍ د تاسيساتو پرانيستې غونډه کې ګډونوال د والي وينا ته غوږ دي

که د قومونو ترمنځ يووالی ټينګښت ومومي، قومي لانجې او قومي شخړې پای ومومي، پرديو ته په هېواد کې د ورانکاره فعاليتونو اجازه ورنه کړل شي، هره ورځ به وکولای شو چې په خپل هېواد کې د پرمختګ نوي خبرونه او زېري ولرو.

خوست ولايتي ادارې په څو کلونو کې د خوست د پرمختګ، بيارغونې او امنيت په ډګر کې داسې بنسټيزې اغيزمنې کړنې سرته رسولي چې خوست ولايت يې د افغانستان په يو مهم سرحدي او پام وړ ولايت بدل کړی دی او له امله يې په ټولو سکتورونو کې ګڼ شمېر پرمختګونه رامنځته شوي دي چې په دې ټولو پرمختګونو کې د ولسونو همکاري د ستاينې او افتخار وړ ده.

خوست ولايت کې د هر ډول پانګې اچونې لپاره زمينه مساعده ده، ملي او بهرني سوداګر

کولای شي د بشپړ امنيت په شتون کې پانګه اچونه وکړي هم به يې ټولنې ته ګټه ورسيږي، هم به تجارت وده وکړي او هم به خلکو ته د کار زمينه مساعده شي، مونږ له ټولو سوداګرو غواړو چې د خوست موقعيت او اهميت ته په کتو سره له نن ورځې خپله پانګه اچونه زياته کړي.

د غلام خان لارې په رسمي توګه ترانزيټ سره به خوست د تجارت په مرکز واوړي او دغه



عبدالجبار نعيمي د غلام خان بندر د سرحدي ګمرک او کميسارۍ د تاسيساتو پرانيستې په پار جوړې شوې غونډې ته وينا کوي

ولايت به د افغانستان په يوه اقتصادي دروازه بدل شي خوست ولايتي اداري په دې برخه کې اساسي تلاشونه کړي دي له نيکمرغه ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني هم پر دې عملي کار پيل کړی، تمه ده چې ډير ژر به د ا هيله هم پوره شي.

د خوست ګرديز سړک کارونه هم په چټکۍ سره مخ ته روان دي، د خوست په ساحه کې يې کارونه تکميل او د پکتيا په ساحه کې پرې جدي کار کېږي او له خوست ښار څخه غلام خان بندر ته د غځيدلي سړک چارې هم ګړندۍ روانې دي، دا هغه ګامونه دي چې د همدې لارې د رسمي ترانزيټ په پرلپسې توګه پورته کيږي.

د محلي حکومت د لومړۍ درجه مسوول په حيث به خوست کې د نورو ګڼ شمېر پروژو ترڅنګ د غلام خان بندر تاسيسات،ګمرک تاسيسات او نړيوال هوايي ډګر پروژې هغه سترې پروژې وي چې هم مې يې د بنسټ ډبرې کېښودلې او هم دا دي تر ګمرک وروسته د غلام خان بندر تاسيسات ګټې اخيستنې ته سپارم.

د خوست ولايت له ديني علماوو او قومي مشرانو مې غوښتنه دا ده چې د شويو پرمختګونو

يادونه او ملاتړ وکړي او هغه کسان چې په ړندو سترګو پر دې ټولو پرمختګونو او لاسته راوړنو خاورې اړوي په دې وپوهوي چې له ولس او نظام سره خيانت کوي.

پر خپلو ميړنيو امنيتي، نظامي، کشفي او سرحدي ځواکونو وياړم چې د سر او وينو په قيمت خپله خاوره او تاريخ ساتي او پر دې سرحدي سيمو کې د خپل بيرغ تر سېوري لاندې د ځمکنۍ بشپړتيا او سرحد څخه د دفاع په سنګرونو کې ناست دي خدمت يې تاريخي او نه هيريدونکى دى.

له ټولو ولسونو مې غوښتنه دا ده چې د هرې پروژې په ساتنه او مراقبت کې له دولت سره بشپړه همکاري وکړئ تر څو د دې خاورې او ولس دښمن هيڅ پروژې ته زيان ونه رسوي.))

والي په همدې غونډه کې چې د ماموريت وروستى پړاو يې و، ټولې بنسټيزې لاسته راوړنې د خوست له خلکو سره شريکې کړې او د ولس له همکارۍ يې د زړه له کومې مننه وکړه، چې په هر ځاى او هر قدم کې يې ورسره همکاري کړې وه.

د والي له وينا څخه ولس سره د خداى په امانۍ يو پيغام هم ترلاسه شو، ځکه نوي حکومت نوي ګومارنې پيل کړې وې او نور په خوست کې د عبدالجبار نعيمي کاري دوره په بريالیتوب پاى ته رسېدلې وه او د نوي حکومت د مشرتابه نوي تصميم ته سترګې په لاره و.

# لغمان

لغمان د افغانستان یو له ختیزو ولایتونو څخه دی، دا ولایت په ۱۳٤۳هـ ش کال کې تاسیس شوی دی، مرکز یې د مهترلام ښار دی.

لغمان ولایت ۳۸۴۳ کیلومتره مربع مساحت لري، د یو میلیون شا و خوا کې نفوس لري او د بحر له سطحې څخه ۷۷۲ متره لوړ دی.

په دې ولایت کې درانه قومونه ژوند کوي.

لغمان د هندوکش غرونو په لمنه کې د کابل سیند تر غاړې پروت دی، دالینگار او الیشنگ سیندونو یې ښکلا نوره هم زیاته کړې ده.

د لغمان ولایت ټول کلي تقریباً (٦۴۰) دي.

بودایي مدنیت د دې ځای پر ډېرو سیمو خپور و او د اشوکا (د هندي یوریانو د کورنۍ پاچا) د دورې ډېرلیکونه او هم د درونټې تر څنگ یو شمېر بودایي آثار پکې موندل شوي دي، چې د څېړونکو او پوهانو د پوره پاملرنې وړ دي او حدودالعالم یې بتخانو ته اشاره کړې ده.

د لغمان سوېل ختیځ او سوېل ته ننگرهار، شمال ختیځ ته کونړ، شمال ته یې نورستان، شمال لوېدیځ ته یې پنجشېر او لوېدیځ ته یې کابل او کاپیسا ولایتونه موقعیت لري.

لغمان ولایت د مرکز په گډون شپږ اداري واحدونه لري، مهترلام د ولایت مرکز دی، الیشنگ، الینگار، دولت شاه، قرغه یي او بادپښ (لا هم د لغمان د شپږم اداري واحد په توگه رسماً نه ده پېژندل شوې) یې ولسوالۍ دي.

په لغمان کې د کابل سیند ترڅنگ د الینگار او الیشنگ سیندونه بهیږي او د دې ترڅنگ گڼ شمېر کاریزونه هم لري، د اوبو د پراخو زېرمو له امله د دې ولایت ډېری خلک پر کرنه بوخت دي.

په دې ولایت کې وریژې، لوبیا، بېلا بېل ډول ترکارۍ او سبزي جات، مېوې لکه نارنج، مالټې، لیمو، کینو، گني، منې، زردالو، چارمغز او داسې نور محصولات کېږي. د دې ولایت په غرنیو سیمو کې د جلغوزیو ځنگلونه هم شته، دغه راز د ارچې، نښترو، بلوطو، چنارونو او نورو ونو لوی ځنگلونه هم لري.

په لغمان کې د الینگار او الیشنگ دوه لوی سیندونه په قرغیو ولسوالۍ کې له کابل سیند سره یو ځای کېږي.

په دې ولايت کې د خوسي، توپ ډنډې، غېږې نيولو او نورې دوديزې لوبې شته خو ترڅنگ يې واليبال او فوټبال هم کېږي. په دې وروستيو کې دلته د کرکټ لوبې ډېره وده کړې ده او ولايتي منتخبه لوبډله هم لري.

دا ولايت ډېرې تاريخي سيمې هم لري، چې د سراج تاريخي کلا او بڼ، مهترلام بابا زيارت، عقل تمامه کلا او نورې يې د يادونې وړ دي.

# د لغمان ولايت د والي په توګه

لغمان دريم هغه ولايت دی، چې عبدالجبار نعيمي ورته د والي په توګه ورغی. نوموړی د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې ادارې په وړانديز او د جمهوري رياست په منظورۍ په دغه ولايت کې د والي په توګه د ١٣٩٤هـ ش کال د غبرګولي مياشت کې وټاکل شو.

له نعيمي مخکې په لغمان کې ډاکتر فضل الله مجددي د والي په حيث دنده ترسره کوله.

د نوي والي د معرفت غونډه د غبرګولي پر ٢١مه وشوه او له هغې وروسته نوموړي په لغمان کې کار پيل کړ.

### د معرفت غونډه:

عبدالجبار نعيمي د يوې لويې غونډې په ترڅ کې د لغمان ولسونو ته د نوي والي په توګه وروپېژندل شو.

د معرفت په غونډه کې د ميدان وردګو، خوست، لوېي پکتيا، لوی کندهار، کابل او شمالي ولايتونو ځينو مشرانو، ځوانانو، مدني فعالانو، فرهنګيانو او د رسنيو استازو ګډون درلود.



عبدالجبار نعيمي د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د مالي او اداري معين عبدالمالک صديقي او مشرانو لخوا رسماً د والي په صفت د لغمان خلکوته معرفي شو

د معرفت په غونډه کې نوي والي د لغمان ولسونو سره هيڅ وعده ونه کړه، يواځې يې ورته وويل: ((زه به تلاش او هلې ځلې کوم، ماته چې کوم مسووليت راسپارل شوی، هغه مسووليت به زه ډېر په مينه او په ښه توګه ترسره کوم.))

والي د لغمان له خلکو څخه وغوښتل، چې د امنيت، انکشاف او اداري په جوړولو کې

ورسره مرسته وکړي.

خلکو ته یې وویل: ((زما نیت، هوډ او ژمنتیا دا ده، چې زه په کار کولو نه ستړی کېږم، زه غواړم چې د خپل ولس، نظام او ولسمشر په ملاتړ، چې پر ما یې دا اعتماد کړی دی، د پرمختګ هغه ټولې لارې چارې ترسره کړم، چې ماته یې مسوولیت راسپارل شوی دی.))

په دې غونډه کې نورو ډېرو خلکو هم خبرې وکړې، چې په کې له خوست او میدان وردګو نه راغلیو مشرانو د والي د کارونو په اړه رڼا واچوله او له هغه سره یې هلته تېر کړی وخت یاد کړ.



عبدالجبار نعیمي رسماً په لغمان کې د والي په صفت خپله دنده پیل کړه.

د معرفت په غونډه کې د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې مرستیال عبدالمالک صدیقي په خپلو خبرو کې وویل: ((عبدالجبار نعیمي یو بریالی او تجربه کار والي دی، زما به ترې غوښتنه دا وي، چې د والي په حیث له خپلې اته کلنې تجربې څخه په لغمان کې هم ګټه پورته کړي او د دې ستر ولایت لپاره بنسټیزې چارې ترسره کړي، چې په دې سره به پراخې ولسي ستونزې هوارې شي.))

په غونډه کې والي یوازې له خلکو سره د مینې او له کار سره د خپلې ژمنتیا په اړه خبرې وکړې. د لغمان خلک هم پر دې خوښ و، چې داسې وعدې ورسره نه دي شوي، چې وروسته عملي نه شي. نعیمي وايي: ((چې له چاسره وعده وکړې او بیا پر وعده وفا ونه کړې، نو هغه د خلکو په زړونو کې بدوالی پیدا کوي.))

## د لغمان ولایت لوی روغتون:

د معرفت غونډې پر سبا والي په رسمي کار پیل وکړ. والي د مرکز او ولسوالیو د ملکي، نظامي، عدلي او قضایي ادارو په اړه معلومات ترلاسه کړل، چې لغمان اوس په کوم حالت کې دی، له ادارو یې د کاري پلان غوښتنه هم وکړه او نیمګړتیاوې او ستونزې څه ډول او چېرې دي،

د دې په اړه يې هم له ټولو ادارو څخه معلومات وغوښتل.

د هغو څيزونو په اړه يې پوښتنه وکړه، چې لغمان کې اوس د کومو کارونو په مخکې خنډونه پراته دي، چې سر له اوسه هغه لېرې او کار پرې پيل شي.



۱۳۹٤/٥/٦هـ ش: لغمان والي د کابل څخه راغلي پلاوي په ملتيا په مهترلام کې جوړېدونکي ۱۵۰ بستريز روغتون څخه د ليدنې پر مهال

په لومړيو لسو ورځو کې والي دا ټول معلومات ترلاسه کړل، خو ډېر د تاسف وړ خو دا وه، چې لغمان کې يوه ډېره مهمه پروژه د څو کلونو په تېرېدو لاهم همداسې په ګډوډ حالت کې پرته وه.

د لغمان ولايت په مرکز مهترلام کې د ولايت د لوی ۱۵۰ بستريز روغتون د تعمير جوړېدو پروژه په ۱۳۹۱هـ ش کال کې منظوره شوې وه، چې قرارداد يې په مرکز کې شوی و، د دې پروژې لپاره نږدې ۲۵۵ ميليونه افغانۍ منظورې شوې وې، خو تر ۱۳۹٤هـ ش کال پورې نه هم د دې پروژې د نقشې څه درک لګېده او نه يې پلان معلوم و. ولايت ته د قرارداد کاپي هم نه وه راغلې او نه يې د کار د حجم څه اندازه لګېده، هېڅ معلومات يې نه و، يوازې قراردادي پر خپل سر يو څه روان کړي و او بس دا خبره وه، چې قرارداد مرکز کې شوی دی، نو نه به پرې ولايتي اداره غږ کوي او نه به ورته څوک څه وايي.

حال دا چې اوس يې څلورم کال روان و، خو چې والي کوم معلومات ترلاسه کړل، د هغې په حساب دې روغتون يوه زېرزميني هم لرله، چې تر دغه دمه پورې يې څرک نه لګيده.

والي چې معلومات راغونډ کړل، نو وروسته له هغه يې د عامې روغتيا له وزارت څخه يو باصلاحيته پلاوی راوغوښته، چې له غوښتنې سره سم د عامې روغتيا وزارت معين باز محمد شېرزاد راغی.

والي د عامې روغتيا له راغلي پلاوي، د عامې روغتيا د رياست مسوولينو او انجنيرانو سره يو ځای د پروژې ځای ته ورغلل. هلته يې قراردادي راوغوښت خو موجود نه و، نو پر ځای يې يو استازی راغی، کله چې له دغه ځای نه ليدنه وشوه، نو د پروژې حالت ډېر بد و. والي پوښتنه

وکړه چې ولې دا هر څه داسې ګډ وډ روان دي؟

نو هغوی بیا پر یو بل پړه اچوله.

د داسې غریب ولایت غریب ولس، چې د درملنې لپاره ننګرهار او کابل ته ځي او په درملنه یې یو پر درې پیسې مصرفېږي، که یو خوا درملنه کوي، نو بل خوا په تګ راتګ هم ډېرې پېسې مصرفوي، چې غریب خلک یې له ډیرې سرګردانۍ سره مخ کړي دي.

بله دا چې د نورستان درې ولسوالۍ هم داسې دي، چې باید ناروغان یې درملنه په لغمان کې وکړي، نو دې هر څه ته په کتو، بیا هم داسې یوه مهمه او ملي پروژه په داسې بې اعتنایۍ سره مخ ته وړل، له هېواد او دې بې چاره ولس سره ډېره لویه جفا ده.

والي هغه انجنیر چې په دې پروژه کې یې کار کاوه، پر هماغه ځای رخصت کړ. کوم شرکت چې روغتون جوړاوه، هغه ته والي رسماً لیک ورکړ، چې په دوه اونیو کې قرارداد، نقشه او



**د مهترلام ولایتي ۱۵۰ بستریز روغتون ساختماني کارونه بشپړ شول**

شرطپاڼه راموجوده کړي او هغه ټول کارونه چې په دې قرارداد کې یاد شوي، هغه ټول سم کړي.

تراوسه چې څومره کار شوی، دا به نړوي یا بله هر څه لار چې ورسره کوي، خو پروژه چې په کومو شرایطو شرکت ته ورکړل شوې، له هغو ټولو شرایطو سره به یې برابره تطبیقوي.

والي ورته وویل، که دا هر څه په دوه اونیو کې ترسره نه شول، نو بیا مجبور دی چې قانوني اقدام وکړي. په کار خو دا وه، چې د دې شرکت او قراردادي پر ضد قانوني اقدام شوی وای. دا پروژه ډېره مهمه وه او د لغمان ولس ورته ډېر زیات ضرورت درلود، چې تر دغه وخته یې څلورم کال روان و او بیا هم سر ته نه وه رسیدلې او چې څومره کار یې کړی هم و، هغه هم ډېر په بد حالت، له نقشې، قرارداد او شرطونو سره سم نه و.

خو مشکل دا و، که دا پروژه ځنډېدله، نو تاوان یې خلکو ته رسېده. یو ځل د دې لپاره بودیجه منظوره شوې وه، که دا بیا یو ځل کېنسل کېږي او بیا منظورېږي نو وخت نیسي، نو په دې خاطر والي لومړی هغوی ته د دوه اونیو وخت ورکړ، چې هر څه سم کړي.

د روغتون د دې تعمیر کار په څلورو کالو کې دومره نه و شوی، چې په یو کال کې ترسره

شو. له هغې وروسته به د لغمان ټول ولس او د نورستان د درېو ولسواليو خلک له دې دوه سوه بستريز روغتون نه ګټه اخلي. ننګرهار او کابل ته له تګ او د لوړو مصرفونو نه به خلاص وي.

که دا تعمير په ۱۳۹۱هـ ش يا ۱۳۹۲هـ ش کې سر ته رسېدلی وای، نو تراوسه به ډېرو خلکو له دې نه ګټه هم پورته کړې وای او د دې پيسې، چې هر کال بيا، بيا لغمان ته په بوديجه کې حسابېږي، د دې پر ځای به دوه درې نورې پروژې هم لغمان ترلاسه کړې وای، خو د يو شرکت او يو قراردادي له لاسه، لغمان ولايت دومره زيان وليده.

په دې کې يوه بله ستونزه هم شته، افغانستان کې ځينې سيمې يخې دي او ځينې ګرمې، نو د دې روغتون لپاره چې کومه نقشه جوړه شوې، هغه د يخو سيمو ده، چې دا په مرکز کې جوړه شوې او منظوره شوې ده، ځکه د داسې نقشو په ګرمو سيمو کې تطبيقېدل هغسې ګټه نه ورکوي، لکه په يخو سيمو کې يې چې ورکوي.

والي په دې اړه هم خپلې هڅې وکړې، چې مرکزي وزارتونه پر دې قايل کړي، چې دوی ولايتونو ته کومې پروژې انتقالوي، نو لومړی خو دا کار وکړي، چې ټول صلاحيتونه او مسووليتونه هم ولايت ته وسپاري، له هغې پرته په خپله هم د پروژو نظارت او کنټرول وکړي، ځکه چې کوم شرطونه ورکړل شوي وي، چې هم هغه په سمه توګه پوره شي، بل پروژه په ښه توګه، ښه کېفيت او په خپل وخت سره تکميل شي، تر څو هم بوديجه په خپل وخت مصرف شي او هم د نيمګړتياو مخه ونيول شي.

## لغمان کې بده خاطره:

کله چې عبدالجبار نعيمي د لغمان والي په حيث خپل کار پيل کړ، نو په لومړيو دوه اونيو کې د هغه پر ضد د لغمان د ګوټو په شمېر بدنيتو او منفي فکره خلکو تبليغات شروع کړل.

دا داسې وخت و، چې د لغمان د والي په حيث نومونړي تراوسه پورې پر هېڅ کاغذ امضاء نه وه کړې، خو بيا هم دلته ځينو خلکو د هغه پر ضد تبليغات شروع کړي و.

دسيسه کارو غوښتل چې ولسمشر ته او د لغمان ولس ته داسې يو پيغام ورسوي، چې د سراج باغ ګوا کې والي چا ته ورکړی دی، چې په کې ودانۍ جوړه کړي.

حال دا چې، تر دغه وخته پورې والي د سراج باغ لا ليدلی هم نه و، کله چې له مرکزي ادارې نه لغمان والي ته خبر راغی، چې دا موضوع تعقيب کړي، چې څه خبره ده او څنګه داسې يو تاريخي ځای کې بل څوک تصرف کوي.

کله چې والي تحقيق وکړ، نو اصل کيسه په دې ډول وه، چې په لغمان کې د يو څارنوال حفيظ احمد ورور، چې په عمومي سړک کې يې دوکانونه و. د هغه وخت والي غوښتل چې سړک پراخ کړي، نو په دې خاطر يې د څارنوال د ورور دوکانونه له هغه اخيستي و، تر څو دا دوکانونه لېرې کړي او




د سراج کلا تاريخي ودانۍ پخوانۍ انځور

سړک پراخ شي، نو هغه ته يې د دې دوکانونو په بدل کې د ځاى ورکولو خبره کړې وه.

بيا د هغه وخت اداري غونډې (اداري مجلس) ته دا خبره راغلې وه، اداري غونډې دا خبره تصويب کړې وه، ټولو پرې امضاګانې کړې وې، له هغې وروسته دا موضوع مرکز ته لېږل شوې وه.

هلته چې کله دا موضوع رسېدلې وه، نو له هغې وروسته هلته په کابينه کې وړاندې شوې وه او د ځانګړې مصوبې په بنا دې شخص ته د دوکانونو په بدل کې ځاى ورکړل شوى دى.

خو په مرکز کې دوى ته ليکل شوي دي، چې دې تن دې د لغمان په ښار کې بديله ځمکه ورکړل شي، دا يې نه دي ليکلي چې کومه ځمکه دې ورکړل شي.

کله چې دا موضوع بېرته د هغه وخت لغمان والي ته راغلې وه، نو هغه دا منلې وه او ټولو ادارو ته يې لېږلې وه، چې دې سړي ته دې ځاى ورکړي.

وروسته له هغه دې سړي ځان ته ځاى خوښ کړى و، چې اداري هم ورته ورکړى و، هغه ځاى له سراج باغ سره نږدې و، يعنې سراج باغ په خپله نه و، له هغه سره نږدې ځاى يې دې

سړي ته ورکړی و.

دا هر څه د عبدالجبار نعیمي له راتلو مخکې شوي و او پر دې ټوله پروسه شا و خوا څلور کاله وخت تېر شوی و، چې وروسته دې سړي ته یاد ځای ورکړل شوی و.

خو چې کله والي له دې ټولې کیسې نه خبر شو، نو هغه تن یې له دغه ځایه منع کړ او ورته یې وویل، چې دې سره به تاریخي ځای ته زیان ورسېږي، که څه هم دا ځای سراج باغ نه و، خو والي بیا هم اجازه ور نه کړه، چې د سراج باغ شا و خوا دې ابادي وکړي.

په ځینو ادارو کې داسې کسان ناست دي، چې هغوی دا کار کړی و او آن تر دې چې لوړو مقاماتو او د جمهور ریاست دفتر ته یې دا خبره په غلط عنوان رسولې وه، چې دا کار له تاوان پرته هېڅ ګټه نه لري، که د یو والي پر ضد داسې کړنې ترسره کېږي، نو که دا کړنې د یو عام وګړي پر ضد وشي، نو د هغه بېچاره ژوند خو به تباه شي.

نعیمي وایي: ((زموږ د رهبرۍ چارواکو ته په کار دي، چې داسې درواغجن او دسیسوي خلک فوراً مجازات کړي، ځکه موږ ته په کار دي چې له خپل نظام سره صادق پاتې شو، په خپلو کړنو کې رښتیني شو او د خپلو ټولو مقاماتو عزت و ابرو وساتو. د قانون په تطبیق کې ټول یو بل ته لاس ورکړو، نه دا چې توطیې او دسیسې جوړې کړو، ځکه دا ډېر خطرناک عواقب لري. که داسې یو څه ستونزې هم مخې ته راځي، نو په کار خو دا ده چې پر دې باندې په ولایت کې بحث وشي او حل لار یې راوویستل شي، دا چې په غلط عنوان مرکز ته لېږل کېږي، دا ډېر خطرناک عواقب لري.))

نو زموږ په دولتي ادارو کې داسې کسان شتون لري، چې هغوی نه غواړي داسې یو تن یې پر سر راشي، چې د هغوی ناجایزه ګټې بندې شي، ځکه دلته ځینې داسې خلک شته چې د هغوی په حق او حلال معاش ګوزاره نه کېږي او په دې هڅه کې وي چې له نورو لارو ناجایزه پیسې ترلاسه کړي.

## د لغمان بنسټيزې پروژې:

عبدالجبار نعیمي چې کله په لغمان کې خپل ماموریت پیل کړ، نو په لومړي سر کې په دې هڅه کې شو، چې معلومه کړي د لغمان بنیادي پروژې کومې دي.

هغه غوښتل معلومه کړي، چې د لغمان ولس کوم لومړیتوبونه لري او کومو پروژو ته یې اړتیا زیاته لیدل کېږي او د ولایت د خلکو غوښتنه څه ده، چې د هغې لپاره بیا لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله پلانونه جوړ شي، چې په لغمان کې د غربت کچه راټیټه شي.

په دې لړ کې والي د لغمان قومي مشرانو، علماوو، مدني فعالانو، ژورنالېستانو، ځوانانو او خویندو

سره غونډې وکړې، په غونډو کې يې ورسره مشورې وکړې او د هغوی غوښتنو ته يې غوږ کېښود.

د دې غونډو په دوران کې والي خپل لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله پلان جوړ کړ، تر څو هغه پروژې، چې اړتيا يې زياته ليدل کېږي، تر لاس لاندې ونيسي.

لوېې او اوږدمهاله پروژې په لاندې ډول دي:

## د کله گوش د اوبو او برښنا بند سروې:

د اپرېل په مياشت ۲۰۱۶ز کال کې د کله گوش د اوبو او برښنا د بند سروې پيل شوه.

د لغمان خلکو پرله پسې د دې بند د جوړولو غوښتنه کوله او د ولايت مقام د هڅو او تلاشونو وروسته، د ولسمشر محمد اشرف غني له هدايت سره سم د کله گوش د برښنا بند لومړنۍ سروې، د تخنيکي ارقامو راټولولو او د نقشې اخيستو چارې د اوبو او انرژۍ وزارت د يو



**د کله گوش بند لپاره تعين شوې ساحه**

تخنيکي ټيم له لوري پيل شوې.

د دې بند د جوړولو غوښتنې له تېرو شپاړسو کلونو کېدې، خو تراوسه پورې څوک نه و توانېدلي، چې په دې لړ کې خپلې هڅې ترسره کړي.

د کله گوش برښنا بند د نورستان ولايت د نورگرام ولسوالۍ اړوند د شينگل په سيمه کې واقع دی، چې د افغانستان د لومړني ولسمشر شهيد سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال پلان شوی و.

د اټکلي سروې له مخې، دغه بند له ۱۲ نه تر ۱۷ ميگا واټه پورې د برښنا د توليد او دغه راز د اوبو د زېرمه کولو ظرفيت لري.

د نعيمي په هڅو او تلاشونو د دې بند له سروې وروسته، د لومړي تخنيکي کارونو لپاره سږکال (۱۳۹٦هـ ش) په مالي بوديجه کې پيسې منظورې شوې دي.

## د وطن ګټو برښنا بند سروې:

د والي په هڅو او تلاشونو د وطن ګټو د برښنا د بند لومړنۍ تخنیکي سروې بشپړه شوه.

د وطن ګټو د برښنا بند د جوړېدو ځای د الیشنګ ولسوالۍ ښکلې دره ده چې اوس هم دلته د الیشنګ ځپاند سیند بهېږي، د معلوماتو له مخې د دغه بند پر جوړېدو شاوخوا شپیته میلیونه امریکایي ډالر لګښت راځي چې تر جوړېدو وروسته به له ۴ څخه تر ۸ میګاواټو پورې د برښنا د تولید ظرفیت ولري، په جوړېدو سره به یې په ختیز زون کې اقتصادي پرمختګ رامنځته شي، په زرګونه جریبه دولتي ځمکه به د سېلابونو له خطره وژغورل شي، کرنیزې ځمکې به په منظمه توګه خړوبې شي او په زرګونه کسانو ته به کاري زمینې برابرې شي.




د وطن ګټو بند سروې جریان لري

د دې برښنا بند د سروې له تکمیلېدو وروسته، د سږکال ۱۳۹٦هـ ش په بودیجه کې د دې پروژې د لومړي تخنیکي کارونو لپاره هم پیسې منظورې شوې دي.

## د شاهي کانال سروې:

شاهي کانال د دې ولایت لپاره یوه بله ډېره مهمه پروژه ده، چې د والي په هڅو او تلاشونو یې یو ځل د سروې کار پیل شو، خو د ځینو ستونزو له وجې د دې مسیر بدل شوی دی او په نږدې وخت کې به د دې دویم ځل سروې هم پیل شي او د لغمان د ولسونو د کلونو کلونو ارمان به ډېر ژر پوره شي.

د شاهي کانال په بشپړېدو سره به له شل زرو څخه تر پنځه ویشت زرو هکتارو زیاته ځمکه خړوبه شي او په دې سره به د کرنیزې ودې ترڅنګ د چاپیریال ساتنې په بهتر والي کې هم د پام وړ ښه والی راشي.




د شاهي کانال مسير او نقشه

شاهي کانال د الينگار ولسوالۍ اړوند د سندروا کلي څخه پيليږي، د الينگار سيند د شمال لوېديځې برخې څخه سرچينه اخلي او د خپل مسير په اوږدو کې د سوېل پر لور د الينگار ولسوالۍ اړوند زياتې خاره ځمکې د شختري، سلطان غازي بابا او مهترلام بابا دښتې تر پوښښ لاندې راولي.

## د سراج تاريخي کلا او بڼ بيارغول:

د لغمان په زړه کې پروت سراج بڼ او کلا د امير حبيب الله خان د واک پر مهال په عصري ډول جوړ شوې وه. د بڼ ودانيزې چارې په ۱۳۲۸هـ ش کال کې پيل او په ۱۳۳۰هـ ش کال کې پای ته ورسېدې. د سراج کلا بڼ په ۵۵ جريبه ځمکه کې جوړ شوی او په دغه بڼ کې جوړه شوې کلا ۸ جريبه مساحت لري.


عبدالجبار نعيمي د رنګې شوې سراج کلا څخه ليدنه کوي

دغه کلا د خپل مهال په ټولو عصري وسايلو او اړتياو سمبال وه، يو عصري حمام، نغاره خانه او د رزم او بزم لپاره يې ټولې اسانتياوې درلودې، خو له بده بخته په هېواد کې د وروستيو څو لسيزو وژونکو او ورانوونکو جګړو له امله د نورو تاريخي شتمنيو او ټولګټو تاسيساتو ترڅنګ ددې ښکلي بڼ او ودانۍ ښکلا هم يو مخ بدله شوه. کلا په کنډوالو بدله او سمسور بڼ يې هم د وخت د ستم سختې څپېړې پرمخ وخوړې.کله چې عبدالجبار نعيمي لغمان ته د والي په حيث راغی،



**د سراج تاريخي کلا د نوې بڼې يوه څنډه، چې پرې کار روان دی**

نو د سراج کلا وضعيت دومره خراب و، چې آن دکڅافاتو او چټلۍ له وجې په کې ګرځېدل هم ناشوني شوي و.

بلخوا د لغمان ولسونو به پرله پسې غوښتنې او وړانديزونه کول، چې دا تاريخي کلا او بڼ دې بيا ورغول شي.

پر ۱۳۹۵/۲/۲۲ د يو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې له ۱۰۷ کلونو وروسته د سراج تاريخي کلا د جوړېدو چارې د والي په ځانګړو هڅو او تلاشونو پيل شوې.

نعيمي د پيل په غونډه کې وويل: ((د سراج تاريخي کلا د لغمان ولايت د ښايست، تاريخ او پېژندنې غوره نښه او ځانګړتيا ده. د دې کلا رغونه زما د ماموريت تر ټولو ستره لاسته راوړنه ده.))

همدا راز په سراج کلا او بڼ کې يو شمېر نورې پروژې هم پرله پسې پلې شوې، چې اوس مهال دا تاريخي کلا او بڼ په هماغه پخواني ډول جوړ شوی دی او خلک يې ليدو ته ورځي. دا

تاريخي کلا او بڼ نه يواځې دا چې د سيل لپاره ډېر ښه ځای دی، بلکې دا ځای د لغمان ولايت لپاره هم ډېر زيات اهميت لري. (د سراج تاريخي کلا او بڼ په اړه بشپړ معلومات "د لغمان د ابادۍ دوره" کتاب کې لوستلای شئ.)

## د شهيدانو پُل:

د نورو پلونو د جوړولو تر څنګ د قرغيو په ولسوالۍ کې د شهيدانو په سيمه کې يو لوی پُل جوړولو ته ډېره اړتيا وه، چې که دا پُل جوړ شي، نو د کابل – ننګرهار لويه لاره به له بادپښ ولسوالۍ او کاپيسا ولايت سره وصل کړي.

نو په دې خاطر د دې پُل لپاره بوديجه منظوره او د جوړېدو چارې يې پيل شوې. په دې موخه په جوړو شويو ځانګړو مراسمو کې د لغمان والي ترڅنګ د خلکو استازو، امنيتي مسوولينو او د سيمې ګڼ شمېر اوسېدونکو ګډون کړی و.



د شهيدانو پُل ودانيز کارونه جريان لري

دا پُل د کليو او پراختيا وزارت په چوکاټ کې د کليوالي سړکونو او لارو د جوړونې د برنامې په مالي تمويل (۴۱۳۳۳۹۰۰) يو څلوېښت ميليونه، درې سوه درې دېرش زره او نهه سوه افغانيو په لګښت جوړېږي.

دا پُل ۱۰۰ متره اوږدوالی او ۷ متره بر لري، چې ساختماني کارونه به يې په ۱۹ مياشتو کې سر ته ورسېږي.

د نعيمي په وينا چې سږکال (۱۳۹٦هـ ش) بوديجه کې څلورو مهمو پروژو ته بوديجه شته چې په دې کال کې به پرې کار پيل شي.

اوس چې په لغمان کې کومې لويې پروژې تر کار لاندې دي، له بشپړېدو سره به يې د لغمان د ولسونو يو شمېر ستونزې حل شي.

## نهه زره کورونو ته برښنا رسول:

په کابل کې د نورو وزيرانو، مرستيال وزيرانو او مسوولينو تر څنګ لغمان والي له برښنا شرکت سره هم ځانګړې ناستې درلودې او له هغوی يې غوښتنه وه، چې لغمان کې د برښنا



لغمان والي او د اوبو او برېښنا وزير انجنير علي احمد عثماني ۹۰۰۰ کورونو ته د برېښنا شبکې د ليږد کار پيلوي

شبکې غځولو ته پام وکړي.

برښنا د ژوند له لومړيو سهولتونو څخه يوه ده. د لغمان ډېرې ساحې له دې اسانتيا نه بې برخې وې. والي دغه پروژه د ۱۳۹۶هـ ش کال په لومړيو مياشتو کې پرانيسته او خلکو ته د برښنا جريان پيل شو.

## د کرکټ لوبغالى:

د ځوانانو لپاره د پارکونو تر څنګ د سپورټ په لړ کې هم يو شمېر کارونه ترسره شول، چې



لغمان والي، په ولايتي شورا کې د خلکو استازي، مشران او د کرکټ بورډ مسؤلين د کرکټ لوبغالي بنسټ ږدي

په دې لړ کې د کرکټ د معياري لوبغالي د جوړېدو چارې پيل کېدل يوه لويه پروژه ده.

پر ۱۳۹۵\۴\۱۲هـ ش نېټه لغمان کې د کرکټ د معياري لوبغالي د جوړېدو ډېره والي او د وخت د کرکټ بورډ عمومي رييس نسيم الله دانش له لوري کېښودل شوه. د بنسټ ډبرې پر مهال د ولايت مرستيال الحاج شهزاده مظلوميار، يو شمېر مسوولينو، ځوانانو او د سپورټ ګڼ مينه وال هم موجود و.

د کرکټ بورډ عمومي رييس نسيم الله دانش وويل: ((د دې ميدان ټولې ساختماني او اړوند چارې به له نړيوالو معيارونو سره سمې په دوه کالو کې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.))

په لومړي ګام کې به د اته ميليونه افغانيو په لګښت د دغه ميدان شا و خوا د يو نيم متر په لوړوالي د ټولې ساحې سنګ کاري، د يو نيم متر په لوړوالي د ټولې احاطې فلزي کټاره، دخولي او خروجي دوه دروازې، په اته جريبه ځمکه کې د شنې ساحې، د شل جريبه ځمکې پرکاري، کندن کاري او هموار کاري، د څښاک اوبو او د چمن د سرسبزۍ لپاره د اوبو د څاه برمه کاري او همدارنګه د لوبغاړو د ناستې لپاره يو فلزي سايوان هم په کې شامل دي. دا ټول به د افغانستان د کرکټ بورډ د انکشافي بوديجې په مټ جوړېږي او وروسته به يې نور کارونه هم ترسره شي.

## د بابا صاحب زيارت سړک او ابدات رغول:

د لغمان په مرکز مهترلام کې د بابا صاحب زيارت يو ډېر تاريخي ځاى دى، خو دې زيارت



**د والي عبدالجبار نعيمي په هڅو بابا صاحب زيارت ته غځېدلی سرک اساسي جوړ شو**

.................................

ته تراوسه چندان پاملرنه نه وه شوې. که یو خوا په زیارت کې دننه ډېر کار په کار و، نو بل خوا ورغلی سړک هم خراب و او د موټرو تګ راتګ پرې ستونزمن و.

نه یواځې دا چې د بابا صاحب زیارت سړک قیر شو، بلکې د ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت د مهترلام بابا د تاریخي زیارت ابدات هم ورغول شول.

د دې تاریخي زیارت اړوند ابدات د اطلاعاتو او کلتور وزارت له انکشافي بودیجې څخه د ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت ورغول شو او د پټۍ په پرې کولو سره د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

په دغو مراسمو کې د لغمان والي ترڅنګ د جمهوري ریاست سلاکار استاد لال پاچا ازمون، د اجراییه ریاست سلاکار الحاج غازي نواز تني، د اجراییه ریاست سلاکار انجنیر مزار علي، د



**د بابا صاحب زیارت کې بیارغنیزې چارې بشپړې شوې**

اطلاعاتو او کلتور وزارت د ځوانانو چارو معین ډاکتر کمال سادات، د ملي تحریک مشر او د کابل پوهنتون استاد محمد اسماعیل یون، د دانش فرهنګي مرکز مشر اسد دانش، علمي او فرهنګي شخصیتونو او ځوانانو برخه اخیستې وه.

د ملي تحریک مشر استاد محمد اسماعیل یون وویل: ((هر څوک چې د تاریخي شتمنیو ساتنې ته ځانګړې توجو لري، په واقعیت کې له خپل تاریخ او هویت سره ژوره مینه لري.))

## اداري تعمیرونه:

لغمان ولایت کې که څه هم ډېر والیان تېر شوي و، خو د ولایت د تعمیرونو جوړولو په لړ کې چندان کار نه و شوی، ځکه ډېری ادارو تعمیرونه هم نه لرل نو په دې لړ کې هم اساسي او بنیادي کارونه ترسره شول. ډېری ادارو ته تعمیرونه جوړ شول او ځینې لا هم د جوړېدو په حال کې دي.

د عبدالجبار نعیمي په ماموریت کې په لغمان کې د قبایلو امریت ودانۍ، د عدلیې ریاست تعمیر، د معادن ریاست تعمیر، د ملي پېوستون تعمیر، د حسابدارۍ انستیتیوت ودانۍ، په سلطان غازي بابا ښارګوټي کې د ښځو لپاره د غونډو تالار، د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست اړوند عامه کتابتون، د ټولګټو چارو ریاست تعمیر، د سرې میاشتې د ځوانو رضاکارانو تعمیر، د معتادینو د درملنې لپاره د ٤ اطاقه تعمیر او د عمرزیو او غونډۍ د BHC کلینیکونو تعمیرونه جوړ شول.

همدا راز د لغمان ولایت مقام لپاره څلور منزله تعمیر (هغه مهال چې عبدالجبار نعیمي د لغمان والي و، کارونه یې پای ته رسېدونکي و، خو اوس بشپړه شوې ده)، د کور او ښار جوړونې ریاست تعمیر، د ولایتي شورا تعمیر، د پوهنې ریاست تعمیر، د ملي امنیت ریاست تاسیسات، د استیناف څارنوالۍ تعمیر، د لغمان راډیو ټلویزیون تعمیر، د لغمان پوهنتون ماسټر پلان، د انجینیري پوهنځي تعمیر، د پوهنتون د طعام خورۍ او اشپزخانې تعمیر، د مرکزي دارالمعلمین ۲۰۰ کسیزې لیلیې تعمیر، د لغمان سل بستریزه روغتون (چې بودیجه یې د عبدالجبار نعیمي لغمان ته له راتګ مخکې منظوره شوې وه، خو کارونه یې بیا همداسې پاتې ول)، د سرې میاشتې ریاست تعمیر، د عامې روغتیا د ریاست تعمیر بیارغول او د کلیو د پراختیا ریاست د مېلمستون ودانۍ پروژې تر کار لاندې دي. (د پروژو د بشپړو معلوماتو لپاره وګورئ "د لغمان د ابادۍ دوره" کتاب، چې فرهاد افغان لیکلی دی).

## سلطان غازي بابا ښارګوټی:

د والي نعیمي راتګ سره سم د سلطان غازي بابا د ښارګوټي پر انکشاف او ودې کار پیل شو، د ولایت مقام تر څنګ د نورو ټولو ریاستونو د ودانیو راوړلو لپاره هم پلان جوړ شو، تر څو ټول اداري تعمیرونه په سلطان غازي بابا ښارګوټي کې جوړ شي. همدا راز دلته د سپورټ لپاره جمنازیوم، لوی جومات، د نوجونو لېسه او نور ډېر تعمیرونه یا هم تکمیل شوي او یا هم د

عبدالجبار نعيمي د ماموريت تر وروستيو ورځو پورې يې کار دوام درلود.

نعيمي وايي: ((موږ غواړو چې سلطان غازي بابا ښارګوټی له هر سهولت نه برخمن وي او دا يو عصري او موډرن ښارګوټی وي. دلته به پارکونه او سړکونه هم جوړيږي.))



**د سلطان غازي بابا ښارګوټي يوه څنډه**

پر دې ښارګوټي په ډېره لويه کچه کار روان دی او په راتلونکي کال کې به يې ډېر کارونه سر ته ورسېږي.

نعيمي وايي: ((د مرکز او ولسواليو د ابادۍ او پرمختګ لپاره مو لنډمهاله، منځمهاله او اوږد مهاله پلانونه جوړ کړي او دا پلانونه به هر کال پلي کيږي، د دې پلانونو د نظارت او کنټرول لپاره به خپل ټيم کار کوي او د هرې پروژې کيفيت ته به ډېره پاملرنه کېږي.))

د لغمان د ابادۍ او پرمختګ لپاره عبدالجبار نعيمي شپه او ورځ کار کړی و، هر ډول هڅې او تلاشونه يې ترسره کړي و، لغمان ته ډېر زيات شمېر پروژې راوړې وې او غوښتل يې چې د لغمان بڼه بدله کړي.

## لغمان کې ښوونيز بهير:

لغمان کې د ښوونيز بهير د پرمختګ لپاره هم ډېرې هڅې او کوښښونه وشول، تر څو د زده کړو په برخه کې زده کوونکو ته اسانتياوې برابرې شي.

### پوهنتون:

لغمان پوهنتون چې ډېرې ستونزې يې لرلې، د دې پوهنتون د ستونزو د هوارولو لپاره هم اساسي کارونه ترسره او پلان ورته جوړ شو.

په پوهنتون کې د برښنا شبکه پرانیستل شوه، د انګړ دیوال ورته جوړ شو، د خوړنځي ودانۍ ورته جوړه شوه او د انجنیري پوهنځي تدریسي بلاک باندې هم کار روان شوی دی. له دې پرته د لغمان پوهنتون لپاره ستراتیژیک پلان جوړ شوی، چې په راروانو کلونو کې به خلک لغمان پوهنتون کې ډېر بدلونونه ویني.

### ښوونځي:

د ښوونځیو او لېسو لپاره هم کارونه ترسره شوي، چې د ځینو ښوونځیو ودانۍ جوړې شوې دي او تقریباً د ۳۲ ښوونځیو د احاطې دېوالونه جوړ شوي او ورسره ورسره دې ښوونځیو ته د اوبو اسانتیاوې هم برابرې شوي او ځلور ښوونځي په نمونوي توګه جوړ شوي دي.



د چهار باغ عالي لېسې نوې ودانۍ

### عالي دارالمعلمین:

عالي دارالمعلمین چې له ۱۲ کلونو راهیسې ورته پاملرنه نه وه شوې، لومړی ورته ځلور دېوالي جوړه شوه او له هغه وروسته ورته څه له پاسه ۱۸ میلیونه افغانیو په لګښت د ۲۰۰ ښځینه زده کړیالانو لپاره د لیلیې ودانۍ هم جوړه شوه.

### لنکن ښوونیز مرکز:

د لومړي ځل لپاره په لغمان کې په وړیا توګه د انګلیسي ژبې، کمپیوټر او انټرنیټ زده کړو په برخه کې د لنکن ښوونیز مرکز چې د امریکا متحده ایالاتو د سفارت له لوري تمویلېږي، د لغمان والي، د ولایتي شورا د استازو او د ولایتي ادارو د یو شمېر مسوولینو له خوا د ځوانانو او زده کړو مینه والو ته پرانیستل شو.

د لنکن ښوونیز مرکز د پرانیستې پر مهال د سکایپ له لارې د امریکا متحده ایالاتو د سفارت استازو، د اطلاعاتو او کلتور وزارت سلاکار هارون حکیمي او د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې په استازولۍ ناهید سرابي خبرې وکړې او د دغه مرکز په ایجاد کې یې د والي له هر اړخیزې مرستې د مننې تر څنګ وویل چې د والي له همکارۍ پرته د یاد مرکز پرانیسته

په لغمان ولايت کې ناممکنه وه، يادو کسانو د دغه مرکز په ارزښت په خبرو کولو سربېره د لغمان له ولسونو وغوښتل تر څو له دغه ښوونيز مرکز څخه د خپلو اولادونو د روزنې په برخه کې اعظمي گټه پورته کړي.

والي ځوانانو ته مبارکي ورکړه او د امريکا متحده ايالاتو له حکومت او خلکو يې مننه وکړه، چې په لغمان کې يې د ځوانانو استعدادونو د روزنې او د علمي او ښوونيز بهير د پياوړتيا لپاره داسې مهم گام اوچت کړ.

هغه وويل: ((د داسې مرکزونو په پرانيستو سره له يوې خوا د ناپوهۍ او جهل دروازې تړل کېږي او له بلې خوا د پرمختللې، متمدنې او ولسواکې ټولنې بنسټونه رامنځته او لاپسې پياوړي کېږي.

ښوونيز مرکزونه د فکري رغونې او فکري پياوړتيا اساسي او بنسټيز کورونه دي او موږ ژمن يو چې په خپل ټول توان له داسې مرکزونو سره هر اړخيزه مرسته وکړو.

باوري يم چې د لنکن ښوونيز مرکز د لغمان ځانگه به ډېر ژر د هېواد په کچه په يوې مخکښې ځانگې بدله شي او د لغمان ولايت نجونې او هلکان به د دغه مرکز له برنامو او پروگرامونو څخه اساسي گټه پورته کړي.))

لغمان ولايت کې د لنکن ښوونيز مرکز په پرانيستو سره دا ولايت د نړۍ له ۷۰۰ هغو ښوونيزو مرکزونو سره وتړل شو، چې د امريکا د حکومت او خلکو لخوا په بېلابېلو هېوادونو کې جوړ شوي دي.

### د حرفوي زده کړو مرکز:

کله چې د کار ټولنيزو شهيدانو او معلولينو چارو وزيره ډاکتر نسرين اورياخېل لغمان ته په سفر راغلې وه، نو په دغه سفر کې د حرفوي زده کړو مرکز رسماً د پټۍ په پرېکولو سره پرانيستل شو.


لغمان والي او د کار ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو چارو وزيره د حرفوي زده کړو مرکز پرانيزي

د دې مرکز له پرانيستو سره به په لغمان کې د بېکارۍ کچه راټيټه شي او په سلگونه تنه به حرفوي زده کړې تر لاسه کړي.

څه وخت چې دا مرکز

پرانیستل کېده، نو پر همغه ورځ په دې مرکز کې سل تنو زده کوونکو په بېلابېلو څانگو لکه ټېلیفون جوړونه، موټر سایکل جوړونه، کمپیوټر جوړونه او خیاطۍ په برخو کې روزنه پیل کړې وه، چې له اته میاشتنیو زده کړو وروسته ورته د اړوند کسب اړین لوازم هم ورکړل شول.

## ښوونکو ته د استوګنې نومرې ورکول:

په لغمان کې ښوونکي په دې هڅه کې و، چې د سر پناه لپاره نومرې ترلاسه کړي، چې له تېرو شپږو کلونو راهیسې یې په دې لړ کې خپل غږ پورته کړی و، خو هېچا هم ورته هرکلی نه و ویلی.

کله چې عبدالجبار نعیمي لغمان ته د والي په توګه راغی، نو کله به چې هم د لغمان له ښوونکو سره غونډه وه، نو ښوونکو به د نومرو غوښتنه کوله. والي په دې لړ کې خپلې هڅې وکړې او پر ۱۳۹۵/۱/۲۸هـ ش نېټه یې په لغمان ولایت مقام کې ۲۲۰ تنو ښوونکو ته د استوګنې د نومرو اسناد ووېشل.

دا نومرې دوی ته د ګمبیري په دښته کې ورکړل شوې، چې د وېش په مراسمو کې د ولسمشر سلاکار قمر الدین شینواري او لغمان والي تر څنګ، د مرکز یو شمېر لوړ پوړو چارواکو، د پوهنې ریاست مشرتابه او د قرغیو ولسوالۍ اړوند ښوونځیو ښوونکو او مشرانو برخه لرله.

دا کار په داسې حال کې وشو، چې ښوونکو هیڅ باور نه کاوه، چې نومرې ورته ورکړل شوې



**لغمان والي چې د ۲۰۱ سیلاب قول اردو قوماندان ډګر جنرال محمد زمان وزیري، په ولسي جرګه او ولایتي شورا کې د خلکو استازي او مشران یې ملتیا کوي قرغیو ولسوالۍ کې د ښوونکو ښارګوټی پرانیزي**

دي، ځکه دوی له تېرو شپږو کلونو راهیسې په دې لړ کې خپل غږ پورته کړی و، خو چا یې غږ اورېدلی نه و.

لغمان والي په دې مراسمو کې وویل: ((ښوونیزه پراختیا او د ښوونکو ستونزو ته رسېدل او حل کول یې زما د کاري لومړیتوبونو په سرکې ځای لري، هڅه به کوم چې په ټول توان د ښوونیز بهیر پر وړاندې موجودې ستونزې له مخې لېرې کړم.))

والي له ښوونکو غوښتنه وکړه، چې خپل زده کړيالان او زده کوونکي په غوره، عالي او ملي فکر وروزي او د درسي پلان ترڅنګ ورته د ملي يووالي د ټينګښت، عامه ذهنيت رغونې او وطن پالنې روحيه ورکړي، څو وکولای شي زموږ دغه ځوان نسل د خپل ګران هېواد د ښې راتلونکې په موخه زده کړې وکړي او موجودو ستونزو ته د زده کړو په مټ حل لار پيدا کړي.

والي د ښوونيز بهير په لړ کې خپل ټول امکانات په کار اچولي. په دې لړ کې يې له ښوونکو او مديرانو سره غونډې کړي، تر څو د ولس بچيان په ښه فکر وروزي، ولسوالانو ته په دې لړ کې مهمې لارښوونې شوې دي، تر څو په لغمان کې د معارف په برخه کې ډيره پاملرنه وشي.

## په ادارو کې اصلاحات راوستل:

په لغمان کې ولسونو له ولايت مقام څخه غوښتنې کولې، چې په ادارو کې پراخ اصلاحات راولي.

نو په دې لړ کې هم والي خپل ټول امکانات په کار واچول او په تدريجي ډول يې په ادارو کې اصلاحات راوستل پيل کړي دي. تراوسه پورې تقريباً له پنځويشت څخه تر اته ويشت پورې لوړ پوړي چارواکي تغير او تبديل شوي دي.

که يو خوا په ادارو کې د اصلاحاتو راوستو او تغير او تبديل د خلکو غوښتنه وه، نو بل خوا دا يو ضرورت هم و، چې تغير او تبديل راوستل شوی وای.

## لغمان ته د لوړ پوړو چارواکو راتګ:

لغمان والي په خپلو هڅو او کوښښونو وکولای شول چې ډېری وزيران او چارواکي لغمان ته رادعوت کړي، تر څو له لغمان نه ليدنه وکړي، دلته له ولسونو سره ووينې او دلته ورته پېشنهادونه، وړانديزونه او د لغمان لومړيتوبونه ورکړل شي، تر څو هغوی لغمان ته لومړيتوب ورکړي.

لغمان ته وخت نا وخته ډېری وزيران او لوړ پوړي چارواکي راغلي، چې په لاندې توګه يې لنډه يادونه کولای شو.

**د لغمان له خلکو سره د ولسمشر ليدنه:**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ولسمشر محمد اشرف غني ختيځ زون ته سفر وکړ، چې د سفر پر مهال يې د کورنيو چارو او ملي دفاع وزيرانو په ګډون يو لوړپوړي امنيتي پلاوي هم ملتيا کوله. د لغمان، ننګرهار، کونړ او نورستان د واليانو، د امنيتي، کشفي او دفاعي

ځواکونو له عمومي رهبرۍ او سرتېرو سره يې په لغمان ولايت کې د مېشتې ۲۰۱ سېلاب قول اردو د غونډو په تالار کې ليدنه وکړه. يوې ګډې تاريخي غونډې ته يې وينا وکړه.

ولسمشر وويل: ((تر څو چې افغان مېړنی ولس ستاسې په شان اتل او سرښندونکي بچي ولري، څوک به هم پر دې ونه توانېږي چې دا هېواد له ماتې سره مخ کړي او هغوی چې دا خوب و خيال ويني، خپل دغه ارمان به له ځانه سره ګور ته يوسي.

ستاسې مېړانو، سرښندنو او شجاعت نړيوالو ته دا وښوده چې اوس د افغانستان دغه اتل بچي د دې وړتيا لري څو د خپل ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا څخه په کلکه دفاع وکړي.



لغمان والي له ولسمشر محمد اشرف غني سره د ننګرهار په شاهي ماڼۍ کې

ننني جنګ په موږ تحميل شوی او مسووليت يې هم د هغو خلکو په غاړه دی چا چې بار بار زموږ د سولې وړانديزونه نه دي منلي او دغه ورانونکې لاره يې غوره کړې ده.))

په دې سفر کې ولسمشر د زون د واليانو او د امنيتي، کشفي او دفاعي ځواکونو له رهبرۍ سره هم جلا جلا ناستې وکړې، چې د لغمان ولايت د امنيتي وضعيت په اړه ورته لغمان والي بشپړ معلومات ورکړل.

والي ولسمشر ته په لغمان کې د امنيتي وضعيت د بهتروالي او د ادارو د پياوړتيا په برخو کې يو شمېر وړانديزونه وکړل او په دې برخه کې يې د جمهور رييس همکاري وغوښته.

له ولسمشر ډاکتر محمد اشرف غني پرته لغمان ولايت ته چې کوم لوړ پوړي چارواکي راغلي دي، هغه په دې ډول دي:

- اجراييه رييس ډاکتر عبدالله عبدالله
- د سرحدونو او قبايلو چارو وزير محمد ګلاب منګل
- لوی درستيز ستر جنرال قدم شاه شهيم
- د پوليسو عمومي قوماندان لوی پاسوال محمد سالم احساس

- د کډوالو چارو وزير سيد حسېن عالمي بلخي
- د وزيرانو شورا د دارالانشا عمومي رييس نصرت الله بريالی ارسلايي
- د اوبو او انرژۍ وزير انجنير علي احمد عثماني
- د قبايلو وزارت د پلان او پالېسۍ رييس سعدالله کاکړ
- د کليو پراختيا وزير انجنير نصير احمد درانی
- د ښار جوړونې وزير سيد سعادت منصور نادري
- د کار او ټولنيزو چارو وزيره نسرين اورياخيل
- د حج او اوقافو وزارت معين عبدالحکيم منيب
- د ترانسپورت وزير محمد الله بتاش
- د اقتصاد وزير عبدالستار مراد
- د پوهنې وزير دوکتور اسد الله حنيف بلخي

يادو چارواکو د لغمان والي په بلنه دغه ولايت ته سفر کړی. د لغمان له بېلا بېلو ځايونو يې ليدنه کړې. د لغمان يو شمېر ستونزې، د خلکو لومړيتوبونه او ضرورتونه ورته وړاندې شوي دي او نوموړو په خپل راتګ دلته يو شمېر پروژې هم افتتاح کړې او له دې سره سره يې د لغمان



لغمان والي د ښار او کور جوړولو د وزير سيد سعادت منصور نادري سره د لغمان پر ښاري پراختيا خبرې کوي

لپاره د نورو پروژو او امکاناتو ژمنې هم کړې دي او په مرکز – کابل کې يې له نورو سره د لغمان ولايت وړانديزونه او ستونزې شريکې کړې دي.

له دې سره سره د لغمان ستونزې، مشکلات، وړانديزونه او لومړيتوبونه په مرکز کې د کابينې غونډې ته، چې د جمهور رييس ډاکټر محمد اشرف غني تر مشرۍ لاندې وه، وړاندې

شول.

په مرکز کې له وزارتونو سره په ناستو او ليدنو کې هم وزيران، معينان او ځينې مسوولين د لغمان له ستونزو او لومړيتوبونو څخه خبر کړل شول او هغوی ته د مکتبونو، کلېنيکونو، پلونو، سړکونو او نورو ضرورتونو په اړه معلومات ورکړل شول او له هغوی غوښتنه وشوه، چې دې لړ کې لغمان په خپلو لومړيتوبونو کې حساب کړي.

همدغسې د هېواد د امنيت شورا د رهبرۍ په غونډه کې، چې جمهور رييس او اجراييه رييس هم په کې برخه درلوده، د امنيتي ځواکونو پر تشکيل او د سلاح او مهماتو په اړه خبرې وشوې.

د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې رييس جيلاني پوپل، چې هغه وخت د دې ادارې ښه مدير و، يو تکړه سياستوال هم دی، په دې هر څه کې يې ډېره مرسته وکړه. نوموړي ويل، هغه ولايتونه چې په کې د ډېرې ودې امکانات وي، بايد ورته خاصه توجو وکړي.

## له علماوو سره ځانګړې ناستې:

لکه د ميدان وردګو او خوست په څېر، عبدالجبار نعيمي په لغمان کې هم له علماوو سره ځانګړې ناستې وکړې. دوی سره يې نږدې اړيکې پيدا کړې او د دوی ستونزو او لومړيتوبونو ته يې هرکلی ووايه.

موږ په يوه اسلامي ټولنه کې ژوند کوو او په داسې ټولنه کې چې د علماوو رول پکې ډېر مهم دی، په کار ده چې د علماوو او دولتي چارواکو ترمنځ تل ناستې وشي او په بېلا بېلو برخو کې ورسره مشورې وشي.



لغمان والي د ديني علماوو يوې پراخې غونډې ته وينا کوي

لغمان والي په دې لړ کې له علماوو سره هر ډول تګ راتګ کړی، له دوی سره يې مشورې کړي او د علماوو حمايت يې ترلاسه کړی دی.

وخت نا وخته له علماوو سره ناستې، غرمنۍ او غونډو کې د سولې او امن پيغامونه ورکړل شوي دي.

### مرستندويه ټولنو سره اړيکې:

په لغمان کې او له لغمان نه بهر چې کومې مرستندويه ټولنې کار کوي، له هغوی سره والي وخت نا وخته ناستې کړې دي. دوی يې هڅولي چې په ولايت کې ورسره د بنيادي او اساسي کارونو لپاره مرسته وکړي.

والي له ملل متحده سره له پخوا راهيسې ښې اړيکې درلودې او اوس يې هم ورسره لري، له هغوی سره په ناستو کې يې له هغوی غوښتنه وکړه، چې په لغمان کې خپل دفترونه پرانيزي، چې ورسره په چارو کې مرسته او کومک وکړي.

په تېرو دوو کلونو کې چې څومره کډوال لـه بهرنيـو هېوادونـو راسـتانه شـوي او لغـمان تـه راغـلي، لـه ځينـو غريبـو، جنګځپلـو، مسـتحقو کورنيو، په جنګونو کـې د ټپيـانو او شـهيدانو لـه وارثينو سره ډېرې مرستې شوې دي.


لغمان والي په ختيځ کې د يوناما له پخوانۍ رييسې اغلې هيرن سونګ سره په خپل دفتر کې وينې

پـه دې مرسـتو کـې نغـدې پيسـې، خـوراکي توکي، نورې اسانتياوې او ډېری خلکو ته کاروبارونه هـم برابـر شـوي، تـر څـو هغوی د خپل کور لپاره په خپل زيار او خوارۍ حلاله نفقه پيدا کړي.

### پر مهترلام د بريد پلان:

پر مهترلام د دولت مخالفينو د بريد يو خطرناک پلان جوړ کړی و. دا پلان دوی د ۲۰۱۷ز مارچ په مياشت کې عملي کول غوښتل. داسې يو پلان يې جوړ کړی و، چې له نورو ولايتونو څخه يې هم وسله وال راغوښتي و او په دې فکر کې و، چې ولايت سقوط کړي.

پر مهترلام له برید نه یوه ورځ مخکې، د مارچ پر لومړۍ نېټه ۲۰۱۷ز، د چارشنبې پر ورځ، په لغمان ولایت کې د والي او ځوانانو په نوښت د فکري رغونې غونډه وشوه.

د والي په ځانګړې بلنه په افغانستان کې د سولې د انسټیټیوټ مشر استاد شاه محمود میاخېل په حکومتولۍ کې د ځوانانو د ونډې او نویو فکرونو د تولید په اړه خپل اغېزمن او ګټور معلومات له ځوانانو سره سهار په لغمان پوهنتون کې، غرمه په مستورې لېسه کې شریک کړل او د شپې د مېلمستون په تالار کې غونډه جوړه شوې وه.

د شپې په غونډه کې د والي ترڅنګ په لسګونه ځوانانو ګډون کړی و، چې ورته استاد شاه محمود میاخېل په حکومتولۍ کې د ځوانانو د ونډې او نویو فکرونو د تولید په اړه خپل معلومات وړاندې کړل. له ځوانانو یې هیله وکړه، چې د مثبت فکر لاره خپله کړي او هېڅ وخت د راتلونکې په اړه منفي فکر ونه کړي.

په غونډه کې والي وویل: ((د هېواد جوړونې او ملت جوړونې لپاره فکري رغونه اړینه ده، پرته له فکري رغونې مثبت بدلون او پرمختګ ناشونی دی، هیله ده چې هر ځوان مثبت فکر ولري او هېڅ وخت یې څوک له احساساتو ناوړه ګټه پورته نه کړي.))

دلته د ولایت مقام په مېلمستون کې که یو خوا د ځوانانو د فکري رغونې په اړه غونډه روانه ده، له بلې خوا والي ته اته بجې معلومات رارسېږي، چې دښمن پر مهترلام د برید پلان جوړ کړی او غواړي چې ښار ته نږدې بنیادي او اساسي پوستې سقوط کړي.

د دولت مخالفینو غوښتل چې ښار ته نږدې پوستې سقوط کړي او ښار ته دننه د راتلو هڅه وکړي. دوی ښه په پوره پلان سره راغلي و او ځانونه یې په مهمو ځایونو کې ځای پر ځای کړي و.



لغمان والي، د ۲۰۱ سېلاب قول اردو قوماندان د جګړې د لومړۍ کرښې سره تماس کې دي او هره شېبه ځان خبروي

کله چې د غونډې په دوران کې والي له دې حالته خبر شو، نو له غونډې د څه ساعت لپاره بهر راووت، چې

معلومات يې ترلاسه کړل، نو ځينې امنيتي چارواکي په خپل ځای کې نه و، ځينې کابل ته تللي او ځينې بيا په رسمي رخصت تللي و.

خو والي ياده موضوع پر همغه وخت د ۲۰۱ سېلاب قول اردو قوماندان جنرال محمد زمان وزيري سره مطرح کړه. هغه ته يې وويل، چې معلومات يې ترلاسه کړي، چې سبا سهار دښمن پر پوستو حمله کوي، نو چې دی ورسره سبا ورځ همکاري وکړي.

والي ورته وويل: ((داسې معلومات دي، چې مخالفين ډېر خطرناک پلان لري، تر څو عامه نظم ګډوډ کړي.))

خو د دښمن د دومره خطرناک بريد پلان لرلو په اړه کشفي ارګانونو هېڅ معلومات نه لرل. هغوی هېڅ له دې نه و خبر، چې پر مهترلام د دومره خطرناک بريد پلان جوړ شوی دی او مخالفين غواړي چې بنيادي او اساسي پوستې سقوط کړي.

پر سبانۍ ورځ، د مارچ پر دويمه نېټه، د پنجشنبې پر ورځ، سهار اته بجې د قول اردو قوماندان ښاغلی وزيري ولايت مقام ته رارسېدلی دی، والي او قوماندان دواړه چايو ته ناست دي، چې په دې وخت کې خبر رارسېږي، چې مخالفينو بريد کړی، دوه پوستې بي بي حاجره او هرمل يې سقوط کړي دي.

د قول اردو قوماندان د لوا په لور روانېږي، چې لږ ساعت وروسته ورپسې والي هم لوا ته ورځي، تر څو هر څه له نږدې وڅاري او خپل مديريت په سمه توګه ترسره کړي.

کله چې والي په لوا کې ټول معلومات ترلاسه کړل، نو پوه شو چې مخالفينو معمولي نه، د ډېر خطرناک بريد پلان جوړ کړی دی، هغه همداسې په بالون کې هر څه له نږدې وليدل، هغه ټولې ساحې يې وليدلې چې په کې دښمن ځان ځای پر ځای کړی و.

مخالفينو نه يواځې دا چې د ملکي وګړو د کورونو نه يې سنګرونه جوړ کړي و او له هغه



لغمان والي، د ۲۰۱ سېلاب قول اردو قوماندان، ژورنالېستان او سرتېري د جګړې له ګټلو وروسته

ځايه يې ډزې کولې، بلکې جومات کې يې هم داشکې، راکټونه او نوره وسله ځای پر ځای کړې

وه او تقريباً اويا نفرو له جومات نه سنگر جوړ کړی و او له هغه ځايه يې ډزې کولې.

دوی ځکه په جومات او کورونو کې ځانونه ځای پر ځای کړي و، که امنيتي ځواکونه پرې عمليات وکړي، نو ملکي وگړي به په کې زيان ووينې او داسې به د امنيتي ځواکونو او ملکي وگړو ترمنځ فاصلې زياتې شي.

هغه پوستې هم له نږدې وليدل شوې، چې مخالفينو سره پر جگړه بوختې وې او مخالفينو ورو- ورو هڅه کوله، تر څو پوستو ته ځان ورسوي.

په همدې وخت کې اساسي پرېکړې وشوې، کوماندو، ضربتي قوې او الوتکې راوغوښتل شوې، تر څو مخالفين له منځه يوسي.

په داسې حال کې، چې له مخالفينو سره سخته جگړه روانه وه، بل خوا د دوی ځينې طرفداران نه يواځې دا چې په لغمان کې، بلکې په کابل کې هم د مخالفينو لپاره تبليغ کوي او داسې اوازې خپروي، چې د لغمان والي ولايت پرې ايښی او تښتېدلی، امنيتي چارواکي هم تښتېدلي او لغمان سقوط ته نږدې دی.

ځيني هغه خلک، چې هم يې په دولت کې دندې لرلې يا په کابل کې ناست و، په شعوري يا غېر شعوري توگه يې داسې څرگندونې کولې، چې هغه ټولې د مخالفينو په گټه تمامېدې.

نعيمي وايي: ((آن په رسنيو کې ځينو خلکو دا خبرې کولې، چې والي تښتېدلی او امنيتي چارواکي په خپلو ځايونو کې نشته، حال دا چې موږ دا هر څه له نږدې څارل او له خپلو امنيتي ځواکونو سره اوږه په اوږه ولاړ و.

دې خلکو داسې يو کردار لوباوه، چې د امنيتي ځواکونو مورال کمزوری او د مخالفينو مورال لوړ کړي، چې دا ډېره د تشويش وړ خبره وه.))

د نعيمي په وينا، په کابل کې ټلويزيونو ته نه و په کار داسې څه څرگندونې وکړي، چې د امنيتي ځواکونو مورال ټيټ کړي، يا داسې يو څه خپاره کړي، چې مخالفينو ته يې گټه وي او د دولت پر ضد وي، بايد چې مرکز په دې اړه خپل رول ولوبوي.

ځينو خلکو دا تبليغ د شخصي گټې لپاره هم کاوه او په دې فکر کې و، چې کېدای شي په دې جنگ کې ورته کومه څوکۍ ورسېږي، خو دې ته يې فکر نه کاوه، چې خدای(ج) مه کړه، که داسې څه رامنځته شي، نو دوی به هم په کې له منځه ولاړ شي.

يو خوا له مخالفينو سره سخته جگړه روانه ده، هغوی ته تلفات اړول کېږي او بل خوا دا تبليغات روان دي. دې پروپاگنډ د مخالفينو مورال دومره لوړ کړ، چې په ټانکونو پسې يې منډې وروهلې، ځکه دوی داسې فکر کاوه، چې دا هر څه رښتيا دي، سوق او اداره يې ختم شوي، د ولايت رهبري او امنيتي مسوولين په رښتيا هم له ولايت نه تښتېدلي دي.

په همدې وخت کې، چې مخالفينو ته مرګ ژوبله هم اړول شوې وه، والي له دې حکمت نه کار واخيست او له ننګرهار څخه يې د ټولو رسنيو استازي راوغوښتل او دننه په لوا کې يې د کوماندو ځواکونو په حضور کې يو مطبوعاتي کنفرانس ورکړ.

والي رسنيو ته وويل: ((حالت زموږ په کنټرول کې دی، موږ ډاډ درکوو، چې زموږ په بدن کې يو څاڅکی وينه هم وي، نو انشاء الله چې د خپلې خاورې له هر ګوټ نه به دفاع کوو. رسنۍ او خلک دې روان پروپاګنډ ختم کړي، ځکه چې موږ دلته حضور لرو، هېڅوک هم نه دي تښتېدلي، ټول پر خپل قوت له خپلو عسکرو، خپل ولس سره يو ځای له هرې پوستې څخه دفاع کوي.))

هغه همداسې وويل: ((انشاء الله په لنډ وخت کې به موږ په ټولو ځايونو کې خپل کنټرول راولو.))

کله چې دوی مطبوعاتي کنفرانس ورکړ، له هغه وروسته يې له هغو پوستو ليدنه وکړه، چې په نږدې ساحو کې وې، سرتېرو ته يې ډاډ ورکړ، چې دښمن د تېښتې په حال کې دی.

له نورو پوستو او د ټوليو له قوماندانانو سره په ټېليفونونو اړيکې ونيول شوې، ډاډ ورکړل شو او ورته وويل شول، چې هېڅ داسې فکر ونه کړي، چې په لغمان کې رهبري نشته، ټول حضور لري او هر څه له نږدې څاري.

نعيمي وايي: ((په څلورويشت ساعته کې حالات کنټرول شول، چې په کې هوايي قوې، ضربتي قوې او کوماندو برخه واخيسته، چې د مخالفينو ډېر وسله وال په کې له منځه ولاړل او سخت تلفات ورته واوښتل.))

خو په دې هر څه کې د خوشحالۍ خبره دا وه، چې دومره ډېره جګړه وشوه، خو د ښه مديريت له امله، کوم ملکي وګړي ته په کې زيان ونه رسېده، چې دا د امنيتي ځواکونو لويه بريا وه.

خو کومو خلکو چې تبليغات او پروپاګنډ کاوه، دا يواځې او يواځې د مخالفينو په ګټه او د امنيتي ځواکونو په زيان و، چې داسې نه ده په کار. نعيمي وايي: ((خوشبختانه موږ وکولای شول چې مخالفين له منځه يوسو، بلکې په لنډ وخت کې مو دلته قوي قوي ښېزونه هم جوړ کړل.))

### د مخالفينو د ځپلو لپاره نوي تدابير:

پر ۱۳۹۵/۱۲/۱۵هـ ش د لغمان ولايت د ګډې همغږۍ نظامي مرکز په امنيتي غونډه کې د وسلوالو د ځپلو لپاره نوي تدابير ونيول شول.

په غونډه کې د ولایت د وروستي امنیتي وضعیت په اړه بشپړ معلومات وړاندې شول. وروسته د قول اردو قوماندان وویل، په هغو ساحو کې به امنیتي پوستې او بېزونه جوړ کړي، چې د دښمن تر ګواښ لاندې دي.

والي په غونډه کې امنیتي ارګانونو کې د نوي بدلون هرکلی وکړ او ټولو امنیتي، کشفي او نظامي ارګانونو ته یې دنده وسپارله، چې دښمن تعقیب او له منځه یوسي.

هغه وویل: ((په ځینو سیمو کې د نویو پوستو او بېزونو ایجاد به د دښمن د تحرکاتو مخه ونیسي، له ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو هیله کوو، چې په دې برخه کې عملي او اساسي همکاري وکړي.))

د مرکز او شا وخوا سیمو د امنیت خوندیتوب په موخه د عمرزیو کلي اړوند په سلطان کلي کې د ګډو امنیتي او دفاعي ځواکونو مشترک بیزونه جوړ شول، چې په جوړېدو سره یې د شمکټ له درې د یادې قریې شا و خوا ۱۱۰ کلیو ته د مخالفینو د تګ راتګ لارې وتړل شوې.

که څه هم دومره دولت ضد تبلیغات وشول، خو بیا هم ټول هېواد ولیدل، چې د سولې بهیر هم له لغمان ولایت نه پیل شو او د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار د خپلو څرګندېدو لپاره لغمان ولایت غوره کړ او دې ولایت ته یې د ملي پخلاینې او سولې د کور ویاړ وروباښه.

نعیمي په دې اړه ځینې وړاندېزونه لري، هغه وایي: ((په امنیتي ځواکونو کې ګومارنې ډېرې مهمې دي، باید هغه څوک د امنیتي ځواکونو په رهبرۍ کې وګومارل شي، چې هغوی د همغږۍ په فضا کې خپله دنده پر مخ یوسي.



د لغمان والي په مشرۍ امنیتي مسؤلین په دغه امنیتي جلسه کې چې د ۲۰۱ سېلاب قول اردو قوماندن هم ګډون لري د لغمان د سرتاسري امنیت لپاره په نویو تدابیرو بحث کوي

دوهم دا چې مدیریت ولري، تر څو وکولای شي په کوم ځای کې چې دنده ورسپارل شوې ده، خپله دنده په ښه توګه پر مخ یوسي.

دربېم دا چې د دوی اړتیاوې په وزارتونو او لوړو ادارو کې خلاصې شي، تر څو دغه طی مراحل په میاشتو میاشتو وخت وانخلي.

په تاسف سره باید ووایم، د ملي پولیسو د مراحلو په بشپړولو کې چې دوی ته کومې وسلې، مهمات او یا ایسکوګانې راتللې، په دې کې به یې شپږ شپږ میاشتې هم نیولې، نو دښمن خو شپږ میاشتې انتظار نه کوي.

هیله مې دا ده، چې مرکزي اداره دې دغه طی مراحل په لنډ وخت کې وکړي، تر څو وکولای شو چې دښمن مخکې له دې چې هغوی برید وکړي، موږ یې مخنیوی کړی او دفع کړی مو وي.))

## د انجنیر ګلبدین حکمتیار ظهور:

د سولې د عالي شورا مشر اروابښاد پیر سید احمد ګېلاني او د ولسمشر ډاکتر محمد اشرف غني په ځانګړو هڅو او تلاشونو، چې په کې د سولې عالي شورا او د حزب اسلامي د پلاوي ترمنځ ډېرې ناستې وشوې، اخر هم د حزب اسلامي له مشر ګلبدین حکمتیار سره د سولې هوکړه لیک د ۲۰۱٦ز کال د سپتمبر په میاشت کې لاسلیک شوه.

د هوکړه لیک له لاسلیکېدو وروسته د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار راڅرګندېده، خو د نوموړي د راڅرګندېدو نېټې به وخت په وخت بدلېدې او میاشتې په میاشتو بدلېدې او هر خبر او هره نېټه به یواځې اوازه وه.

خو دغه اوازې هله په حقیقت بدلې شوې، چې د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار په



**لغمان والي عبدالجبار نعیمي لومړنی چارواکی و، چې د حزب اسلامي مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار له راتلو وروسته یې ورسره ولیدل**

لغمان ولایت کې د خپل ظهور پرېکړه وکړه.

لغمان ته له مرکز څخه یو دولتي هیئت چې ورسره د حزب اسلامي مهم استازي او د

انجنیر ګلبدین حکمتیار زوی حبیب الرحمن حکمتیار هم و، وخت نا وخته راتلل او له نعیمي سره به یې لیدل.

خبرې داسې روانې وې، هغوی ویل چې دلته د حکمتیار لپاره یو دفتر په کار دی او د اوسېدو ځای هم ورته اړین دی، چې لومړی به په لغمان کې راڅرګند شي او دلته به یو څو ورځې پاتې وي او له هغه وروسته به بیا کابل ته ولاړ شي.

د والي په وینا، له راڅرګندېدو یوه اونۍ مخکې یې د حزب اسلامي خاصو استازو ته وویل، چې ورته دې واضح پیغام ورکړل شي، چې که انجنیر ګلبدین حکمتیار په لغمان کې راڅرګندېږي، نو چې دی ورته خپله امادګي ونیسي.

د حزب اسلامي پلاوي والي ته معلومات ورکړل، چې حکمتیار به هم په لغمان کې راڅرګندېږي او دا حتمي خبره ده. هغوی والي ته دا هم وویل، چې د راڅرګندېدو ټول کار یې په تاسو پورې اړه لري، چې څومره ورته تاسو ژر چمتوالی نیولای شئ، هومره ژر به حکمتیار راڅرګند شي.

د هغوی په وینا، کله چې حکمتیار دلته راڅرګند شي، نو بیا به څو ورځې هم په لغمان کې تېروي او له هغه وروسته به بیا دوی پلان جوړوي، چې چېرته ولاړ شي، په دې اړه به وروسته بحث او خبرې وشي.

هغوی غوښتنه وکړه، چې داسې یو ځای ورته په کار دی، چې امن وي، تر څو حکمتیار هلته څو ورځې تېرې کړي. هغوی د ځای په اړه معلومات وغوښتل، چې هغوی دغه ځای ته خپل تدابیر ونیسي.

والي دا ټوله موضوع د سولې شورا د دارالانشا له رییس او د ولسمشر له سلاکار اکرم خپلواک سره شریکه کړه.

اکرم خپلواک د افغان دولت او حزب اسلامي ترمنځ د سوې توافقنامې د کمیسیون مشر دی.

والي هغه ته وویل:

((تاسو په جریان کې اوسئ، د ټرون کومې برخې چې دي، په هغې کې زه خپله پوره همکاري کوم.))



د اسلامي حزب د مشر د هرکلي په موخه د مهترلام ښار واټونه د ښه راغلاست په بېنرو او شعارونو پوښل شوي دي

که څه هم هغوی والي ته وویل، چې د ښاغلي حکمتیار څرګندېدل به په یو لوی ولایت کې وي، په لغمان کې به نه وي، خو بیا هم تاسو خپله امادګي ونیسئ.

یعنې هغوی هېڅ فکر نه کاوه چې حکمتیار به لغمان ته راځي او دلته به راڅرګندېږي.

د حکمتیار د راتلو لپاره د ولایت رهبرۍ امادګي ونیوله. والي له امنیتي ارګانونو سره په دې هکله ځانګړې غونډې وکړې، ځانګړي امنیتي پلانونه جوړ شول، چې د حکمتیار د راڅرګندېدو په ورځ به بشپړ ډاډمن امنیت وي او هېڅ بده پېښه به ترسره نه شي.

وروسته له هغه په لوژستیک، دفتري او اداري برخو کې نعیمي خپله امادګي ونیوله. د ښاغلي حکمتیار لپاره د ولایت مقام مېلمستون ځانګړی شو، تر څو حکمتیار څو ورځو لپاره دلته واوسېږي.

د ولایت مقام مېلمستون سره تر ټولو نږدې تعمیر د ولایتي شورا و، نو په دې اړه والي د ولایتي شورا سره ځانګړې غونډه وکړه، تر څو د ولایتي شورا تعمیر د څو ورځو لپاره دوی ته حواله شي، چې د حکمتیار لپاره ترې د دفتر کار واخیستل شي.

هر څه چمتو شول، امنیتي تدابیر ونیول شول، مېلمستون او د ولایتي شورا تعمیر د حکمتیار د راتلو لپاره ځانګړي شول او د حکمتیار د راڅرګندېدو ورځ هم وټاکل شوه.

په هېواد کې ډول ډول اوازې خپرې وې، چا ویل چې حکمتیار پلانکي ولایت ته راغلی، چا ویل پلانکي ولایت ته راځي، د ډېرو ولایتونو په اړه دغه ډول څرګندونې روانې وې.

د حزب اسلامي چارواکي د حکمتیار له راتلو څو ورځې مخکې هره ورځ راتلل او دلته به یې له هر څه نه لیدنه کوله.

د جهاد دا رهبر او د حزب اسلامي مشر، چې له کابل څخه تلی و، نو پوره شل کاله وروسته لغمان ته راغی. نوموړی لغمان ته د چارشنبې پر مازیګر راغی. په لومړي سر کې هر څه ډېر په راز کې وساتل شول، خو په لغمان کې چې کوم امنیتي تدابیر نیول شوي و او د حزب اسلامي مهم غړي هره ورځ تلل راتلل، نو د خلکو یقین شوی و، چې حکمتیار هم لغمان ته راغلی دی.

د غویي نهمه، د شنبې ورځ د حکمتیار د څرګندېدو ورځ وټاکل شوه، چې پر دغه ورځ د لغمان ولایت په مقام کې د یوې لویې غونډې تابیا وشوه او ورته له ټول هېواد نه ژورنالېستان هم راوغوښتل شول.

د ځینو رسنیو ژورنالېستان خو دوه ورځې مخکې راغلي و، هغوی چې پر دې یې یقین راغلی و چې حکمتیار په لغمان کې راڅرګندېږي، نو مخکې له مخکې لغمان ته راغلي و او هره ورځ یې له لغمان نه خبرونه خپرول.

کله چې حکمتیار لغمان ته راغی، نو له استراحت وروسته ورسره په لومړي ځل والي

عبدالجبار نعيمي وليدل. والي له حکمتيار سره څلورويشت کاله وروسته وليدل، څلورويشت کاله مخکې يې ورسره په سعودي عربستان کې ليدلي و.

نعيمي وايي: ((په اخري وار ما نوموړی په سعودي عربستان کې له جهادي مشرانو سره ليدلی و. موږ چون د مرحوم پير سيد احمد ګېلاني صاحب سره يو ځای تللي و، نو هلته مو له حکمتيار سره هم ليدل شوي و)).

لغمان ته د حکمتيار له راتلو وروسته، لومړی کس نعيمي و، چې د افغان دولت په استازيتوب يې ورسره ليدنه کتنه وکړه.

نعيمي وايي: ((ما چې ورسره په ليدنه کې څه خبرې اترې وکړې، د دوی راتلونکو پلانونو په اړه مې ترې واورېدل، نو زه ډېر مطمين شوم.))

د نوموړي په وينا، د افغانستان دولت چې د ډاکتر محمد اشرف غني په مشرتوب کوم تړون کړی او د سولې کومه دروازه يې خلاصه کړې ده، چې په کې د مرحوم پير سيد احمد ګېلاني رول له ټولو مهم و، دې تړون د سولې پروسه ډېره پياوړې کړه او اوس دا دی حکمتيار لغمان ته راغلی او په خپلو سترګو يې وينې، چې دا د سولې د پروسې مثبته پايله ده.



**د اسلامي حزب امير انجنير ګلبدين حکمتيار په لغمان کې له ظهور وروسته لومړنۍ پراخې مطبوعاتي غونډې ته خبرې کوي**

نعيمي وايي: ((ما چې د حکمتيار په خبرو کې څه واورېدل، هغه داسې و، ويل يې چې زه به په ټول افغانستان کې د سرتاسري سولې راوستو لپاره خپله هڅه کوم، زه به کوښښ کوم چې د يو دېموکرات، قوي، پياوړي او مرکزي دولت ملاتړی واوسم.))

هغه والي سره په ناسته کې دا خبره هم وکړه، چې د ټولو هغو خدای بښلو د فاتحې لپاره به

کورونو ته ورځي، په ځانګړې توګه د مرحوم پیر سید احمد ګېلاني، استاد برهان الدین رباني او دغسې نورو وفات شوو کورنیو ته، له هغوی سره به تعزیت کوي او دعا به ورته کوي.

د غويي پر اتمه، د جمعې پر ورځ هر څه راښکاره شول، ځکه چې پر دغه ورځ د حکمتیار لیدو ته ډېر زیات خلک راغلل او خبره ورو-ورو په ټول هېواد کې پخه شوه، چې حکمتیار د لغمان ولایت په مېلمستون کې دی، ځکه چې پر دې ورځ نوموړي له ننګرهار نه راغلي یو پلاوي سره خبرې هم وکړې، چې یواځې هغو رسنیو خپرې کړې، چې ژورنالېستان یې له مخکې دلته راغلي و او د حکمتیار د راڅرګندېدو په تمه و.

د غويي پر نهمه سهار وختي د هېواد د ټولو رسنیو ژورنالېستان لغمان ته رارسېدلي و، نه یواځې دا چې د هېواد دننه رسنۍ، د نړۍ یو شمېر مشهورې رسنۍ هم لغمان ته رارسېدلې وې.

پر دې ورځ د لغمان ولایت مرکز، مهترلام ښار ټول تړل شوی و، ټول ښار کې امنیتي ځواکونو کلک تدابیر نیولي و.

د ورځې شا و خوا لس بجې غونډه پیل شوه، د رسنیو او ولس په مخکې، حکمتیار شا و خوا شل کاله وروسته راڅرګند شو.

د انجنیر ګلبدین حکمتیار لیدو ته له ټول هېواد څخه خلک راغلي و، خو د غونډې په ځای کې چې د څومره خلکو د ځایېدو امکان و، هماغه شمېر غونډې ته راپرېښودل شول.

د حکمتیار د راڅرګندېدو لپاره د لغمان ولایت رهبري او امنیتي ځواکونو خپله دنده ډېره په ښه توګه ترسره کړه او د سولې د پروسې لومړي قدمونه له لغمان څخه واخیستل شول.

## لغمان د ملي پخلاینې او سولې کور:

کله چې د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار د یوې پراخې غونډې په ترڅ کې د خپلو پلویانو، رسنیو او ولس ترمنځ راڅرګند شو، نو خپله لومړۍ رسنیزه وینا یې هم وکړه.

خپله لومړۍ وینا کې نوموړي وویل:

((سوله به موږ په خپله دې هېواد ته راولو، له بهر نه چې څوک راغلي دي، هغوی موږ ته کله هم سوله نه شي راوستلای.)).

هغه په طالبانو غږ وکړ: ((تاسو به له روانې جګړې نه هېڅ ګټه ترلاسه نه کړئ. دا جګړه یواځې د افغانانو په زیان ده.))

حکمتیار له طالبانو وغوښتل: ((راځئ نور دا هېواد جوړ کړو او د سولې لپاره کار وکړو.

تاسو د زور حکومت غواړئ او افغانان د زور حکومت نه مني.

دا جنګ د اسلام او افغانستان په ګټه نه دى او د دې جنګ لپاره هېڅ عقلي او شرعي توجيه پاتې نه ده.

کله چې د جنګ اړتيا وه، کله چې د جهاد ضرورت و، نو موږ جهاد وکړ، ټولو افغانانو جهاد وکړ، خو اوس د سولې اړتيا ده، نو بايد چې موږ ټول د سولې لپاره کار وکړو او دې هېواد ته سوله راولو.))

حکمتيار په ټولو وسله والو غږ وکړ، چې د سولې له بهير سره يو ځاى شئ. نوموړي په خپلو خبرو کې دا هم وويل، چې د جهاد په وخت کې لغمان د مجاهدينو سنګر و، خو اوس د سولې په وخت کې لغمان د سولې کور شو. هغه وويل چې په لغمان کې به د سولې لپاره د هغه ټول پلويان خپلې هڅې کوي او لومړى په لغمان او وروسته په ټول افغانستان کې سوله راوستل به د دوى لومړيتوب وي.

نعيمي وايي، په لغمان کې د حکمتيار راځرګندېدلو، دې ولايت ته د سولې او ملي پخلاينې وياړ وباښه.



**د حزب اسلامي امير انجنير ګلبدين حکمتيار په لغمان کې لومړى پراخې ولسي غونډې ته وينا کې دغه ولايت د سولې او ملي پخلاينې د کور په نوم ونوماوه**

د هېواد په ټولو رسنيو کې لغمان يادېده او دلته د حکمتيار په راځرګندېدو بې شمېره ليکنې وشوې او د سولې په لړ کې د والي هڅې وستايل شوې.

حکمتيار هم د ولايت مقام له رهبرۍ مننه وکړه، چې د هغه د راځرګندېدو او مېلمستيا لپاره يې دومره ښه چمتوالى نيولى و.

کله چې غونډه پاى ته ورسېده، له غرمې وروسته انجنير ګلبدين حکمتيار، د خپلو يو شمېر پلويانو او د لغمان والي په ملتيا تر ننګرهار پورې ولاړ.

نعيمي وايي: ((موږ حکمتيار صيب تر ننګرهار پورې ورساوه، هلته مو د ننګرهار له چارواکو سره ليدنه وکړه، وروسته له هغه حکمتيار صېب هلته پاتې شو او موږ ترې بېرته راغلو.))

که څه هم يوه نيمه مياشت مخکې د لغمان په اړه په ټول هېواد کې داسې اوازې خپرې شوې وې، چې ګوا کې لغمان سقوط کوي، خو پر دې ورځ ټولو وليدل، چې لغمان د سولې کور دى او د حزب اسلامي مشر ګلبدين حکمتيار هم د راځرګندېدو لپاره همدا ولايت غوره کړ.

## د لغمان رغونې جشن:

په لغمان کې په ۱۳۹٦/۷/۲۳ نېټه باندې (د لغمان رغونې جشن) جوړ شو، چې د هېواد اجراییه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله د یو لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ چې د کابینې د یو شمېر مهمو وزارتونو وزیرانو، معینانو او د اجراییه ریاست مشاورینو یې ملتیا کوله، لغمان ولایت ته سفر ترسره کړ او د لغمان رغونې جشن په شاندارو مراسمو کې چې د ولایت مقام په انګړ کې نیول شوې وه برخه واخیسته.




**لغمان والي عبدالجبار نعیمي او اجراییه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله د لغمان رغونې جشن کې ویناوالو ته غوږ دي**

مراسمو ته والي پیلیزه وینا وکړه، د ولایت د انکشاف، امنیت، د غوره حکومتدارۍ د بنسټونو د تقویې، خلکو ته د رغنده خدماتو وړاندې کولو او په چارو کې د ولسي مشارکت په اړه یې د هېواد اجراییه رییس، د کابینې وزیرانو، لوړپوړو دولتي چارواکو، مشرانو، خلکو او د خلکو استازو ته هر اړخیز معلومات ورکړل او په یو شمېر برخو کې یې مهم وړاندېزونه هم د هېواد د اجراییه رییس سره شریک کړل.د ملي یووالي حکومت مشرتابه او اړوند وزارتونو د ځانګړې پاملرنې غوښتنه یې وکړه.

د هېواد اجراييه رييس ډاکټر عبدالله عبدالله بيا په ټولو برخو کې د مثبت بدلون په ترسره کېدو کې د خوښۍ ښودلو ترڅنګ ډاډ ورکړ چې د لغمان د اداري او خلکو وړاندېزونه به د ملي يووالي حکومت مشرتابه، امنيت شورا او د کابينې جلسې ته وړاندې کړي او هم به په يو شمېر برخو کې وزارتونو ته اړينې لارښوونې وکړي، تر څو لغمان ته بنيادي پاملرنه وکړي.



**ډاکټر عبدالله عبدالله، عبدالجبار نعيمي او نور مسوولين د عامه کتابتون د پرانيستې پر مهال**

د لغمان رغونې جشن دغه مراسم چې د ۲۳ ټولګټو پروژو د پيل او ګټې اخيستنې په موخه جوړ شوي و، غرمه مهال پای ته ورسيدل او وروسته رسماً د يادو ۲۳ پروژو له جملې چې ۱۹۲ ميليونه افغانۍ لګښت پرې راغلی و، د عامه کتابتون ودانۍ او ټولګټو چارو رياست اداري تعمير چې ودانيز کارونه يې بشپړ شوي و، د هېواد د اجراييه رييس ډاکټر عبدالله عبدالله، لغمان والي عبدالجبار نعيمي او د راغلي پلاوي لخوا رسماً د پټې په پرېکولو سره ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې او هم د سراج تاريخي کلا د بيارغنيزو چارو څخه ليدنه ترسره شوه.

*(**يادونه:** د عبدالجبار نعيمي د ماموريت پر مهال چې په لغمان کې څومره پروژې بشپړې شوي، تر کار لاندې او يا منظورې شوې وې (د لغمان د ابادۍ دوره) تر نامه لاندې کتاب کې يې بشپړ معلومات شته.)*

## مننه او خدای پاماني:

د کب په لومړۍ نېټه عبدالجبار نعیمي د لغمان ولایت ملکي او امنیتي مسوولینو، د ولایتي شورا استازو، قومي مشرانو او علماو سره ماښام مهال ناسته وکړه، مشرانو، علماو، ځوانانو او د لغمان ولایت ولسونو د عبدالجبار نعیمي سره تېر کړي وختونه یادول او هر یو خپلې خاطرې



د لغمان ملکي او امنیتي مسوولینو، قومي مشرانو، علماو او ځوانانو له عبدالجبار نعیمي سره ګډ انځور

................................

شریکولې.

د کب په دوهمه نېټه بیا د لغمان د پخواني والي عبدالجبار نعیمي د مخه ښې او د لغمان د نوي والي محمد آصف ننګ د معرفت غونډه نیول شوې وه.

په غونډه کې د لغمان ولایت پخواني والي عبدالجبار نعیمي د ځانګړو او شانداره مراسمو په ترڅ کې له ولسونو سره خدای پاماني وکړه او ولسونو د یوې درنې غونډې په ترڅ کې د نوموړي خدمتونه او کړنې وستایلې.

په همدې مراسمو کې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې د مالي او اداري مرستیال روح الله نیازي لخوا د لغمان ولایت نوی والي آصف ننګ هم ادارې او ولسونو ته ورپېژندل شو.

روح الله نیازي عبدالجبار نعیمي د هېواد په کچه یو فعال او بریالی والي یاد کړ، کوم چې تېر ماموریتونه یې په ډېر بریالیتوب سره ترسره کړي دي.

د لغمان ولايت مرستيال الحاج شهزاده مظلوم يار، ملکي مسوولينو، مشرانو او ځوانانو عبدالجبار نعيمي د لغمان په تاريخ کې د ابادۍ او ښه خدمت اتل ياد کړ، دوی وويل چې هېڅ کله به د نوموړي خدمتونه هېر نه کړي او تل به يې يادوي.

عبدالجبار نعيمي نوي والي ته ښه راغلاست ووايه او له ولسونو او ادارې يې غوښتنه وکړه، چې په ټولو چارو کې دې ورسره بشپړه همکاري وکړي.



**عبدالجبار نعيمي ته د لغمان ولس د رخصت پر مهال گلونه په غاړه کړل او په ډېرې خوشحالۍ يې رخصت کړ**

.................................

نعيمي وويل:

((هېڅ کله به لغمان هېر نه کړم، ځکه چې د دې ولايت ولسونو مې داسې عزت او درناوی وکړ، چې هميشه به يې په ياد وساتم او ترڅو چې ژوندی يم، د دې ولايت د خلکو عزت او درنای به کوم.))

هغه په لغمان کې خپلې تېرې خاطرې يادې کړې او د ټولو خلکو څخه يې مننه وکړه، له لغمان څخه په تگ نه يواځې دا چې د نعيمي سترگې نمژنې وې، بلکې د لغمان ولسونه هم د نعيمي په تگ خپه ول.

وروسته په خپل وار سره د ولايتي شورا، علماو شورا، مدني بنسټونو، قومي شوراگانو او گڼ شمېر نورو بنسټونو لخوا عبدالجبار نعيمي ته د غوره او نه هيريدونکي خدمت له امله

ستاینلیکونه ډالۍ او د ویاړ لونګۍ یې ورپه سر کړې.

له غونډې وروسته چې کله عبدالجبار نعیمي د لغمان له ولسونو سره مخه ښه کوله، نو ټولو ورته غېږ ورکوله، مننه یې ترې کوله او په کندوز ولایت کې یې ورته د بریا دعاوې کولې، همدا راز ګڼ شمېر لغمانیانو بیا عبدالجبار نعیمي ته په غاړه کې ګلونه واچول او ډېر په مینه یې رخصت کړ.

له غونډې وروسته نعیمي د مهترلام مرکزي جامع جومات ته ولاړ، هلته یې د ماسپښین لمونځ په جمع ادا کړ او د لغمان له خلکو سره یې مخه ښه وکړه.

تر غرمې وروسته د لغمان ملکي او امنیتي مسوولین، قومي مشران، علما، ځوانان او نور ډېر شمېر خلک د عبدالجبار نعیمي سره د بدرګې په پار تر لیرې پورې ولاړ او عبدالجبار نعیمي یې له لغمان ولایت څخه په ډېر مینه او خوشحالۍ رخصت کړ.

# کندوز[1]

کندوز یو له لرغونو او تاریخي ولایتونو څخه دی، چې د افغانستان په شمال ختیځ کې موقعیت لري. دغه ولایت په لومړیو کې په بېلابېلو نومونو لکه اپاسکا، کهندژ او کندوز په نومونو یاد شوی دی.

کندوز د خپل جغرافیایي موقعیت له مخې هم خورا مهم دی، کله چې اسکندر کبیر له میلاد مخکې په ۳۳۰ کلونو کې د بیسوس پر وړاندې، چې ځان یې پاچا باله، لښکر کشي کوله، نو اپاسکا یا اوسنی کندوز یې د خپلې پوځي اډې په توګه انتخاب کړی و.

کهندژ، چې د نسلونو او پېړیو په تېرېدو یې نوم بدل شوی، په تېر کې د تخارستان پلازمېنه و او ۲۰۰۰ کاله وړاندې د یفتلي دولت پر مهال له مهمو سوداګریزو لارو څخه شمېرل کېده، چې د هندوکش سوېلي لیکې یې د کوهدامن او کوهستان غرونو له لارې له شمالي څنډېو سره نښلولې.

د کندوز د هندوکوه شمالي څنډې د تخارستان او باختران تر منځ یو مهم تمځای و، چې هلته بیا سوداګریزې لارې په یوه درې لارې کې سره بېلېدلې، یوه یې د بلخ، بله د تخارستان او درېیمه یې مخامخ د امو سیند پر لوري تللې وه.

کندوز د کرنیزو ځمکو لرونکی دی، د دې تر څنګ دوه لوی سیندونه، یو هوایي ډګر او یو هم د شېرخان په نوم سوداګریز بندر لري. یاد ولایت همدا راز له تاجکستان سره ۲۷۰ کیلومتره پوله جوړوي او امو سیند هم پر همدې پوله بهېږي.

د کندوز د وګړو شمېر نږدې یو میلیون اټکل شوی او مساحت یې 7668.7 کیلومتر مربع دی، چې د ځمکې له سطحې ٤٠٥ متر لوړ والی لري.

دغه ولایت د شمالي عرض البلد په ٢٢،٣٦ درجو، ١٢،٥٨ دقیقو او ٣٠ ثانیو او د ختیځ طول البلد په ٦،٦٨ درجو، ٥،٥٢ دقیقو او ١٦ ثانیو کې موقعیت لري.

کندوز په ازبکي ژبه کې د ورځې مانا ورکوي، خو په دري کې یې مانا زړه کلا ده.

دغه ولایت د کابل په ٣٣٧ کیلومترۍ کې موقعیت لري، چې په سوېل کې د امو سیند، په ختیځ کې له تخار، په سوېل کې له بغلان او په لوېدیځ کې له سمنګان ولایت سره هم سرحد دی.

---

[1]-: د کندوز په تړاو ډېر معلومات له پژواک ډاټ کام څخه اخیستل شوي.

کندوز په پسرلي کې معتدله هوا خو په اوړي کې سخت گرم او په ژمي کې وچ يخ لري، خو په اوړي کې يې د ځينو هغو ولسواليو هوا، چې ونې او ځنگلونه لري، نسبتا ښه ده.

کندوز ولايت له مرکز (کندوز ښار) پرته د امام صاحب، دشت ارچي، قلعه زال، چهار درې، علي اباد، خان اباد، کلباد، آقتاش او گل تپه په نومونو نهه ولسوالۍ لري.

په کندوز ولايت کې بېلابېل قومونه لکه تاجک، پښتون، ازبيک، هزاره، ايماق، بلوچ، ترکمن او کوچي اوسېږي، خو يو شمېر سکان او هندوان هم په کې شته، نو له همدې امله دغه ولايت ته وړوکی افغانستان هم ويل شوی دی.

په کندوز کې د اوبو د زېرمه کولو لپاره د اوبو پنځه لوی بندونه شته، خو هر کال يې ځينې برخې د موسمي سېلابونو له امله ويجاړېږي.

دغه بندونه د خان اباد، نهرنقي، ايرگنک، شهروان ارچي او ملا کريم په نومونو يادېږي، چې د رغونې لپاره يې کارونه د اموسيند او شمال ختيځ حوزو له خوا پيل شوي دي.

په کندوز کې ٦٠ مدني بنسټونه او ادبي ټولنې شتون لري، چې له دې ډلې د پسرلي، پردېس، جهان نما، ميديوتيک، روزنه صلح، د ځوانانو مشارکت او خان اباد نومونه د يادونې وړ دي.

يادې ټولنې وخت ناوخت ادبي غونډې او مشاعرې لري، کتابونه خپروي او هر کال په کې د رېدي گل په نوم مشاعره جوړېږي، چې د هېواد له بېلابېلو سيمو په کې فرهنگيان برخه اخلي.

کندوز يو ډېر لرغونی ولايت دی، چې د تاريخي ابدو نومونه يې په دې ډول دي:

د کندوز بالاحصار، کله مناره لرغونې ساحه، چهل دختران غونډۍ او زيارت، زير دوره غونډۍ يا د وزلوبې ميدان، د علي اباد ژبين غونډۍ، د خان اباد زړه کلا، جرگذر غونډۍ، گل تپه غونډۍ، مرچ و مگس غونډۍ، قلعه زال غونډۍ او تاريخ غونډۍ يې، بالاحصار، د امام صاحب زړه کلا، رباط ساحه، د امام صاحب روضه او جومات.

کندوز ولايت د رسنيو په ډگر کې هم پراخ فعاليت لري، چې ډېر شمېر تصويري او غږيزې رسنۍ پکې فعالې دي.

په کندز ولايت کې ۳۱۰ زره زده کوونکي، چې ۱۱۸ زره يې نجونې دي، د ٦٤٠٠ ښوونکو له خوا په ٤٧٠ ښوونځيو کې روزل کېږي.

کندوز يو پوهنتون او شپږ دارالمعلمينونه لري، چې ۳۷۰۰ زياتې نجونې او هلکان په کې په ۸ پوهنځيو کې تحصيل کوي.

ټاکل شوې، چې په راتلونکي کې د کندوز پوهنتون نوې ودانۍ په دوه زره جريبه دولتي ځمکه کې د کندوز مرکز په ابدان دښته کې جوړه شي.

د تخارستان عالي ديني مدرسه، د ښوونکو روزنې انسټيټيوټ او شېرخان لېسه د دغه ولايت له تاريخي ښوونيزو مرکزونو څخه دي، چې تر اوسه يې په سلګونه عالمان او ښوونکي ټولنې ته وړاندې کړي دي.

د کندوز زيات شمېر خلک د لاسي صنايعو په برخه کې په پوستين ګنډنه، مسګرۍ، زرګرۍ په پشمينه دوزۍ او خامک ګنډنه کې مهارت لري. همدارنګه د بوټو، تشناب کاغذو، خټينو لوښو، وسپنې، سمنټو، يخو، کيمياوي سرې، اوړو او وريجو کوچنيو فابريکو د دغه ولايت اقتصادي ارزښت زيات کړی دی.

همدارنګه ټغر، لاسپوښونه (دستکش)، جاکټ، ليف، دسمالونه، څادرونه، جامې، د سر شالونه، خولۍ، نارينه او ښځينه کميسونه د ښځو له خوا اوبدل کېږي، چې نه يواځې په دغه ولايت کې ترې کار اخيستل کېږي، بلکې په نورو ولايتونو او بهرنيو هېوادونو کې هم کارول کېږي. که څه هم تر اوسه پورې د لاسي صنايو لپاره کوم مناسب بازار نه دی جوړ شوی، خو د سيمې په بازارنو کې دغه صنايع ښه ځلېدلي دي.

په کندوز ولايت کې د پنبې، صابون، سپين زر غوړيو، د لبنياتو د پروس فابريکې، د وريجو د پروسس فابريکې، د اوړو، جوسو، رومي بادنجانو، حکاکۍ او لاس ګنډنې ګنې وړوکي فابريکې موجودې وې، چې اوسمهال ترې يواځې د لبنياتو، ترمېده اوړو، رومي بانجانو او لاس ګنډنې فابريکې پاتې او نورې ټولې يې د هر کال په تېرېدو د اقتصادي ستونزو له امله سقوط شوې دي.

د سپين زر تصدي فابريکه د سردار محمد داوود خان پر مهال جوړه شوې، چې له ۱۳۵۰ لمريز کال څخه تر ۱۳۵۷ پورې يې د کنجاړې، غوړيو، صابون او چيني لوښو د توليد په برخو کې فعاليت درلود. دې تصدۍ د ګلبهار له نساجۍ فابريکې سره هم د رخت د توليد په برخه کې تړون درلود او نږدې ۲۷۰۰ کارګر يې درلودل.

خو ياده فابريکه د اوبايمې لسيزې د جګړو له امله د هرې ورځې په تېرېدو مخ پر ځوړ روانه وه او اوسمهال يواځې ۳۰۰ کارګر لري، چې د توليد کچه يې د غوړيو، کنجاړې او پوستکو او صابون په توليد پورې محدوده ده. د دې تر څنګ پنبه بسته بندي کوي او خپل دغه توليدات يې کورنيو او بهرنيو بازارونو ته صادرېږي.

سپين زر تصدي فابريکه له ۱۳۸۱ لمريز کاله را په دې خوا چې کله د طالبانو واکمنۍ له منځه ولاړه، د نېپکو په نوم يوې فرانسوۍ کمپنۍ قرارداد کړه، چې تر اوسه د دې کمپنۍ تر اغېز لاندې فعاليت کوي.

د شېرخان بندر هم د کندوز ولايت اقتصادي اهميت زيات کړی. دغه ولايت د امو سيند د پله له لارې له تاجکستان او منځنۍ اسيا سره نښلول شوی. خپله شېرخان بندر، چې د هېواد

له مهمو اقتصادي بندرونو څخه دی، د دغه ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې د تاجکستان پولې ته څېرمه موقعیت لري.

شېرخان بندر د یوه ستر ٦٧٢ متري پل له لارې، چې ۱۱ متره پلنوالی لري له تاجکستان سره نښلول شوی دی.

یاد پل د امریکا او ناروې په ۳۸ میلیونه ډالره لګښت د دوستۍ پله په نامه د امو سیند له پاسه جوړ او په ۱۳۸٦ لمریز کال د تاجکستان او افغانستان د ولسمشرانو له خوا پرانیستل شوی.

کندوز د هېواد له مهمو کرنیزو او ځنګل لرونکو ولایتونو څخه یو دی، چې اوسېدونکي یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي.

پسته، بادام، خټکي په ځانګړي ډول عسقلاني او امام صاحب (په قندک مشهور) خټکي یې خورا شهرت لري، چې کابل، یو شمېر نورو ولایتونو او له هېواده بهر صادرېږي او بزګران ترې ښه عاید ترلاسه کوي.

په کندوز ولایت کې له ۲۷۲ زره هکتاره زیاته کرنیزه ځمکه شته، چې له دې جملې یې ۲۳۳ زره اوبیزه او پاتې نوره یې للمي ده. اوسمهال یې له ۲۳۰ زره هکتارو زیاته اوبیزه او له تر ٤۸ زره هکتارو پورې للمي ځمکې کرل کېږي.

د دغه ولایت ۸۸ سلنه ځمکه هواره او ۱۲ سلنه یې غرنۍ او نیمه غرنۍ دي.

په ۱۳۹۰ لمریز کال کې د دغه ولایت د غنمو د کښت ساحه ۱٦۰ زره هکتاره او په ټوله کې یې د غنمو تولید ٤۱۸ زره ټنه اټکل شوی و. همدغه ساحه بیا په ۱۳۹۱ لمریز کال کې له ۱٦۸ زره هکتاره زیاته اټکل شوې وه، چې د تېر یوه کال په پرتله زیاتوالی ښیي.

په کندوز ولایت کې اوسمهال د خوراکي او روغتیایي اسانتیاوو ۷۲ مرکزونه فعالیت لري. په دغه ولایت کې د ټول زون په کچه یو ۲۵۰ بستریز روغتون او همدا رنګه په امام صاحب ولسوالۍ کې هم یو ۵۰ بسریز روغتون فعال دی.

د دې ترڅنګ په دغه ولایت کې ۱۵ ((CHC کلینیکونه یا جامع روغتیایي مرکزونه، ۳۲ ((BHCکلینیکونه یا اساسي روغتیایي مرکزونه او ١٤ HSC ګرځنده روغتیایي مرکزونه روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

د کندوز په لرو پرتو ولسوالیو او کلیو کې ۲۹۹ روغتیایي پوستې یا HP شته. همدارنګه د عامې روغتیا په چوکاټ کې ١٤٣ ډاکتران، ١٤٥ نرسان، ۹۰ نرسې قابلې، ۱۰۳ واکسیناتوران، ٤۸ تکنیشن لابراتوار والا، د ټولنې ٥٧٤ روغتیایي کارکوونکي او ۲۲٦ خدماتي پرسونل رسماً ثبت دي.

خو له دې سره سره بیا هم د لرو پرتو سیمو اوسېدونکي د روغتیایي مرکزونو، دارو درملو او متخصصو ډاکترانو له کمښته شکایت کوي او د دې ستونزې د حل غوښتونکي دي.

په کندوز کې بېلابېلې لوبې په ځانګړي ډول وزلوبه له پخوا نه دود ده. د کندوزیانو نورې دودیزې لوبې توپ ډنډه، خوسی، غېږنیونه (پهلواني)، تېره اچونه، توپ وهنه او نورې دي، خو له دې ډلې خوسی او توپ ډنډه اوس یو څه پیکه شوې دي.

د دې تر څنګ د والیبال نوې لوبې، فوټبال، پینګ پانګ، باسکټبال، کرکټ، تکواندو، جودو، کورش، د غړو ښکلا (زیبایي اندام)، شطرنج او سامبو د پام وړ وده کړې، چې ځوانان یې هره ورځ ترسره کوي.

اوسمهال په کندوز کې ۱۸ ورزشي فدراسیونونه فعالیت لري، چې په زرګونو نارینه او ښځینه لوبغاړي په کې بوخت دي.

کندوز ولایت په وروستیو کې د طالبانو له خوا دوه ځلې سقوط شو، چې له سختو اقتصادي ستونزو او ننګونو سره یې مخ کړ.

د ۱۳۹٤ د میزان میاشتې په ٦مه نېټه او د ۱۳۹۵ د میزان په ۱۲مه نېټه کندوز ولایت دوه ځلې پرلپسې سقوط، چې له امله یې ډېر شمېر سوداګرو له کندوز ولایت څخه نورو ولایتونو ته کډه وکړه او کاروبار یې ډېر سخت متاثره شو، همدا راز د دوه ځله سقوط او امنیتي تهدیدونو له امله ۳۱ دولتي او نړیوالې موسسې له کندوز ولایت څخه ووتلې او په دغه ولایت کې یې خپل دفترونه وتړل.

دې سقوطونو د کندوز ملکي اداره فلج کړه، دولتي خدمات په ټپه ودرېدل او امنیتي ستونزې د نور کله په څېر ډېرې شوې، چې د مرکزي حکومت نه پاملرنې هم د کندوز ولایت خلکو ته ډېرې ستونزې زیاتې کړې.

# د کندوز ولایت د والي په توګه

عبدالجبار نعیمي چې په میدان وردګو، خوست او لغمان ولایت کې یې د والي په حېث دنده ترسره کړې وه، له لغمان څخه کندوز ولایت ته تبدیل شو.

په داسې حال کې چې کندوز ولایت دوه ځلې د سقوط سره مخ شوی و او دې سقوطونو امنیتي ادارو، ملکي ادارو او ولس ته ډېر سخت زیانونه اړولي ول.

نه یواځې دا چې له کندوز ولایت څخه ملي تجاران تللي ول، بلکې دلته کاروبار هم سخت زیان سره مخ شوی و، همدا راز دولتي خدمات هم په نشت حساب ول او نورې ډېرې ستونزې وې، چې نوی والي ورسره د تګ په لومړیو کې مخ کېده.

## د معرفت غونډه:

د حوت په ۳مه نېټه کال ۱۳۹٦ هـ ش د کندوز نوی والي عبدالجبار نعیمي، چې د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې مالي او اداري معین روح الله نیازي یې ملتیا کوله، کندوز ته ولاړ او هلته په یوه لویه غونډه کې د کندوز ولسونو ته ورمعرفي شو.



**په کندوز کې د معرفت غونډې پر مهال عبدالجبار نعیمي د کندوز ولسونو ته وینا کوي**

په دې غونډه کې د ملکي، عدلي او نظامي ادارو مسوولینو، جهادي مشرانو، سپین ږیرو، جیدو دیني علماو، مېرمنو، ځوانانو او د رسنیو استازو ګډون درلود.

د کندوز پخوانی والي اسد الله عمرخېل هم په دې غونډه کې و، چې د کندوز نوي والي ته

يې ښه راغلاست ووايه او د کندوز د نوي والي د معرفت تر څنګ پخواني والي هم په همدې غونډه کې له د کندوز له خلکو سره مخه ښه وکړه.

د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې مالي او اداري معين روح الله نيازي په غونډه کې د خبرو پر مهال وويل:

((عبدالجبار نعيمي هغه څوک دی چې د والي په حيث د درې ولايتونو غوره کاري تجربې لري، عبدالجبار نعيمي په ميدان وردګو، خوست او لغمان ولايتونو کې د والي په حيث خدمت ترسره کړی اوغوره لاسته راوړنې يې لرلي دي، د کندوز په ولسونو غږ کوم چې د ولايتي ادارې د نوې رهبرۍ سره په پوره يووالي کار وکړي، ترڅو دغه جګړه ځپلی ولايت يو ځل بيا د ارامۍ او هوساينې ساه واخلي او په هر اړخيزو برخو کې ولسي لومړيتوبونو ته رسيده ګي وشي.))

په غونډه کې د کندوز خلکو، د خلکو استازو او ځوانانو نوي والي ته هرکلی ووايه او د کندوز مهمې ستونزې يې ورسره شريکې کړې او همدا راز يو شمېر غوښتنې يې هم ترې وکړې.



**عبدالجبار نعيمي د کندوز د نوي والي په حېث دنده پيل کړه**

دوی وويل چې تر هرڅه لومړی دې د ولايتي ادارې مشرتابه په دغه ولايت کې د سرتاسري امن د ټينګښت، عامه نظم د تامين، د غوره حکومتوالۍ د بنسټونو د تقويې او رغنيز انکشاف د پياوړتيا په برخو کې د کندوزيانو غوښتنو ته رسيده ګي وکړي.

د کندوز نوي والي بيا له ولسمشر، اجراييه رييس او سيمه ييزو ارگانونو خپلواکې ادارې څخه مننه وکړه، چې پر ده يې اعتماد کړی.

همدا راز نعيمي په خپلو خبرو کې د کندوز له خلکو سره هېڅ ژمنې ونه کړې، خو له خلکو يې وغوښتل چې په کارونو کې دې ورسره مرسته وکړي، تر څو د امنيت تامين، انکشاف، غوره حکومتدارۍ د بنسټونو د تقويې لپاره د ولس د لومړيتوبونو سره سم گامونه پورته کړي.

هغه همدا راز خلکو ته وويل، چې د خلکو او ادارې ټولې اړتياوې او پېشنهادونه به له مرکزي حکومت او اړوند وزارتونو سره شريکې کړي.

نعيمي وويل:

((يووالی زموږ بريا ده، کندوز (کوچنی افغانستان) چې د هېواد له نږدې ټولو ولايتونو او قومونو خلک پکې مېشت دي، هيله او غوښتنه مې دا ده چې يووالی وساتئ، د يووالي لپاره کار وکړئ او په پوره يووالي سره د خپلو امنيتي ځواکونو او سيمه ييزې ادارې ملاتړ وکړئ، ځکه همدا چاره زموږ د بريا لپاره يوازينۍ کيلي ده. کندوز مرگونې جگړې او سختې ورځې تجربه کړي، لا هم گڼې ستونزې د دې ولايت د خلکو او ادارې پر وړاندې پرتې دي، فرد، فرد مسؤليت لري چې د کندوز د ارامۍ او ابادۍ لپاره کار وکړي.))

## د کندوزيانو هيلې:

کندوز ولايت چې د افغانستان د تقريباً ټولو ولايتونو خلک پکې مېشت دي او په همدې اساس ورته کوچنی افغانستان هم ويل کېږي. د دې ځای خلک له دوه ځلې سقوط سره سخت نا ارامه شوي و، خو د نوي والي په راتگ سره يې هيلې يو ځل بيا وغوړېدې.

په کندوز کې امنيتي ننگونې، د ملکي ادارې او ولس ترمنځ واټن او نورې هغه گڼې ستونزې وې، چې د کندوز خلک ورسره مخ ول او د وتلو هيلې يې مړاوې شوې وې، خو د عبدالجبار نعيمي په راتگ سره يو ځل بيا د خلکو هيلې وغوړېدې.

په لومړۍ مياشت کې چې هره ورځ د کندوز د مرکز او ولسواليو څخه ډلې ډلې خلک د نوي والي سترې مه شي او هرکلي ته راروان ول، د هرکلي تر څنگ به يې له والي سره خپلې ستونزې او پېشنهادونه هم شريکول.

په دې خلکو کې نه يواځې دا چې د ملکي، نظامي او عدلي ادارو مسوولين، بلکې سپين ږيري، علماء، ځوانان، مېرمنې، د رسنيو استازي، د موسسو استازي او د هر قشر خلک راروان ول او ځينې خلک خو پکې داسې هم راغلل، چې هغوی په ټول عمر کې ولايت مقام ته نه و راغلي.

د بېلا بېلو ولايتونو ډېر شمېر هغه پښتانه چې له لسيزو راهيسې په کندوز کې مېشت ول، خو هېڅ کله يې د ولايت مقام ته راتګ ته زړه نه و ښه کړی، هغوی هم د نوي والي د سترې مه شي او هرکلي لپاره راروان ول او د خپلو ستونزو تر څنګ يې نوي والي ته پېشنهادونه هم ورکول.



**د کندوز والي د مدني ټولنو او ځوانانو سره مشورتي ناسته کوي**

دوی ويل چې د نوي والي په راتګ سره يې هيلې غوړېدلي دي، ځکه چې په ميدان وردګو، خوست او لغمان ولايت کې يې د عبدالجبار نعيمي د ماموريت په اړه کيسې اورېدلي او اوس په دې هيله دي چې والي به د يادو ولايتونو په څېر کندوز ولايت ته هم پاملرنه وکړي او دلته د اوسېدونکو خلکو د ژوند د ښه کولو لپاره به خپلې هلې ځلې ترسره کړي.

## سترې ننګونې:

کندوز ولايت د دوه ځلې سقوط سره له سختو ننګونو سره مخ شوی و، خو بيا په هغه ډول چې دې ولايت ته پاملرنه پکار وه، چا ورته نه وه کړې، نو د نوي والي پر وړاندې سختې ننګونې پرتې وې، تر څو دلته د خپل ماموريت د برياليتوب لپاره نه سترې کېدونکې هلې ځلې ترسره کړي.

په کندوز ولايت کې نا امني يوه ستره ننګونه وه، چې دوه ځله ولايت سقوط شوی و، د ملي يووالي حکومت مشرانو له کندوزيانو سره ډېر شمېر ژمنې هم کړې وې، خو بيا هم هغه څه چې د کندوز د امنيت په برخه کې پکار و، نه و ترسره شوي، نو د نوي والي لپاره دا ستره ننګونه ده

چې د کندوز د امنيت په برخه کې هلې ځلې وکړي او کندوز له نا امنيو وژغوري.

چې په دې لړ کې کندوز والي له امنيتي مسوولينو سره ناستې ترسره کړي، د نا امنۍ علتونه يې معلوم کړي او مرکز ته يې وړاندېزونه کړي، تر څو کندوز ولايت چې د افغانستان يو له مهمو ولايتونو څخه دی، له نا امنيو څخه وژغورل شي.

په کندوز ولايت کې د ملکي ادارې د خدماتو په تېره درېدل هم د نا امنۍ له امله دي، چې دې چارې د دولت او ولس ترمنځ واټن واقع کړی دی، دا هم يوه ستره ننگونه ده چې نوی والي ورسره مخ دی او په دې لړ کې کندوز والي د ټولو رياستونو او آمريتونو له مسوولينو سره ځانگړې ناستې کړي، د هغوی کارونه يې ارزولي او پلانونه يې ترې غوښتي، چې د کندوز د ولس لپاره دوی د ښو خدماتو وړاندې کولو کوم پلانونه لري. د ښې حکومتدارۍ په لړ کې يې نوي گامونه پورته کړي او همدا راز مرکز او اړوندو وزارتونو ته يې پېشنهادونه او وړاندېزونه هم کړي دي، تر څو د دولت او ولس ترمنځ شته واټن له منځه يووړل شي.

## کابل ته لومړی سفر:

عبدالجبار نعيمي په کندوز کې له څه وخت تېرولو، د کندوز د لومړيتوبونو معلومولو، د کندوز ولايت د خلکو غوښتنو، پېشنهادونو او وړاندېزونو ترلاسه کولو وروسته د ثور مياشتې په دوهمه نېټه (۱۳۹۷) کابل ته سفر وکړ، چې په دې سفر کې يې د ملي يووالي حکومت له مشرتابه، وزيرانو او نورو لوړپوړو چارواکو سره وليدل او د کندوز د خلکو لومړيتوبونه، غوښتنې، پېشنهادونه او وړاندېزونه يې ورسره شريک کړل.



**د کندوز والي کابل ته په خپل لومړني سفر کې د هېواد جمهور رييس ډاکټر محمد اشرف غني سره وليدل**

.................................

کابل ته عبدالجبار نعيمي په خپل لومړي سفر کې له لاندې خلکو سره وليدل:

۱-: ۱۳۹۷\۲\۳هـ ش: د سوداګرۍ او صنايعو وزارت له وزير همايون رسا سره ليدنه.

۲-: ۱۳۹۷\۲\۳هـ ش: د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت له وزير انجنير نصير احمد دراني سره ليدنه.

۳-: ۱۳۹۷\۲\۳هـ ش: د انرژۍ او اوبو وزارت له وزير انجنير علي احمد عثماني سره ليدنه.

٤-: ۱۳۹۷\۲\۵هـ ش: د ارشاد حق او اوقافو وزارت له وزير فيض محمد عثماني سره ليدنه.

۵-: ۱۳۹۷\۲\۹هـ ش: د مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوژۍ وزارت له وزير شهزاد اريوبي سره ليدنه.



**کندوز والي عبدالجبار نعيمي په کابل کې د هېواد اجراييه رييس ډاکتر عبدالله عبدالله سره د ليدنې پر مهال**

..................................

٦-: ۱۳۹۷\۲\۹هـ ش: د ولسي جرګې د مشر عبدالروف ابراهيمي، د ملي دفاع وزارت له

وزير ډګرجنرال ارکانحرب طارق شاه بهرامي، د ملي امنيت له عمومي رييس معصوم ستانکزي او د کورنيو چارو وزارت له لومړي مرستيال لوی پاسوال جانان بارکزي سره ليدنه.

۷-: ۱۳۹۷\۲\۱۰هـ ش: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اجراييه رييس ډاکټر عبدالله عبدالله سره ليدنه.

۸-: ۱۳۹۷\۲\۱۱هـ ش: د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې ادارې له مشر عبدالمتين بيک سره ليدنه.

۹-: ۱۳۹۷\۲\۱۲هـ ش: کندوز والي په کابل کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د مشر تاداماچي ياماموتو سره ليدنه وکړه او په دغه ليدنه کې يې کندوز ولايت ته د ملګرو ملتونو



**کندوز والي په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خاص استازي تاداماچي ياما موتو سره هم وليدل**

د کورنۍ د ټولو غړو ادارو او نورو نړيوالو مرستندويه بنسټونو د اساسي توجه غوښتنه وکړه.

کندوز والي په دغه دوه اړخيزه ليدنه د کندوز ولايت په هراړخيز وضعيت، د دوه ځله سقوط پر مهال له کندوزه د ۳۱ نړيوالو او ملي مرستندويه موسساتو چې د تهديدونو له امله يې په دغه ولايت کې دفترونه تړلي، پر بيا فعاليدو، د اساسي پروژو پر تطبيق، د کاري فرصتونو د ايجاد، بشري حقونو د رعايت، د فقر پر کمولو او حکومتوالۍ په برخو کې پر شته ستونزو او

غوښتنو له یاماموتو سره مهمې خبرې وکړې او د ملګرو ملتونو څخه یې د ځانګړې همکارۍ هیله وکړه.

په دغه مهمه دوه اړخیزه لیدنه کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي څخه وغوښتل شول چې ټولې نړیوالې موسسې او بنسټونه دې ته وهڅوي تر څو کندوز ولایت کې خپل فعالیت پیل کړي، تر څو په دغه ولایت کې د کرنې، روغتیا او د پوهنې سکتورونو او د جګړه ځپلو، وچکالۍ ځپلو او اړمنو کورنیو ته د پر وخت رسیده ګۍ په برخو کې د محلي ادارو سره اوږه پر اوږه کار وکړي او په دغه ولایت کې د انکشاف نوي بابونه پرانیزي.

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي په دغه لیدنه کې د هر اړخیزه همکارۍ ژمنه وکړه، د کندوز ولایت اداري او ولس ته یې ډاډ ورکړ چې دغه ولایت ته به په هره برخه کې ځانګړې توجه وکړي.

۱۰-: ۱۳۹۷\۱۲\۱۳هـ ش: د اقتصاد وزارت له وزیر دوکتور مصطفی مستور سره لیدنه.

۱۱-: ۱۳۹۷\۱۲\۱٤هـ ش: د ملي امنیت عالي شورا سلاکار محمد حنیف اتمر سره لیدنه.

۱۲-: ۱۳۹۷\۱۲\۱۵هـ ش: د کورنیو چارو وزارت له وزیر ویس احمد برمک سره لیدنه.

۱۳-: ۱۳۹۷\۱۲\۱۷هـ ش: د ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني سره لیدنه.

عبدالجبار نعیمي دوی ټولو سره په وار وار د کندوز ولایت لومړیتوبونه، غوښتنې، پېشنهادونه او وړاندیزونه شریک کړل. دوی ژمنې وکړې چې کندوز ولایت ته به ځانګړې توجو کوي او هر راز همکارۍ ته به چمتو وي.

همدا راز عبدالجبار نعیمي دوی ته د کندوز د سفر بلنې هم ورکړې، تر څو د لومړي صف مسوولین کندوز ولایت ته سفر وکړي او هلته د کندوز لومړیتوبونه له نږدې وګوري او همدا راز د کندوز ولسونو سره له نږدې څخه وګوري. د لومړي صف مسوولینو هم ورسره ژمنه وکړه، چې کندوز ولایت ته به کاري سفرونه ترسره کوي.

## له مرکز څخه د پلاوو راتګ:

کندوز والي په دغه ولایت کې له ټاکل کیدو وروسته د ماموریت له پیلیزې ورځې ولسي مشورو، غوښتنو، وړاندیزونو او پېشنهادونه ته غوږ ونیوه او د ولایت ټول لومړیتوبونه یې په ګوته او د ملي یووالي حکومت له مشرانو، امنیت شورا، دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او یو شمېر سکتوري وزارتونو سره یې کابل ته د رسمي سفر پر مهال شریک کړل، چې وروسته د یو شمېر وزارتونو لوړ رتبه پلاوي دغه ولایت ته راغلل چې په لاندې ډول یې یادونه کوو:

**۱۳۹۷-۲-۱۳:** د ملي دفاع وزارت د کشف او استخباراتو مرستيال د جنرال عبدالخالق په مشرۍ د ملي امنيت د عمومي رياست او د کورنيو چارو وزارتونو لوړ رتبه پلاوی کندوز ته راغلو.

**۱۳۹۷-۲-۱۸:** کندوز ولايت ته د ملي امنيت شورا د مرستيال ډاکټر محمد ياسين ضياء په مشرۍ د امنيتي، کشفي او دفاعي ارگانونو د موجوده حالت، ضرورتونو او وړانديزيونو د ارزونې په موخه يو لوړپوړی امنيتي پلاوی چې په  ترکيب کې يې د ملي دفاع وزارت د استخباراتو معين ډگر جنرال هلال الدين هلال، د کورنيو چارو وزارت معين لوی پاسوال جانان بارکزی، د ملي امنيت عمومي رياست معين تورن جنرال علي احمد او  بريد جنرال عصمت الله احمدي هم شتون درلود، کندوز  ولايت ته راغلل. د راغلي پلاوي سره چې څو ورځې په کندوز کې و، د ولايت رهبري له لوري د قوتونو د تعبيې، اکمال، تجهيز، غوښتنو، ستونزو، تشکيلاتو او وړانديزونو په اړه هر اړخيزه معلومات شريک شول. راغلي پلاوي په دغه سفر کې د امنيتي سکتور ترڅنگ د کندوز د خلکو، د خلکو له استازو او مشرانو سره هم ليدنې وکړې، چې د خلکو له لورې هم ورسره د امنيت په سکتور کې يو شمېر مهم او ضروري وړانديزونه شريک شول.



**۱۳۹۷-۲-۱۸:** د کرنې او مالدارۍ وزارت د بودجې د امر دُر محمد صالحي په مشرۍ پلاوی کندوز ته راغلو او د کندوز والي سره يې ليدنه وکړه. د دغه پلاوي په تشکيل کې د ابيارۍ معينيت مشاور زيارت گل راحل، د مالدارۍ خدماتو امر توحيد علي شامل وه، دغه

پلاوي د کرنې او مالدارۍ د ودې او پراختیا په برخو کې د هر اړخیزې ارزونې، سروې او د ولسي لومړیتوبونو پر اساس ژمنه وکړه چې دغه وزارت به روان کال د ۳۵۰ میلیونو افغانیو په ارزښت د کرنې او مالدارۍ د ودې او پراختیا په برخو کې پروژې پلې کړي.

**۱۳۹۷-۲-۱۸:** د ولسمشرۍ ماڼۍ څخه د حاجي محمد امان اتمانزي، مولوي جوره طاهري او الحاج امان الله مومند په غړیتوب پلاوي کندوز ولایت ته د شفافو ټاکنو د ترسره کیدو، د ټاکنو لپاره د نوم لیکنې د روان بهیر د پیاوړتیا او د ملي ځواکونو د حمایت له پیغام سره دغه ولایت ته راغلل او د کندوز والي عبدالجبار نعیمي سره یې ولیدل.

**۱۳۹۷-۲-۱۸:** د ښار او کور جوړولو چارو وزارت څخه د انجنیر عبدالباقي تسلیم په مشرۍ پلاوی کندوز ته راغلو، راغلي پلاوي د کندوز والي عبدالجبار نعیمي سره لیدنه کې وویل ((د ښار او کور جوړولو وزارت په پلان کې لري چې د کندوز ولایت په مرکز او امام صاحب ولسوالۍ کې اداري کمپلکسونه جوړ کړي، موږ به د دغو کمپلکسونو لپاره لومړی ځمکې تشخیص او وروسته به تخنیکي ټیم د هغې سروې پیل کړي، تر څو یې د جوړیدو کارونه پیل شي.))



**۱۳۹۷-۲-۱۸:** د کلیو او پراختیا وزارت پلاوی د محمد زمان ساربان په مشرۍ کندوز ولایت ته راغلو او په اړوند برخو کې یې پر یو شمېر مهمو موضوعاتو د کندوز والي سره خبرې وکړې.

**۱۳۹۷-۲-۲۰:** د ملکي هوایي چلند د عمومي رییس محمود شاه حبیبي په مشرۍ کندوز ولایت ته لوړ رتبه هئیت راغلو، راغلي پلاوي د کندوز والي سره ناسته کې د کندوز له هوایي

ډګره د ملکي پروازونو پر پیلیدو، شته ستونزو، خنډونو او ضرورتونو  او د هغې په حل لارو مهمې خبرې وکړې.



**۲۰-۲-۱۳۹۷:** د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو مرستیال اندریو ګیلمور کندوز ته راغلو او د کندوز والي سره یې د ولایت مقام په مقر کې د لیدنې پر مهال د ښځو په حقونو، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پېښو او په جګړو کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او بشر حقونو په یو شمیر نورو مهمو مسایلو خبرې وکړې.



**۳۰-۲-۱۳۹۷:** کندوز ولایت ته په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال توبي لنز راغلو او د کندوز والي سره یې لیدنه وکړه، چې په دغه لیدنه کې د ولایت په هر اړخیز وضعیت، د اساسي پروژو پر تطبیق، د کاري فرصتونو پر ایجاد، د زراعت پر پیاوړتیا، ښوونې، روغتیا، بشري حقونو د رعایت، د فقر په راکموالي، د غوره حکومتوالۍ د بنسټونو د تقویې او د نشه یي

توکیو د کاروبار، استعمال او قاچاق په برخو کې پر شته ستونزو او غوښتنو مهمې خبرې وشوې او د ملګرو ملتونو څخه د ځانګړې همکارۍ هیله وشوه. د لیدنې پر مهال کندوز والي په دغه ولایت کې د ملګرو ملتونو ادارې له ټولو ګټورو همکاریو قدرداني وکړه او غوښتنه یې وکړه چې ملګري ملتونه دې هغه موسسات چې له کندوزه د دوه ځلې سقوط پر مهال تللي وهڅوي چې بیرته په دغه ولایت کې خپل دفترونه پرانیزي.

پلاوي چې دوه ورځې یې په کندوز کې تیرې کړې، د ولایت رهبري ورسره د روغتیا، ښوونې، زراعت، انکشاف، زیانمنو، داخلي بېځایه شویو او اړمنو کورنیو ته د پر وخت بشري مرستو د رسولو او یو شمېر نورو برخو کې خپل وړاندیزونه په رسمي بڼه شریک کړل، چې لنز د کندوز د ادارې او خلکو غوښتنو ته د رسیده ګۍ په برخو کې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.



**۱۳۹۷-۳-۱:** د ولسمشر په حکم د پېښو پر وړاندې د مبارزې وزارت د وزیر نجیب اقا فهیم په مشرۍ ګډ عالیرتبه پلاوی چې په ترکیب کې د عامي روغتیا وزارت معین ډاکټر فدا محمد پیکان، د کرنې او مالدارۍ وزارت معین حمدالله همدرد، د ټولګټو چارو وزارت معین سید عنایت الله فخري، د ښار او کور جوړولو چارو وزارت معین حاجي اکبر احمدي، د کلیو او پراختیا وزارت معین نصیر احمد پوپل، د کار، ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مشاور عبدالقیوم زاهدي، د سرې میاشتې عمومي ریاست سرپرست ډاکټر میرویس اکرم او د پېښو پر وړاندې د مبارزې په چارو کې د دولت مشاور عزت الله صدیقي شامل وه، کندوز ولایت ته راغلل.

ګڼ پلاوی څلور ورځې په کندوز کې پاتې شو، د ولایت مشرتابه ترځنګ یې د ولایتي شورا له وکیلانو، مشرانو، ولسونو، ځوانانو او اړوند ریاستونو له مسؤلینو سره ناستې ترسره کړې چې په دغو ناستو کې ورسره د کندوز ولایت لومړیتوبونه، وړاندیزونو ته د ښې رسیدنې په موخه ګڼ پلاوي یو توحیدي راپور ترتیب او له ځان سره یې کابل ته انتقال کړ، ترڅو یې د هېواد له جمهور رییس سره شریک کړي. پېشنهاودنه، ستونزې او غوښتنې شریکې او شویو وړاندیزونو



د کندوز د امنیت، خوندیتوب، انکشاف، د غوره حکومتدارۍ د بنسټونو د تقویې او خلکو ته د رغنده خدماتو وړاندې کولو په برخه کې شپه ورځ تلاش جاري دی، په همدې لړ کې د ملي دفاعي، امنیتي او کشفي ارګانونو د مسؤلینو تر څنګ په شمال ختیځ زون کې د بهرنیو ځواکونو له قوماندان برید جنرال ولف یورګن شتال سره هم څو، څو ځلې د امنیت، انکشاف، حکومتوالۍ او په دغه ولایت کې د خدماتو د نویو بابونو د پرانیستو په تړاو مهمې ناستې شوي.



**۱۳۹۷-۳-۱٦:** د ناټو ځواکونو مرستيال قوماندان General Mutaza د کندوز والي سره ليدنه وکړه، دغه ليدنه چې د ملي اردو په پامير ۲۰ فرقه کې ترسره شوه، پکې په شمال ختيځ زون کې د ميشتو بهرنيو ځواکونو قوماندان بريد جنرال ولف يورګن شتال، د ملي امنيت رييس، امنيه قوماندان، د ملي اردو د پامير ۲۰ فرقې قوماندان او يو شمېر امنيتي مسؤلينو ګډون درلود.

کندوز والي د ناټو له مرستيال قوماندان سره د دغه ولايت په امنيتي او انکشافي وضعيت، د غوره حکومتدارۍ پر پياوړتيا او د راتلونکو ټاکنو د ښه ترسره کيدو په برخو کې پر يو شمېر مهمو موضاعاتو هر اړخيز خبرې وکړې او له Mutaza څخه يې غوښتنه وکړه چې کندوز ولايت ته په يادو برخو کې پاملرنه وکړي.



**۱۳۹۴-۷-٦:** کندوز د لومړي ځل لپاره له سختو جګړو وروسته د وسلوالو طالبانو په لاس کې پرېوت او په همغه نېټه په دغه ولايت کې د بې پولې ډاکټرانو روغتون ويجاړ او روغتيايي خدمات يې په ټپه ودريدل.

وروسته بيا د بې پولې ډاکټرانو روغتون مسؤلينو په دغه ولايت کې د يو مجهز روغتون د جوړيدو تابيه وکړه، خو د ځمکې نه شتون او انتقال هغه لوی خنډ و چې په اوږده موده يې د دغه روغتون مسؤلين سرګردانه کړل. عبدالجبار نعيمي د خپل ماموريت پر مهال د بې پولې ډاکټرانو د روغتون د بيا فعاليدو او د يو مجهز روغتون د جوړيدو په برخه کې په کلک هوډ کار




پیل کړ، د بې پولې ډاکټرانو د نوي روغتون لپاره يې د کرنې رياست اړوند د ۲۵ جريبه ځمکې د انتقال چارې بشپړې او اسناد يې د بې پولې ډاکټرانو ( MSF ) په واک کې ورکړل، چې په نږدې راتلونکي کې به کندوز ولايت کې رسماً په نړيوال معيار برابر د يو مجهز او ستر روغتون د جوړېدو کارونه پيل شي.

## د الچين پُل:

الچين پُل د کندوز ښار له شيرخان بندر سره وصلوي. دغه پُل د کندوز ښار شمال ته په ۷ کيلومتره واټن کې موقعيت لري، دغه پُل د کندوز د دوهم ځل سقوط پر مهال چې دغه ولايت د وسلوالو طالبانو لاس ته ولويد، په ۱۳۹۵-۷-۱۲ نېټه يې دغه پُل هم ونړاوه چې له امله يې شيرخان بندر تجارتي لار له سختو خنډونو سره مخ شوه.



د الچین پُل او دغې ستړې تجارتې لارې د بیرته پرانیستو لپاره پر وخت اقدام وشو او بیرته په دغه پُل د موقت وخت لپاره استحکام پُل وتړل شو، وروسته یې د بیا ځل جوړېدو تلاش وشو، اوس د همدې ۱۱۰ متره اوږد پُل د نړیدلې ۴۴ متره برخې چې ۹ متره عرض لري د جوړېدو لومړي کارونه پیل شوي دي، چې د قرارداد سره سمې به بشپړې او رسماً به د غه پُل بیرته د پخوا په څیر د تګ راتګ جوګه شي.

## حلقوي سرک:




د کندوز ښار حلقوي سرک چې ۲۹ کیلومتره اوږد والي او ۸۰ متره عرض لري، اوسمهال یې لومړی تخنیکي سروې جریان لري. د دغه سرک ډیره برخه سروې بشپړه شوې او پاتې به یې هم ژر تر ژره تکمیل او وروسته به یې نور تدارکاتي کارونه پیل او د دغه سرک د جوړېدو کارونه پیل شي.

## برښنا:

کندوز چې د تاجکستان څخه د راغلي وارداتي برښنا په مسیر لومړی کرښه پروت دی، کندوز سره له دې چې ډیری برخې یې له برښنا بې برخې دي خو د نورو په پرتله یې اکثره وګړي له دغه نعمت برخمن دي.

د روان کال ۱۳۹۷-۳-۲۱ نېټه کندوز والي په دغه ولايت کې د څه باندې ۳۲ ميليونه او دوه سوه زره امريکايي ډالرو په ارزښت د برښنا دوه پروژې چې کارونه يې تکميل شوه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.



د دغو پروژو د پرانيستې په مراسمو کې د ولايت مشرتابه او د برښنا عمومي رياست د رييس انجنير امان الله غالب هم ګډون درلود. د برښنا لومړۍ شبکه چې د اسيايي بانک په مالي تمويل د ۲۹ ميليونه امريکايي ډالرو په لګښت تطبيق او پرانيستل شوه، په ۱٦ قريو کې يې ۱۳۵۰۰ کورنۍ تر پوښښ لاندې را وستې او دوهمه پروژه چې د دوست هېواد المان په مالي تمويل سره بشپړه او پرانيستل شوه، لګښت يې درې ميليونه او دوه سوه زره امريکايي ډالر کيږي، چې په دې سره هم ۳۰۰۰ کورنۍ له برښنا برخمنې شوې.

# مهالښود

دې مهالښود کې د میدان وردګو، خوست لغمان او کندوز ولایتونو له ١٦ کب ١٣٨٣هـ ش څخه تر ١ غبرګولي ١٣٨٧هـ ش پورې او بیا له ١١ وري ١٣٨٩هـ ش څخه د ٢١ غبرګولي ١٣٩٧هـ ش نېټې پورې د عبدالجبار نعیمي د ماموریت چارو ته ځغلنده کتنه شوې ده. په دې مهالښود کې ذکر شوې چارې د نورو ګڼو هغو له جملې دي، چې عبدالجبار نعیمي د خپل ماموریت پر مهال په یادو ولایتونو کې د ښې حکومتولۍ، انکشاف، امنیت او ولسي هوساینې په برخو کې ترسره کړې دي.

## میدان وردګ

### ١٣٨٣هـ ش

١٣٨٣\١٢\١٦هـ ش: عبدالجبارنعیمي میدان وردګو کې والي وټاکل شو.

١٣٨٣\١٢\١٩هـ ش: نعیمي د وخت د قبایلو او سرحدونو چارو له مرستیال سره وکتل. پر همدې ورځ یې له عام ولس سره د هغوی د ستونزو د هوارې لپاره هم لیدنه وکړه.

١٣٨٣\١٢\٢٥هـ ش: نعیمي له یوناما، غزني کې د امریکا ولایتي بیا رغونې ډلې او نورو مرستندویه ټولنو سره د سیلابونو د مخنیوي او سیلاب ځپلو سره د مرستې لپاره ولیدل.

١٣٨٣\١٢\٢٩هـ ش: نعیمي د سنګلاخ سیمې د کابل پوهنتون له محصلانو، د میرمنو د ټولنې له استازیو او قومي مشرانو سره په کتنه کې د محصلانو پر ستونزو خبرې وکړې.

### ١٣٨٤هـ ش

١٣٨٤\١\١٨هـ ش: سیداباد ولسوالۍ کې د مخابراتو ریاست د ودانۍ ډبره کېښودل شوه.

١٣٨٤\١\١٢هـ ش: نعیمي چک ولسوالۍ ته سفر وکړ. له چک بند څخه یې لیدنه وکړه او د احتمالي سیلابونو د مخنیوي پر سرښتو یې له مرستندویه ټولنو او قومي مشرانو سره د ولسوالۍ پر ابادۍ خبرې وکړې.

١٣٨٤\١\١٣هـ ش: میدان ښار کې د کروندګر ورځې په ویاړ، د ولایتي ادارې مخې ته د یو پارک بنسټ کېښودل شو. دې پارک کې مېوه لرونکې او د ګلانو بوټې نیال شول.

١٣٨٤\١\١٤هـ ش: نعیمي د کډوالو چارو وزیر اعظم دادفر په ملتیا د میدان ښار ختیځ ته د کډوالو لپاره ښارګوټي چې دوه زره نومرې یې درلودې، پرانیست. نعیمي پر همدې ورځ له علماوو، قومي مشرانو او د ولسوالیو شوراګانو له مشرانو سره د سلا-مشورو په خاطر وکتل.

١٣٨٤\١\١٧هـ ش: نعیمي د اسلامي کنفرانس استازی یحیی لاوال او د سویډن سفیر میدان ښار ته وبلل او د یوې

غونډې ترڅ کې يې ترې بيارغونه کې مرسته وغوښته.

۱۳۸٤\۱۱\۱۹هـ ش: نعيمي او د ښار جوړونې وزير انجنير محمد يوسف پښتون، ميدان ښار کې په ۲۰۰۰ جريبه ځمکه کې د يو صنعتي پارک او ښارګوټي بنسټ ډبره کېښوده.

۱۳۸٤\۱۱\۲۱هـ ش: نعيمي کابل کې د اطلاعاتو کلتور وزير سيد مخدوم رهين، د مخابراتو له وزير اميرزي سنګين، د کليو د پراختيا له وزير محمد حنيف اتمر او د ښار جوړونې له وزير يوسف پښتون سره وکتل او اړوندو برخو کې يې ترې د بيارغونې او پرمختيايي پروژو غوښتنې وکړې.

۱۳۸٤\۱۱\۲۲هـ ش: نعيمي ميدان ښار کې د نړيوالو مرستندويه ټولنو او اينجيوګانو له استازيو سره وکتل او د پرمختيايي چارو د ښه پرمختګ په اړه يې ورسره سلا مشورې وکړې.

۱۳۸٤\۱۱\۲۳هـ ش: نعيمي د ميدان وردګو ولايت له ټولو ولسوالانو سره ګډه غونډه وکړه. پر امنيت، بيا رغونه، د کوکنارو پر ورکاوي، ولايتي شوراګانو او پارلماني ټاکنو ته پر سرښتو سره وغږيدل.

۱۳۸٤\۱۱\۲۹هـ ش: نعيمي د ټولو ولايتي ادارو د رييسانو او ځينو مرستندويه ټولنو په ملتيا نرخ ولسوالۍ ته سفر وکړ. هلته يې له قومي مشرانو او ديني علماوو سره وکتل. د ادارې حالت يې له نږدې وکوت او هلته يې د بيا رغونې، امنيت، محلي حکومتولۍ پر پياوړتيا ټاکيد وکړ.

۱۳۸٤\۱۲\۲هـ ش: د فرانسې سفير او د هېواد پارلمان غړي ميدان ښار ته وبلل شول او بيا رغونې برخه کې ترې مرسته وغوښتل شوه.

۱۳۸٤\۱۲\۱۱هـ ش: نعيمي د نرخ ولسوالۍ کهنه خمار کلي کې يو منځنی ښوونځی پرانيست.

۱۳۸٤\۱۲\۱۳هـ ش: چک ولسوالۍ کې ((منې ګل مشاعره)) وشوه. مشاعره کې عبدالجبار نعيمي، صديقې بلخي، غرزي خواخوږي او سلګونه مينه والو شاعرانو، ليکوالو او چارواکو ګډون وکړ.

۱۳۸٤\۱۲\۱۵هـ ش: د ميدان وردګو قومي مشرانو، علماوو او مخورو د يوې غونډې په ترڅ کې د والي خدمتونه وستايل او له مرکزي دولت څخه يې ميدان وردګو ته لا ډېره پاملرنه وغوښته.

۱۳۸٤\۱۲\۲۰هـ ش: د ميدان وردګو اطلاعات او کلتور رياست سره د استراليا د سفارت له خوا د ۱۳۰۰۰ امريکايي ډالرو په کچه ټلويزيونونو، کمپيوټرو او د نورو وسايلو مرسته وشوه.

۱۳۸٤\۱۲\۲۳هـ ش: نعيمي د ښار جوړونې وزير يوسف پښتون او د کابل امنيې قوماندان خاکريزوال ميدان ښار ته وبلل او پر بيلا بيلو امنيتي مسايلو او ښاري پراختيايي چارو يې خبرې وکړې.

۱۳۸٤\۱۲\۲٤هـ ش: ګوانتانامو کې د قرآن کريم د سپکاوي له امله په ميدان ښار کې لوی لاريون راووت. لاريون کې سلګونه ځوانانو ګډون درلود، د امريکا او افغان حکومت پر ضد يې چغې وهلې او لاريون کوونکو کوښښ کاوه چې ولايتي ادارې او چارواکو ته هم زيان واړوي. لاريون کوونکي د نعيمي په هڅو په سوله ييز ډول ارام کړل شو.

۱۳۸٤\۱۲\۲٦هـ ش: د ديني علماوو لخوا ګوانتانامو کې د قرآن کريم د سپکاوي په خلاف، ولايتي ادارې سره په ګډه يو پريکړه ليک لاسليک شو.

۱۳۸٤\۱۲\۲۷هـ ش: نعيمي له خپلې ولايتي کارډلې سره د ستونزو د هوارې او بهترو خدماتو وړاندې کولو په خاطر جلريز ولسوالۍ ته سفر وکړ.

۱۳۸٤\۱۲\۲۸هـ ش: نعيمي د اطلاعاتو او کلتور وزير مخدوم رهين او فرانسې سفير ميدان ښار ته وبلل. وروسته

په ګډه د نرخ لرغوني تاريخي غونډۍ او موندل شوي لرغوني سايټ ((الغتا غونډۍ)) ته ولاړل. پام کې وه چې دغه غونډۍ به د يو غير منقول موزيم په توګه خوندي شي.

۱۳۸۴\۳\۱۱ هـ ش: نعيمي او ورسره کارډلې نرخ ولسوالۍ ته سفر وکړ. دې سفر کې يې د نرخ ولسوالۍ د ودانۍ ډبره کېښوده او د نرخ ولسوالۍ د وګړو ستونزې يې واوريدې.

۱۳۸٤\۳\۱۳هـ ش: نعيمي د سوداګرۍ وزارت له مرستيال محمد نبي فراهي او د کرنې وزارت له پلاوي سره غونډه وکړه. غونډه کې کرنيزو توکو ته پر بازار موندنه، د کروندګرو پر اقتصادي وده، د مېوو پر پروسيس او نورو اړوندو مسايلو بحث وشو.

۱۳۸٤\۳\۱۵هـ ش: جغتو ولسوالۍ کې د غازي محمد جان خان لېسې د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۸٤\۳\۱۷هـ ش: جلرېز ولسوالۍ کې د امام اعظم(رح) په نامه منځني ښوونځي بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۸٤\۳\۲٤هـ ش: د ميدان وردګو ولايت د مېرمنو چارو استازيو د يو پريکړه ليک په ترڅ کې د نعيمي پرمختيايي چارې وستايلې.

۱۳۸٤\۳\۲٥هـ ش: پنځو تنو غټو جهادي قوماندانو ډاياک پروسې ته خپلې وسلې وسپارلې.

۱۳۸٤\۳\۲۹هـ ش: د ميدان ښار روغتون ته د څلورو امبولانسونو مرسته جلب کړل شوه.

۱۳۸٤\٤\٤هـ ش: نعيمي د ميدان وردګو ولايت د مشرتابه نوې ودانۍ چې جنجالي پاتې وه، له جوړولو وروسته پرانيسته.

۱۳۸٤\٤\٦هـ ش: نعيمي له ولايتي رييسانو سره په ګډه د يو سفر پر مهال د دايميرداد ولسوالۍ ودانۍ بنسټ ډبره کېښوده.

۱۳۸٤\٤\۷هـ ش: نعيمي او ورسره کارډلې د سيداباد ولسوالۍ اداري کمپليکس بنسټ ډبره کېښوده.

۱۳۸٤\٤\۹هـ ش: نعيمي د عامې روغتيا وزير فاطمي او فرانسې سفير په ملتيا د ميدان ښار روغتون کې د يوې نوې ودانۍ بنسټ ډبره کېښوده او دغلته يې يو پنځوس بستريز روغتون هم پرانېست.

۱۳۸٤\٤\۹هـ ش: نعيمي د اطلاعات او کلتور وزارت د مرستيال سيد فاضل سانچارکي په ملتيا د ميدان وردګو ولايت د اطلاعات او کلتور رياست، نوې ودانۍ بنسټ ډبره کېښوده.

۱۳۸٤\٤\۱٥هـ ش: نعيمي ته د افغانستان بشري حقونو د خپلواک کميسيون لخوا د بشري حقونو د رعايت له امله ستاينليک ورکړل شو.

۱۳۸٤\٤\۱۷هـ ش: والي د اقتصاد له وزير امين فرهنګ، د ايتلافي ځواکونو له لوی قوماندان جنرال ايکنبيري، د ميدان وردګو له امنيې قوماندان بصير سالنګي، د ملي امنيت رييس فيض الله سادات او نورو دولتي چارواکيو سره وليدل. دوی له ترهګرۍ او نېشه يي توکو سره پر مبارزه او د لويو اقتصادي پروژو پر پلي کيدو وغږيدل.

۱۳۸٤\٤\۲۰هـ ش: د المان سفير د نعيمي په ملتيا د چک برښنا کوټ وکوت او د بيا رغونې په اړه يې خبرې وکړې.

۱۳۸٤\٤\۲۸هـ ش: د نرخ ولسوالۍ، کريم دادو او بني بادامو کې د هلکانو او نجونو دوه ښوونځې پرانيستل شول.

۱۳۸٤\٥\٤هـ ش: نعيمي کابل کې د اسلامي هېوادونو د کنفرانس د استازي يحيى لاوال، د ماموريت پای ته رسيدو په وياړ مېلمستيا وکړه. دې مېلمستيا ته کابل کې د سعودي عربستان، متحده عربي

اماراتو، ليبيا، پاكستان، ايران، تركيې، تركمنستان، مصر، تاجكستان، قزاقستان، اندونيزيا سفيران او د ښار جوړونې وزير محمد يوسف پښتون، نېشه يي توكو سره د مبارزې وزير حبيب الله قادري، د حج او اوقافو وزير نعمت الله شهراني او د همدې وزارت مرستيال حاجي محمد قاسم دوست بلل شوي و.

١٣٨٤\٥\١٦هـ ش: ميدان ښار كې ناصرو كوچيانو ته د ٦٠٠ كورنيو لپاره نومرې وويشل شوې.

١٣٨٤\٥\٢٧هـ ش: د امنيې قوماندانۍ او اور وژنې ودانۍ پرانيستل شوې.

١٣٨٤\٦\٣هـ ش: ميدان ښار كې د يو عصري رستورنټ ((گوربت رستورنټ)) بنسټ ډېره كېښودل شوه. د ولايت مشرتابه ودانۍ كې هم د (الحاق محمد نعيم خان) په نامه يو مسجد بنسټ ډبره كېښودل شوه.

١٣٨٤\٦\٥هـ ش: نعيمي د كرنې او مالدارۍ له وزير عبيدالله رامين سره كابل كې وليدل او ميدان وردگو كې يې د بزگرانو د تقويت په اړه ورسره خبرې وكړې.

١٣٨٤\٦\٦هـ ش: ميدان ښار كې د عدلي او قضايي چارو د سمون او پرمختگ لويه غونډه وشوه. غونډه كې نعيمي، د عدليې وزارت مرستيال هاشمزي او د دغه وزارت يو شمېر چارواكيو گډون درلود. د غونډې گډونوالو د ميدان وردگو له بنديخانې، حقوقو رياست، وړكتونونو له مديريتونو او هغه ځاى څخه ليدنې وكړې چې د نوي محبس د ابادۍ لپاره ټاكل شوى و. پتېيل شوې وه چې دغلته به د بنديانو لپاره يو عصري او په نړيوالو نورمونو برابر محبس جوړيږي. د ياد محبس لگښت لږ تر لږه شپږ ميليونه امريكايي ډالر اټكل شوى و او تر څنگ يې د قضايي او عدلي چارو د پرمختيا په موخه يو روزنيز مركز هم جوړيدل پام كې و. پلان كې وه چې په دغه مركز كې به د ميدان وردگو د عدلي او قضايي چارواكيو سربېره د گاونډيو ولايتونو عدلي او قضايي چارواكي هم روزل كيږي.

١٣٨٤\٦\٨هـ ش: جلرېز كې د اسماعيل خېلو ښوونځى پرانيستل شو. همدا شان د ولايت د مرستيال په لاس جلرېز ولسوالۍ كې پر بزگرو اووه تراكتورونه وويشل شول.

١٣٨٤\٦\٨هـ ش: نعيمي ميدان ښار ته د ننوتو دروازه پرانېسته.

١٣٨٤\٦\٩هـ ش: د چک ولسوالۍ ودانۍ له بيا رغونې وروسته پرانېستل شوه.

١٣٨٤\٦\١٤هـ ش: د ميدان وردگو ښاروالۍ ودانۍ له بيا رغونې وروسته پرانېستل شوه.

١٣٨٤\٧\٨هـ ش: نعيمي افغانستان كې د ځانگړي ځواک له عمومي قوماندان جنرال Kamiya او د ولايتي بيارغونې ډلې له استازيو سره وليدل، دوى ته يې په ولايت كې شته ستونزې وړپه گوته كړې او پرمختيايي بهير كې يې ترې مرسته وغوښته.

١٣٨٤\٧\١٠هـ ش: نعيمي ميدان وردگو كې په لومړي ځل د سوداگرۍ وزارت د لومړي مرستيال، د اندونيزيا سفير او نورو كورنيو او باندنيو گډونوالو په ملتيا سوداگريز نندارتون پرانېست. د نندارتون موخه د ولايت محصولاتو ته بازار موندل او د سوداگرو پام اړول و.

١٣٨٤\٧\١٧هـ ش: نعيمي، له بروكسل څخه د ناټو راغلي استازي جنرال لېلنډ او د نهو نورو هېوادونو له استازيو سره وكتل او په ولايت كې يې د امنيت، پرمختيا او نشه يي توكو سره پر مبارزه خبرې وكړې.

١٣٨٤\٨\١٩هـ ش: ولايتي شورا ته نويو انتخاب شويو وكيلانو ته د نعيمي لخوا سوگند وركړل شو.

۱۳۸٤\۸\۲۳هـ ش: د مېرمنو چارو رياست ودانۍ د مېرمنو چارو وزيرې مسعوده جلال، عبدالجبار نعيمي او ولايتي اداري رييسانو لخوا پرانېستل شوه.

۱۳۸٤\۸\۲۹هـ ش: نعيمي جنوبي کوريا ته د واليانو په يوه غونډه کې د ګډون لپاره په رسمي سفر ولاړ. پر ۱۳۸٤\۱۰\۱۱هـ ش نعيمي کوريا ته له رسمي سفر څخه بېرته راوګرځيد. پر دې ورځ يې له هغو وسلو ليدنه وکړه چې د بې وسلې کولو پروسې (ډاياک) لخوا ټولې شوې وې.

۱۳۸٤\۹\۱۲هـ ش: د امريکايي ولايتي بيارغوني ډلې لخوا ميدان ښار پورې تړليو سيمو او غونډيو کې د لومړي ځل لپاره په ازمايښتي ډول د الوتکو له لارې د ميدان ښار د سمسورتيا لپاره د غنمو توخم وپاشل شو. ټول تخم اتلس زره امريکايي ډالر ارزښت درلود.

۱۳۸٤\۹\۲۷هـ ش: ميدان ښار کې دولتي ادارو ته غځيدلی سړک پرانېستل شو.

۱۳۸٤\۱۱\۵هـ ش: نعيمي د ولايت په ودانۍ کې د شهيدانو او معيوبينو له وزير سره د معيوبينو د ستونزو د هواري په موخه وکتل.

۱۳۸٤\۱۱\٦هـ ش: نعيمي، ګڼ چارواکي او د ولسي جرګې غړي: د پوهنې وزارت مرستيال محمد صديق پتمن، حاجي عبدالمالک کاموي، مولوي حليمي، جنرال سيدا اکبر، مولوي محی الدين بلوڅ، فاطمه نظري، شکريه بارکزۍ، صفيه صديقي، شاکر کارګر او نور کسان ولايت ته د پرمختيايي چارو د نژدې ليدو په موخه بللي و.

۱۳۸٤\۱۱\۱۲هـ ش: ميدان وردګو کې د ډاياک تر نامه لاندې د بې وسلې کولو دويم پړاو پيل شو. په دې ولايت کې د ډاياک لومړی پړاو بريالی وارزول شو.

۱۳۸٤\۱۱\۲۰هـ ش: سيداباد ولسوالۍ کې نعيمي له هغو لاريون کوونکو سره وليدل چې ډنمارک کې د رسنيو لخوا محمد(ص) ته پر سپکاوي په قهر شوي و. دوی د ډنمارک، امريکا او افغان حکومت پر ضد سخت شعارونه ورکول. د يوې توطيې له مخې دوی غوښتل چې سيداباد ولسوالۍ ته اور واچوي، خو په مهارت سره يې توطيه شنډه شوه.

۱۳۸٤\۱۲\۳هـ ش: نعيمي چک ولسوالۍ ته سفر وکړ. دغلته يې له علماوو او قومي مشرانو سره وليدل او د ولسوالۍ د امنيت، پرمختيا، اداري تاسيساتو د جوړولو په اړه يې خبرې وکړې.

۱۳۸٤\۱۲\۱٤هـ ش: نعيمي جغتو ولسوالۍ ته سفر وکړ. دغلته يې له علماوو او قومي مشرانو سره غونډه وکړه او د ولسوالۍ پر وضعيت، پرمختيايي چارو او نورو مسايلو يې سره خبرې وکړې او د خلکو غوښتنې يې يادښت کړې.

۱۳۸٤\۱۲\۱۵هـ ش: ميدان ښار کې د سلګونو علماوو، قومي مشرانو، ولسي جرګې او ولايتي شورا غړيو لخوا لويه غونډه جوړه شوه. غونډه کې د نعيمي هلې ځلې وستايل شوې او په پرمختيايي چارو کې ترې د لا ډېرو هڅو غوښتنه وشوه.

**۱۳۸۵هـ ش**

۱۳۸۵\٤\۲۷هـ ش: نرخ ولسوالۍ کې د کډوالو چارو وزير استاد اکبر، د والي عبدالجبار نعيمي په ملتيا د ۲۰۰۰ کورنيو لپاره ښارګوټی پرانېست. دې ښارګوټي کې په کډوالو سربېره يو شمېر معيوبانو، کونډو

او شهيدانو کورنيو ته هم نومرې ورکړل شوې.

۱۳۸۵\۵\۲هـ ش: نعيمي د تايلنډ شهزاده بايست راجاني Bhisate Rajani چې د کرنې د برخې متخصص و، ميدان ښار ته دعوت کړ. په ميدان ښار کې له ناستې وروسته چک ولسوالۍ ته ولاړل، د چک بند يې له نژدې وکوت او د کرنيزې ودې په اړه يې جوړه شوې غونډه کې ونډه واخېسته او د دغې ولسوالۍ د خلکو غوښتنې او ستونزې يې يادښت کړې.

..۱۳۸۵\۵\۱هـ ش: د مېوو او نورو کرنيزو حاصلاتو د ساتنې لپاره دېرش سړې خونې په مرکز او ولسواليو کې پرانېستل شوې. هرې سړې خونې اووه نيم متره اوږدوالی، څلور متره سور او درې متره جگوالی درلود او له پنځلس ټنو نيولې تر شلو ټنو پورې مېوه او سابه پکې تر اتو مياشتو پورې ساتل کېدای شول. ټول ولايت (جغتو کې دوه، سيد آباد کې پنځه، دايميرداد کې دوه، لومړيو بهسودو کې يوه، بهسود مرکزي کې دوه، چك کې څلور، جلرېز کې څلور، نرخ کې پنځه، ميدان ښارکې پنځه) خونې جوړې شوې.

۱۳۸۵\٦\۵هـ ش: جمهور رييس حامد کرزي ميدان ښار ته د راتگ پر مهال، له ځان سره د ۳۸ ميليونو امريکايي ډالرو سوغات (ميدان ښار – باميانو سړك) راوړ. دا سړك ۱۳٦ کيلومتره اوږدوالی، ۵ لوی پلونه، ۱۴۵ پلچکونه، يو (۳۰۰) متره اوږد تونل، (۱۴۵۰) متره استنادي دېوالونه لري. د دې سړك لومړۍ برخه له ميدان ښار څخه پيل او د اوني تر غاښې پورې (۴۵) کيلومترو ته رسيده او په (۳۸) ميليونه امريکايي ډالرو د ايټاليا په مرسته جوړ شو. پر دويمه برخه يې وروسته کار پيل شو.

..۱۳۸۵\۸\۱هـ ش: په لومړي ځل د ميدان وردگو په تاريخ کې له مرکز څخه د خپرېدونکې راډيو تلويزيون خپرونې پيل شوې. ميدان ښار، چك، سيد اباد، نرخ کې دغه خپرونې ۳۰۰ زره تنو کتلای او اوريدلای شوې.

۱۳۸۵\۹\۲هـ ش: د امريکا د متحده ايالاتو سفير رابرټ نيومن، نعيمي، ترکيې سفير توکديمير، د عدليې وزارت معين هاشمزي، د ولايتي څارنوالۍ، محکمې او نورو جوړو شوو ودانۍ پرانېستې. نيومن وويل: ((ډېر خوښ يم، چې د خپلو هغو مرستو، چې له وردگ ولايت سره مو کړي پايلې وينم. وردگ ولايت د عدلي او قضايي چارو پرمختگ کې خاصه پاملرنه کړې ده، د نورو ولايتونو لپاره نمونه گرځېدلی دی. د نورو ولايتونو وگړي دې ولايت ته په کتو سره له دغسې نظام نه گټه اخيستلای شي. مثلا موږ په گډه د مدافع وکيلانو لپاره کار کړی دی، چې خلکو ته د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې خپل حقونه او مسوولیتونه وروښيي. په دې موخه متحدو ايالاتو په وردگو کې مرافعې محکمې او مرافعې څارنوالۍ ودانۍ جوړې کړې دي او په دې لړ کې د وردگو د والي ښاغلي نعيمي د هلو ځلو په نتيجه کې د يو لوی محبس، د عدلي او قضايي چارو روزنتون ژمنه ورکوم.

دغه محبس به په نړيوالو معيارونو برابر وي او زده کوونکي به د نړيوالو قوانينو او افغاني اړتياوو په پام کې نيولو سره روزي. همدا راز له دغه ځايه به د افغانستان د نورو سيمو عدلي او قضايي چارواکي هم تربيه کېږي. دا هڅې ښيي چې مونږ ستاسې د مرستو لپاره دلته راغلي يو، ځکه ستاسې نېکمرغي او امنيت زموږ نېکمرغي او امنيت دی. مننه!))

۱۳۸۵\۱۲\۸هـ ش: د ترکيې لومړي وزير مرستيال او د باندنيو چارو وزير عبدالله گل چې وروسته د ترکيې ولسمشر هم شو، ميدان ښار ته سفر وکړ. له نعيمي سره په گډه خبري غونډه کې يې ميدان

وردګو کې د ډېرو پرمختیایي پروژو ژمنې وکړې چې د ځینو پرمختیایي پروژو چارې یې عملا پیل کړې. نعیمي له نوموړي ځخه د ولایت په بیلا بیلو برخو کې د پرمختیایي چارو ترسره کولو هیله وکړه.

**۱۳۸٦هـ ش**

۱۳۸٦\۱\۳۰هـ ش: نعیمي په کابل کې د ډایاک په کنفرانس کې ګډون وکړ. په میدان وردګو کې یې د ډایاک پروسې کامیابی، لاسته راوړنو او د خلکو پر غوښتنو او اړتیاوو خبرې وکړې. نوموړي دغه ولایت کې پر بدیل معشیت ټینګار وکړ او د کوکنارو د کښت د له منځه وړنې لپاره یې مهم وګانه.

۱۳۸٦\۲\۲۱هـ ش: نعیمي د ناټو د ګډ ځواک له قوماندان جنرال ایګون رامس Egon Ramms او د سیمه ییزې قوماندې له مرستیال جنرال روډنی انډرسن Rodney Anderson سره وکتل. دوی په ولایت کې پر امنیت، بیارغونه، ستونزو او د خلکو پر غوښتنو خبرې وکړې.

۱۳۸٦\۵\۱٦هـ ش: د ترکیې دفاع وزیر ویجدي ګونل میدان وردګو ولایت ته سفر وکړ. میدان ښار کې یې نعیمي سره ولیدل او د ترکیې لخوا د ولایتي بیا رغونې ډلې پر رامنځته کولو سره وغږیدل. نعیمي ویجدي ګونل ته ډاډ ورکړ چې په میدان ښار کې د ترکیې لخوا ولایتي بیا رغونې ډلې رامنځته کیدو سره به د ترکیې تاریخي دوستي لا ټانده او روښانه پاتې شي.

۱۳۸٦\۸\۱۵هـ ش: عبدالجبار نعیمي، د اطلاعاتو او کلتور وزیر محمد کریم خرم، د یوناما مرستیال مشر کریس الیګسنډر، د ټولګټو وزارت وزیر سهراب علي سفري، د کورنیو چارو پخواني وزیر تاج محمد وردګ، د پارلماني چارو وزیر ډاکتر فاروق وردګ، د ترکیې ولایتي بیا رغونې ډلې مشر صادق ګرګیت Sadiq Girgit سره په ګډه د دوه سړکونو د جوړیدو چارې پیل کړې. یو سړک د کندهار-کابل له عمومي سړک نه تر سیداباد ولسوالۍ پورې ۱۹ کیلومتره و او بل له عمومي سړک نه تر چک ولسوالۍ پورې ۲۵ کیلومتره په اندازه و.

۲۳-۱۳۸٦\۹\۳۰هـ ش: میدان وردګو والي ترکیې ته سفر وکړ، په ترکیه کې یې د مولانا جلال الدین د ۷۳٤ کالیزې په مراسمو کې ګډون وکړ. په دې سفر کې یې د تیکاله سرپرست (کولا کله کایا)، د کورنیو چارو وزارت له مرستیال، د انقرې له والي او ځینو نورو چارواکو سره وکتل او په میدان وردګو ولایت کې یې د ترکیې د ولایتي بیارغونې ډلې پرمختیایي چارو ستاینه وکړه او د ځینو نورو پروژو د پیل کېدو وړاندیزونه یې ورته وکړل.

۱۳۸٦\۱۲\۱۳هـ ش: د امریکایي پوځ د ۸۲ هوایي ځواک قوماندان سترجنرال روډریګس Rodrigues، د امریکا سفارت د پلاوي مرستیال مشر کرسټوفر Amb Christopher W. Dell په میدان ښار کې له نعیمي سره وکتل او د نوموړي غوښتنې او وړاندیزونه یې واوریدې او وروسته یې دغلته د بیارغونې ځینې پروژې له نژدې وکتې.

**۱۳۸۷هـ ش**

۱۳۸۷\۳\۱هـ ش: عبدالجبار نعیمي په میدان وردګو کې له ولایت نه استعفی ورکړه.

## خوست

### ۱۳۸۹هـ ش

۱۳۸۹\۱\۱۱هـ ش: عبدالجبار نعيمي د خوست والي وټاکل شو.

۱۳۸۹\۱\۱۵هـ ش: عبدالجبار نعيمي رسماً د خوست ولسونو ته د والي په صفت ورمعرفي شو.

۱۳۸۹\۲\۱۵هـ ش: خوست والي موسی خيلو ولسوالۍ ته سفر وکړ، او د سلګونو قومي مشرانو، ديني علماوو او ولسي وګړو په پراخه غونډه کې يې ګډون وکړ او له خلکو يې د دولتي حاکميت د ټينګښت، سولې او ثبات په لړ کې د همکارۍ غوښتنه وکړه او ژمنه يې وکړه چې دې ولسوالۍ کې به بنسټيزې پروژې پلې کوي.

۱۳۸۹\۲\۲۲هـ ش: د ايساف د ځواکونو د قانون د تنفيذ د چارو مشاور کفټن او د ايساف د ځواکونو د جنايي چارو امر کپټان مانزماټ د خوست ولايت څخه ليدنه ترسره کړه، د خوست والي سره يې د ليدنې پر مهال په دغه ولايت کې د قانون د واکمنۍ، عدالت د تامين او اړتياوو په اړه خبرې وکړې.

۱۳۸۹\۵\۱۳هـ ش: خوست والي سپېرې ولسوالۍ ته سفر وکړ، چې په دې سفر کې ورسره د ټولو ملکي او نظامي ادارو مسوولين مله ول. نعيمي په سپېرۍ ولسوالۍ کې له قومي مشرانو، مخورو، ديني علماوو او ولس سره وليدل او د هغوی لومړيتوبونه يې واورېدل.

۱۳۸۹\۵\۲٦هـ ش: نعيمي ته د خوست د مدني ټولنو او بنسټونو له لوري په دغه ولايت کې د مدني بنسټونو د پياوړتيا، مدني ارزښتونو د پالنې او غوره خدمت له امله ستاينليک ورکړل شو.

۱۳۸۹\٦\۲۳هـ ش: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کورنيو چارو وزير ستر پاسوال بسم الله محمدي له خوست څخه ليدنه وکړه او والي سره يې د ليدنې پر مهال د پوليسو د تشکيلاتو، اکمال، تجهيز او عمومي امنيت حالت په اړه خبرې وکړې.

۱۳۸۹\٦\۲۵هـ ش: د امريکا متحده ايالاتو لوی سفير ايکن بيري د يو جګپوړي بهرني پلاوي په مشرۍ له خوست څخه ليدنه وکړه او له والي سره يې د ليدنې پر مهال د ولايت له عمومي حالت، ولسي اړتياوو او حکومتي کړنو څخه ځان خبر کړ.

۱۱-۱۳۸۹\۷\۱۵هـ ش: نعيمي بلجيم، فرانسې او هالنډ ته سفر وکړ. په دې سفر کې يې د نوموړيو هېوادونو له چارواکيو، دغو هېوادونو کې د امريکا سفارتونو له ډيپلوماټانو، د څېړنيزو مرکزونو له څېړونکو او ژورنالېستانو سره وليدل. نعيمي په دې سفر کې د افغانستان په اړه پر بيلا بيلو موضوعاتو او دلته پر روانو پرمختيايي کارونو او د خلکو پر ستونزو نړيوالې ټولنې ته خپل پيغام وړاندې کړ.

۱۳۸۹\۷\۲٤هـ ش: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لوی څارنوال محمد اسحق الکو له خوست ولايت څخه ليدنه وکړه. له خوست والي سره يې د ليدنې پر مهال په دغه ولايت کې د عدلي ادارو د اجراءتو، اداري فساد د مخنيوي او د قانون د حاکميت په اړه خبرې وکړې.

۱۳۸۹\۷\۲۹هـ ش: د حيدرخيل او ليوان خيل قومونو ترمنځ پر ٤۰۰۰ جريبه ځمکه شخړه له ۱۸ کلونو راهيسې

روانه وه، چې خوست والي د دې شخړې د هواري لپاره د قومونو له مشرانو، مخورو، ديني علماوو سره مشوره او مذاکرات وکړل، چې په پايله کې ټول ديني علماء او قومي مشران ولايت مقام ته را وبلل شول، د پرلپسې مشورې او مذاکرې څخه وروسته چې د سهار له ۸ بجو څخه پيل او د شپې تر ٦ بجو پورې يې دوام وکړ، چې دغه شخړه د ولايت د رهبرۍ په نوښت او تلاش سره د ۸ فقره يي پرېکړې په اساس د شخړې مخه ونيول شوه، اړخونه له جګړې خلاص، په سوله، امن او اسلامي ورورولۍ کې يې ژوند پيل کړ.

۱۳۸۹\۸\۱۸هـ ش: د شمل او ګربز قومونو ترمنځ پر ۱۰۰۰ جريبه ځمکه شخړه، چې ۲۳ کلونو راهيسې راروانه وه، د ولايت مقام د هڅو او ټاکل شوي کمېسيون په زيار هواره شوه.

۱۳۸۹\۹\۱۵هـ ش: د منګلو او مقبل قومونو ترمنځ له کلونو راهيسې د بازي او سنځلي غرونو او دښتو پر سر شخړه روانه وه، چې ياد ځايونه دولتي ملکيت و. خوست والي په دې اړه جدي ګام پورته کړ او په شخړه کې د ښکيلو اړخونو قومي مشران، ديني علماء او د بيلا بېلو بنسټونو استازي يې راوبلل، تر اوږدو مذکراتو او خبرو وروسته يې ياده شخړه د يوې فيصلې په اساس هواره کړه او د دواړو قومونو مشرانو پر دې سوګند وکړ، چې شوې فيصله به مني او په هيڅ صورت به د فيصلې له موادو څخه سرغړونه نه کوي، د يو او بل ترڅنګ به د اسلامي ورورولۍ، سولې او امن په فضاء کې ژوند کوي.

۱۳۸۹\۱۰\۱٤هـ ش: د ((ملي احساس)) ورځپاڼې لومړۍ ګڼه په خوست کې له چاپه راووته.

۱۳۸۹\۱۰\۱۳هـ ش: د کرکټ ملي لوبډلې دوه پياوړي لوبغاړي نور علي ځدراڼ او نوروز منګل خوست والي تقدير کړل. پر همدې ورځ د خوست د ځوانانو د يووالي حرکت ټولنيز بنسټ هم پرانيستل شو.

۱۳۸۹\۱۰\۱۷هـ ش: د عامې روغتيا وزارت وزيرې ثريا دليل خوست ته سفر وکړ او د ولايتي يو سل پنځوس بستريز روغتون له کار څخه يې د والي په ملتيا ليدنه وکړه.

۱۳۸۹\۱۰\۱هـ ش: والي د عليشېرو او تريزيو ولسوالۍ څخه ليدنه وکړه او هلته يې قومي مشرانو، ديني علماوو او يادې ولسوالۍ اوسېدونکو ته د يوې پراخې راټولېدنې په ترڅ کې وېنا وکړه او هم يې د هغوی ستونزې او غوښتنې له نږدې واورېدې.

۱۳۸۹\۱۰\۱۳هـ ش: والي د معارف وزارت له خوا له پوهنيز سکتور سره د هر اړخيزې همکارۍ له امله په ستاينليک وياړل شو.

۱۳۸۹\۱۰\۱۲٤هـ ش: خوست والي په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو لوړپوړو چارواکو او د افغانستان د محبسونو له عمومي مسوول جنرال جمشېد سره وليدل.

۱۳۸۹\۱۰\۱۲۵هـ ش: د خوست والي په هڅو د بګرام له زندان څخه يو شمېر خوستي بنديان، چې په بېلا بېلو تورونو نيول شوي و، خوشې شول.

۱۳۸۹\۱۰\۱۲٦هـ ش: والي له باک ولسوالۍ څخه ليدنه وکړه او هلته يې د ديني علماوو، قومي مشرانو او ځوانانو سره له نږدې خبرې وکړې او د هغوی ستونزې او غوښتنې يې واورېدې.

۱۳۸۹\۱۰\۱۲۹هـ ش: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ښاري پراختيا وزير ډاکټر سلطان حسين حصاري او په ساختماني چارو کې د ولسمشر سلاکار انجنير يوسف پښتون له خوست څخه ليدنه کړه، والي

سره يې د ليدنې پر مهال د ښاري ستراتيژيک پلان، د ښاري پراختيا په وړاندې د پرتو ستونزو او غوښتنو په تړاو خبرې وکړې.

١٣٨٩\١١\١٠هـ ش: د سرحدونو او قبايلو چارو د وزارت معين محمد يعقوب احمدزي له خوست څخه ليدنه وکړه. له والي سره يې د ليدنې پر مهال په دغه ولايت کې د قومي يووالي او د سرحدونو او قبايلو د چارو د کړنو په اړه خبرې وکړې.

١٣٨٩\١١\١٦هـ ش: خوست والي د ټولو ادارو له رييسانو سره تڼيو ولسوالۍ ته سفر وکړ او هلته يې له قومي مشرانو، ديني علماوو او ولس سره وليدل. په دې سفر کې د تڼيو ولسوالۍ بېلا بېلې برخو نه ليدنه وشوه.

١٣٨٩\١١\٢٩هـ ش: خوست والي کابل ته سفر ترسره کړ. په دې سفر کې يې د ملي دفاع وزير ستر جنرال عبدالرحيم وردگ، د اداري فساد د څار د ادارې مشر ډاکتر عزيزالله لودين، د سيمه ييزو ارگانونو د خپلواکې ادارې سرپرست برنا کريمي او لوی څارنوال محمد اسحاق الکو سره وکتل.

١٣٨٩\١٢\١٢هـ ش: خوست والي گربز ولسوالۍ ته سفر وکړ، د دغه ولسوالۍ له قومي مشرانو، ديني علماوو، ځوانانو، ښوونکو او زده کوونکو سره يې وليدل او دوی سره يې خپل پلانونه شريک کړل. د ولسوالۍ مشرانو والي ته ډاډورکړ، چې د خپل هېواد د جوړونې لپاره د خپل نظام ملاتړ او همکاري کوي.

١٣٨٩\١٢\١٣هـ ش: خوست والي د عامې روغتيا وزارت له لوري په دغه ولايت کې خلکو ته د ښو روغتيايي خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې د همکارۍ له امله وستايل شو.

١٣٨٩\١٢\١٧هـ ش: په خوست کې د مارچ اتمه، د ښځو نړيواله ورځ په شاندارو مراسمو ونمانځل شوه.

١٣٨٩\١٢\٢٢هـ ش: د امريکا د متحده ايالاتو د سمندري ځواکونو مشر جنرال امير البحر ايډمېرل هارورډ له خوست والي سره وليدل او د هغه د غوره مديريت تقدير يې وکړ.

١٣٩٠\١١\١٥هـ ش: خوست والي په متحده عربي اماراتو کې د افغان مسافرو په بلنه يو لړ ځانگړو مراسمو کې گډون وکړ. مسافرو خوست والي ته د غوره خدمت له امله د پښتني دود له مخې لونگۍ پر سر کړه.

١٣٨٩\١٢\٢٦هـ ش: عبدالجبار نعيمي د ٨٧ لکه افغانيو په ارزښت په آزادۍ مېنه کې د دوه پارکونو او ښاروالۍ د ناحيې لپاره د تعمير جوړولو ډبرې کېښودې. پر همدې ورځ د سولې عالي شورا مشر استاد برهان الدين رباني، محمد معصوم ستانکزي او ورسره پلاوي له خوست نه ليدنه وکړه.

**١٣٩٠هـ ش**

١٣٩٠\١١\٣١هـ ش: نعيمي صبريو ولسوالۍ ته سفر وکړ. د يوې پراخې غونډې په ترڅ کې يې د يادې ولسوالۍ قومي مشرانو، ديني علماوو او ځوانانو ته وينا وکړه، د دوی ستونزې او غوښتنې يې له نږدې واورېدې. د صبريو ولسونو خوست والي ته د غوره خدمتونو له امله د پښتني دود سره سم لونگۍ ورپه سر کړه.

۱۳۹۰\۱۲\۳هـ ش: خوست والي له نادر شاه کوټ او دوه منده ولسوالۍ څخه ليدنه وکړه. د يوې پراخې غونډې په ترڅ کې يې د يادې ولسوالۍ قومي مشرانو، ديني علماوو او ځوانانو ته وينا وکړه، د دوی ستونزې او غوښتنې يې له نږدې واورېدې.

۱۳۹۰\۱۲\٤هـ ش: عبدالجبار نعيمي موساخېلو ولسوالۍ ته سفر ترسره کړ او په دغه سفر کې يې د ولسوالۍ د مسوولينو، مشرانو، ديني علماوو او ولسونو سره له نږدې وکتل او د هغوی غوښتنې يې واورېدې.

۱۳۹۰\۱۲\٦هـ ش: خوست والي عبدالجبار نعيمي له عدلي او قضايي ارګانونو سره د هر اړخيزې همکارۍ او هغوی ته د غوره کاري فرصتونو برابرولو له امله د سترې محکمې د مشرتابه قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظيمي له خوا تقدير شو.

۱۳۹۰\۱۲\۱۳هـ ش: په خوست کې د سولې ولايتي کمېټې دفتر د عبدالجبار نعيمي له خوا د پټۍ په پرې کولو پرانيستل شو.

۱۳۹۰\۱۲\۲۱هـ ش: د نادر شاه کوټ ولسوالۍ د مشکوڼ سيمې د ٦ کيلومتره سړک جوړولو کار پيل شو.

۱۳۹۰\۱۳\۱۳هـ ش: عبدالجبار نعيمي د نړيوالو ځواکونو د عمومي قوماندان جنرال ډيوېډ پټرويس سره يو ځای له ځاځي ميدان ولسوالۍ څخه ليدنه وکړه. په دغه ليدنه کې يې د ځاځي ميدان ولسوالۍ ښوونيز، روغتيايي او امنيتي وضعيت له نږدې وارزاوه، د خلکو غوښتنې يې واورېدې او په يو شمېر برخو کې يې ورسره د حل او همکارۍ ژمنې وکړې.

۱۳۹۰\۱٤\۱٦هـ ش: خوست والي د ۱۲۰۰ ميليونه ډالرو په ارزښت د نوري فايبر پروژې د کار د پيل پرانېسته وکړه.

۱۳۹۰\۱٤\۳۰هـ ش: عبدالجبار نعيمي له عليشېرو او تريزيو ولسوالۍ څخه ليدنه وکړه او هلته يې د بهرنيو ځواکونو سره د ښه امنيت په موخه ځانګړې ناسته وکړه.

۱۳۹۰\۱٥\۲۳هـ ش: خوست والي د څه باندې ۳۲ ميليونه افغانيو په ارزښت د کرنې د ودې او پرمختګ په موخه پروژې پرانېستې.

۱۳۹۰\۱٥\۲٦هـ ش: د لکڼو د حسن کوټ لېسې لپاره لويې ۲ پوړيزې ودانۍ ګټې اخېستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹۰\۱٦\۲هـ ش: د ۳۹ ميليونه افغانيو په ارزښت په شېخ زايد پوهنتون کې د نجونو د لېليې ودانۍ د پټۍ په پرې کولو سره پرانېستل شوه.

۱۳۹۰\۱٦\٥هـ ش: د تڼيو ولسوالۍ اړوند د سره کوټ کلي ۱۱ کيلومتره سړک ګټې اخېستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۰\۱٦\۳۰هـ ش: د خوست د ملکي نړيوال هوايي ډګر د جوړېدو چارې د نعيمي له خوا، چې د خوست يو شمېر مشرانو، ديني علماوو، ځوانانو او د نظامي ادارې مسوولينو يې ملتيا کوله، د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پيل شوې.

۱۳۹۰\۱۷\٦هـ ش: خوست کې د ۷,٥ ميليونه ډالرو په ارزښت د ګمرک د تاسيساتو د جوړېدو کار د خوست والي عبدالجبار نعيمي او د کليو پراختيا وزير جار الله منصوري له خوا، چې په ولسي جرګه کې د خوست د خلکو استازو، مشرانو، ديني علماوو او ځوانانو يې ملتيا کوله، د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پيل شو.

۱۳۹۰\۱۷\۷هـ ش: د خوست والي له لوري، چې د شېخ زايد پوهنتون مشرتابه، استادانو، محصلينو او مشرانو يې

ملتيا کوله، د ياد پوهنتون مخې ته د ژوند د دنگ څلي بنسټ ډېره کېښودل شوه.

۱۳۹۰\۷\۹هـ ش: د خوست ملي لوبغالی، چې د واليبال، فټبال، باسکټبال او نور بيلا بيل مېدانونه پکې شامل دي، پرانېستل شو.

پر همدې ورځ خوست غرغښت عالي لېسې ته د يو نوي تعمير د جوړېدو کار پيل شو.

۱۳۹۰\۷\۱٤هـ ش: خوست والي د دوه منده ولسوالۍ ۱٤۰ متره اوږد پُل جوړ او گټې اخيستنې ته وسپاره.

۱۳۹۰\۸\۱۳هـ ش: خوست ښار کې د ۱۰۰۰ کيلو واټه برښنا توليدوونکی جنراتور نصب او گټې اخېستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۰\۱۰\۱۱هـ ش: په اداري کمپليکس کې د پوسته خانې د ودانۍ د بنسټ ډېره خوست والي، چې د ملکي او نظامي ادارو مسوولينو يې ملتيا کوله، کېښوده.

۱۳۹۰\۱۰\۱۵هـ ش: د څه کم ۷ ميليونه افغانيو په لگښت د شېخ زايد پوهنتون د کادري ۳۰ بستريز روغتون د احاطې د بنسټ ډېره خوست والي له لوري کېښودل شوه.

۱۳۹۰\۱۰\۱۷هـ ش: د ۲٤ ميليونه ٤ لکه ۷۵ زره افغانيو په لگښت د سپين جومات څخه تر سرگردان چوک پورې غځېدلي ۷۰۰ متره سړک د جوړېدو کار د خوست والي له لوري، چې يو شمېر مسوولينو يې ملتيا کوله، پيل شو.

۱۳۹۰\۱۱\۲٦هـ ش: له نړيوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنيت د چارو د لېږد د کميسيون مشر ډاکتر محمد اشرف غني د يو لوړپوړي پلاوي، چې په ترکيب کې يې د ملي دفاع وزارت د ځمکنيو قواوو قوماندان ډگر جنرال مراد علي مراد، د کورنيو چارو وزارت استازي جنرال دادالله معصومي او د ملي امنيت استازي ډگروال سعيد الدين، د سيمه ييزو ارگانونو خپلواکې ادارې استازي عزت الله احمدزي او يو شمېر مسوولينو يې ملتيا کوله، خوست ته سفر وکړ او د يوې لويې ولسي غونډې وروسته يې د والي عبدالجبار نعيمي او د درې گونو امنيتي ادارو له مسوولينو سره د خوست پر امنيت، د امنيتي ځواکونو پر تشکيل، اکمال، تجهيز او له نړيوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنيت د چارو د لېږد په اړه هر اړخيزې خبرې وکړې.

۱۳۹۰\۱۲\۲٤هـ ش: د ښار او کور جوړولو وزارت وزير محمد حسن عبدالهي خوست والي ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو له امله تقدير نامه ورکړه.

۱۳۹۰\۱۲\۲۷هـ ش: مشرانو جرگې خوست والي ته د غوره مديريت، ولسونو ته د ښو خدمتونو وړاندې کولو، په ولايت کې د امنيت د ټينگښت، ښې حکومتولۍ د بنسټونو د تقويې او د فساد پر ضد د جدي مبارزې له امله ستاينليک ورکړ.

**۱۳۹۱هـ ش**

۱۳۹۱\۱\۱۰هـ ش: په جنوب ختيځ زون کې د نړيوال سره صليب مرستندويه ټولنې مشر پېټر خوست والي سره په ليدنه کې دغه ولايت کې د خپلو کارونو د پراختيا ډاډ ورکړ.

۱۳۹۱\۱\۱۱هـ ش: تڼيو ولسوالۍ کې د ۸ لکه ۷ زره ۵ سوه امريکايي ډالرو په ارزښت د استنادي دېوالونو او يو کانال، ٤ پروژې د خوست والي له خوا، چې د سيمې قومي مشرانو، ديني علماوو او بزگرانو يې

ملتیا کوله، د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پیل شوې.

۱۳۹۱\۱\۱٤هـ ش:خوست والي د روږدو کسانو لپاره د ۲۰ بستریز روغتون د جوړېدو کار د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پیل کړ.

او پر همدې ورځ یې د اداري کمپلیکس مخې ته د جمهوریت دروازې د بنسټ ډبره هم کېښودله.

۱۳۹۱\۱\۱۵هـ ش: د شېخ زاید پوهنتون لسمه کلیزه ونمانځل شوه، چې د خوست والي ترڅنګ پکې د علومو اکاډمۍ غړو، د کابل پوهنتون استادانو، په متحده عربي اماراتو کې افغان سوداګرو، ملي تجارانو او د هېواد د بیلا بیلو ولایتونو او مرکز څخه فرهنګي او علمي هستیو برخه لرله.

پر همدې ورځ خوست والي، له یادو مېلمنو سره یو ځای، د شېخ زاید پوهنتون مخې ته د ژوند دنګ ځلی پرانېست.

۱۳۹۱\۱\۲۷هـ ش: د نادر شاه کوټ ولسوالۍ د پکي په کلي کې یو لوی پُل ګټې اخېستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۱\۲\۱۰هـ ش: د خوست والي په ملتیا، د لوړو زدکړو وزیر پوهاند عبېد الله عبېد په مشرۍ لوړپوړي پلاوي له شېخ زاید پوهنتون څخه لیدنه وکړه. په دغه لیدنه کې یې د هر اړخیزې ارزونې تر څنګ د یاد پوهنتون رییس پوهندوی دوکتور ګل حسن ولیزي ته دنده وسپارله چې له ولایتي اداري سره په همغږۍ د شېخ زاید پوهنتون ټولې ستونزې، پېشنهادونه او د استادانو او محصلینو غوښتنې د لوړو زدکړو وزارت ته پر وخت انتقال کړي.

۱۳۹۱\۲\۱۱هـ ش: د ۱۱ میلیونه ۸ لکه ۸۸ زره افغانیو په ارزښت د متون تپې پر سر د جوړېدونکي تفریحي پارک د ۲۲۵٤ مترو په اوږدوالي د څلوردېوالۍ او کتارې جوړولو کار د خوست والي له خوا د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پیل شو.

۱۳۹۱\۳\۱٦هـ ش: خوست والي د عبدالحی حبیبي عالي لېسې د ودانۍ انکشافي کارونه، چې څه دپاسه ۲۸ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي، د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پیل کړ.

۱۳۹۱\۳\۲۰هـ ش: په خوست کې څه له پاسه ٤۹ میلیونه افغانیو په ارزښت په آزادۍ مېنه کې د ۱۱٦۰ مترو په اوږدوالي او ۱٤ مترو په عرض یو سړک او د سړک دواړو خواو ته لښتي جوړ شول.

۱۳۹۱\۳\۲۷هـ ش: په آزادۍ مېنه کې د څلور نیم میلیونه افغانیو په ارزښت د څلورمې ناحیې ودانۍ جوړه او د خوست والي له لورې دپټې په پریکولو سره رسماً ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

۱۳۹۱\۳\۲۹هـ ش: د ځدرانېو د دوه خېلونو ترمنځ ۳۵ کلنه شخړه چې د سپېرې ولسوالۍ اړوند سلاویتې د غرپر سرېې دوام درلود هواره شوه او پر همدې ورځ خوست والي له لورې د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره د احصایې امریت د ودانۍ ساختماني کارونه هم پیل شول.

۱۳۹۱\٤\۸هـ ش: په آزادۍ مېنه کې د نجونو د ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۹۱\٤\۱٤هـ ش: د خوست په ښار کې له سپین جومات تر سرګردان چوک پورې د ۷۰۰ متره سړک ساختماني کارونه بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. پر همدې ورځ په خوست کې د ۳۵۰ تنو علماوو او حافظانو څخه ازموینه واخیستل شوه.

۱۳۹۱\۵\۸هـ ش: خوست والي د سولې له عالي شورا د مشر صلاح الدین رباني سره د هغه په دفتر کې ولیدل او

په خوست کې يې د قومونو ترمنځ د کلونو اوږدو شخړو د حل او سرتاسري سولې د ټينګښت په برخو کې د ترسره شويو اغيزمنو کړنو په اړه معلومات شريک کړل. او پر همدې ورځ نعيمي د افغانستان د سترې محکمې د رييس قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظيمي سره ليدنه کې د خوست د عدلي او قضايي ارګانونو د حالت، اکمال، تجهيز او ضرورتونو په اړه خبرې وکړې.

۱۳۹۱\۵\۱۱هـ ش: خوست والي د مهاجرينو چارو له وزير جماهير انوري سره په کابل کې وليدل.

۱۳۹۱\۶\۲۳هـ ش: په بېلابېلو عملياتو کې د امنيتي ځواکونو لخوا نيول شوي ۱۱۴ ميله سپکه او درنه وسله د خوست والي په لاسونو ډاياک پروسې ته تسليم شوه. پر همدې ورځ له مرکزي محبس څخه ۱۸ تنه خوستي زندانيان هم ازاد شول.

۱۳۹۱\۷\۷هـ ش: ځاځي ميدان ولسوالۍ ته د سولې ستر ولسي کاروان د عبدالجبار نعيمي په مشرۍ کې ورسېد، او هلته په ځاځي ميدان کې د يوې پراخې غونډې په ترځ کې ولسونو ته د سولې او يووالي پيغام ورکړل شو او والي د ولسوالۍ په بازار کې له هټيوالو سره د هغوی د ژوند او کاروبار په اړه خبرې وکړې.

۱۳۹۱\۷\۳۰هـ ش: په شېخ زايد پوهنتون کې د عمومي کتابتون د ودانۍ ساختماني کارونه پيل شول.

۱۳۹۱\۸\۱۴هـ ش: د څه باندې ۱۸ ميليونه افغانيو په ارزښت د للمۍ کوټکي کلي د آبيارۍ د استنادي دېوالونو پروژه بشپړه شوه.

۱۳۹۱\۸\۱۶هـ ش: د مهاجرينو چارو وزير دوکتور جماهير انوري له خوست ولايت څخه ليدنه وکړه. پر همدې ورځ د ۲۰۳ تندر قول اردو قوماندان تورن جنرال محمد شريف په مشرۍ لوړپوړي امنيتي پلاوي، چې د ۵۰۵ سپين غر زون د پوليسو قوماندان پاسوال عصمت الله عليزي، د سرحدي ځواکونو قوماندان او په جنوبي شرق زون کې د نړيوالو ځواکونو د قطعاتو د همغږۍ عمومي مسوول او د باګرام د لومړۍ فرقې مرستيال جنرال چارلټن د خوست ولايت امنيتي حالت او د امنيتي ارګانونو اړتياوې له نږدې وکتې.

۱۳۹۱\۸\۱۷هـ ش: د نادر شاه کوټ ولسوالۍ په حجريم کلي کې د ۹ ميليونه افغانيو په ارزښت د ۳۶۰ مترو په اوږدوالي د استنادي دېوال پروژه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه. پر همدې ورځ د ګربزو ولسوالۍ په کاځي کلي کې د ۲۰ ميليونه افغانيو په ارزښت د سربند او څو استنادي دېوالونو پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹۱\۹\۱۱هـ ش: د نړيوالو ځواکونو څخه د امنيت ساتنې د واک د انتقال په درېيم پړاو کې د خوست مرکز امنيتي چارې افغان ځواکونو ته وسپارل شوې. په دغو مراسمو کې خوست والي عبدالجبار نعيمي، د ملي دفاع وزارت لوی درستيز ستر جنرال شېر محمد کريمي، د کورنيو چارو وزارت د اپراسيون رييس جنرال غلام مصطفی، د ملي امنيت رياست مشاور جنرال نجم الدين بابک، د زون په کچه د ۲۰۳ تندر قول اردو قوماندان جنرال يفتلي، د ملي پوليسو قوماندان جنرال عصمت الله عليزي او يو شمېر نورو لوړپوړو چارواکو برخه لرله.

۱۳۹۱\۹\۱۸هـ ش: فرهنګي شخصيت عبدالکريم پتنګ د خوست ملي موزيم ته ۲۰ بيلا بيل ډوله لرغوني اثار

وسپارل.

۱۳۹۱\۹\۱٤هـ ش: افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو د سولې د ځانګې معاون جنرال سميت اوزبور په مشرۍ لوړپوړي پلاوي خوست ولايت څخه ليدنه وکړه او په دغه ليدنه کې يې د والي عبدالجبار نعيمي سره د سولې د ټېنګښت پر هر اړخيزو لارو چارو خبرې وکړې.

۱۳۹۱\۹\۲۱هـ ش: په آزادۍ مېنه کې د ۲۰ ميليونه افغانيو په ارزښت سړک ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۱\۱۰\۱۱هـ ش: د پروان له زندانه ٤۰ تنه خوستي بنديان چې په بېلابېلو تورونو بنديان شوي و د عبدالجبار نعيمي په هڅو راخوشې شول.

۱۳۹۱\۱۱\۱۹هـ ش: د خوست تفريحي پارک د عبدالجبار نعيمي په لاسونو افتتاح شو.

۱۳۹۱\۱۱\۲۲هـ ش: په متون تپه کې د برق شبکه فعاله او دخوست والي عبدالجبار نعيمي په لاسونو دپټۍ په پريکولو سره رسماً ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

۱۳۹۱\۱۱\۲۳هـ ش: د غلام خان بندر د سرحدي ګمرک او کميسارۍ د تاسيساتو د جوړېدو کارونه دخوست والي لخوا د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پيل شول.

۱۳۹۱\۱۱\۲۵هـ ش: خوست کې د ماشومانو د اصلاح د مرکز ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۹۱\۱۲\۱٤هـ ش: د خوست والي په مشرۍ د سولې کاروان سپېرې ولسوالۍ ته ولاړ او هلته يې د يوې پراخې غونډې په ترڅ کې ولس ته د سولې او ملي يووالي د ټېنګښت پيغامونه ورکړل او هم پر دغه ورځ د يادې ولسوالۍ د امنيې قوماندانۍ نوى جوړ شوى تعمير هم ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۱\۱۲\۲۰هـ ش: په دوه منده ولسوالۍ کې د مرکزي آسيا د پرمختيايي ګروپ په مالي ملاتړ سره د ٦ ميليونه ٦ لکه ٦۰ زره افغانيو په ارزښت څو پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

**۱۳۹۲هـ ش**

۱۳۹۲\۱\۱۸هـ ش: ازادۍ مېنه کې د ۹۵ ميليونه افغانيو په ارزښت د پوليسو د اطفايي د جوړېدو کار د امريکا د متحده ايالاتو د انجنيري ګروپ په مالي تمويل سره د خوست والي عبدالجبار نعيمي له خوا د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پيل شو.

۱۳۹۲\۱\۱٦هـ ش: د محکمې اداري تعمير جوړ او د خوست والي عبدالجبار نعيمي له خوا د پټۍ په پريکولو سره رسماً ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۲\۱\۱۸هـ ش: د خوست په محبس کې د ۳۸ ميليونه افغانيو په ارزښت يو شمېر تعميراتي پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹۲\۱\۲۱هـ ش: په اداري کمپلېکس کې د ايسا ادارې د بنسټ ډبره دخوست والي لخوا کېښودل شوه.

۱۳۹۲\۱\۲۲هـ ش: د عدليې رياست د تعمير د جوړېدو کار پيل شو.

۱۳۹۲\۱\۲۷هـ ش: دخوست والي لخوا په دغه ولايت کې د حسابدارۍ انستيتيوټ د پټۍ په پرې کولو سره رسماً پرانيستل شو او پر همدې ورځ د محکمې لپاره نوې جوړه شوې ودانۍ او د استقلال تفريحي پارک هم جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شول.

۱۳۹۲\۲\۱۱هـ ش: په خوست کې د نجونو لپاره دکثیر الرشتوي د نیمه لوړو زدکړو انسټیټیوټ پرانیسته وشوه.
۱۳۹۲\۲\۲۳هـ ش: خوست کې د قلموال په نوم د مهاجرینو د ښارګوټي د جوړولو کار نعیمي لخوا د پټې په پریکولو سره رسماً پیل شو.
۱۳۹۲\۲\۲٤هـ ش: د خوست د ملي امنیت ریاست اړوند څارنوالۍ ته نوې جوړه شوې ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
۱۳۹۲\۲\۳۱هـ ش: پهٔ آزادۍ مېنه کې یو محراب مسجدجوړ او دخوست والي عبدالجبار نعیمي لخوا دپټې په پریکولو سره ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.
۱۳۹۲\۳\۱٥هـ ش: افغان ځواکونو ته د امنیتي مسوولینو د لیږد کمیسیون مشر ډاکتر محمد اشرف غني په مشرۍ یو لوړپوړي کورني او بهرني پلاوي، چې ایساف مرستیال قوماندان جنرال نک کارټر، د ناټو لوړپوړي ملکي استازي اندریو سټاین فیلډ، د انګلستان سفیر ریچارډ سټګ او یو شمېر نورو خوست ولایت ته سفر وکړ او د ولایت عمومي امنیتي حالت یې وارزاوه.
۱۳۹۲\۳\۱٦هـ ش: د ٦٥ میلیونه افغانیو په ارزښت د ذکوخېلو د لوی پُل د جوړېدو کار د خوست والي عبدالجبار نعیمي لخوا د بنسټ ډبرې په کېښودلو سره پیل شو.
۱۳۹۲\۳\۱۷هـ ش: د متون تپې ۳۰۰ کورنیو ته برښنا شبکه فعاله شوه او دغه کورنۍ له برښنا برخمنې شوې.
۱۳۹۲\۳\۱۹هـ ش: خوست کې د ماشومانو د اصلاح مرکز ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
۱۳۹۲\۳\۲٤هـ ش: د خوست ښار په مجاهد څلور لارې کې د یو دنګ څلي د جوړېدو کار د نعیمي لخوا دبنسټ ډبرې په کېښودلو سره پیل شو.
۱۳۹۲\۳\۲۸هـ ش: د متون د څارنکوټ د منځني ښوونځي نوې ودانۍ جوړه شوه. پر همدې ورځ د پوهنې وزارت له لوري خوست والي ته د غوره پوهنیز خدمت په ویاړ ستاینلیک ورکړل شو.
۱۳۹۲\٤\٥هـ ش: ورزشکارانو خوست والي ته د سرو زرو مډال ورکړ.
۱۳۹۲\٤\۲۲هـ ش: سپېرې ولسوالۍ ته د غځېدلي ۱۷ کیلومتره سړک د ترمیم کار بشپړ شو.
۱۳۹۲\٤\۳۰هـ ش: د خوست په ګمرک کې یو لوی جومات جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.
۱۳۹۲\٥\۱۳هـ ش: د حرفوي زدکړو له مرکز څخه ۲۰۰ تنو د عبدالجبار نعیمي په لاسونو فراغت لیکونه ترلاسه کړل.
۱۳۹۲\٥\۲۷هـ ش: د شمل فارم باغ په سیمه کې د ۲۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو لوی پُل د بنسټ ډبره د خوست والي عبدالجبار نعیمي لخوا کېښودل شوه.
۱۳۹۲\٥\۳۰هـ ش: د منګلو او مقبلو قومونو ترمنځ د بازي غره او د سنځلۍ په نوم د مخروبه او بکر او بایر ځمکو پر سر پخوانۍ شخړه د دواړو قومونو ترمنځ د یوې هر اړخیزې قانوني فېصلې په چوکاټ کې د حدوداتو د تعین، تفاهم او سوګند په پورته کولو سره په بنسټیزه توګه د شخړې مخه ونیول شوه او د بنسټیز هواري په خاطر عدلي او قضایي ارګانونو ته محول شوه.
۱۳۹۲\٥\۳۱هـ ش: د عبدالحی حبیبي عالي لېسې نوې درې پوړیزه ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
۱۳۹۲\٦\۷هـ ش: خوست کې د معتادینو ۲۰ بستریز روغتون ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.
۱۳۹۲\٦\۱٥هـ ش: په نادر شاه کوټ ولسوالۍ کې د ۳۰ بستریز روغتون جوړېدو کار پیل شو.
۱۳۹۲\۷\۱۳هـ ش: خوست کې ګڼ شمېر سپکې او درنې وسلې ډاياک پروسې ته وسپارل شوې.

۱۳۹۲\۸\۲هـ ش: د گربزو ولسوالۍ په شېخ امير سيمه کې د ۱٦ ميليونه افغانۍ په ارزښت يو روغتيايي مرکز جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۲\۸\٦هـ ش: له خوسته کابل ته استول شوی پلاوی د بيلا بيلو وزارتونو او ادارو له مسوولينو سره ددغه ولايت دپرمختيايي پروژو دتعقيب په موخه ولاړ.

۱۳۹۲\۸\۱۱هـ ش: له خوسته کابل ته لېږل شوي پلاي د جمهوري رياست له دويم مرستيال سره وکتل.

۱۳۹۲\۸\۱٤هـ ش: پلازمېنې کابل ته لېږل شوی پلاوی، بيرته خوست ولايت ته راستون او ولايت مقام ته يې د خپلو کړنو راپور ورکړ.

۱۳۹۲\۸\۱٦هـ ش: د ۲۰ ميليونه ډالرو په لګښت د خوست – ګردېز ترمنځ د غځېدلي سړک، ۱۳ کيلومتره برخه جوړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

۱۳۹۲\۸\۲۱هـ ش: په صبريو ولسوالۍ کې له سولې پروسې سره ۱۵۰۰ مخالفين يو ځای شول.

۱۳۹۲\۸\۲٤هـ ش: په تڼيو ولسوالۍ کې د حضرت بلال(رض) جامع جومات ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۲\۹\۲۱هـ ش: خوست ښار څخه تر غلام خان بندر پورې د ۲۵ کيلومتره ترانزيټي سړک د جوړېدو کار د خوست والي لخوا دپټۍ په پريکولو سره پيل شو.

۱۳۹۲\۱۰\۲٤هـ ش: د ۱۳ ميليونه افغانيو په لګښت د سرېنيو پُل د جوړېدو کار د نعيمي لخوا دبنسټ ډبرې په کېښودلو سره پيل شو.

۱۳۹۲\۱۰\۲٦هـ ش: د خوست والي په دعوت کرکټ ملي لوبډله خوست ته راغله، چې تود او تاريخي هرکلی يې وشو.

۱۳۹۲\۱۱\۱۲هـ ش:د ۱۲۰۰ فاميليو مسجد جوړ او دخوست والي لخوا ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

**۱۳۹۳هـ ش**

۱۳۹۳\۱\۲٦هـ ش: خوست والي د ملي پارک د بنسټ ډبره کېښودله .

۱۳۹۳\۲\۳هـ ش: په خوست کې د صنعتي پارک د جوړېدو کار پيل شو.

۱۳۹۳\۲\۲۱هـ ش: د عليشېرو ولسوالۍ د ببلاوټ د تاريخي بڼ د رغېدو کار بشپړ شو.

۱۳۹۳\۲\۲۵هـ ش: د ملي دفاع وزارت وزير بسم الله خان محمدي خوست ته سفر وکړ. د خوست والي او مشرانو سره يې د ليدنې په ترڅ کې ددغه ولايت د هر اړخيز امنيت په اړه بحث وکړ.

۱۳۹۳\۳\۱هـ ش: د تڼيو ولسوالۍ د سيګۍ د ۱٤۰ متره اوږد پله د جوړېدو کار د خوست والي لخوا دبنسټ ډبرې په کېښودلو سره پيل شو.

۱۳۹۳\۳\٤هـ ش: د مرکز اړوند متون ګلزار آقا پُل ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۳\۳\۵هـ ش: د خوست موزيم د څلور ديوالۍ د جوړېدو کار پيل شو. پر همدې ورځ خوست والي د بهرنيو چارو وزارت له لوري دغوره کړنو او ښه مديريت له امله وستايل شو.

۱۳۹۳\۳\٦هـ ش: عبدالجبار نعيمي د مولانا ګلاب شاه حقبين په وياړ نمانځغونډه جوړه کړه.

۱۳۹۳\۳\۹هـ ش: د لکڼو په ذکو خېلو کې ۱٤۰ متره اوږد پُل ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۳\۳\۱۵هـ ش: د شېخ زايد پوهنتون لپاره د کتابتون ودانۍ جوړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه. پر همدې ورځ په شېخ زايد پوهنتون کې علمي سيمينار هم پيل شو.

۱۳۹۳\۳\۱۹هـ ش: د ۱٤۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د شېخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د څلور پوړیزې ودانۍ د جوړېدو کار پیل شو.

۱۳۹۳\۳\۲٤هـ ش: خوست کې د ولسمشرۍ دوهم پړاو ټاکنې ترسره شوې.

۱۳۹۳\۳\۲۹هـ ش: د کډوالو د ستونزو د اورېدو په موخه، د کډوالو چارو وزیر جماهېر انوري، د قومونو، قبایلو او سرحدونو چارو وزیر ډاکتر محمد اکرم خپلواک، د عامې روغتیا وزارت معین ډاکتر نعیم، د سیمه ییزو ارگانونو د خپلواکې ادارې استازي حسام الدین فېضي، د ملي امنیت استازي عبدالنافع علومي، د کورنیو چارو وزارت نماینده جنرال تاج محمد نور، د سرې میاشتې استازي عبدالرحمان کلانتري، د امنیت شورا استازي احمد عیسی او د بهرنیو چارو رییس مهر خدا خوست ته سفر ترسره کړ.

۱۳۹۳\٤\۵هـ ش: په کابل کې د امریکا د سفارت سیاسي سلاکار توماس یزدگردي او د همدې سفارت د کډوالو چارو مسوول تیموتي سوانسون د خوست والي کارونه وستایل.

۱۳۹۳\٤\۱۰هـ ش: په خوست کې د گمرک تاسیسات جوړ او د نعیمي له خوا د پټې په پرېکولو گټې اخیستنې ته وسپارل شول.

۱۳۹۳\٤\۲۵هـ ش: بې سرحده ډاکترانو د خوست والي د بشري هڅو او روغتیایي خدمتونو ستاینه وکړه.

۱۳۹۳\۵\۳۰هـ ش: پر ۲۰ زره کډوالو د خوراکي او غیر خوراکي موادو مرسته وویشل شوه.

۱۳۹۳\٦\۱۵هـ ش: د صحرا باغ تر څنگ د دولتي تاسیساتو د غصب شوې ځمکې د راخلاصولو کمپاین پیل شو.

۱۳۹۳\٦\۱٦هـ ش: د خوست – گردېز ترمنځ د غځېدلي سړک د پاتې ۲۵ کیلومتره برخې د جوړېدو کار پیل شو.

۱۳۹۳\۷\۱هـ ش: په خوست کې د سولې او ملي یووالي اونۍ ونمانځل شوه.

۱۳۹۳\۷\۱٦هـ ش: د لکنو په ایوب خېلو سیمه کې د ۸۰ متره اوږد پله د بنسټ ډبره دخوست والي لخوا کېښودل شوه.

۱۳۹۳\۷\۲۰هـ ش: په خوست کې د لرغونو اثارو درې ورځنۍ نندارتون د والي لخوا پرانیستل شو.

۱۳۹۳\۷\۲۱هـ ش: د خوست موزیم د څلور دېوالۍ کار بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۳\۷\۲۲هـ ش: د پانگې اچونې د ملاتړ د ادارې او د سوداگرۍ او صنایعو د امریت لپاره دوه بیلا بیلې ودانۍ جوړې او گټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹۳\۷\۲٤هـ ش: خوست کې د کرکټ د ملي لوبغالي د بنسټ ډبره د نعیمي لخوا کېښودل شوه. پر همدې ورځ د افغانستان کرکټ بورډ ادارې د عبدالجبار نعیمي غوره خدمتونه وستایل.

۱۳۹۳\۸\۸هـ ش: د سویډن سفیر پېټر او د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړي استازي مارک بودن، افغانستان کې د کډوالو د نړیوال سازمان مشر بوشاک د خوست والي په ملتیا په گوربزو ولسوالیو کې له گلان کمپ لیدنه وکړه او له شمالي وزیرستان څخه د راغلو کډوالو حالت یې له نږدې وکوت.

۱۳۹۳\۸\۱۷هـ ش: د بگرام او گوانتانامو له زندانه ازادو شوو بندیانو له خوست والي سره د لیدنې پرمهال مننه وکړه.

۱۳۹۳\۸\۱۹هـ ش: د ولایتي شورا نویو بریالیو وکیلانو ته په مېلمستون ودانۍ کې د عبدالجبار نعیمي خوا سوگند ورکړل شو.

۱۳۹۳\۸\۲۰هـ ش: د تڼيو او ګوربزو ولسواليو ترمنځ ٤ اعشاريه ۸ کيلومتره سړک ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.
پر همدې ورځ په تڼيو ولسوالۍ کې د زراعت د مسلکي لېسې لپاره په ۲۵ جريبه ځمکه کې دوه پوړيزه ودانۍ د خوست والي لخوا د پټۍ په پريکولو سره ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

۱۳۹۳\۸\۲٤هـ ش: د ټولګټو چارو وزارت سرپرست وزير نجيب الله اوژن د يو پلاوي په مشرۍ د خوست هوايي ډګر د ټولو اړتياو د تشخيص په موخه خوست ولايت ته سفر وکړ.

۱۳۹۳\۹\۲٦هـ ش: نعيمي د ۱۸ ميليونه افغانيو په لګښت د خوست ښار د برښنا شبکې د پراختيا کار پيل کړ.

۱۳۹۳\۱۰\۱۲هـ ش: خوست والي افغان ملي ځواکونه د غوره خدمت له امله وستايل. او د هغوی د سرښندنو درناوی يې وکړ.

۱۳۹۳\۱۱\۱٥هـ ش: د خوست د کاروان سرای سړک په اساسي ډول جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۳\۱۱\۲٥هـ ش: د کډوالو د نړيوال سازمان د سيمه ييز دفتر مشر سيبا سټين د عبدالجبار نعيمي سره وليدل او د کډوالو د ستونزو د حل په برخه کې يې ژمنې وکړې. پر همدې ورځ نعيمي د متون په سيمه کې د ٦ لويو سربندونو او استنادي دېوالونو د بنسټ ډبرې کېښودلې.

۱۳۹۳\۱۲\۱٦هـ ش: په خوست کې د سرې مياشتې ادارې له خوا د ښار په لويديځ کې د مېوې او سبزۍ عصري مارکيټ جوړ شو.

۱۳۹۳\۱۲\۱۸هـ ش: د غلام خان بندر د سرحدي ګمرک او کمېسارۍ تاسيسات د خوست والي له خوا د پټۍ په پرېکولو سره ګټې اخيستنې ته وسپارل شول.

۱۳۹۳\۱۲\۱۹هـ ش: د افغانستان د سرحدي ځواکونو عمومي قوماندان لوی پاسوال محمد شفيق فضلي په مشرۍ د کورنيو چارو وزارت لوړپوړي پلاوي له خوست څخه ليدنه وکړه او د دغه ولايت امنيت يې د ښه مديريت له امله ښه وارزاوه.

**۱۳۹٤هـ ش**

۱۳۹٤\۱\۱٦هـ ش: د خوست مرکز اړوند د شموني او بانګي باغ په سيمو کې دوه لوی استنادي دېوالونه جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شول.

۱۳۹٤\۳\۱٦هـ ش: نعيمي له خوست ولايت څخه لغمان ته تبديل شو.

## لغمان

**۱۳۹٤هـ ش**

۱۳۹٤\۳\۲۱هـ ش: عبدالجبار نعيمي د يوې پراخې غونډې په ترڅ کې د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د مالي او اداري معين عبدالمالک صديقي له خوا رسماً د لغمان ولايت ولسونو ته د والي په توګه ورمعرفي شو.

۱۳۹٤\٤\۱هـ ش: لغمان والي له الينګار ولسوالۍ څخه ليدنه وکړه.

۱۳۹٤\٤\٤هـ ش: لغمان والي عبدالجبار نعيمي د کابل – جلال اباد پر لويه لاره د لغمان په حدوداتو کې د امنيتي ځواکونو له پوستو څخه ليدنه وکړه.

۱۳۹٤\٤\٦هـ ش: لغمان والي په سلطان غازي بابا ښارګوټي کې د ۱۰۰ بستريز روغتون له کارونو ليدنه وکړه او مسوولينو ته يې لارښوونه وکړه چې خپلې چارې ګړندۍ کړي.

۱۳۹٤\٥\٤هـ ش: په قرغيو ولسوالۍ کې رسماً د ښوونکو لپاره د نومرو توضيع د لغمان والي لخوا د پټۍ په پرې کولو سره شروع شوه.

۱۳۹٤\٥\٥هـ ش: لغمان والي په ننګرهار کې د زون په کچه د واليانو په غونډه کې ګډون وکړ. پر همدې نېټه يې ماسخوتن مهال د مهترلام ښار په زړه کې د ځېرزمينۍ بازار پرانيسته وکړه.

۱۳۹٤\٦\٢٥هـ ش: د عمرزيو د سړک د جوړېدو کار دپټۍ په پريکولو سره پيل شو.

۱۳۹٤\٦\٢٨هـ ش: لغمان والي قرغيو ولسوالۍ څخه ليدنه وکړه او د مرکز او قرغيو ولسوالۍ ۱۸۰۰ کورنيو ته يې د برښنا شبکه، چې د جوړېدو کار يې بشپړ شوی و، رسماً د پټۍ په پرېکولو سره ګټې اخيستنې ته وسپارله.

۱۳۹٤\٧\٨هـ ش: لغمان والي په کابل کې د ماليې وزير اکليل حکيمي، د پوهنې وزير محمد حنيف بلخي، د مخدره موادو پر ضد د مبارزې وزارت وزير پوهنوال سلامت عظيمي، د ټولګټو چارو وزير انجنير محمود بليغ او د کار، ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو چارو له وزيرې دوکتور نسرين اورياخېل سره وليدل او د يادو وزيرانو اړوند برخو کې دلغمان دخلکو اړتيا وې،پېشنهادونه او وړانديزونه شريک کړل.

۱۳۹٤\٧\١٤هـ ش: په الينګار ولسوالۍ کې يو جامع مسجد، قرغيو ولسوالۍ له غونډۍ کلي څخه تر لمټي کلي پورې د ۹,۱۸ کيلومتره سړک جغل اندازي، د مرکز اړوند بصرام په کلي کې د کرنې او مالدارۍ د لېسې دوه پوړيزه ودانۍ او د قرغيو ولسوالۍ د ده مزنګ استنادي دېوالونو پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹٤\٧\١٩هـ ش: لغمان والي په ختيځ کې د مرستندويه ادارو له استازو سره وکتل. پر همدې نېټه يې د شپې له مخې د مرکز او شا و خوا سيمو له امنيتي پوستو څخه ليدنه هم وکړه.

۱۳۹٤\٧\٢٢هـ ش: د سلطان غازي بابا ښارګوټي په ښاروالۍ هوټل کې په هېواد کې د سرتاسري سولې د ټينګښت په موخه لويه ولسي غونډه ترسره شوه.

۱۳۹٤\٧\٢٥هـ ش: لغمان والي د پټۍ په پرې کولو سره د عدليې رياست لپاره نوې جوړه شوې ودانۍ ګټې اخيستنې ته وسپارله.

۱۳۹٤\٧\٢٧هـ ش: عبدالجبار نعيمي د سرې مياشتې د ځوانو رضاکارو د کلوپ ودانۍ پرانيسته.

۱۳۹٤\٧\٣٠هـ ش: لغمان والي اليشنګ ولسوالۍ ته سفر ترسره کړ او هلته يې د ولسونو له مشرانو او خلکو سره ليدنې وکړې. په دغه سفر کې يې د وطن ګټو له بند او مياصاحب دېرې د کېبلي پُل څخه ليدنه وکړه او ډاډ يې ورکړ چې د جوړېدو لپاره به يې هلې ځلې وکړي.

۱۳۹٤\٨\١٠هـ ش: عبدالجبار نعيمي د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له وزير عبدالباري جهاني سره ليدنه وکړه او په دغه ليدنه کې يې د سراج تاريخي کلا د بيا رغونې لپاره د دغه وزارت د جدي پاملرنې غوښتنه وکړه.

۱۳۹٤\٨\١٤هـ ش: لغمان والي په کابل کې د اوبو او برښنا له وزير علي احمد عثماني سره ليدنه وکړه. پر همدې

نېټه لغمان والي د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ له وزير اسدالله ضمير او د کليو او پراختيا له وزير انجنير نصير احمد دراني سره هم وکتل او اړوند برخو کې يې د يادو وزيرانو سره د لغمان ولايت د خلکو غوښتنې، اړتياوې او وړانديزونه شريک کړل.

١٣٩٤\٨\١٥هـ ش: لغمان والي په کابل کې د امنيت شورا په غونډه کې برخه واخيسته او په دغه غونډه کې يې د لغمان امنيتي ستونزې شريکې کړې.

١٣٩٤\٨\١٦هـ ش: لغمان والي په کابل کې د شپږو ولايتونو د واليانو د کابينې او ملي امنيت شورا په ګډه خبري غونډه کې، چې د ولايتونو د ستونزو او غوښتنو په اړه جوړه شوې وه، برخه واخېسته.

١٣٩٤\٨\١٩هـ ش: لغمان والي ولس ته د خپل لومړي سل ورځني کار پايلې اعلان کړې.

١٣٩٤\٨\٢٢هـ ش: د قرغيو ولسوالۍ اړوند د دوه تنو مخورو مشرانو حاجي شاه مرد خان او حيات خان ترمنځ د کلونو اوږده شخړه حل شوه.

١٣٩٤\٨\٢٥هـ ش: د کورنيو چارو وزارت د پوليسو د چارو عمومي قوماندان ډګر جنرال سالم احساس په مشرۍ لوړپوړي امنيتي پلاوي له لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه او په دغه ليدنه کې دپوليسو د ارزونې ترڅنګ د محلي پوليسو د تشکيل د زياتوالي ژمنه وکړه.

١٣٩٤\٨\٢٦هـ ش: لغمان والي د مرکز او ولسواليو د جيدو ديني علماوو سره د خپل کار په دفتر کې پراخه غونډه ترسره کړه. پر همدې نېټه د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په انګړ کې د سمسور لغمان دوديزه مشاعره ترسره شوه.

١٣٩٤\٨\٢٧هـ ش: د ملي دفاع وزارت د مرستيال تورن جنرال فضل امان په مشرۍ لوړپوړي امنيتي پلاوي له لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه او له نږدې يې د دغه ولايت د امنيتي حالت د ارزونې ترڅنګ د ځواکونو د اکمال، تجهيز او اړتياوو په برخه کې د اداري غوښتنې، وړانديزونه او پېشنهادونه واوريدل.

١٣٩٤\٨\٣٠هـ ش: د کډوالو او بيا راستنېدونکو چارو وزير سيد حسېن عالمي بلخي لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه او د ولايت والي ته يې ډاډورکړ چې راستنيدونکو کډوالو ته به  په دغه ولايت کې اړتياوې ورپوره کوي.

١٣٩٤\٩\٢هـ ش: په لغمان کې د ملګرو ملتونو سازمان اوبايمه کليزه ونمانځل شوه.

١٣٩٤\٩\٦هـ ش: د تيرګړيو او بي بي صاحبې د سيمو د ٣٢٠ متره اوږدو استنادي دېوالونو پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

١٣٩٤\٩\١٤هـ ش: د سرخکانو ساحوي کلينيک ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

١٣٩٤\٩\١٦هـ ش: د لغمان مرکز مهترلام او سلطان غازي بابا ښارګوټي په ساحو کې ٩٠٠٠ کورنيو ته د برښنا رسونې پروژه پيل شوه.

پر همدې ورځ د اوبو او برښنا وزير انجنير علي احمد عثماني هم د پروژو د پرانيستې په مراسمو کې برخه لرله.

١٣٩٤\٩\٢١هـ ش: د اداري او حسابدارۍ انسټيټيوټ ودانۍ ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

١٣٩٤\٩\٢٦هـ ش: په لغمان ولايت کې د ټاپي پروژې په ملاتړ پراخه  ولسي غونډه و شوه.

۱۳۹٤\۱۰\۲۰هـ ش: لغمان والي په ننګرهار کې له ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني سره وليدل او په دغه ليدنه کې يې د شاهي کانال، وطن ګټو او کله ګوش بندونو د سترو او حياتي پروژو د پلي کيدو وړانديزونه شريک کړل، چې ولسمشر د لغمان د ادارې او خلکو دغو مهمو وړانديزونو ته د هو ځواب ووايه.

۱۳۹٤\۱۰\۱۳هـ ش: د ملي دفاع وزارت لوی درستيز ستر جنرال قدم شاه شهيم له لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه او د ځواکونو حالت يې له نږدې وليد او په ځينو امنيتي برخو کې يې د همکاريو ژمنې وکړې.

۱۳۹٤\۱۰\۱٤هـ ش: د امنيتي ځواکونو په ملاتړ پراخه ولسي غونډه ترسره شوه.

۱۳۹٤\۱۰\۲۸هـ ش: د کلي او پراختيا وزارت وزير انجنير نصير احمد دراني لغمان ته راغی. پر همدې ورځ د ۲۷۱ ميليونه افغانيو په ارزښت، د استنادي دېوالونو او سربندونو ۳٦ پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹٤\۱۰\۲۹هـ ش: د ولسي جرګې دويم مرستيال حاجي محمد نذير احمدزی، د همدې جرګې د مالي او بوديجې کميسيون رييس عامر خان يار، محمد حسن مموزي، محمد نعيم لالي، نواب منګل، انجنير صاحب خان، لياقت الله بابکرخېل او يو شمېر وکيلانو، د کوچيانو د چارو رييس ډاکټر فيضان او د سهاک قوم مشر ډاکټر نور علي له لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه او په دغه ولايت کې يې د ادارې ‌ ‌دښه مديريت ‌ستاينه وکړه.

۱۳۹٤\۱۰\۳۰هـ ش: د امنيتي ځواکونو د ملاتړ او ستاينې په موخه په لومړۍ پلي لوا کې غونډه ترسره شوه. په غونډه کې والي، د ۲۰۱ سېلاب قول اردو قوماندان ډګر جنرال محمد زمان وزيري، د لومړۍ پلي لوا قوماندان بريد جنرال نورالله قادري او يو شمېر مسوولينو برخه لرله.

۱۳۹٤\۱۱\٤هـ ش: لغمان والي بادپښ ولسوالۍ ته سفر وکړ او په دغه سفر کې يې دولسوالۍ له مشرانو سره ناسته کې د هغوی ستونزې، غوښتنې او وړانديزونه له نږدې واوريدې او حل په برخو کې يې د همکاريو ژمنه وکړه.

۱۳۹٤\۱۱\۵هـ ش: لغمان والي د ختيځو ولايتونو په استازيتوب د هېواد له ولسمشر ډاکتر محمد اشرف غني سره ويډيويي کانفرانس ترسره کړ.

۱۳۹٤\۱۱\۹هـ ش: په لغمان پوهنتون کې د ۲٦ ميليونه افغانيو په ارزښت د طعام خورۍ او يوې اداري ودانۍ د بنسټ ډبرې ‌دلغمان والي لخوا کېښودل شوې.

۱۳۹٤\۱۱\۱۰هـ ش: د ترانسپورت وزير ډاکتر محمد الله بتاش د لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه او دسرخکانو چوک په سيمه کې د ځمکني ترمينل د جوړيدو سربېره يې اړوندو برخو کې يو شمېر ژمنې وکړې.

۱۳۹٤\۱۱\۱۱هـ ش: په لغمان پوهنتون کې د کانکور ازموينه واخيستل شوه او د سوالونو صندوقونه د لغمان والي په لاسونو پرانيستل شو.

۱۳۹٤\۱۱\۱۲هـ ش: د عزيز خان کڅ په سيمه کې د حاجي اول خان او حاجي روح الله ترمنځ اوږده شخړه حل شوه.

۱۳۹٤\۱۱\۱۵هـ ش: د اقتصاد وزير عبدالستار مراد لغمان ولايت ته سفر وکړ.

۱۳۹٤\۱۱\۲۲هـ ش: د ښار جوړولو وزير سيد منصور سعادت نادري د يو تخنيکي پلاوي په مشرۍ له لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه او د ولايت له والي او د خلکو له استازو سره يې ناسته کې د ښاري پراختيا په برخه کې پر يو لړ پروګرامونو بحثونه وکړل.

۱۳۹٤\۱۱\۲۹هـ ش: د پوهنې وزير دوکتور اسدالله حنيف بلخي لغمان ولايت ته سفر وکړ او په دغه سفر کې يې د ولايت له والي عبدالجبار نعيمي سره ليدنه کې د لغمان د پوهنيز بهير د پياوړتيا په برخه کې اړينې ژمنې وکړې.

۱۳۹٤\۱۲\۵هـ ش: لغمان کې لنکن ښوونيز مرکز پرانيستل شو.

۱۳۹٤\۱۲\۱۲هـ ش: لغمان والي ولس ته د خپلو کړنو کلنی ګزارش وړاندې کړ.

۱۳۹٤\۱۲\۱۷هـ ش: د ښځو نړيواله ورځ ونمانځل شوه.

۱۳۹٤\۱۲\۲۵هـ ش: په هېواد کې د سرتاسري سولې د ټينګښت په موخه پراخه ولسي غونډه ترسره شوه.

## ۱۳۹۵هـ ش

۱۳۹۵\۱\۱۷هـ ش: لغمان والي د جنوبي کوريا له سفير چون کي هون سره په جلال اباد کې وکتل او هغه يې وهڅاوه چې لغمان کې په هر اړخيزو برخو کې مرستې وکړي.

۱۳۹۵\۱\۱۸هـ ش: لغمان والي په ننګرهار کې د ملګرو ملتونو د سازمان د دفتر په چوکاټ کې د ۲۳ نړيوالو مرسته کوونکو ادارو له لوړرتبه مسوولينو سره وکتل او هغوی يې وهڅول چې په لغمان کې خپلې مرستې وکړي.

۱۳۹۵\۱\۱۹هـ ش: د سمسور لغمان دوديزه پسرلنۍ مشاعره ماښام ترسره شوه. پر همدې شپه لغمان والي د مهترلام ښار او شا و خوا امنيتي پوستو څخه ليدنه وکړه.

۱۳۹۵\۱\۲۲هـ ش: د الوکو او ملنګانيو قومونو ترمنځ د غره پر سر شخړه حل شوه.

۱۳۹۵\۲\۲هـ ش: د ملي اردو د لومړۍ پلې لوا په مسجد کې په هېواد کې د تروريستي پېښو د قربانيانو فاتحه واخيستل شوه او د قرآن کريم ختم ترسره شو.

۱۳۹۵\۲\۳هـ ش: د قومونو او قبايلو چارو وزير محمد ګلاب منګل د لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه.

۱۳۹۵\۲\٤هـ ش: په ۲۰۱ سېلاب قول اردو کې د يوې لويې غونډې پر مهال زړور سربازان او افسران وستايل شول.

۱۳۹۵\۲\٦هـ ش: د ملي پېوستون ودانۍ ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

۱۳۹۵\۲\۱۱هـ ش: د لغمان د عالي دارالمعلمين د احاطې د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۹۵\۲\۱۲هـ ش: د کار، ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو چارو وزيره نسرين اورياخېل لغمان ولايت ته راغله. پر همدې ورځ د حرفوي زده کړو مرکز هم د والي او اغلې وزيرې لخوا د پټۍ په پريکولو سره رسماً پرانيستل شو.

۱۳۹۵\۲\۱۹هـ ش: په قرغيو ولسوالۍ کې د يو محراب مسجد او يو کانال د جوړېدو کار پيل شو.

۱۳۹۵\۲\۲۲هـ ش: د سراج تاريخي کلا بيارغنيز کارونه د والي او د اطلاعات او کلتور وزارت د ګرځندوی معين زردشت شمس لخوا پيل شول.

۱۳۹۵\۲\۲۳هـ ش: د لوړو زده کړو وزيرې دوکتوره پوهنواله فريده مومند له لغمان ولايت څخه ليدنه وکړه او په

دغه لیدنه کې یې د لغمان پوهنتون ستونزې، اړتیاوې او د اداري وړاندېزونه له نږدې واوریده.

۱۳۹۵\۲\۲۷هـ ش: د قبایلو چارو د ریاست ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه. پر همدې ورځ د سولې او ملي یووالي د ټینګښت په موخه لویه غونډه وشوه.

۱۳۹۵\۲\۲۹هـ ش: د افغانستان د سیمه ییزو پولیسو د عمومي رییس پاسوال علي شاه احمدزي په مشرۍ د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو، د ملي امنیت د عمومي ریاست او د سیمه ییزو ارګانونو څخه لوړپوړي پلاوي لغمان ولایت څخه لیدنه وکړه او یو لړ ژمنې یې وکړې.

۱۳۹۵\۳\۱۵هـ ش: د معدن امریت ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

۱۳۹۵\۳\۱٦هـ ش: پر ۵۰۰ بې وزله کورنیو مرستې وویشل شوې.

۱۳۹۵\۳\۱۷هـ ش: لغمان والي له ښاریانو سره د روژې لومړی روژه ماتی وکړ.

۱۳۹۵\٤\۲هـ ش: په لغمان کې د معیاري کرکټ لوبغالي د جوړېدو کار د والي لخوا چې د خلکو استازو او د کرکټ بورډ مسوولینو یې ملتیا کوله پیل شو.

۱۳۹۵\٤\٦هـ ش: د احصایې امریت د څلور دېوالۍ کار پیل شو.

۱۳۹۵\٤\۱۳هـ ش: مهترلام بابا زیارت ته غځېدلی سړک په اساسي ډول جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۵\٤\۲۳هـ ش: لغمان والي د متحده عربي اماراتو له سفیر جمعه عبدالله الکعبي سره لیدنه وکړه او په دغه لیدنه کې یې د نورو مرستو ترڅنګ د جوماتونو د جوړیدو په برخه کې د متحده عربي اماراتو د مرستې غوښتنه وکړه.

۱۳۹۵\٤\۲۵هـ ش: لغمان والي د کورنیو چارو وزیر ډګر جنرال تاج محمد جاهد سره په لیدنه کې د لغمان د امنیتي وضعیت د بهبود په اړه خبرې وکړې او د امنیتي ځواکونو اړتیاوې او وړاندیزونه یې ورسره شریک کړل.

۱۳۹۵\٤\۲۵هـ ش: ولسمشر ډاکتر محمد اشرف غني لغمان ته راغی او د ۲۰۱ سېلاب قول اردو په انګړ کې یې د لغمان، ننګرهار، کونړ او نورستان ولایتونو د والیانو، امنیتي، کشفي او دفاعي ځواکونو له رهبرۍ او سرتېرو سره لیدنه وکړه.

۱۳۹۵\٤\۲٦هـ ش: د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري د سرپرست رییس عبدالباقي پوپل سره لغمان والي وکتل او په دغه لیدنه کې یې د یو شمېر اداري واحدونو د زیاتولو وړاندیزونه شریک کړل.

۱۳۹۵\٤\۲۷هـ ش: لغمان والي د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي له مرستیال مارک بوډن سره د نوموړي په دفتر کې لیدنه وکړه.

۱۳۹۵\٤\۲۸هـ ش: لغمان والي د ملي دفاع له وزیر ډګر جنرال عبدالله حبیبي سره د نوموړي د کار په دفتر کې ولیدل او غوښتنه یې وکړه چې لغمان ولایت ته دې د امنیت په برخه کې خاصه پاملرنه وکړي.

۱۳۹۵\٤\۲۹هـ ش: نعیمي له لوی څارنوال محمد فرید حمیدي سره وکتل او په لغمان کې یې د عدلي او قضایي ارګانونو د لا پیاوړتیا غوښتنه وکړه.

۱۳۹۵\۵\۲هـ ش: لغمان والي په کابل کې د مالیې وزیر اکلیل حکیمي سره وکتل. پر همدې ورځ والي د ښاري پراختیا

وزير سيد سادات منصور نادري سره هم وکتل او يو شمېر واړنديزونه يې ورسره شريک کړل.

۱۳۹۵\۵\۱۳هـ ش: لغمان پوهنتون کې د برښنا ستېشن فعال شو.

۱۳۹۵\۵\۲۱هـ ش: د ځوانانو نړيواله ورځ ونمانځل شوه.

۱۳۹۵\۵\۲۸هـ ش: ولايت مقام کې د هېواد د آزادۍ کليزه ونمانځل شوه.

۱۳۹۵\٦\۷هـ ش: د لغمان په مرکز او ولسواليو کې د ښوونځيو د ۳۳ پروژو کار پيل شو.

۱۳۹۵\٦\۱۵هـ ش: د والي د زنګ په ټنګولو سره نوی ښوونيز کال پيل شو.

۱۳۹۵\۷\۱هـ ش: په قرغيو ولسوالۍ کې د سولې نړيواله ورځ ونمانځل شوه.

۱۳۹۵\۷\۵هـ ش: عبدالجبار نعيمي په کابل کې د مشرانو جرګې په ناسته کې ګډون وکړ.

۱۳۹۵\۷\۱۱هـ ش: په مهترلام بابا ښارګوټي کې د يو لوی مسجد د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۹۵\۷\۱۲هـ ش: د اطلاعات و فرهنګ رياست په انګړ کې د عامه کتابتون د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۹۵\۷\۱۳هـ ش: د لغمان ژورناليستانو، ځوانانو او مدني فعالانو د لغمان والي عبدالجبار نعيمي د کړنو تقدير وکړ. پر همدې ورځ د ښوونکو نړيواله ورځ هم ونمانځل شوه.

۱۳۹۵\۸\۲۱هـ ش: د قرغيو ولسوالۍ په بازار کې يو محراب مسجد ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹۵\۸\۲٤هـ ش: د اداري کمپلېکس د احاطې د جوړېدو کار پيل شو.

۱۳۹۵\۸\۳۰هـ ش: د کار، ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو چارو په رياست کې د ماشوم نړيواله ورځ ونمانځل شوه.

۱۳۹۵\۹\۱۳هـ ش: په زراعت رياست کې پر ۱۵۰۰ بزګرانو اصلاح شوي تخمونه او کيمياوي سره وويشل شوه.

۱۳۹۵\۹\۲۰هـ ش: د کډوالو چارو وزير سيد حسين عالمي بلخي لغمان څخه ليدنه وکړه. پر همدې ورځ په بابا صاحب دښته کې د کډوالو ۱۲۰۰۰ نومرو لرونکی ښارګوټی پرانيستل شو.

۱۳۹۵\۹\۲٦هـ ش: د شهيدانو پُل د بنسټ ډبره د والي لخوا کېښودل شوه.

۱۳۹۵\۹\۲۸هـ ش: د ښاروالۍ رياست او زراعت رياست له خوا د کانالونو جوړې شوې پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹۵\۱۰\٦هـ ش: د مهترلام په مرکزي جامع مسجد کې د نبوي سيرت مبارکه غونډه ترسره شوه.

۱۳۹۵\۱۰\۱۰هـ ش: پر ۱۸۰ بې وزله کورنيو د خوراکي توکو مرسته وويشل شوه.

۱۳۹۵\۱۰\۱۳هـ ش: د لغمان مرکز او ولسواليو د ۲۲ محرابه مسجدونو سره د ٤۳۵۵ متره مربع قالين فرش مرسته وشوه.

۱۳۹۵\۱۱\۱۱هـ ش: په سلطان غازي بابا ښارګوټي کې د ولايت مقام لپاره د نوې ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۹۵\۱۱\۲۸هـ ش: د لغمان والي له خوا په مهترلام ښار او خوا و شا سيمو کې د ونو کرلو کمپاين پيل شو.

۱۳۹۵\۱۲\٤هـ ش: په عالي دارالمعلمين کې د څه له پاسه ۱۸ ميليونه افغانيو په ارزښت د نجونو لپاره د دوه پوړيزې لېليې د ودانۍ جوړولو کار پيل شو.

۱۳۹۵\۱۲\۱۱هـ ش: د لغمان په مرکز او ولسواليو کې د ۲۷ بابه ښوونځيو د احاطو چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شول.

۱۳۹۵\۱۲\۱۱هـ ش: سهار مهال د دولت وسله والو مخالفينو د مهترلام ښار په امنيتي کمربند بريد وکړ، چې د افغان ځمکني او هوايي ځواکونو د سخت غاښ ماتوونکي ځواب سره مخ او د سر دروند زيان ورته واوښت.

۱۳۹۵\۱۲\۱۷هـ ش: د مهترلام اړوند د ګلبېلې سیمې ۲۰۰ کورنیو ته د برښنا شبکه وغځېده او د برښنا له نعمت برخمنې شوې.

**۱۳۹٦هـ ش**

۱۳۹٦\۱\۱۹هـ ش: په قرغیو ولسوالۍ کې د کانالونو، سربندونو او استنادي دېوالونو ۱۷ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹٦\۱\۱۳هـ ش: د کوټه تور ساحې استنادي دېوال، د حېدرخانیو کانال، د اسلام اباد کانال، د الیشنګ کانال او د قرغیو ولسوالۍ د مشه خېلو په سیمه کې محافظوي دېوالونه جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۱۳۹٦\۱\۱۹هـ ش: د لغمان مرکز او ولسوالیو په یو شمېر ستراتیژیکو نقطو کې د امنیتي ببزونو د جوړېدو کار پیل شو.

۱۳۹٦\۱\۲۲هـ ش: د ۲۵٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د مهترلام حلقوي سړک قرارداد له فواید عامې وزارت سره لاسلیک شو.

۱۲۹٦\۱\۲۸هـ ش: د ټولګټو چارو وزیر محمود بلیغ له لغمان ولایت څخه لیدنه وکړه. پر همدې ورځ لغمان والي او د ټولګټو چارو وزیر د پټۍ په پرې کولو سره د مهترلام حلقوي سړک د جوړېد کار پیل کړ.

۱۳۹٦\۱\۳۰هـ ش: د اطلاعات و فرهنګ ریاست په انګړ کې د سمسور لغمان دودیزه پسرلنۍ مشاعره ترسره شوه.

۱۳۹٦\۲\۸هـ ش: د اسلامي حزب امیر انجنیر ګلبدین حکمتیار لغمان کې څرګند شو.

۱۳۹٦\۲\۹هـ ش: د اسلامي حزب امیر انجنیر ګلبدین حکمتیار د لغمان والي عبدالجبار نعیمي په کوربه توب د یوې پراخې غونډې په ترڅ کې، چې د مرکز او بیلا بیلو ولایتونو څخه یکې لوړپوړو دولتي چارواکو، جهادي قوماندانو، د سیاسي احزابو مشرانو او د اسلامي حزب سلګونه غړو برخه لرله، راڅرګند شو او ولس ته یې تاریخي وینا وکړه.

۱۳۹٦\۲\۱٦هـ ش: په سلطان غازي بابا ښارګوټي کې د ۱٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د غونډو تالار او د ځمکولۍ امریت د احاطوي دېوال دوه پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹٦\۳\۵هـ ش: په سلطان غازي بابا ښارګوټي او نانګزایو سیمه کې د دوه محراب مسجدونو د بنسټ ډبرې کېښودل شوې.

۱۳۹٦\۳\۱۰هـ ش: په سلطان غازي بابا ښارګوټي کې د ملي امنیت د تاسیساتو د بنسټ ډبره د عبدالجبار نعیمي په لاس کېښودل شوه.

۱۳۹٦\٤\۲۲هـ ش: د سلطان غازي بابا په نوي ښارګوټي کې د ښاروالۍ ریاست په چوکاټ کې د UN-Habitat او ټولنیزو شوراګانو په همکارۍ د ښاروالۍ د پارک چارې پیل شوې.

۱۳۹٦\٤\۲۲هـ ش: د مهترلام ښاروالۍ په چوکاټ کې د یو این هبیتات موسسې په مالي تمویل د ۴۸ میلیونه افغانیو په ارزښت په ښار کې د کوڅو، ویالو او سرکونو د جوړیدو کار د ۹ شوراګانو په چوکاټ کې پیل شو.

۱۳۹٦\٤\۲۷هـ ش: په سلطان غازي بابا ښارګوټي کې د استناف څارنوالۍ د اداري تعمیر د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۹٦\٤\۲۸هـ ش: د ښار په لومړۍ ناحیه کې د ۲۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ویالو، کوڅو او پیاده رونو د جوړیدو کار پیل شو.

۱۳۹٦\٤\۲۹هـ ش: د سراج تاریخي کلا د دوهم پړاؤ کارونه پیل شو، په دغه پړاؤ کې قصر او مسجد شامل دي.

۱۳۹٦\٥\۱هـ ش: د اوبو او انرژۍ وزارت وزیر انجنیر علي احمد عثماني لغمان ته راغلو او په دغه ورځ ۴۰۰۰ زره کورنیو ته د برښنا رسونې پروژه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

۱۳۹٦\٥\۱۸هـ ش: د څه دپاسه ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د پېښو پر وړاندې د چمتوالي اداري د احاطوي دیوال او یو ګودام د جوړیدو کار پیل شو.

۱۳۹٦\٦\۲هـ ش: په قرغیو ولسوالۍ کې د ۳۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د زراعت ریاست ۱۵ پروژې پیل شوې، چې پکې د چرګانو د روزنې فارمونه، کورنۍ باغچې، د اوبو رسولو ژورې څاګانې ... شامل دي.

۱۳۹٦\٦\٥هـ ش: د څه دپاسه ٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د بابا صاحب اساسي روغتیایي مرکز د تعمیر د جوړېدو چارې پیل شوې.

۱۳۹٦\٦\۱۰هـ ش: د پنځه میلیونه او څلور سوه زره افغانیو په ارزښت د عامې روغتیا د ریاست د څلور دیوالۍ کارونه پیل شول.

۱۳۹٦\٦\۱۲هـ ش: د هېواد جمهور رییس محمد اشرف غني نن د یو لوړ رتبه پلاوي په مشرۍ د ختیځ زون د امنیتي وضعیت د ارزونې په موخه لغمان ولایت کې میشتې ۲۰۱ سېلاب قول اردو ته راغی.

۱۳۹٦\۷\۱٥هـ ش: د مخدره توکیو پر ضد د مبارزې وزیره سلامت عظیمي لغمان ته راغله، په همدغه ورځ د پنځه میلیونو او نهه سوه زرو افغانیو په ارزښت د څلورو پروژو کارونه هم پیل شول.

۱۳۹٦\۷\۱۸هـ ش: د سراج تاریخي کلا او بن د څلور دیوالۍ کارونه پیل شول.

۱۳۹٥\۷\۲۳هـ ش: د هېواد اجراییه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله د یو لوړپوړي پلاوي په مشرۍ د لغمان رغونې جشن کې ګډون وکړ. په دې ورځ د ۱۹۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲۳ پروژو کارونه پیل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

۱۳۹٦\۷\۳۰هـ ش: د زر کسیز کمپاین په ترڅ کې د لغمان ورزش کارانو د ملګرو ملتونو نه په هېواد کې د تل پاتې سولې غوښتنه وکړه او یو لوی ټوکر یې لاسلیک کړ.

۱۳۹٦\۸\۸هـ ش: د سرحدونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر ګل اغا شیرزی لغمان ته راغی او په همدغه ورځ د قبایلو چارو ریاست ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

۱۳۹٦\۸\۱۳هـ ش: په قرغیو ولسوالۍ کې د ګل غونډۍ د هلکانو او نجونو لیسې تعمیر او دوهم یې د میاخیلو په سیمه کې د هلکانو او نجونو د منځني ښوونځي تعمیر د جوړیدو کارونه پیل شول.

۱۳۹٦\۸\۱۳هـ ش: په قرغیو ولسوالۍ کې د دهمزنګ سرک او یو کانال پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۱۳۹٦\۸\۳۰هـ ش: په لغمان کې د اتلس میلیونه افغانیو په ارزښت د چرګانو د روزنې د ٥۰۰ کورنیو فارمونو پروژه پیل شوه.

۱۳۹٦\۹\۱٦هـ ش: په مهترلام ښار کې د ښاروالۍ مارکیټ د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۱۳۹٦\۱۰\۳هـ ش: د پاچا جوی کانال د جوړیدو او ترمیم کارونه پیل شول.

۱۳۹٦\۱۱\۱۹هـ ش: د ۹,٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د سرې میاشتې ریاست د اداري تعمیر د جوړیدو کارونه

پیل شول.

۱۳۹٦\۱۲\۱۲هـ ش: عبدالجبار نعيمي د لغمان ولايت څخه کندوز ولايت ته تبديل او په همدغه ورځ يې د لغمان د ولسونو سره خداى پاماني وکړه.

## کندوز

۱۳۹٦\۱۲\۱۳هـ ش: عبدالجبار نعيمي رسماً د کندوز ولسونو ته د نوي والي په صفت ور وپيژندل شو.

## ۱۳۹۷هـ ش

۱۳۹۷\۲\۲هـ ش: کندوز والي په يو رسمي کاري سفر کابل ته ولاړ او د ولسونو له مشورو وروسته په ګوته شوي پيشنهادونه يې د ملي يووالي حکومت له رهبري او د کابينې له وزيرانو سره شريک کړل.

۱۳۹۷\۲\۳هـ ش: عبدالجبار نعيمي د سوداګرۍ او صنايعو وزارت له وزير همايون رسا سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۳هـ ش: عبدالجبار نعيمي د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت له وزير انجنير نصير احمد دراني سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۳هـ ش: عبدالجبار نعيمي د انرژۍ او اوبو وزارت له وزير انجنير علي احمد عثماني سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۵هـ ش: عبدالجبار نعيمي د ارشاد حق او اوقافو وزارت له وزير فيض محمد عثماني سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۹هـ ش: عبدالجبار نعيمي د مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوژۍ وزارت له وزير شهزاد اريوبي سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۹هـ ش: عبدالجبار نعيمي د ولسي جرګې د مشر عبدالروف ابراهيمي، د ملي دفاع وزارت له وزير ډګرجنرال ارکانحرب طارق شاه بهرامي، د ملي امنيت له عمومي رييس معصوم ستانکزي او د کورنيو چارو وزارت له لومړي مرستيال لوی پاسوال جانان بارکزي سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۱۰هـ ش: عبدالجبار نعيمي د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اجراييه رييس ډاکټر عبدالله سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۱۱هـ ش: عبدالجبار نعيمي د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې ادارې له مشر عبدالمتين بيک سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۱۲هـ ش: کندوز والي په کابل کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د مشر تاداماچي ياماموتو سره ليدنه وکړه.

۱۳۹۷\۲\۱۳هـ ش: عبدالجبار نعيمي د اقتصاد وزارت له وزير دوکتور مصطفی مستور سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۱٤هـ ش: عبدالجبار نعيمي د ملي امنيت عالي شورا سلاکار محمد حنيف اتمر سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۱۵هـ ش: عبدالجبار نعيمي د کورنيو چارو وزارت له وزير ويس احمد برمک سره وليدل.

۱۳۹۷\۲\۱۷هـ ش: عبدالجبار نعيمي د ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني سره وليدل.

**يادونه:** *عبدالجبار نعيمي دوی ټولو سره په وار وار د کندوز ولايت لومړيتوبونه، غوښتنې، پېشنهادونه او وړاندېزونه شريک کړل. دوی ژمنې وکړې چې کندوز ولايت ته به ځانګړې توجو کوي او هر راز همکارۍ ته به چمتو وي.*

۱۳۹۷\۲\۱۳هـ ش: د ملي دفاع وزارت د کشف او استخباراتو مرستيال د جنرال عبدالخالق په مشرۍ د ملي امنيت د عمومي رياست او د کورنيو چارو وزارتونو لوړ رتبه پلاوی کندوز ته راغلو.

۱۳۹۷\۱۲\۱۸هـ ش: کندوز ولايت ته د ملي امنيت شورا د مرستيال ډاکټر محمد ياسين ضياء په مشرۍ د امنيتي، کشفي او دفاعي ارگانونو د موجوده حالت، ضرورتونو او وړانديزيونو د ارزونې په موخه يو لوړپوړی امنيتي پلاوی راغلو.

۱۳۹۷\۱۲\۱۸هـ ش: د کرنې او مالدارۍ وزارت د بودجې د امر دُر محمد صالحي په مشرۍ پلاوی کندوز ته راغلو.

۱۳۹۷\۱۲\۱۸هـ ش: د ولسمشرۍ ماڼۍ څخه د حاجي محمد امان اتمانزي، مولوي جوره طاهري او الحاج امان الله مومند په غړيتوب پلاوی راغلو.

۱۳۹۷\۱۲\۱۸هـ ش: د ښار او کور جوړولو چارو وزارت څخه د انجنير عبدالباقي تسليم په مشرۍ پلاوی کندوز ته راغلو.

۱۳۹۷\۱۲\۱۸هـ ش: د کليو او پراختيا وزارت پلاوی د محمد زمان ساربان په مشرۍ کندوز ولايت ته راغلو او په اړوند برخو کې يې پر يو شمېر مهمو موضوعاتو د کندوز والي سره خبرې وکړې.

۱۳۹۷\۱۲\۲۰هـ ش: د ملکي هوايي چلند د عمومي رييس محمود شاه حبيبي په مشرۍ کندوز ولايت ته لوړ رتبه هئيت راغلو.

۱۳۹۷\۱۳\۱٦هـ ش: د ناټو ځواکونو مرستيال قوماندان General Mutaza د کندوز والي سره ليدنه وکړه.

۱۳۹۷\۱۳\۲۱هـ ش: کندوز والي په لاسونو په دغه ولايت کې د څه باندې ۳۲ ميليونه او دوه سوه زره امريکايي ډالرو په ارزښت د برښنا دوه پروژې چې کارونه يې تکميل شوي، گټې اخيستنې ته وسپارل شوې.